

د شلمې پېړۍ تر نیمایي

# د افغانستان د بهرنیو اړیکو تاریخ


لیکوال: لوډویک اډامیک

ژباړن: ډاکټر نثار احمد صمد

# د شلمې پېړۍ تر نیمایي
# د افغانستان د بهرنیو اړیکو تاریخ

(له شوروي اتحاد، جرمني، او برتانیې سره اړیکې)

لیکوال
لوډویک اډامیک

ژباړن
ډاکتر نثار احمد صمد

بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم :: د شلمې پېړۍ تر نیمایي د افغانستان د بهرنیو اړیکو تاریخ

لیکوال :: لوډویک اډامیک

ژباړن :: ډاکټر نثار احمد صمد

د دویم چاپ خپرندوی : دانش خپرندویه ټولنه ـ پېښور

د لومړي چاپ خپرندوی : د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه جرمني

چاپ شمېر :: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپ نېټه :: ۱۳۸۳ل/۲۰۰۴م

کمپوزر :: ذبیح الله "شفق"

## چاپچاري:

د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه

قصه خوانی بازار، پېښور

Tel/Fax:2564513/E-mail:danish2k2000@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

# د دويم خپراوي په اړه يادښت

داکتاب (د شلمې پېړۍ تر نيمايي، د افغانستان د بهرنيو اړيکو تاريخ) په لومړي ځل په جرمني کې د افغانستان د کولتوري ودې ټولنې له خوا خپور شوی و، خو د کتاب د ارزښت او لوستوالو د لېوالتيا له امله په لږ وخت کې ناويات شو.

دانش خپرندويې ټولنې د کتاب ارزښت ته په پاملرنه (د افغانستان د کولتوري ودې ټولنې) له چارواکيو سره د بيا خپراوي په اړه اړيکې ټينګ کړل، چې هغوی په ورين تندي او لورېينه د کتاب د بيا چاپونې امتياز او سپارښت دانش خپرندويې ټولنې ته وباښه.

دانش خپرندويه ټولنه ددې اثر مينه والو ته د کتاب په وړاندې کولو د لومړنۍ خپرندويې اداري او د هغې د ښاغليو چارواکيو په تېره د ښاغلي او منلي زرين انځور مننه پر ځای پور بولي.

په درنښت

**دانش خپرندويه ټولنه**

پېښور

# لړلیک


سریزه ۱

لومړی څپرکی

افغانستان له ګوښه والي څخه راوځي ۱۵

کابل ته د پوځي هیئتونو لېږل ۲۹

له جګړه ییز حالت سره د حبیب الله مخامخ والی ۴۹

دویم څپرکی

د امیر امان الله امارت د حبیب الله وژنه ۷۸

د انګلیس افغان دویمه جګړه ۸۷

د شوروي- افغان تماسونه ۹۷

سفارتي نوښتونه ۱۰۸

منځنۍ اسیا کې یوه بله ستره لوبه ۱۱۴

درېیم څپرکی

د امان الله لومړنۍ سمونتیاوې نابغه مشر ۱۴۵

سمونتیاوې او غبرګونونه ۱۷۰

له برتانیې سره ډغرې ۱۷۰

جرمني د دربیم ځواك په توګه ۱۸۴
له شوروي او روسیې سره اړیکي ۱۹۸

ځلورم څپرکي

د امان الله سفر او ماتې اروپا ته د امیر سمندري سفر ۲۱۰
د سمونتیاوو وروستی پړاو ۲۴۴
شورش او ماتې ۲۵۵

پنځم څپرکي

امیر حبیب الله، د سقاو زوی د یووالي لپاره هڅې ۲۷۳
د ټینګښت پړاو ۲۸۶
د بچه سقاو ماتې ۲۹۵

شپږم څپرکي

نادرشاه د ملي پیوستون د ټینګښت په حال کې ۳۱۴
د قدرت لپاره هلې ځلې سیاسي غچ اخیستنه ۳۴۷

اووم څپرکي

د دویمې نړیوالې جګړې پیل بهرنۍ سیاسي صحنه ۳۸۷
له جرمني سره ګډه مرسته ۳۹۶
پر سرحد باندې شورش ۴۱۴
چاره لټونه ۴۲۳

اتم څپرکي

دویمه نړیواله جګړه
د جرمني سپمایز او سیاسي ګامونه ۴۳۴
د جګړې د محال ګامونه او توطیې ۴۴۴
د اتباعو ایستنه ۴۶۸

نهم څپرکي

د نوي عصر پیل ۴۷۹
ملپاتې ۴۹۱

# یادښت

پروفیسور ډاکتر لوډویک اډامیک دامریکا له ډیرو نومیالیو افغانستانپوهانو څخه دی . نوموړي په تېره بیا دافغانستان دسیاسي تاریخ په څیړنه کې دارزښت وړ کارونه تر سره کړي دي . دهغه دګڼ شمېر آثارو په لړ کې « د شلمې پېړۍ ترنیمایي دافغانستان بهرني اړیکي » نومی کتاب ځانګړی ارزښت لري . په دې اثر کې نوموړي دافغانستان دمعاصر تاریخ په اړه داسې مواد او اسناد راپیدا کړي چې هر چاته یې مېندل ناشوني بریښي .

ښاغلي ډاکتر نثار احمد صمد څوکاله پخوا دغه مهم اثر پرپښتو ژباړلی او زموږ لپاره دخوشحالۍ ځای دی چې دپښتو ژبې دعلمي کېدلو په دغو اړینو ( ضروري ) هلوځلو کې یې درنوپښتنو مینه والو ته وړاندې کوو ، الله (ج) دې ښاغلي ژباړن ته ددغه خورا مهم کتاب دژباړې دستړي کوونکي کار سترړ

اجر ورکړي .

موږ دغه راز په جرمني کې له دوو میشتو خواخوږیو هېوادوالو هر یو ډاکټر مانو گل گانه وال او ډاکټر رحیم الدین یعقوب عزیز څخه دزړه له کومي مننه کوو چې ددغه مهم تاریخي اثر دچاپ لپاره یې (زر - زر مارکه) مرسته وکړه . دادنو موږ یو افغانو ډاکټرانو دهېواد پالنې یوه بیلگه ده.

په پښور کې ددې اثر دچاپ په اړه دښاغلي یون ، ددانش کتابتون دگران اسدالله ساپي ، محمد ابراهیم همکار دکتاب دکمپوزر ښاغلي محمد نادر هاشمي او نورو ټولو هغو دوستانو دهلوڅلو مننه کوو چې ددې کتاب د خپریدلو په چاره کې یې تر سره کړي دي.

په درناوي

دافغانستان دکلتوري ټولنه

۱۹۹۹ع دجولای پنځمه

۱۳۷۸ لمریز دچونگاښ ۱٤

# دژباړن انګيرنه

ګرانه لوستونکيه ، السلام عليکم ورحمة اله وبرکاته ،

دحديث شريف له مخې « صحت او فراغت دوه هغه نعمتونه دي چې ارزښت يې تر زوال وروسته انسانانو ته ثابتيږي . » ما دهمدې مبارک حديث له ارشاد څخه په ګټمن کيدو سره هڅه کړې چې که په هند کې دخپل يوولس کلن تريخ ژوند پر مهال دصحت لرنه راته ګرانه وه ، فراغت خواقلاً را څخه ضايع نشي او ځان پدې توګه دخپل ولس په خدمت کې وقف کړم . دا يو څرګند حقيقت دی چې رښتيني کډوال نور هيڅ نلري خوله بده مرغه «وخت» ډير لري . ما دهمدې زيات وخت په لرنه سره بيلابيل آثارژباړلي ، بيلابيلې پلټنې اوڅيړنې مې کړي او څه ليکنې مې تهيه او خپرې کړې هم دي. پدې لړ کې يو همدا دافغانستان بهرني اړيکي دي چې ښاغلي لوډويک اډاميک اتريش الاصل امريکايي څيړاند په ۱۹۷۳ کې تاليف کړيدی .

ګرانه لوستونکيه ، داکتاب ما په ۱۹۹۱ کې ژباړلی خو دهغه وروستي

دري فصله او ملپاني مې ديو چا لخوا دهغه ترغلاكولو وروسته د ۱۹۹۹ په لومړيو كې له سره وڅېړلې چې دې كار ډېر ستړى كړم ځكه داوخت زه په يو لږ نورو خورا جدي او ناوړه ستونزو كې هم رانغښتى وم. دكتاب په متن كې مې هر ځاى داړونده محبث دلابشپړتيا او ښه تسلسل په خاطر له بيلابيلو معتبرو آثارو څخه ګڼ شمير لمن ليكنې تهيه كړې وې او غوښتل مې چې هغه تړاوونده پاراګرافونو لاندې ورسره مل كړم ترڅو كتاب نور هم مشرح، موثق او معتبر شي خو له بده مرغه يو لږ سختو او جدي ستونزو دونه رابنكيل كړم چې زه او هغه لمن ليكنې يې سره ورك كړو. دا لاځه چې ددې كتاب چاپ يې هم ډير ځنډني او زما ټول ځيرندو يې كار يې رانيمه خوا كړ.

ښاغلى اډاميک پخپل دې اثر كې له امير حبيب الله خان څخه دمحمد-داود خان تر جمهوريت پورې د افغانستان ۷۳ كلن بهرني اړيكي په خورا عالمانه توګه څيړلي دي چې په بل اثر كې په دونه بشپړتيا سره ندي راغلي. ليكوال خپل دا مستند اثر په ډيره پلتنه او ګروېرنه سره تهيه كړيدي.

نوموړى په خورا سره سينه دافغانستان دبهرنيو اړيكو دغه وچ كوهي ته وركښته سوى، دورې هورې يې لاس تېرولى او ډير ناويل سوي او ناڅرګند اسناد يې ميندلي او را ايستلي دي چې په مجموع كې يې ديو معتبر اخځ دريغ غوره كړيدى. ددې علمي اثر بل ښه والى دادى چې ليكوال دافغانستان بهرني اړيكي دهېواد له كورنيو پر مختياوو سره په يو عيني تړاو كې څيړلي دي. داكار لوستونكى دې ته اړباسي چې په يو پراګراف پسې هرومرو آبل يعنې ورپسې پاراګراف هم ولولي او د كتاب متن په ډيره مينه خپل دماغ ته وسپاري.

ګرانه لوستونكيه: ليكوال له دې ټولو سره سره په ځينو برخو په تيره

پنځم فصل کې دخپلو ځو تنو افغاني سلاکارانو ځاني انګېرنې هم په پام کې لرلي او خپل راتول کړي څه مستند څرکونه یې پدې ډول دهغوی دشخصي ادعاګانو په خوله کې ورکړیدي . دبېلګې په ډول دپنځم فصل دلومړي پاراګراف وروستی لیکه همدا تول پراګراف بیرته باطلوي . لیکوال همدا ډول د ( تینګښت پړاو ) پهاړونده مبحث کې دبچه سقاو په هکله دخورا مرموز شخص ښاغلی روان فرهادي ځاني انګیرنې اغیزمن کړی او پدې توګه د بچه سقاو پر قطاع الطریقی باندې شک ښکاره کوي او هغه ته کاذبانه برائت ورکوي . داسې چې ګواکې همدا بچه سقاو ښایي هماغه لاره نیونکی او غل حبیب اله نه بلکې ښایي کوم بل حبیب اله به وي . دښاغلي اډامیک مرموز سلاکاران لکه روان فرهادي او نور دخپلو مسخ کوونکو انګېرنو له مخې دغلا هغه چرګ انتقالوي چې پښې یې ترپتو راوتلي مګر دچرګ پر نشتوالي بیاهم ټینګار کوي . هغوی پدې ډول دقطاع الطریق حبیب الله کاذبانه برائت دښاغلي اډامیک تر منظوری تیروي پداسې حال کې چې نور خو لا څه ، پخپله همدا اډامیک داړونده مبحث په هرپاراګراف کې دبچه سقاو له خوا شر ، فساد ، ظلم ، وحشت او غیر اسلامي کړنې په شو-اهدوسره بیانوي او خپل دا « خاطر بینا نه برائت » بیرته خنثی او باطل ثابتوي .

ګرانه لوستونکیه ! برتانوي چار واکي ځینې پخوانی مخفي دوسیې او پټ اسناد هله ډاګیزه او خپروي چې پنځوس کاله وریاندې تېرسي . خو هغه استخباراتي پاڼې یې سوځي چې ددوی پخوانی « برم ! » او اوسنی « حیثیت ! » وریاندې سپک او پر مځکې وهل کیږي . له همدې کبله دافغانستان په هکله دانګریزانو داستخباراتي کړنو ګڼ شمیر پټ سندونه

له منځه ورل سوي حال دا چې عادي اسنادیې خپاره او ښودل سویدي ، پدې اړوند ښاغلي اډامیک دغسې « ناسوځل شوي » څرکونه دبیلابیلو هیوادو کتابتونونواو آرشیفونو ته په ننوتو سره میندلي او سپړلي چې دا څه آسانه کار ندی .

گرانه لوستونکیه .! دافغانستان دمعاصر تاریخ په څیړنه کې لویه ستونزه داده چې زموږ زیاتره تاریخي پیښې بهرنیو لویدیځ والو لیکلې دي. نن موږ گورو چې بهرنیو تقریباً ټولو څیړونکو ( له دې حملې اډامیک ) پردې ادعا ټینگار کړی او هر یو د آبل انگیرنه پسې څارلې چې وایي دافغانستان واکمنانو ( په تیره امیر عبدالرحمن خان او امیر حبیب اله خان ) دروسیې او برتانیې تر منځ « لویې لوبې » ته رونق ورکړی او هغوی دادواړه ځواکونه یو دبل پر ضد استعمال کړیدي او پدې ډول یې گواکې افغانستان ورڅخه ژغورلی دی . خوزه دا انگیرنه دیو لړ سیاسي ، حقوقي اصلونو له مخې نه منم ، له پیاوړو تاریخ پوهانو څخه په عفو سره زما قضاوت دادی چې یو خوار ځواکی ، یو محتاج او یو نښتیځلی افغاني دولت څنگه کولای سولی چې روسیه او برتانیه یو بل ته ولمسوي او په نتیجه کې افغانستان ددواړو له منگلو څخه وساتي . که لږ څه مسئلې ته ځیر سو نو ویه مومو چې : داسې یو واکمن ( لکه امیر عبدالرحمن خان ) څنگه کولای سولی چې برتانیه او روسیه یو بل ته ولمسوي او افغانستان ورڅخه بچ کړي چې یو خوهغه پخپله دهغوی دواړو په خوښه پاچا سو او بل دا چې آن تر پاچا کیدو دمخه او وروسته یې دانگریزانو ټول شرایط پر ځان ومنل او پدې ډول له انگریزانو سره دافغانانو ددویمې جگړې دشهیدانو وینې په اوبو پریولل سوې . لکه څنگه چې په ۱۸۸۰ کې عبدالرحمن خان ته پدې شرطونو کې ویل سوی وو چې :

۱- افغاني واکمن له انګلستان څخه پرته له بل هیڅ کوم بهرني دولت سره سیاسي اړیکي نسي ټینګولای ( دغه فقرې افغانستان له سیاسي خپلواکۍ څخه بې برخې کاوه ) ۰ ۲- کندهار او دهغه ټوله سیمه به دکوم بل واکمن تر واک لاندې راځي . ( دا دافغانستان دتجزیې دپلان یوه برخه وه ) ۰ ۳- دپښین او سیبۍ سیمه به دانګریزانو تر واک لاندې همدغسې پاته وي ، ٤- له امیر یعقوب خان سره لاسلیک سوی دګندمک تړون به هماغسې اعتبار لري ، ٥- دانګریزانو (مات سوی ) پوځ به له کابل ، جلال آباد او کندهار څخه پولې ته په زغورنده ډول سره تېرېږي . ( باید وویل سي چې عبدالرحمن خان له بده مرغه دا ټول شرایط ومنل او انګریزانو هم کله چې لانوموړی په چاریکار کې و ، هغه د افغانستان دپاچا په توګه ومانه ، خو دویم شرط یعنې دافغانستان له وجوده دکندهار دپرې کیدو اړونده ماده له نیکه مرغه دمیوند دسپیڅلې جګړې په برکت او هلته په لندن کې دمحافظه کار حکومت دماتې او دلیبرالانو دبریالیتوب په وجه عملي نکړای سوه که نه عبدالرحمن خان چمتو و چې دځان دپاچا کیدو په بدل کې یې آن دافغانستان زړه هم پراغیار . پلورلی وای . )

بل دا چې : داسې یو واکمن چې هغه پخپله دروسیې او برتانیې ښکار و ، څنګه کولای سو دا دواړه ځواکونه یو بل ته ولمسوي او افغانستان ور څخه وژغوري ؟ ددې ښکار په بهیر کې روسانو په ۱۸۸٤ کې مرو ، پل خاتون ، د ذالفقار ننوتو ځی ، ا یماق او په ۱۸۸٥ کې پنجده ، آق تیپه ، چمن بید ، او چشمه سلیم ورڅخه ونیول ، پداسې حال کې چې انګریزانو په ۱۸۸٥ کې دهشتادان سمسوره سیمه ، دایوبې پراخه سیمه او دهغه ټول کاریزونه او په ۱۸۸۸ کې نمکسار او دسیستان زیاتې سیمې او په ۱۹۰٥ کې دهلمند

دسیند داوبواو دسیستان دسیمې دریمه برخه له افغانستان بیله او ایران ته ویخښبله او پخپله یې دډیورند دناولې ترون له مخې په ۱۸۹۳ کې پاتې افغانستان پر منځ دوه ټوټې کړچې یوه ټوټه یې پخپل قلمرو ورگډه کړه....

دریم دا چې: هغه واکمن څنگه کولای سو دا ستر ځواکونه یو دبل پر ضد استعمال کړي یا څنگه یې کولای سو افغانستان دهغوی له شره وساتي؟ پداسې حال کې چې هغه ته پخپله انگریزانو تر ۱۸۹۳ پورې دکال ۱۲ لکه ( یعنې دولس سوه زره ) روپۍ بسپنه ( اصلاً رشوت ) ورکاوه حال دا چې دډیورند دمنحوس ترون تر لاسلیک وروسته دامبلغ ۱۸ لکه ( یعنې ا تلس سوه زره ) کلدارو ته جگ کړای سو ( که چیرې انگریزانو ددې بډو دمبلغ په ډیرولو سره دافغانستان نورې سیمې هم غوښتې وای شایي امیر وریاندې پلورلې وای . )

له پورته لنډو سیاسي ، حقوقي یادونو څخه ښکاري چې دامیر عبدالرحمن-خان او امیر حبیب الله خان دولتونه پر افغانستان باندې دحاکمیت له حق نه بې برخې وو ، افغانستان له سیاسي پلوه نه دبرتانیې او نه هم له روسیې سره برابر حق درلود ، دغو سترځواکیزو چې څه غوښتي هغه یې پر امیر باندې کړي خو هر څه چې امیرغوښتي پر هغوی یې هیڅ ندي منلي . دامیر په استعمال سره دافغانستان دوجود بیلابیل غړي غوڅ او دریو گاونډیو خپل غاښونه وریاندې تاوده کړل ، هغوی افغانستان دپنځلس لکه کیلو متره مربع مساحت څخه فقط ۸ لکه کیلو متره مربع مساحت ته راکښته او ونښتیځی ، یعنې نیم افغانستان روسیې او برتانیې هضم کړ پداسې حال کې چې څه برخه یې ایران ته هم ویخښبل سوه . افغانستان ټول تال پر برتانوي « بسپنه » تکیه او دا نگریزانو له خوښې نه پرته یې هیڅ هم نسو کولای . دکال ۱۸ لکه کلداري « نقدي مرسته » وریا نه بلکې دافغانستان دسیاسي خپلواکۍ دبې برخې په

بیه تمامه سوه .

د تاریخي اسنادو په لوستو سره به دا ثابته سي چې افغانستان له سیاسي پلوه دامیر عبدالرحمن خان دواک پر مهال دیو « عدم الاستقلال » حالت ښکارو ، حال دا چې دامیر حبیب اله خان دواک پر مهال په یو « ناقص استقلال » حالت کې راښکیل و او دهمدې علت له مخې په ۱۹۱۹ کې دافغانستان سیاسي خپلواکي وگټل سوه چې برتانیې هم ډیر ژر په رسمیت وپیژندله . ددې مانا دا ده چې امیر عبدالرحمن خان او امیر حبیبا له خان دغه دوه ستر ځواکونه یو دبل پر ضد ندي استعمال کړي او نه یې هم افغانستان له هغوی څخه ژغورلی ، بلکې ستر ځواکیزو پخپله غوښتي چې افغانستان ددواړو ترمنځ دیوې بیلونکې سیمې په توگه واقع او څه سیمې یې ورڅخه غوځې هم کړې . ځکه و مولیدل چې « بسپنه خوړونکی » امیر دځان دپاچا کیدو په بدل کې دافغانستان سیاسي خپواکي او دحاکمیت حق ( Soverignty ) پر روسیې او برتانیې باندې وپلوره . امیر عبدالرحمن-خان او دهغه زوی حبیب اله خان له برتانیې سره پخپلو ټولو تړونونو کې له برابر دریغ نه بې برخې وو ، دملت ا راده ورسره مل نه وه ، او انگریزانو هر څه دچل ول ، تطمیع او تصدید په نتیجه کې وریاندې منلي او تړلي دي ، ځکه نو دا انگیرنه سمه او معقوله نه ښکاري چې گواکې امیر عبدالرحمن خان په خاص ډول او حبیب اله خان په عام ډول ددې ټولو وطن سپاریو په بدل کې دافغانستان ملي یو والي او دیو مرکزي غښتلي دولت استقرار تامین او ملوک الطوایفي یې ورکه کړه . دڅرگندو اسنادو له مخې دا ثابته سویده چې نوموړو پاچهانو دځاني واک دبقا په خاطر هر څه آن دافغانستان زیاتې سیمې هم پردیو ته وژکړې . انگریزانو هم د « څه راکړه او څه واخله »

دفارمول له مخې دهغوی په وړاندې دواک عمده سیالان ( له دې جملې غازي ایوب خان .... ) ترې وځپل او خپل ماتې پوځ یې له افغانستانه په امن سره ویوست او سیاسي ډگر یې پدې توگه عبدالرحمن خان ته صاف کړ چې دغو کړنو پخپله دافغانستان یو والی او دمرکز دولت استقرار تامین کړ .

په لنډه توگه ، دابرتانوي چارواکي ووچې دافغانستان د « بالفعل » امیرانو په رول کې یې دافغانستان بهرنۍ چارې تر خپل بشپړ کنترول لاندې لرلې او ښاغلی اډامیک ددغسې یو نښتیځلي افغانستان بهرني اړیکي څیړي .

گرانه لوستونکیه ! په پای کې دافغانستان دکلتوري ودې د تولنې له مشر ښاغلي انځور او تولو غړو ، او هلته په پیښور کې ددې کتاب دکمپوزاو چاپ په برخه کې دگران ورور پوهنیار یون او محمد ابراهیم همکار زیاتې هلې ځلې ستایم او دلوی خدای (ج) له درباره ورته نور بریالیتوبونه هم غواړم .

والسلام علیکم ورحمة اله و برکاته

دهیواد په درد دردمن ، نثاراحمد صمد

زوړ ډیلی ، هندوستان

د ۱۹۹۹ دجون ۲۹

# سریزه

دافغانستان دبهرنیو چارو تاریخ ، دهیواد دحائل توب سیاست او له شوروي اتحاد ، جرمني او برتانیې سره دهغه اړیکي له پراخو آرشیفي منابعو څخه له استفادې پرته نشي تشریح کیدای . په لاندیني کارکې ، نوموړی تاریخ د دپلوماتیکو مراسلاتو ، سیاسي پادشاهانو او لندیزونو ، دتگلارې جوړونکو کسانو درپوټونو ، او دمهمو پیښو دلیدونکو دبیان پر بنسټ نوې بڼه اخلي .

تردې دمخه نوموړې منابع دهندوستان ، برتانیې ، جرمني ، شوروي اتحاد او متحده ایالتونو دبهرنیو سیاسي چارو دآرشیفونو په پټو دوسیوکې خوندي وې . په دې کې له اوسنیو ورځپاڼو او هغه خپرونو څخه هم تر یوې اندازې استفاده شوې چې په لویدیځ پوهیوادو او هم په افغانستان او هند کې خپرې شویدي . دلته مې له نشر شویو کتابونو او حکومتي رسمي خپرونو څخه خورا لږکار اخیستی دی . په همدې ډول داسې خپرونې لکه « دامریکې دبهرنیو اړیکو مربوط اسناد » ، « دبرتانیې دبهرنۍ تگلارې مربوط اسناد » او « ډاکومینتي زور ورجي شیشتي دیس گریکس » ترهغه ځایه گټور دي چې دهماغه وخت آرشیفي مواد یې پټ پاتې وي . په تیره بیا دا حالت د « ډاکومینتي ونیشني پولتیکي ایس ایس ایس آر » او دافغانستان او شوروي اتحاد دبهرنیو چارو وزارتونو له خوا په گډه دخپاره کړي کتاب

«دافغانستان اوشوروي اتحاد اړيکو (۱۹۱۹ - ۱۹۶۹)» لپاره ښه صدق کوي چې په ماسکو کې په روسي ژبه هم خپور شوی دی.

دآرشيفي موادو پرتله ښيي چې رسمي سرکاري خپرونې خورا انتخابي وي؛ سپين کتابونه، پارلماني مواد، اونورې کټ مټ پاڼې معمولاً پر عوامو داغيزې لپاره خپرېږي اوپه جامع ډول هغه څه چې وي نه يې شي ويلای. سربېره پردې، څنګه چې دلويو ځواکونو په خارجي اړيکو کې افغانستان کوچنی مقام لري، نو ځکه درسمي خپرونو له خوا دارنګه معاملې سمې نه منعکس کيږي.

دافغانستان اړوند ليکنې زياتې او په خورا ګړنديتوب سره پسې ډيرېږي؛ همداوجه ده چې دلته په بشپړه توګه نشي هغه څېړل کيدای. هرکال نوي نوي کتابونه راوځي. په متحده ايالتونو کې د ډونالډ ان. ولبر له خوا د «افغانستان» او «دافغانستان تفسيري کتاب پيژندنه» او د آرنالډ فليچر له خوا د «افغانستان: دکاميابۍ لوي لار» له خپريدو څخه راوروسته يو لړ مهم کارونه ترسره شوي دي، په دې لړ کې د وارتن ګريګورين اثر «داوسني افغانستان ظهور»، دلويې دوپرې اثر «افغانستان»، دريچارډ نيول «دافغانستان سياست» نومي اثر او دليون پولاډا «په افغانستان کې اصلاحات اوبلوا» نومي اثر چې دامير امانه الله عصر په تشريحي ډول څيړي، ډيادولوړ دي. که څه هم ځينو دغو ليکوالو له آرشيفي موادو څخه ګټه اخيستې، خو ډيرو ليکنو پر بهرنۍ کړنلارې يا سياسي تاريخ باندې سمه غوټه نه ده راګرځولې.

ځيني کتابونه چې د آرشيفي سرچينو پر بنسټ بهرنۍ اړيکې څيړي، هغوی له دې کتاب څخه د مخکني عصر پر بهرنيو اړيکو رڼا اچوي لکه: دهيبرتن اثر، «دافغانستان مربوط دانګريز - روس اړيکي ۱۸۳۷ -

۱۹۰۷ » ، ددي .پي سنگهل اثر ، « هند او افغانستان » ، او د آر . ايس . رستوګي اثر ، « دهند - افغانستان اړيکي ۱۸۸۰-۱۹۰۰ ».

ددې عاجز ليکوال « جرمني ، دافغانستان په بهرنيو اړيکو کې دريهم ځواک » او « افغانستان : نوي تماسونه » په لنډه توګه دجرمني - افغان اړيکې بيانوي او مخکيني کتاب « افغانستان (۱۹۰۰-۱۹۲۳) يو سياسي تاريخ » مې دافغانستان دبهرني کرنلارې جوړښت او بشپړتيا دشلمې پيړۍ تر لومړۍ شليزې پورې څېړې يانې کله چې افغانستان خپلواکي ګټې . له کومو موادو څخه چې مې په پورتني کتاب کې ګټه اخيستې په همدغه ليکنه کې مې هم تر غور لاندې نيولي ، خو ګڼ قوميزه اړيکو ته د زيات تينګار له مخې مې په دې کتاب کې له داسې موادو څخه هم ګټه اخيستې چې پخوا له دې نشواى ترلاسه کيداى .

د آرشيفي سرچينو پرينسټ بل يوازينى کتاب چې دافغان - جرمني اوسنۍ اړيکي څيړي په ختيز الماني کې دهنس ګلاسنيک او انګي کرچي سين اثر « ترکي اند افغانستان : برين پنکتى در اورينټ پولى تيک ام زوئتهين ويلټ کريګ » « ترکيه او افغانستان : په دويمه نړيواله جګړه کې دختيځ دسياست مرکزي ټکى » دى . دغو ليکوالو په لويديځ کې دټولو خوندي سرچينو له شته والي څخه خبرتيا نه لرله اونه يې هم ددې خبرې د څرګندولو کوښښ کړى چې دافغان - جرمني اړيکو ټينګښت په اصل کې دشوروي او لويې برتانيې پر هدفونو باندې دافغانستان دبې باورۍ پايله وه . دکمونستي بلاک په هيوادو کې د خپرونو لوستنه زما هغه انګيرنه چې په شوروي اتحاد کې مې دخپلې څېړنې په وخت کې لرله رښتيا کوي : هلته دبهرنيو سياسي اسنادو څېړنه هم دوطني او هم دخارجي تاريخ پوهانو پرمخ بنده ده . له همدې کبله « داکو مينتي ونيشني پوليتکى ايس ايس آر »

او « دافغانستان او شوروي اتحاد اړيکي ۱۹۱۹ - ۱۹۶۹ » چې دافغان او شوروي پخواني پټ آرشيفي په خپله ځولی کې رانغاړي ، خورامهم دي . ما په بيلا بيلو کتابتونونو کې داسنادو د سپړلو او دکتاب پيژندنې په هکله له شوروي څيړونکو سره دسلا مشورې په خاطر څلور واره دشوروي اتحاد دماسکو ، تاشکند ، او دوشنبې څخه ليدنه کړيده .

ماد ورنر او توفن هنتهگ چې په ( ۱۹۱۵م ) کې دافغانستان لپاره د « هنتهگ - نيدرماير دهيئت » مشر و دځينو مجلسونو او ليکنو څخه ډيره استفاده کړيده . په کابل کې دجرمني لومړنی مرستيال سفير فريتس گروبا هم دخوښې او ميلمه پالنې له مخې کټ مټ داسې معلومونې او پوهونې راسره شريکې کړې چې په هيڅ يوه آرشيف کې ترلاسه کيدلې نه شوې . دغو دواړو کسانو ددې کتاب قلمي نسخه ولوستله او هم يې دځينو برخو په هکله خپلې نظريې څرگندې کړې . دحکومت ، سفارت ، او بهرنيو چارو وزارت مربوط ډيرو افغانانو ، او همدارنگه ډيروانفرادي کسانو ددې اثر په هکله يا خو معلومات راکړي او يا يې هم دداسې موضوعگانو په روښانولو کې مرسته کړې چې زه پکې شکمن وم ، سيد قاسم رشتيا ، تکړه افغاني تاريخ پوه او په جاپان کې دافغانستان سفير ، او روان فرهادي ، دبهرنيو چارو وزارت مرستيال ، دقلمي نسخې ځينې برخې ولوستلې چې ددوی څرگندونې او هڅونې ډيرې قدرورې دي . په ماسکو کې د « ختيځ څيړنو دانستيتوت » مشر آر . تې اخرالوويچ او ددې انستيتوت د « نړيوالو مطالعاتو دڅانگې » مشر جي . ايل بوندارو فسکي له ما سره د کتاب پيژندنې په باب وغږيدل او دشوروي له نظره يې زما پر قلمي نسخه باندې څرگندونې وکړې .

زه له شيلا ای ، سکوويلي څخه دقلمي نسخې دټايپولو او دارزښتمنو سمونونو او وړانديزونو له کبله خوښي څرگندوم . دا يريزونا پوهنتون

دچاپخوني مدير ، مارشل تاون سيند ، او سمون چاري سوسن ايدلر ته ، په اغيزمن ډول دکتاب دچاپولو په سبب کوروداني وايم .

دايريزونا پوهنتون د « ختيځ څېړني دڅانګې » مشر ، ويليام آرشولتز ، او مرستيال فلورانس سنډيل ، په اداري چاروکې راسره مرستندويان وو . دهند دملي آرشيف دخيرنو له څانګې څخه ايس . کي . ډوګره ، په زړه پورې سلامشورې او مرسته کړې او ددې موسسې دعکس اخيستنې له څانګې څخه اوم پرکاش بهګرا له بهرنيو سياسي دوسيو څخه دخورا ارزښتمن او ګټور مايکرو فلم په برابرولو کې مرسته راسره کړېده .

د « نژدې ختيځ دمرکز » مدير ، مرحوم پوهاند جي اى فن ګرون بام ، دتاريخ له څانګې څخه ، ستنيلي ولپرټ ، او دسياسي علومو له څانګې څخه رابرټ نيومن ( د ١٩٧٦ راهيسې په کابل کې دامريکي سفير ) ، ټولو په ( UCLA ) کې ، ددې پروژې دخيړندويزې بشپړتيا په وخت کې مرسته کړېده . په کابل کې رابرټ مک ډونالډ او لويي دوپرې دواړو مرسته راسره کوله . جان بيډروسين ، ليوپولادا ، او ارنالډ فليچر دکتاب قلمي نسخه ولوسته او په خپلو کره کتنو سره يې زما اثر ګټور کړ .

غواړم له لاندنيو موسسو او کارکوونکو څخه دزړه له کومي مننه وکړم لکه: دهندملي آرشيف ، نوى ډيلي ، هند ؛ دجرمني دبهرنيو چارو وزارت آرشيف ، بن ، جرمني ؛ دهند دفتري کتابتون او ليکنې ، دعامه ليکنو دفتر ، لندن ، انګلستان ؛ دمتحده ايالتونو ملي آرشيف ، واشنګټن ، ډي سي؛ کابل کتابتون ، دافغان تاريخ ټولنه ، دکابل پوهنتون کتابتون ، کابل ، افغانستان؛ لينن کتابتون ، ماسکو ؛ دکانګريس کتابتون ، واشنګټن ډي سي .

لوډويک اداميک

# دکتاب پېژندنه

دافغانستان سیمه دسیاسي جغرافیایي سترتوب یو اوږد تاریخ لري . داد ختیځ او لویدیځ ترمنځ او په جنوب کې دهند دنیمې وچې خواته دسوداګرۍ او کوچېدنو ځلورلارې ګڼل شوی ، چې « ولکروندرنګن » او بیلا بیل یرغلګر ځنې تیرشویدي . لومړی پارسیان او یونانیان او بیا مسلمان عرب ، ترکان ، مغول او یو وار بیا پارسیان له دې سیمې څخه تیر شویدي . افغانستان دیرځله دیوې واکمنۍ دداسې ګوښه مورچل حیثیت غوره کړی ، چې له هغه څخه پربله واکمنۍ برید شوی ، یا ددوو امپراتور یو ترمنځ یوه بې ښبتنه مځکه ګڼل شوې چې پراختیا غوښتونکو ګاونډیانو یې دیوې سیاسي خلا په سترګه ورته کتلي دي . داحالت دشپاړسمې ، ولسمې او اتلسمې پیړیو په څه موده کې تر هغه وخته پاتېږي چې دپارس صفویان او دهند مغولان خپلې واګې تر افغانستان پورې غزوي او دنولسمې او شلمې پیړیو په یو څه وختونو کې تر هغو پاینبت کوي چې روس او برتانیه خپل سرحدونه دافغاني واکمن تر لاس لاندې سیمو ته پسې ور اوږدوي .

داکتاب دروسیې اوبرتانیې په وړاندې دافغانستان پر سیاسي ځواکمنو

حالاتو او دنولسمې پيړۍ له وروستيو څخه بيا دشلمې پيړۍ ترنيمايي پورې له نوموړو قدرتونو سره دافغاني واکمنانو پر اړيکو رڼا اچوي. کتاب دجرمني او افغانستان ترمنځ هغه « ځانګړي اړيکي » تشريح کوي چې دسياسي او اقتصادي آزادۍ دګټلو لپاره افغاني واکمنانو غوښتل چې دمنځنۍ آسيا په چوړلۍ کې جرمني د « دريم ځواک » په توګه ودروي او په دې ډول دافغانستان ګاونډيان يو تربله په شر سره واچوي .

ددې کتاب تر ځيړنې دمخه موده کې دافغاني تګلارې دجوړونکو کړه وړه او تمايلات اود باندينو اړيکو دتاريخ لنډيز به دلوستونکو لپاره ګټمور ثابت شي.

د ( ۱۷٤۷ ) يانې اوسني افغانستان له پيل راهيسې ، دافغانستان په بهرنۍ کړنلاره کې څلورښکاره پړاوونه ليدل کيداى شي ؛ داپړاوونه ، چې دافغانستان دستونزو اواړولو لپاره لاس ته پرونه راښيي او بالاخره دافغاني بهرنۍ پاليسي اړوند جوړښت ته مو پام اړوي ، په دې ډول دي : لومړى ، دپراختيا غوښتنې پړاو ، چې له (۱۷٤۷ ) څخه تر ( ۱۸۰۰ ) پورې و پايده . دويم ، له( ۱۸۰۰ څخه تر ۱۸۸۰ ) پورې دبهرنۍ لاس اچونې پړاو ، چې له پارس ، روسيې او برتانيې څخه علاوه دپنجاب پاڅيدونکي سک ځواک ته په غېږه ورتګ و . دريم ، ددفاعي ګوښه کيدنې پړاو ، چې دامير عبدالرحمن ( ۱۹۰۱-۱۸۸۰ ) له خوا را پيل او امير حبيب الله ( ۱۹۱۹-۱۹۰۱ ) په( ۱۹۱۹ )کې ترخپلې مړينې پورې دوام ورکړ . او څلورم ، ددفاعي بيطرفۍ پړاو ، چې دافغانستان دروازه يې بهرنيو لاس وهنو ته پرانيستله . دغه پړاو ددويمې نړيوالې جګړې راهيسې لا تر وروسته پورې دوام کوي چې له هند څخه دبرتانيې په وتلو سره يې نوي شرايط منځته راوړل .

په لومړني پړاو کې مور افغاني واکمنان دير داسې دولت په تينګښدو کې

وينو چې د هغه پولې تر دې وخته لا د پرله پسې ښويدو په حال کې وې .

د نادرشاه د واکمنۍ د ختيځو برخو د وارثانو په توګه* پخوانيو افغاني مشرانو د پراخوونکې سيمې په توګه هندوستان ته سترګې نيولې وې . د هندوستان دشتمنيو ورکشوونکو ولولو ، د اسلام بلنې روحيې ، او د يوې سياسي خلاشتوالي کورټ يوه پراختيا غوښونکې تګلاره منځته راوړله .

خو د اپراو هغه مهال پای ته ورسيد چې د برتانيې لاس وهنو افغاني پراختيا غوښتونکې تلوسې پای ته ورسولې .

د بهرنۍ لاس اچونې په پړاو کې برتانيې پر بلوچستان ، سند ، کشمير او لويديز پنجاب باندې د افغانستان څارنه نوره پای ته ورسوله . لارډ ويلزلي ، د بنګال والي ( ۱۸۰۵-۱۷۹۸ ) ، لويديځ پلو پارسيان په پوځ کې ودرول چې د ختيز پنجاب د نيولو په باب د زمانشاه د پلانونو مخه ونيسي .

د افغانستان مخه ونيول شوه ، او نور نو د برتانيې غوځ اقدام پاتې و . د هند مشر لارډ اکلنډ ( ۱۸۳۶-۱۸۳۹ ) ، يوه مخکښنه تګلاره جوړه کړه چې د هغې له مخې په پام کې وه ، د افغانستان اداره داسې يوه ايجنسي پر ذمه واخلي چې د برتانيې راوستلي واکمن له خوا به منځته راځي . دوست محمد خان ، يو باکفايته واکمن او د برتانيې د ملګر توب ليوال ، په يو پوځي عمل سره له تخته ګوزار شو چې د اکار د انګريز - افغان د لومړي جنګ ( ۱۸۳۹-۱۸٤۲ ) په توګه وپيژندل شو .

شاه شجاع ( ۱۵-۱۸۰۳ او ٤۲- ۱۸۳۹ ) ، چې برتانيې پر تخت کښيناوه ، د خپلو ساتندويانو له ماتې څخه وروسته يې ونکړای شو چې پر قدرت پاتې شي ، ځکه نو برتانيې هم له افغانستان څخه خپل پوځونه وايستل ،

---

* - نادر شاه (٤٧- ۱۷۳٦) ځان د پارس پاچا کړ ، مګر دده تر مړينې وروسته د اواکمني پای ته ورسېده .

د دې جګړې ناکامۍ د نورو ځلوښتو کالو لپاره د برتانیې وړاندې تګ سره ولړزاوه ، چې په ( ۱۸۷۸-۷۹ ) کې یې د انګریز - افغان د دویمې جګړې په لړ کې بیا افغانستان ونیو . د دې دواړو جګړو پېښو په هند کې برتانوي افسرانو ته داورزده کړل چې په افغانستان کې د برتانیې په ملاتړ کوم پاچا ترهغو چې افغانستان نیول شوی نه وي نه شي ټینګیدای او د افغانستان دغسې نیول خو هم ګران او هم له خطر څخه ډک و . په هرحال ، د برتانیې پالیسي جوړونکي پر دې عقیده وو چې پر افغانستان باندې هر ډول ځارنه چې کیدای شي د هندوستان د ژغورنې لپاره ضروري ده . یو امکان یې دا و چې د پیسو او وسلو ، د سوغاتونو او د یو منظم تخصیص له لارې دې باالفعل واکمن په رسمیت وپیژندل شي او هغه دې له برتانیې سره وتړل شي . ځکه خو . له ۱۸۸۰ څخه را وروسته د افغانستان د بهرنیو اړیکو د دریم پړاو بنسټ د امیر عبدالرحمن او هندي حکومت ترمنځ د یو لړ تړونونو په توګه کیښودل شو ، چې د هغوی له مخې افغاني واکمن له برتانیې سره اندیوال او د روسي یرغل په وخت کې یې دفاع پر ذمه واخیستل شوه . په دې پړاو کې عبدالرحمن خان خپله بهرنۍ تګلاره جوړه کړه چې په را وروسته کې یې د افغانستان نړیوالې اړیکې اغیزمنې کړې.

عبدالرحمن خان د پراختیاغوښتونکو ګاونډیو دراوړاندې کیدو له کبله خپلې سیمې او د هیواد خپلواکي په خطر کې ولیده . ده احساس کاوه چې روسیه د هند پر لوري د خپل سرحد پراخول غواړي او دا یې و لیدل چې برتانیه د پښتنو او افغانستان د شمالي پولو ترمنځ د یو ګوښه « علمي سرحد » د لرلو په خاطر چې برتانوي پوځي ماهران یې په لټه کې دي ، ورو ورو د افغانستان زړګي ته ځان رسوي . عبدالرحمن خان د خپلو سیمو په وړاندې د پیداشوي ګواښ د لرې کولو لپاره ، یوه تګلاره جوړه کړه چې درې بنسټیز ټکي یې لرل:

پوځي خپلواکي ، دفاعي ګوښه والی ، او په تدبير سره اقدام کول ، يا دبهرنيو فشارونو ، انډول کول وو . عبدالرحمن او دده زوی يانې دتخت وارث ، امير حبيب الله ، په دې لړ کې بريالي شول ، له برتانيې سره ددفاعي ملګرتوب په ساتلو سره افغانستان په خپله له نورو نړی ځخه ګوښه شو ، چې دهغه له مخې دافغانستان ځمکنۍ بشپړتيا تظمين او ترډيره ځايه ، برتانيه په دې داده کړای شوه چې له دې ځخه وروسته « دهند دروازه » دبهرنيو يرغلګرو پرمخ وتړل شوه .

اميرعبدالرحمن په دې راضي کړای شو چې بوازې دبرتانوي هند له حکومت سره به سياسي اړيکي لري اوداکار ديو هندي مسلمان په واسطه ترسره شو. افغاني واکمن په لندن کې له برتانوي حکومت سره په مستقيم ډول هيڅ تماس نيولای نه شو . افغاني واکمن ځکه دخپل حاکميت په حقونو کې دارنګه مداخله ومنله چې يو خوبرتانيې دافغانستان ځمکنۍ بشپړتيا په رسميت وپيژندله او بل داچې ژمنه يې ورکړه که په ناحقه بهرنۍ يرغل وشي نو برتانيه به دافغانستان ملاتړکوي چې امير به نو « دخارجي اړيکو .. په باره کې لږ تر لږه دبرتانوي حکومت سلامشورو ته غاړه ږدي .* »

له برتانيې سره دعبدالرحمن تړون چې دخپلو شمالي سيمو دخوندي ساتلو لپاره و اصلاً دروسيې پرضد و ، افغاني واکمن کولای شو تردې وروسته له برتانيې ځخه هم ځان ګوښه کړي . ده له خپلو مشرتابه حقونو ځخه کينه ييزه دفاع وکړه او دبرتانيې هرهغه کوښښ يې شنډ کړچې دپوځي يا اقتصادي مرستې ترنامه لاندې يې په سوله ييز ډول افغانستان ته لاره

---

* - دعبدالرحمن دبهرنۍ تګلارې دلازياتې لوستنې لپاره دلوډويک ، ډبليو ، اډميک « افغانستان ( ۱۹۰۰ - ۱۹۲۳ ) يو ډپلوماتيک تاريخ » هر کلی دکليفورنيا پوهنتون مطبعه ، ۱۹٦۷ ، وګوری.

میندله . دبرتانیې حکومت ته ډیر ژر دخپل ناشوقه اندېوال پته ولگیده او افغاني واکمن په نړیوالو اړیکو کې دده پرحق باندې دسترگو پټولو په باره کي له یوې ورځې څخه بلې ته زیاته ناخوښي څرگندوله .

دافغانستان اوبرتانیې ترمنځ دتاوتریخوالي یو همیشني علت دهند دشمال لویدیځ سرحد دسیمې پرسروې اوسیدونکي یې افغانان وو ، چې په هند کې پټانان بلل کیدل . پټانان جداً خپلواک کامونه وو – سره له دې چې دهندوستان دنړیوالو دننه میشته وو ، خو ځانونه یې له افغانستان او هندوستان دواړو څخه آزاد گڼل ، خو بیا یې هم دافغانستان واکمن خپل اسلامي پاچا باله : البته تر ډیرې اندازې دیو تشریفاتي مشر په حیث نه دیو سیاسي واکمن په توگه .

دافغاني واکمن لپاره د « آزادو قبایلو » سیمه ، چې د ( ۱۹۳۰ ) لسیزې په نیمایي کې برتانوي رسمي مامورانو دانوم پرې کېښود ، دافغانستان او هند ترمنځ یو با ارزښته حایل وگرځید . ترکومه ځایه چې دافغانستان واکمن ددې سیمې دبیا خپلولو هدف ته ونه رسید ، نوغوښتل یې چې هغه آزاده پاته شي او دبرتانوي اغیز په وړاندې یو خنډ وي . له برتانیې سره دپوځي او سیاسي اړودوړ په وختوکې به ، دغه پښتانه خوښ او دافغاني واکمن تکړه ملگري وو. له سرحدي افغانانو سره دافغاني واکمن اړیکي او پیوستون هغه ته نور عزت پسې ورکاوه خو برتانویانو دغه پښتانه « برتانوي » قبایل گڼل چې پر هندي سرحدونو استوگن وو . دا یې یوه اصولي موضوع بلله چې په دغه پښتني سیمه کې دې دبرتانوي هند دحکومت احتمالي مداخله آزاده وي . دافغاني پولو په سر دانگلستان لانجه هیڅکله حل نه بلکې ددواړو هیوادو پر اړیکو یې اپت نازل کړ .

داکتاب دافغاني واکمن په توگه دامیرحبیب الله دامارت له وخته را پیل

او هغه افغاني بهرنۍ اړيکي په لنډه توګه څيړي چې په ( ۱۹۱۹ ) کې يو نوي پړاو ته ورننوځي . له نوموړي کال څخه را پدې خوا داوسني افغاني تاريخ څلورم پړاو پيل کيږي چې ښکاره ګوښه والي په دفاعي ناپيلېتوب سره اړوي، اميرامان الله ( ۱۹۱۹-۲۹ ) له برتانيې سره خپله انديوالي وشکوله، ځکه هغه هيواد افغانستان دځان اېل کاوه چې په ختيځ کې پرله پسې ويښېدنو داکارنه شو زغملای . خو افغانستان بيا هم داخپل روايتي حايل توب سياست ته پايښت ورکاوه او جرمني د « دريم ځواک » په توګه راميدان ته شو .

دافغانستان د بهرنيو اړيکو دغه لوستنه دجرمني او افغانستان ترمنځ هغه « ځانګړي مناسبات » څيړي چې دشلمې پيړۍ په لومړۍ نيمايي کې راجوړ شوي وو * . په ځينو هيوادونوکې له اسنادي څيړنو وروسته ، داخبره سپينه شوه چې دجرمن- افغان داړيکو تاريخ له لاندينو مسئلو څخه پرته نشي تشريح کيدای : ضروري ده چې دافغانستان کورنۍ پيښې په پام کې ونيول شي او له برتانيې او شوروي اتحاد سره دافغانستان اړيکي پراخيږي چې دشلمې پيړۍ په لومړۍ نيمايي کې له شوروي اتحاد ، جرمني او برتانيې سره دافغاني بهرنيو اړيکو تاريخ دافغانستان پر دريځ د ټينګار له مخې تهيه کړای شي .

دجرمن - افغان اړيکي ديوې سياسي ځان غوښتنې په وجه هغه وخت

---

* - په افغانستان کې دجرمني د ( دريم ځواک ) په توګه دراتلو يوه غټه موضوع دنوموړي ليکوال له خوا په « جرمني ، دافغانستان په بهرنيو اړيکو کې دريم ځواک » ، « افغانستان ، نوي تماسونه » ران اربور ، دميشکان پوهنتون ، ۱۹۶۹ ) کې چې جورج ګراسمت سره يې دمرستيال په توګه ليکلي ښه ترا راغلې ده .

راښکاره شول چې جرمني په لومړۍ نړیواله جګړه کې پر برتانوي هند د یرغل لپاره ملګري لټول . په وروسته کې ، جرمني اقتصادي منافعو ته مخه کړه ، تر هغو چې دویمه لویه جګړه رارسیږي او داهیواد یووار بیا سیاسي ګټو ته مخ اړوي . داچې افغانستان غوښتل جرمني د « دریم ځواک » په توګه را ښکېل کړي سیاسي هدف یې داوچې دشوروي اتحاد او برتانیې اغیزې په شاوټمبوي؛ همدا راز افغانستان پدې ټمه هم وچې جرمني خپل غټ ملګری کړي اود عصري کولو دیو پراخ پروګرام له لارې ځان بشپړ او غښتلی کړي . دلته دافغانستان هغه کوښښونه هم تشریح او شنل شوي چې غوښتل یې له شوروي اتحاد ، جرمني او برتانیې سره په اړیکو کې دیوې نړه ، غوځې او پایدونکې بهرنۍ کړنلارې د پرمخ بیولو آزادي ولري .

هغه موده چې دغه کتاب یې په خپله ځولۍ کې رانغاړي ، افغانستان دیو مطلقه سلطنت په واسطه اداره کیده ، چې بنسټ یې پر بهرنیو اړیکو ډېره لګوله . دافغاني بهرنۍ تګلارې لومړني هدفونه دامیر هغه تلوسه وه چې غوښتل یې دخپل تخت ساتنه او دهیواد دځمکنۍ بشپړتیا ژغورنه وکړي . نورو ټولو هڅو دویم اهمیت لاره . ایډیالوجي هېڅکله دیوې « سالمې » پالیسۍ په تعقیبولو سره ضد نه واقع کیده ؛ دهیواد پالنې او سراسري اسلامیت ولولې چې یو مسلمان افغاني پاچا لرل ، هیڅکله له آزادې پالیسۍ سره نه ټکر بدل .

په شاهي کورنۍ یادافغان اولس دبېلا بیلو ډلو ترمنځ به بنایي ناخوالې پیداکیدې ، خو دا یوازې تاکتیک پر شوروي او دافغان دواکمنو دلویو هدفونو پاتې دخپلواکۍ له ساتنې او دافغانستان دځمکنۍ بشپړتیا سره نه ټکربدې .

داکتاب دترتیب له مخې پر نېټو برابر دی ، خو بیا هم له بیلا بیلو ځواکونو سره دافغاني بهرنیو اړیکو ګډوډۍ او پر افغاني کورنۍ سیاست باندې

دهغوی داغیزو څېړنه سرې دې ته اړ باسي چې دمتناسبو واقعاتو په او ... مداخله وکړي .

دکتاب لومړی فصل هغه بهرني سیاسي حالات څېړي چې تر (۱۹۱۹) کال پورې یې دوام لاره . په دریو وروستیو فصلونو کې دشاه امان الله لس کلنه دوره تشریح کېږي . موږ وایو چې دانګلیس - افغان درېیمه جګړه ځکه حتمي وه چې برتانیې نه غوښتل افغانستان ته بشپړه خپلواکي ورکړي او داسې یو مدرک شته چې دهغه له مخې آن امیر حبیب الله ، چې په لومړۍ نړیواله جګړه کې یې دافغانستان بیطرفي ساتلې ، ترخپلې وژنې دمخه له برتانیې سره لاس اچولو ته لیچې نغاړلې وې . دشاه امان الله اصلاحات ترهغه ځایه تشریح کېږي چې دافغانستان بهرنۍ اړیکي یې اغیزمن کړي ، دامان الله دسقوط په باره کې پوهان په خپلو منځو کې اخلافات سره لري : ځیني داعلت دامان الله داصلاحاتو په نسبت کامولۍ ته دده ورکېدنه بولي . سند پانه ښیي چې د (۱۹۲۰) په لومړیو کې دمنګلو شورش او په (۱۹۲۸) کې دشینوارو بلوا دقبایلي پلویتوب په نسبت دامیر امان الله دبنیادي اصلاحاتو په وجه پیښ شول . دحبیب الله ، دسقاو زوی لنډ امارت (جنوري - اکتوبر ۱۹۲۹) دآرشیفي منابعو له مخې دلومړي ځل لپاره څېړل کېږي . درې وروستي فصلونه دنادرشاه (۱۹۲۹ - ۳۳) اودده دکورنۍ (۱۹۳۳ - ۵۳) ترمشرۍ لاندې دافغانستان بهرني اړیکي بیانوي .

دکتاب مل پاڼې داسې ماخذونه ښیي چې بل ځای نشي میندل کیدای : لکه د امیر حبیب الله له وخت څخه نیولې بیا تر (۱۹۷۰) پورې دافغانستان ګرده لوړرتبه حکومتي ماموران ؛ دافغانستان دډپلوماتیکو اړیکو له پیل څخه بیا ددویمې نړیوالې جګړې ترپایه افغاني اوبهرني دپلوماتان ؛ تر (۱۹٤۷) پورې یانې دهند دخپلواکۍ تر وخته ټول برتانوي مرستیال واکمنان او دشمال لوېدیځ سرحدي ولایت برتانوي والیان .

# { لومړی څپرکی }

## افغانستان له ګوښه والي څخه راوځي:

### ترلومړۍ نړیوالې جګړې پخوا :

له نړیوالې جګړې څخه پنځلس کاله دمخه ، امیر حبیب الله له کورنیو او باندینو ناوړه سیاسي کړکیچونو سره مخامخ و . افغاني واکمن په داخلي سطحه له یو داسې ولس سره مخامخ و چې له بهرنۍ نیونې څخه دویرې په خاطر یې ورو ورو سیاسي رنګ پسې اخیسته ، چې دغه وهم افغانان د سرتر پایه اسلامي پیوستون او د ټولنپالنې دنظریې لومړي پړاو ته ورکش او دداخلي اصلاحاتو او خاص بهرني سیاسي عمل په باره کې یې ملي غوښتنې رامنځته کړې . په خارجي سطحه کې ، امیر حبیب الله دبرتانوي اوروسي واکمنیو له استازو سره چې « دافغانستان دمسئلې » دحل په لټه کې وو ، مصروف او په یوه لاره نه یوه لاره ، دهیواد دسیاسي راتلونکي په جنجال اخته

و . له اقتصادي پلوه دغه وروسته پاتې دولت غوښتل چې عصري بنه واخلي ځو ديو غښتلي او نيکمرغه ملت بنسټ ټينګ او دهغه پوځ دومره مظبوط کړي چې اروپايي حکومتونه پرخپله دغه انګيرنه مايوسه کړي چې وايي «افغانستان يوه سياسي خلا ده چې بايد ډکه شي » .

حبيب الله داوسپني، دقوي او ټينګې ارادې لرونکي پلار ، عبدالرحمن ، ځخه برعکس د نرمې رويې او ښې طبعې خاوندو ، که ځه هم چې ميانه قد او ښه صورت يې درلود ، شيک او فيشني دريشي يا پر لويديځ طرز باندې جوړ کړي لباسونه به يې اغوستل . کله چې په ( ١٩٥١ ) کې دعمر پر دوه ديرشم کال پاچهۍ ته ورسېد ، دخپل پلار سخت زړه توب يې نه خوښاوه نو ديو عمومي فرمان په واسطه يې ډير هغه کسان بېرته افغانستان ته راوبلل ، چې دځانونو دڅغورلو په خاطر تښتيدلي او يا هم دعبدالرحمن له خوا تبعيد شوي وو . ده دجاسوسۍ هغه پراخ سېستم چې پلار يې خپل امارت او دواک ساتنه پرې ټينګوله ، ختم او ځوکاله يې نسبي امن قايم کړ او د آرامۍ له مخې يې دقدرت دلېږد اجازه هم وکړه .

دبهرنيو اړيکو په ارتباط حبيب الله يو پر ځاى او لازم وارث و ، خو دځاني ساعتيريو په لړ کې دده ځان ايله کول ، داسبابو او دارنګه نورو نوښتونو لکه دعکس اخيستلو ، دموټر چکر ، اواروپايي موډ او فيشن سره مينه - مطلب له برتانيې سره دده له محتاطانه مرستې ځخه ددې سبب شوې چې ددرباريانو اونامتو افغانانو په منځ کې يو ځه مخالفت پيدا کړي . دغه ځان ايله کولو خصوصاً دده امارت ورختم کړ ځکه چې دڅپاتو مشغولتياوو په وجه يې دولتي چارو ته لږ وخت ورايستلى و ، خو داچې که دې دخپل رعيت ځينو ډلوته هررنګه ايسيده دومره مهمه لا نه وه او له کمزوريو سره سره يې ، بياهم خپل هيوادته خدمت کړيدى . په تفصيل سره دحبيب الله بهرنۍ تګلاره پل

ځای تشریح شویده ؛ ځکه نو داکافي ده چې دلته ځینې مهمې پېښې راوباسو او دهغوی اړونده لوبغاړي وپېژنو .

دحبیب الله دبهرني سیاست دپرمختګ تر ټولو بحراني یې دروسیې اوبرتانیې لخوا په روان سیاسي حالت کي دبدلون راوړنه وه . روسي حکومت له افغاني واکمن سره دنېغو اړیکو دلرلو حق غوښت ، اوبرتانوي حکومت تر هغو پورې حبیب الله په رسمیت نه پېژانده چې هغه دانګلیس - افغان دموجوده تړونونو په هکله بیا خبرې اترې ونه کړي .

روسي پرمختګ مخکې لاد امیرعبدالرحمن دسلطنت په وروستیو کلونو کې را پیل شوی و . پر ( ۱۹۰۰ ) کال دروس شاهي حکومت افغانستان ته یو یادښت سپارلی و چې په هغه کې د دواړو دولتونو ترمنځ دمستقیمو سرحدي اړیکو « ټینګښت » لازم الاجرا ګڼل شوی و . د ( ۱۸۹۹ ) دفبرورۍ دلومړۍ نېټې ، نووی وریمیا دروسیې دعجزپه څرګندولو سره داسې وایي :

« روسیه ، چې پولې یې له افغانستان سره تر ۲۰۰۰ ورسته (verst) زیاتې غځېدلې ، نشي کولای دخپل دې ګاونډي دولت له واکمنو سره داړیکو پواسطه دغه خورا عادي ، مګر پرشاکیدونکې ، سرحدي کشالې حل کړي . ددې مقصد لپاره باید موږ له لندن سره تماس ونیسو ، لندن یې له شملې سره ، اوله شملې څخه بیا له کابل سره دخبرو اترو قصد وشي چې دانویو سوچ ، پوچ او بې نتیجې کار دی ، په داسې حال کې چې امیر له پخوا څخه لاڅو واره ، او په هر ضمني وخت کې داسې ویلي چې دی دانګلستان تابع نه دی ... » (۳)

نوموړي سند وړاندیز کاوه چې دروسیې او برتانیې دواړو استازي دې په کابل کې استوګن شي ، چې په دې ډول به نو ددواړو ځواکونو ترمنځ ناباوري لرې او پر هند باندې به دروسیې د یرغل وېره دبرتانیې له مغزو ویاسي .

دبرتانيې او افغانستان داندېښنو دلرې کولو پر ځای ، روسانو هغوی نور هم پسې ځپانده کړل ، ځکه دوی ټينګار کاوه چې بايد له افغاني واکمن سره نيغ تماس ولري . پر ( ۱۹۰۲ ع ) کال ، افغاني مامورانو کابل ته دډيرو سرحدي ځلو دور ک کيدو او دروسيې له خوا دوروستيو سرحدي تيريو په باب رپوټ ورکړ . له همدې کبله روس حکومت ديو دوه اړخيز کميسيون په واسطه دسرحدي ځلو دبيا اينبوولو په هکله خوښي ښرګنده کړه او اميرته بې بلنه ورکړه چې دداسې کميسيون لپاره سم غړي وټاکي . ( ٤ ) حبيب الله دا وړانديزونه په پام کې ونه ساتل او دسلامشورې لپاره يې هندي حکومت ته مراجعه وکړه . ځکه نوبرتانيې هم دهندي حکومت يو سياسي مامور سرهنرې ډبس ، ورواستاوه ، خوروسانو له هغه سره خبرې اترې ردې او په خپله يې يو شمير ځلي بيرته ودرول .

پر افغاني واکمن باندې نه يوازې دروسيې له خوا فشارونه وو بلکې برتانيې هم له عبدالرحمن خان سره پر خپلو کړو لوزنامو پرله پسې ناخوښي ښرګندوله . لارډ کرزن ، چې دحبيب الله پرتخت کښيناستو څخه لږ څه مخکې دهند مرستيال واکمن ټاکل شوی و ، له ځان سره يې د ( ۱۸۸۰ ، ۱۸۸۳ او ۱۸۹۳ ) کلونو دانګليس - افغان تړونونو دبيا کتنې په هکله غوښ پلانونه لرل .

هندي حکومت د کابل په واکمنۍ کې بدلون راوستل ، دداسې نوې کتنې لپاره يو ښه چانس باله . برتانيې ټينګار کاوه له افغانستان سره چې يې کوم تړونونه خپله دامير له لارې شوي ، دهغوی په سربه له راتلونکې هر امير سره بيا خبرې اترې کيدونکې وي . په هرحال ، داوخت هندي حکومت استدلال کاوه چې ددې تړونونو جزئيات ترهغه ځايه چې دبرتانيې په ګټو پورې اړه نيسي ، خصوصاً دافغاني سرحد ټاکنې په برخه کې هميشني دي .

حبیب الله خان څو کاله پردې خبره ټینګ و چې دبرتانیې - افغان تړونونه حو ددوو حکومتونو ترمنځ شوي ، ځکه نو دبرتانیې یا افغانستان دکوم واکمن دمړینې په صورت کی باید پر هغو له سره غور ونشي . ده په هند کې له کرزن سره کتنه په دې دلیل ونه منله ، چې ویل یې ، له برتانیې سره زما اندیوالي دزړه له کومې روانه ده ځکه خو له سره کتنې یا نورو پراختیاووته یې اړه نشته ، خو په پای کې حبیب الله خان نور دغسې پر شاتمبولوته پاینبت ورنکړای شو ، او په کابل کې یې برتانوي استازي ومنل .

د « ډین هیئت » ، چې مشري یې دهندي حکومت بهرني سکرتر « لویی ډبلیو ډین » کوله ، کابل ته راورسید چې د عبدالرحمن خان دپاچهۍ دوخت پر هغو تړونونو باندې له سره غور وکړي چې له افغانانو څخه دامتیازاتو د دریغولو پر محور باید چورلیدل . خو حبیب الله خان هم ځان باکفایته ثابت کړ او هندي حکومت ټول هغه تړونونه چې پخوا موجود وو ، بیرته ومنل . په دې تصدیقي سند کې امیر ځان « دافغانستان ددولت او دهغه داتباعو خپلواک پاچا » ذکر کړ . ( ۵ ) حبیب الله خان په ظاهره دخپل پلار دهغې جاري کړای شوې تګلارې پرینبودل نه غوښتل چې دفاعي ګوښه والی ، دخپلواکۍ غوښتنې پوځې چار او دروسیې اوبرتانیې دکښیکښنو محتاطانه توازن یې او څارتېکي وو . داګواښ همدغسې پاته و ، ولې بیاهم ، دواړه ځواکونه ، چې په هند او منځنۍ آسیا کې یې دخپلو متصرفاتو تر منځ دحائل دولت موجودیت مانه ، ښایي پردې به هم خوښ وو چې تر څینو شرایطو لاندې دارنګه حائل دولت بیرته لرې کړي نوځکه افغاني واکمن وسواس لاره چې هسې نه دانګلیس - روسیې د ( ۱۹۰۷ ) کال کنوانسیون همدغسې یو کوښښ نه وي

له نړیوال پلوه ، ښایي داکنوانسیون ددوو امپراتوري ځواکونو ترمنځ د

سولې د ټینګښت یوه داسې وسیله وه چې دهغه له مخې روسیې ته له جاپان سره تر جګړې وروسته دځان څنډلو موقع په لاس ورتله او په منځنۍ ختیځ خصوصاً پارس کې دجرمني رانیږدي کیدونکې اغېزې پرې تم کیدې . بالاخره دکنوانسیون پای داشو چې جرمني تجرید او دبرتانیې ، روسیې او فرانسې ترمنځ دملګرتیا بنسټ کیښودل شو . افغاني واکمن او دهغه سلاکارې جرګه ګۍ ، دغه کنوانسیون ته دلومړۍ درجې بهرني سیاسي کړکیچ اهمیت ورکړ . هغوی له دې مسئلې سره مخامخ وو چې څنګه دغه لوی خطر ته ورمخه شي بې له دې چې دوه اروپایي ځواکونه تحریک او وسلې ته لاس کړي. دانګلیس - روس داخبرې اترې خورا په پټه وشوې اوله حبیب الله خان څخه ددې تړون په هکله چې په افغانستان کې یې دروسیې اوبرتانوي تجارانو لپاره « دسوداګرۍ مشاورچانس » او په کابل کې یې ددواړو هېوادو دتجارتي نماینده ګانو احتمالي ټاکنه په خپله ځولۍ کې رانغاړله ، هیڅ سلامشوره ونه خیستل شوه . روسیې دسیمه ییزو غیر سیاسي مسئلو داوارولو په غرض له افغانستان سره دنېغو اړیکو ټینګښت غوښت ، خودسیاسي اړیکو پاینښت یې دبرتانیې دحکومت دمنځګړتوب له لارې غوښت . خبره پر دې راغله چې دغه قرار داد به صرف دافغانستان دامیر له تصویب څخه وروسته نافذ کیږي.

دهندوستان مرستیال واکمن ، لارډ منټو پردې سخت کار وګومارل شو چې د کنوانسیون مادې به دحبیب الله خان ترنظر تیرې او هغه به دې ته اړ باسي چې خپل لاسلیک هم پرې وکړي . دامیر ځانګړو امتیازونو او ګټو د« کست کاري ساتنې » له مخې ، منټو وړاندیزوکړ چې : « زه یې نشم کولای ، خو په دې فکر یم چې اعلیحضرت به ددې کنوانسیون نتیجه دبشپړې خوښۍ له مخې ووینې . » دامیر احساسات تقریباً د « بشپړ ورانیدو » ترحده راوپارېدل. حبیب الله دلارډ منټو دپیغام له جوهره په لنډه توګه پوه شو او ژمنه

يې وکړه چې که خدای کول ژر به ځواب ور واستوم . په دې ډول يې د هند حکومت څه ناڅه يو کال په تمه کړ چې بيا يې نو مرستيال واکمن ته د کنوانسيون په باره کې دافغانستان ځواب وليږه . امير په خپل ځواب کې د جرګه ګۍ نظريې په ډاګه کړې او له مرستيال واکمن څخه يې په ليک کې دوراندېز شوو پوښتنو توضيحات وغوښتل . په دې څلور پنځوس مخيزه سند کې ويل شوي چې کنوانسيون دافغانستان خپلواکي ورد ړې وړې کړې ؛ هيڅ ګټورشی نه لري نو ځکه سربېره پر افغانستان برتانيه به هم کټ مټ همداسې خطر ته ورپورې وهي . دامير جرګه ګۍ دافغانستان دبهرنيو اړيکو په باره کې دعبدالرحمن سپارښتنه له پامه ونه غورځوله ، اودا يې احساس کړې وه چې: «که دوی ( برتانويان ) پر هغو اصولو پښه ړدي چې په خپله يې جوړ کړي نو بيا دا ضروري ده چې هم به خپل او هم به زموږ حکومت ته نور تر هغوښه اصول جوړ او رامنځته کوي » (٦)

دامير په جرګه ګۍ کې د کنوانسيون د کتلو پر سر هيڅ اختلاف موجود نه و. په کابل کې برتانوي استازي راپور ورکړ چې ځينې سرداران ، مخور او لوړ رتبه ماموران په دې فکر دي چې د برتانوي غوښتنوپروانه ساتل به دافغانستان د تباه کيدو سبب شي . (٧) خو نصرالله ، دامير ورور او د نرم دريځو ويندوی ، اخطار ورکړ چې که امير دغه کنوانسيون ومني نو دی به په سمرقند کې جلاوطني اختيار کړي ، ده په ټينګار سره استدلال کاوه چې: « که دوی ( برتانويانو ) ته دستنې دسپم غوندې يو سوری خلاص شي نو هغوی به يې د خپلې استادۍ په واسطه خورا پسې غټ کړي ، او په دې ډول به په لږ وخت کې پر فيلانو سپاره او له هغې سوري څخه به تيرېږي . هغوی خپلې (هندۍ) کلداري دعادي شيانو غوندې بادوي او ستا رعيت به هر هغه چاته سرټيټوي چې پيسې ورکړي . » (٨)

افغانان پر خپله خبره ټینګ او دا ترې څرګنده نه شوه چې دوی دې کوم فشار ته غاړه کېږدي . د ( ۱۹۰۸ ) په مني کې حبیب الله د الله آباد په « پائنر » ورځپانه کې هغه مقاله وغندله چې د ماسکو او لندن دواړو رسمي تمایلات یې څرګندول . په دې لیکنه کې پر نورو خبرو سربیره داهم ویل شوي ځنګه چې ختیځ پلو یو تر بله د لانژدې کیدو په حال کې دي نو دا بیخي طبیعي ده چې په آسیا کې دې دوه لوی اروپایي هیوادونه هم یو بل ته ورنژدې شي ، او پر سرحد باندې دافغان قبایلو دبریدونو په وجه باید دواړه ځواکونه « دروسي او برتانوي متصرفاتو ترمنځ تر ټولو ښه سرحدي سیمه - دمثال په توګه هندوکش وټاکي او نور نو د تل لپاره دحائل دولت له مفکورې څخه بیغمه شي . » ( ۹ )

هندي حکومت بیا هم هغسې څرګندونه وکړه ، لکه ځنګه چې پخوا یې په دې اړه کوله ، یانې داچې پر مطبوعاتو باندې هغوی هیڅ کنټرول نه لري او ګواکې داوینا دهندي حکومت نظر نه منعکس کوي . دا انګېرنه د سنت پترز بورګ د « نووي وریمیا » په هکله چې له کنوانسیون څخه یې د دواړو ځواکونو حاصلې شوې ګټې بیانولې صدق نه کوي ، ورځپانې ورانديز کاوه چې« داحائل دولت کیدای شي اوس د یو وصل کوونکي دولت په توګه راشي او هم کیدای شي دریلوې هغه ستراتیژیکي سامانونه چې یو پر بل دبې باورۍ په وجه دافغانستان پر دواړو پولو کوته کړای شوي نور نو داقتصادي یووالي دټینګو منابعو په توګه واوړي . » ( ۱۰ )

په داسې حال کې چې حبیب الله خان لیږ څه ولیکل ، خو داسې سپینې خبرې یې کړې وې چې په هند کې خوراښه پرې پوهیدل ؛ پرسرحد باندې دخطر دزنګ په توګه قبایلي بریدونه او تښتونې زیاتې کړای شوې او ددواړو خواوو پر سرحدونو قبایل دهرو مرو پېښیدونکي جهاد ، یانې سپیځلې جګړې په

هکله له خوشالۍ څخه پورته پورته غورځېدل . په دې ډول دروحي جګړې هغه پړاو چې دبرتانیې او روسیې له خوا پر امیر او له سرحدي قبایلو سره دافغاني مقاومت پر یووالي باندې نازل و ګام پر ګام پای ته ورسید . افغانستان هیڅکله دا کنوانسیون لاسلیک نکړ خو د ( ۱۹۰۸ ) په وروستیو کې ، دبرتانیې دبهرنیو چارو وزیر « سر ادوارد ګري » او دده روسي لوری « ای پي ایسولسکي » پر دې راضي شول چې دامیر خوښي ضروري هم نده . برتانوي حکومت په زغرده وویل : « داچې امیر پر دریمه ماده باندې کوم انتقاد نه دی کړی او دخپلو او روسي سرحدي مامورانو دخبرو اترو مخنیوی نه کوي نو دا په خپله ثابتیږي چې کنوانسیون باید په بنه ډول سره خپل کار مخته بوځي ، ځکه چې امیر خو هغه دی عملاً له هغه څخه پیروي کوي . » ( ۱۱ ) روسیې اوبرتانیې دکنوانسیون اعتبار نه خطري کاوه او په افغانستان کې دهغه دپلي کیدو لپاره دیو مساعد وخت په تمه کیناستل . له لومړۍ لویې جګړې څخه دمخه ، دانګلیس - افغان اړیکي سره سم او دواړو اروپایي ځواکونو دکنوانسیون دنافذیدو په برخه کې له بې ځایه فشارونو څخه ډډه وکړه .

په کورنیو چارو کې ، حبیب الله خان دنوي عصر له غوښتنو سره سم یو لړ اصلاحاتو اود عصري کولو پروژو ته لاس واچاوه ، په داسې حال کې چې ځینې دغه اصلاحي شیان یې دخپل ځاني ژوند دسمولو او هوساینې لپاره اختصاص کړل ، لکه : خپل استوګنځي ته دبریښنا راوستل ، دټیلفون لګول اونورو آسانتیاوو برابرول دیادولو وړدي . امیر حبیب الله دخپل پوځي ځواک د لاټینګښت لپاره دبهرني مهارت او تکنالوجۍ پر اهمیت باندې ډیر ښه پوه و . ده بهرني کار پوهان او متخصصان په لومړۍ درجه برتانویان له اروپا څخه کابل ته راوغوښتل ، خو وروورو په هغوی کې مسلمانان چې زیاتره یې هندیان اوله عثماني امپراتورۍ څخه وو ، هم پسې ور زیات کړای شول . پر

(۱۹۰۳) کال ، حبیب الله خان خپل نوي حبیبیه ښوونځي ته پرمخورو خلکو زور واچاوه چې خپل زامن په دغه نوې ښوونځي کې شامل کړي که نه نو بیا به « خوار مخلوق » دلته ښوونه روزنه حاصله او وروسته به را دمخه شي او په دولت کې به د قدرت لوړې ځانګې او دریځونه اشغال کړي . (۱۲) پر (۱۹۰۷) کال له عثماني ترکیې څخه اووه کسه هېواد ته راورسېدل ، یو یې محمود سامي ، چې دغورځېدو ۰ ( جمناستیک ) استاد و ، دکابل د پوځي قوتونو د روزنې مسوولیت ور وسپارل شو ؛ بل یې ، یو انجینیر و ، چې په استوګنځي کې دبرېښنا پر تولیدونکي بټۍ باندې د څارونکي په توګه وټاکل شو او دریم یې ، یو ډاکټر و چې دکابل روغتون چارې ور وسپارل شوې. (۱۳) له بهر څخه دغه راغلو کسانو نه یوازې افغانستان ته کمال راوړ بلکې داصلاحاتو او مودرن کولو هغه نظریې یې هم تبلیغولې چې په ټولنیزو او سیاسي ساحو کې به خپرېدلې . (١٤)

دبدلون لپاره تحریک له پورته سرڅخه راپیل شو ، دا ځکه چې افغاني لارښوونکو داصلاحاتو ضرورت خورا ښه پیژنده خو د حبیب الله خان په زمانه کې ګڼ شمېر هغو تبعیدي خلکو ، دافغاني واکمن ملاتړ کاوه چې دعبدالرحمن خان تر مړینې وروسته هیواد ته دبیرته راتګ اجازه ورکول شوې وه . په دغو راغلو کسانو کې تر ټولو مهم یې محمود خان طرزي ، یو نامتو شاعر و ، چې دغلام محمد خان زوی او دسردار رحمدل خان لمسی و .

محمود طرزي ته له خپل پلار څخه ادبي استعداد په میراث پاته و ، کله چې دده کهول په دمشق کې دجلاوطنۍ په حال کې شپې سبا کولې ، ده خورازیات سفرونه وکړل . ده دروس - جاپان دجګړې تاریخ او د « جولس ورني » دګڼو ټوکونو په شمول ، په هره برخه کې پنځلس کتابونه یا په خپله لیکلي او یا یې هم ژباړلي دي . یو هندي سرکاري لوړ رتبه مامور یې داسې

را پیژني : « هغه یو شاعر ، عاقل ، او فیلسوف . . دی چې د کمزورې تنې ثښتن او تر وخت د مخه زوړ شوی . د سوسیالیزم او ولسواکۍ په باره کې دفابي ټولنې * غوندې د ګډوډو مفکوره یي تمایلاتو د رلودونکی دی ، ځکه یې نودی په تمامه مانا له برتانوي واکمنۍ سره دښمنۍ ته ور هڅولی دی . »

( ۱۵ ) ده سراسري اسلامي پیوستون داسلامي نړۍ د لاټینګښت لپاره یو عامل باله او شخصاً یې داسلامي یووالي او اسلامي سمون دستر مبلغ ، جمال الدین افغان سره پیژند ګلوي لرله . پر ( ۱۹۰۲ ) کال افغانستان ته له ستنیدو څخه وروسته ، داصلاحاتو ډیر لوړ مدافع او د ( ۱۹۱۱ ) په مني کې دسراج الاخبار دورځپاڼې په را ایستلو سره دځوانو افغان سمون غوښتونکو (اصلاح طلبانو ) تر ټولو تکړه ویندوی وګڼل شو . دواکوال محمدزي ټبر دیو غړي په توګه ، دامیر په کهول هغه وخت ور ګډ شو چې خپلې دوې لونې یې دحبیب الله دوو زامنو سردار عنایت الله او سردار امان الله ته په نکاح کړې.

هیواد ته د بیرته راغلو په جمله کې یوه بله نامتو کورنۍ دمصاحبانو ، یانې دامیر دپتېو سلاکارانو کورنۍ وه ، چې په هند کې یې جلاوطني تېروله . په دې کې خورا او ځاریې دمحمد یوسف خان پنځه زامن وو ، چې له هغوی څخه یې ، محمد نادر خان ، ډیر ژر تر لوړه ځایه ورسید . پر ( ۱۹۱۲ ) کال دمنګلو دښورښ په ترڅ کې نادرخان دافغاني پوځونو دقوماندان په توګه ځان مشهور کړ . له همدې کبله خورا ژر نایب سالار کړای شو چې دجنرالۍ درتبې معادل و او دوه کاله وروسته دسپه سالارۍ یانې لوی درستیز مقام ته پسې ورسید . نادرخان په پوځ کې دزیاتې پوهنې له کبله ډیرکسان تر خپلې اغیزې لاندې راوستل او دیو داسې شخص په توګه توصیف شو چې

---

* - فابی ټولنه ( The fabian Society ) دشلمې پیړۍ په سر کې دانګلیسانو ایدیالوژیکي اتحادیه وه .(ژباړن)

« دهوښیارۍ تېنګ ځواک یې لاره ، یانې مخکې تر دې چې کوم کار وکړي ښه یې سنجوي، خو کله چې بیا تصمیم ونیسي نو له ډېرې تندۍ او سختۍ څخه کار اخلي. (۱۶) » دده یو ورور ، محمد هاشم خان ، پر (۱۹۱۶) دهرات دعمومي قوماندان په توګه وټاکل شو ، بل ورور یې شاه ولي خان ، رکاب باشي یانې دحبیب الله دځانې ساتونکو قوماندان شو .

ددې کورنیو غړي اونور هغه کسان چې خپل ډېر وخت یې دباندې تیر کړی، دافغانې واکمن اصلي سلاکاران شول او پردې بریالي شول چې دکورني او هم بهرني سیاست په مسایلو کې خپله اغیزه وښندي . نور مشهور افغانان لکه سردار عبدالقدوس خان ، اعتماد الدوله ، یانې ددولت اعتمادي ، او دامیر دوست محمد خان وراره ، دامیر په جرګه ګۍ کې اغیزمن سلاکاران وو . ترټولو غوره د حبیب الله سکنی ورور سردار نصرالله خان ، مرستیال واکمن ، یانې دپاچا ځای نیونکی و ، چې پر(۱۹۱۳م)کال په کابل کې برتانوي استازی « ټولې مذهبي ډلې دده پرپله ، او اعتماد الدوله ( عبدالقدوس ) او محافظه کار ګوند یې دده ترڅنګ تلونکي وبلل . » نصرالله یو وخت دبرتانیې ډیر کلک ضد او دهغو تګلارو خوراټینګ پلوی و چې پلار یې عبدالرحمن ، ترې ننګه کوله . دی یو حافظ و ، یانې قرآن شریف یې په یادو زده و ، او ددربار دموډ او فیشن مخالف و ، پردې یې ټینګار کاوه چې باید خپل ملي کالي واغوستل شي . دی دسرحد دافغاني قبایلو او مذهبي جوړښتونو لوی خیر غوښونکی او ملاتړی و . *بالاخره ، دحبیب الله دامارت

* - دبرتانویانو په مقابل کې دنصرالله داکړنه ښایي دهغه تحقیر په سبب وي چې په (۱۹۹۵) کال کې په لندن کې دده دپلاویتوب ناکامه نتیجه ورکړه . عبدالرحمن غوښتل چې له لندن سره مستقیمې اړیکې ټینګې کړي ،نو زیار یې وایستو چې دهندي حکومت دفشارونو مدافعه وکړي . ده نصرالله په دې هدف هندوستان ته واستاوه خو کله چې دهغه هڅې له ناکامۍ سره مخامخ شوې ، زښت زیات مایوس شو . (۱۸)

په وروستيو وختونو کې ، دده زامن ، په تيره بيا سردار امان الله او سردار عنايت الله ، دامير دسلاکارې جرګې په انتخابي ډله کې شامل شول. (۱۷)

بايد وويل شي چې دغو کورنيو او اشخاصو دې ته ګونډې ووهلې چې هغسې ډلې جوړې کړي چې يو وخت يې دتګلارې په باره کې جنجالي ګتې او مخالفې نظريې لرلې ، دوی - لکه دافغان ولس اکثريت چې وکړل - يوه ګډه مفکوره سره شريکه کړه :

يانې يوه غوځه او پوځي هيواد پالنه ، دافغانستان غير متجانس وګړي ، چې دتوکم ، ژبې او ترېوې اندازې دمذهب له مخې هم سره بېل وو ، دانګليس- افغان ددوو جګړو او خپلو ښکيلاکي ګاونډيو د پرمختګونو له کبله سره يو ملت شول . داغتيه او سپينه خبره ده چې دملت په توګه دپترې کولو بهير دعبدالرحمن دمرکزي هڅو په نتيجه کې وشو چې ديو برتانوي کتونکي دوينا له مخې هغه ، « طبيعتاً نازره شوی ، دخپګان په وخت کې سخت بيرونکی او دخپلې سخت ګيرۍ له مخې چې له رعيت سره يې کوله نه نرميدونکی انسان و ... ، ( خو ) نا اهل وګړي يې ديوه ملت په ډول يو موټي کړل او خپلو خلکو ته يې داسې يووالی وبښه چې پخواتر دې يې هيڅ نه و په برخه شوی . » (۱۹) دحبيب الله دواکمنۍ په موده کې دا آوازې هم وې چې اسلام او اسلامي نړۍ له وژونکي خطر سره مخامخ شوي دي .

له لومړۍ نړيوالې جګړې څخه دمخه کلونه په کابل کې نړيوال حالت له نژدې څخه څارل کيده او ډيرو افغانانو دا ويره لرله چې په پټه يو نوی صليبي جنګ را پيل شوی ، چې غواړي اسلامي نړۍ يو پناه کړي . له عثماني ترکانو سره دپيوستون دسراسري اسلامي يووالي ولولې او احساسات له جګړې څخه دمخه لا په کابل کې راپور ته شوي وو . سراج الاخبار ، په کابل کې تر ټولو

پخوانۍ نامتو ورځپاڼې ، نړیوالې چارې داسلامي پیوستون او افغاني هیوادپالنې له نظره لیکلې ، آن دا چې نالوستي عوام یې دسیاسي کارتونونو په واسطه تر اغېزې لاندې راوستل . ( ۲۰ )

د ( ۱۹۱۱ ) کال د ترکیې - ایټالیې جګړې او دوه کاله وروسته بیا دبالکان جنګونو - افغانان په سیاست پوه او دیووالي او اسلامي پیوستون سبق یې ورکړ . حبیب الله خان په یو زیاتیدونکي خطري حالت کې راغی ، ځکه د یرو افغانانو دښکیلاکي پرمختګونو په وړاندې دده عکس العمل (غبرګون) نیمګړی باله او له برتانیې سره یې دده دمحتاطانه ملګرتوب پرتګلارې خپل ضدیت ښکاره کړ . دلومړۍ لویې جګړې دپیښېدو پرمهال ، حبیب الله غوښتل چې افغاني کره کتونکي غلي او یوه داسې تګلاره پرمخ بوځي چې دهغې له مخې په جګړه کې د جرمني دبریالیتوب په شمول هر ډول امکان برابر کړای شي .

# کابل ته د پوځي هیئتونو لېږل

دافغانستان ددفاعي گوښه والي تگلاره دشلمې پېړۍ په لومړیو کې نوره نوکاري ،یا په حقیقت کې گټوره نه ښکارېده . افغاني واکمنانو بشپړه خپلواکي او له اروپایي ځواکونو سره دمساوات له مخې ډیپلوماتیک تماس غوښت . دې هدف ته درسېدو یوه پټه هم کابل ته دجرمني داستازیو رارسېدل وو .

له افغانستان سره دډیپلوماتیکو اړیکو دټینگښت په برخه کې دجرمني نوښت گرد سره پر پوځي اړخونو ولاړو یانې پر برتانیې باندې په هند کې برید کېده او په پام کې وه چې افغانستان دداسې برید یوه وسیله وي . دبرتانوي واکمنۍ دپایښت لپاره دهند اهمیت ترلمر روښانه و یانې داچې هغه له ستراتیژیکي پلوه مهم او دموادو او انساني منابعو له مخې ډیر مړو . ځکه نو جرمني ، لکه پخواچې فرانسې او روسیې په پام کې لرل ، داسې و پتییله چې برتانیه له خپلې دغې ارزښتناکې مستعمرې څخه په شړلو سره تباه

کړي .

ناپلیون هم کټ مټ خوب لیدلی و او روسي تزارانو دشلمې پیړۍ په رارسیدو سره د هند نیمې وچې او د هندي سمندر د تودو اوبو بندرونو ته د طمعې سترګې نیولې وې . مخکې تر دې چې پر ( ۱۹۰۷ ) کال دانګلیس - روس کنوانسیون پای ته ورسیږي ، قیصر دویم ویلیام د ( ۱۹۰٤ ) په اګست کې ، د تزار په هڅولو سره د منځنۍ آسیا په « ستره لوبه » کې ګډون وکړ ، چې د پارس - افغان پر سرحدونو برتانیه سره کښېکاږي . دی په دې عقیده و چې د هند - افغان سرحد په ټوله دنیا کې یوه داسې سیمه ده چې هلته په یوې کوچنۍ مداخلې سره کیدای شي برتانوي بیړۍ بې اثره او توپونه یې بې وسه پاته شي او پردې باور و چې « دهندوستان له لاسه وتل دلویې برتانیې لپاره یو ګوزاریز مرګ دی . » ( ۲۱ ) له دې څخه لس کاله وروسته ، چې لومړۍ لویه جګړه ونښته ، د جرمني امپراتور پر یو عملي اقدام ټینګار وکړ ، ده د بهرنۍ څانګې دیو سند پر څنډه ولیکل چې « ... په ترکیه او هند کې زموږ کونسلان ، استازي او نور ، موظف دي چې ټوله اسلامي نړۍ د دغه کرکجن ، غولوونکي ، او پست دکاندار کام پرضد یو قهرجن پاڅون ته راوپاروي ، ... » او تریوه حده یې د بدا یسیدنې له مخې داسې دوام پسې ورکړ ، چې « ... که موږ خپلې وینې توی او پوپناه هم شو ، خو انګلستان باید بالاخره هند له لاسه ورکړي . » ( ۲۲ )

دیوې ټینګې آسیایي تګلارې دراوړو په خاطر ، د محوري ځواکونو او د هغوی د خیر غوښتونکو بیطرفه دولتونو حکومتي ماموران خپل خپل ورانديزونه رادمخه کړل .

د ( ۱۹۱٤ ) داګست پر ( ۲ مه ) د جرمني ستر جنرال ، هلموت ون موتکي ، ورانديز وکړ چې محوري ځواکونه دې د سراسري اسلامي پیوستون له

احساساتو څخه ددې لپاره ګټه واخلي چې اسلامي نړۍ راپورته او مسلمانان دعثماني امپراتورۍ په ننګه په جهاد کې سره یو موټی شي . د(۱۹۱٤)کال داګست پرلسمه ، دعثماني ترکيې د جنګ وزير ، انور پاشا ، په قسطنطينه* کې دجرمني سفير « بارون ون ګين هايم » ته په يو ليک کې ، وړانديز وکړ چې افغانستان ته دې يو شمير جرمني افسران دهيئت په ډول واستول شي چې هلته انقلابي غورځنګونه سره سم او دافغانستان له امير سره تماس ټينګ کړي ، چې هغه « دهند پرضد راپورته کيدو ته مازې پلمه غواړي »(۲۳)

دښه نيت دا انګيرنه ډيرژر ومنل شوه . داګست په نيمايي کې ، ون ګين هايم خپل حکومت ته رپوټ ورکړ چې انور پاشا په دې باره کې موثق معلومات لري چې دافغانستان امير دبرتانيې او روسيې په مقابل کې دښمنۍ ته چمتو دی . انور ادعا کوله چې له افغانستان سره اړيکي په کابل کې د ترکي افسرانو په واسطه ټينګې شوي چې هغوی په همدغه وخت کې له هندي مسلمانانو سره هم په تماس کې دي . (۲٤)

دعثمانی ترکيې دجنګ وزير خپله نقشه داسې جوړه کړه ، يوه ترکۍ ډله دې مجهزه کړای شي ، مشر به يې دحميديه جنګي بيړۍ پخوانی قوماندان او دترک - ايټاليې دلوی جنګ اتل ، روف پاشا وي ، دی به دزرکسيزه خال خال را ايستل شوي تکړه پوځ اويو شمير لويو افسرانو او پوځي کارپوهانو قومانده کوي . جرمني افسران هم چې ترجيحاً ، به يې ترکي - يونيفورم اغوستی وي ، له دې پوځ سره مل او دګردې ډلې لګښت به جرمني پرځان

---

* - يانې اوسنی استانبول چې دترکيې اروپايی ښار او داسلامي نوي تمدن زانګوده .
(ژباړن)

مني . داترکي - جرمن پوځ به له ناپيیلي پارس *څخه تير او افغانستان ته به ننوزي او هلته به سمدلاسه دامیر حبیب الله په اختیار کې راځي چې دهند په مقابل کې پوځي یرغل پیل کړي ( ۲۵ )

د ( ۱۹۱٤ )داګست په نيمايي کې . دجرمني دبهرنيو چارو وزارت لوړرتبه ماموررانو اود جرمني لويو جنرالانو ددې طرحې په هکله تر يوې مياشتې خبرې اترې سره وکړې ،پايله دا شوه چې ديو هيئت پر استولو سره خوښ شول چې وروسته دنیدر ماير داستازي په نوم سره وپيژندل شو . (دهنتيګ - نيدرماير هيئت نوم به ښه واى ، ځکه پدې دپلوماتيک هيئت کې دنيدر ماير په نسبت هنتيګ ته مناسب اختيارات سپارل شوي وو . )

له جرمنيانو او هغو بهرنيانو سره مشورې وشوې چې په منځني ختيځ کې يې تجربې لرلې او پر دغه ټکي سره جوړ شول چې که فرضاً هيئت خپل غټ هدف ته چې هماغه دمحوري ځواکونو په خواکې دافغانستان درول دي ، ونه رسيږي بيا به يې هم برياليتوب په برخه وي ، ځکه افغانستان به له برتانيې او روسيې دواړو سره دغرې ووهي ، په نتيجه کې به هغوی مجبوره کړي چې خپل زيات لښکر ددې پرځاى چې په اروپاکې يې په کار واچوي ، برعکس دافغانستان پر سرحدونو به يې ځاى پر ځاى کړي . دسويډن نامتو څيړونکي ، سوين هيډن ، دبرلين عامه خوشبيني نوره هم پسې ور زياته کړه : ده ادعا لرله

---

* - د ( پارس ) اصطلاح ايراني حکومت استعمالوله چې لومړى ځل لرغونو يونانيانو دپارس دامپراتورۍ له پاره ذکر کړه او په همدې ډول تر ( ۱۹۳۵ ) کاله پورې ( چې په ايران سره واوښته ) مروج وه . دغه نوي نوم دهېواد له اريايي ريښې څخه مشتق شو . ايراني حکومت له دويمې نړيوالې جګړې څخه وروسته دا مقرره سسته کړه ، اوس دواړه نومونه په متبادل ډول سره استعماليږي چې دکتاب ليکوال يې هم په دې يا هغه نوم سره تذکر کوي .

چې افغاني واکمن « په هند کې د برتانوي تسلط د رانسکورولو لپاره سره ایشي . (۲٦) » نو افغانستان ته د لیږونکو مجربو جرمنیانو یوه مهمه سلاکاره جرگه گۍ چې په منځني ختیځ کې یې تجربې لرلې ، جوړه شوه . پدې جرگه گۍ کې د بارون ماکس ون او پن هایم غوندې څېړونکو او د بهرنیو چارو وزارت له څو لوړ رتبه مامورینو څخه علاوه ، نور کسان هم لکه د هامبورگ ، امیریکالیني څخه ون هولز ندورف او یو سوداگر ایچ . آر مانسمان د اقتصادي پلوه وټاکل شول ، لکه څنگه چې له جگړې څخه وروسته به په منځنی ختیځ کې پر سیاسي - پوځي هدفونو سربېره اقتصادي پراختیا هم په پام کې لري . (۲۷)

د افغانستان د دې پروژې د عملي کولو لپاره ژرژر گامونه واخیستل شول.

د (۱۹۱٤) کال ، د سپتمبر پر شپږمه ، ویلهم واسموس ، چې وروسته څینو برتانویانو « د عربستان جرمني لارنس » وباله ، له برلین څخه قسطنطنیې ته ولاړ چې هلته د افغانستان لپاره د جرمني ډلې مشري وکړي .

د افغانستان لپاره دا ډله له هماغه پیل څخه له زیاتو ستونزو سره لاس او گرېوان وه . د جرمني پوځیانو لومړنۍ درویشت کسیزه ډله د سپتمبر په نیمایي کې له برلین څخه قسطنطنیې ته ورسیده . دا گډ گروپ له یو شمیر پخوانیو پوځي افسرانو ، دلالانو ، او سوداگرو څخه جوړه شوې وه ، د دې پرځای چې هغې په دې نوي ډیپلوماتیک - نظامي خومارکې د وړ او لازمو شرایطو له مخې یوځای شي ، برعکس په اتکلي ډول سره یوځای شول . ځینو د غو جرمنیانو خپل اهمیت نه و درک کړی لکه څنگه چې د استانبول په یو هوټل کې یې ځانونه د « ای . . هیئت غړی » ثبت کړل . د دوی د دارنگه ځرگند سلوک له مخې چې د ځانونو په ښکاره کولو سره یې خپله بې کفایتي ښودله ، او هم یې له ترکانو سره له لویې څخه کار اخیست او بالاخره د انضباط

او دسپلین دنه لرلو په وجه ، زیاتره دا جرمنیان تبدیل کړای شول . (۲۸)

دجرمني له دې هڅو سره سره چې غوښتل یې خورا باکفایته خلک سره برابر او د ترکي - جرمن دګډ اقدام په توګه دافغانستان پروژې ته پاینبت ورکړي ، بیا هم یو شمیر نورو علتونو د ترکیې - جرمني ګډه مرسته سره ولړزوله .

تر ټولو جدي ستونزه دهیئت دیو ښه انتظام نه درلودل و . دجرمني دقوماندې حدود په څرګنده نه وو ټاکل شوي . دانو له شک پرته ، پر دې دلالت کوي چې جرمنیان په ترکی ډله کې ورکښېوتلي دي . کله چې واسموس دهیئت دجرمني ډلې دمشرۍ لپاره قسطنطنیې ته ورسید ، ویې لیدل چې یو ګروپ دمخه لا دپنځو کسو دګډې قوماندې په واسطه چې دواسموس په مشرتابه کې یې خاشې ماتولې ، کار پر مخ بیایي ، وروسته بیا ، کله چې اوسکار فون تیدر مایر پدې ګروپ کې شامل کړای شو ، نو دهغه مشري واسموس ، نیدر مایر ، او هر من کانستین په ګډه واخیسته . له دې سره سم دغو جرمنیانو خپل وخت او انرژي یو دبل پر ضد جنجال او دسیسو ته وقف کړله ، سره له دې خورا لې به سره پر یوه کاسه کېناستل ، هغه به هم هغه وخت و چې له ترکانو سره به پر شخړو اخته شول . دمشرۍ پرسر دجرمنیانو دغه جنجال سمدلاسه دټول هیئت دمشرتابه سوال راپورته کړ ، دجرمني حکومت ددې هیئت لګښتونه پرڅان منلي او واسموس او نیدر مایر دواړو دا احساس کاوه چې دوی به د « ترکیې دپالیسي آلې » کیږي نه ، بلکې دخپل حکومت هدفونه به پرمخ بیایي . دوی په دې باره کې هم اندیښمن وو چې دجرمني له لارښوونو سره سم باید ددوی پانګه یا لګښت دهیئت ترکي قوماندان له خوا استعمال نشي . (۲۹)

دجرمني له خوا دټول اسلامي پیوستون تبلیغ او هم په عراقي سپیڅلو

ښارونو کې د مجتهدينو يانې شعيه مسلمانانو له ديني لارښوونکو سره د تار غزول ترکان خوابدي کړل ځکه هغوی په پام کې لرله چې تولې مذهبي چارې به دذوی پر اختيار کې وي . (۳۰) علاوه پردې ، دجرمني او ترکيې ترمنځ دېتې پاليسي پر سرهم تاوتريخوالی پسنې پاته و ، هغه لکه داوړدې مودې ، هدفونو پر سرچې په ايران پورې مربوط وو . ايا ايران بيطرفه پاتې کېدو غاړه ږدي ؟ ياکيدای شي چې له محوري ځواکونو سره يې يو ځای کړو ؟ په ايران کې دروسي پوځونو موجوديت پر آذرباجان باندې د ترکيې بريد حتمي غوندي کړ . په ايران کې د جرمني په وړاندې دخواخوږی حس موجود و چې د عثماني ترکيې لپاره بيا داسې نه وه ، ځکه چې د بر ايرانيان د ترکيې پر پراختيا غوښتونکو هدفونو شکمن وو . خوبالاخره کله چې عثمانيان د (۱۹۱۵) کال دجنورۍ په لومړيو کې پر اذربايجان ور رهي شول او پوځونو يې تبريز لاندې کړ ؛ نو روف بای ، چې افغانستان ته ليږونکی هيئت يې رهبري کاوه ځان پر شا و کښه . روف پر جرمنيانو تور ولګاوه چې هغوی د دې نقشې دېټ راز په ساتلو کې ناکامه راغلي او د ترکي – جرمن د ملګرتوب له اصلي لوري څخه اوښتي دي نو ځکه يې په دې لوی خومار کې ځانته د بر اختيارات وغوښتل . روف دا احساس هم وکړ چې نور نو ددې لپاره ښه مهال را رسيدلی چې په ايران کې دخپلو پوځونو په عملياتو کې برخه واخلي ، په دې ډول دی د سنجابي او کيل هوري له قبيلو سره دښمنۍ ته ورګډ شو . د دې په نتيجه کې ده ته زيات تلفات ورسيدل . او کله چې يې دکيرن پر ايراني ښار د توپونو دګوزار امر صادر کړ ، روف بای ډير ايرانيان چې کيدای شو له محوري ځواکونو سره خواخوږي وښيي ، خپل دښمنان کړل . (۳۱)

واسموس له نورې بې اتفاقۍ څخه دڅغورنې په خاطر ځان ګوښه او نيدر ماير يې د جرمني ډلې دمشر په حيث وګوماره . دی په ايران کې دجرمني

«سفیر ، شهزاده دیوس سره ، ملګری او تهران ته ولاړ . نیدر مایر دمخه لا یوه ډله جرمنیان د ایران بیلا بیلو ښارونو ته لیږلي وو چې دافغانستان لپاره هیئت ته ځایونه جوړ کړي . نیدر مایر ، تهران ته له رسیدو سره سم ، په ایراني پایتخت کې دروسي او برتانوي اغیزو په وړاندې له ځانه ، یو لړ دسیسو او پټو فعالیتونو ته لاس واچاوه . نیدر مایر له ځان سره ډېرې پیسې راوړې وې او په تهران کې یې په مختلفو نومونو او څېرو سره دومره بادولې چې په ښار کې ډېر ژر دخورا معلوم الحال جاسوس په توګه و پیژندل شو . (۳۲) دالاځه ، دی په خپله ، دجرمني دبهرنیو چارو وزارت ته په خپلو رپوټونو کې کاږي چې په تهران کې دده راښکاره والی متحدینو ته ډېر ژر معلوم شو ، لکه څنګه چې دې کار دافغانستان لپاره دهیئت دنورو غړو دربځ سمدلاسه بربنډ کړ . (۳۳)

کله چې د ۱۹۱۵ کال په مارچ کې ، دنیدر مایر ډلې په ایران کې دفعالیت ساحه لټوله ، هلته په برلین کې نوي پرمختګونه رامنځته شول ، هغه داچې یو بل هیئت به را استول کیږي چې تر یوې بشپړې جرمني قوماندې لاندې به کار کوي . ددغه هیئت الهام له هندي انقلابیانو څخه واخیستل شو چې په هند کې یې له خپلو برتانوي واکمنانو سره دجګړې لپاره دغښتلو انډیوالانو دلټولو په خاطر پر برلین تلوار اچولی و .

هندي انقلابیان په داخل او بهر کې په دې عقیده ول چې دهند آزادي له سوله ایزو لارو څخه امکان نه لري ؛ دوي حس کړې وه چې دبریالیتوب یوازینۍ لار زور او غضب دی ، چې ځینو « کابلي دارو » هم ورته ویل . په امریکاکې ددې انقلابي جوړښتونو ځینو غړیو لکه په نیویارک کې ، سرتر پایه اریایی اتحادیې ، په سانفرانسکوکې غدر « بلوا » ، او هم په بهر کې استوګن هندي اشخاصو ، ځانونه دمحوري ځواکونو په واک کې ورکړل . مولوي برکت الله او هردیال په برلین کې دهند د آزادۍ په کمیټه کې

دويريندرانات چتو پاديا ، حفيظ اونورو سره ملګري شول او دغه جوړښتون و چې افغانستان ته يې د مهندرا پرتاب او مولوي برکت الله د ګډ استازي د ليږلو وړانديز کړی و *. پرتاب غوښتل چې په هند کې له انقلابيانو سره اړيکي ټينګې او له برتانويانو څخه د هندوستان د خپلواکۍ د ګډ هدف په خاطر له جرمنيانو سره مرسته وکړي . (۳۵)

د جرمني له بهرني وزارت څخه بارون ويزندوک او د جرمني د درستيزوال هيئت د سياسي څانګې مشر تورن رودلف نادولني د دې وروستۍ ډلې هدفونه تاييد او ورنر او توون هنتيګ يې افغانستان ته د تلونکي هيئت مشر وټاکه . ده ته له افغانستان سره د اړيکو ټينګولو په باره کې څانګړی اختيار ورکړل شو . داسې فيصله وشوه چې د هينتيګ ډله په خپلو دندو کې آزادي ولري او د نيدرماير په ګروپ کې رانه شي . پرتاب د جرمني حکومت له لوړ رتبه مامورانو سره وکتل او هم له دويم قيصر ويليام سره د مرکې زمينه ورته برابره کړای شوه ، هندی شهزاده د روسيې د جنګ ډګر ته بوتلل شو چې د جرمني پر پوځي برلاسي يې باور وشي .

له دې سره سره هنتيګ د خپل هيئت پر برياليتوب ښه ډاډه نه و ، له پرتاب او برکت الله سره په خپله لومړۍ کتنه کې د هغوی د زياتو ټينګارونو تر اغيزې لاندې ښکېل شو او د افغانستان په اړونده خومارکې يې د دوی ګډون ومانه .

* - مهندرا پرتاب نه يوازې يو هندي هېواد پال و بلکې د « پريم مهاويد يالی » يانې (د مينې ستر ښوونځی ) او د عاجزو بنده ګانو د ټولنې تصوري موسس هم و . د غې ټولنې غوښتل چې اسلام ، عيسويت ، يهوديت او بودايي دين په يو عام مذهب کې سره واغړي . کله چې مهندرا پرتاب تر جګړې وروسته له جرمني څخه افغانستان ته روان و ، په ماسکو کې تم شو ، دی دعوه کوي چې لينن خپلې د غې ګروهې ته راواړوم (۳٤) مولوي برکت الله په سانفرانسسکو کې د غدر ګوند مشر و .

هنتیگ دخپلو برلاسیو داړوند امیدونو پر وجه چې له باتو څخه ډک وو ځانته نور ډاډهم پسې ورکاوه ، دی په دې گومان و چې د ایران دژندارمې سویډني افسران له مخکې څخه لا دجرمني په پوځي خدمت کې ولاړ دي او داسې ورځې ته چمتو دي چې ایران دمتحدینو پر ضد له محوري ځواکونو سره مل او اوږه پر اوږه وجنگیږي .* هنتیگ تریوې ترکي او ایراني عالي قوماندې لاندې دوه کسه جرمنیان چې یو یې (ډاکتر کارل بیکر ) او دویم یې یو سوداگر (والتیر روهر ) وو وټاکل .دجرمني دوند سدورف ، له جنگي کمپ څخه شپږ قیدیان (چې افغاني سرحدي اپریدیان وو ) دیوې بدرگه کوونکې ډلگۍ په توگه وگومارل شول او په متحده ایالتونو کې دوه کسه افغانان (عبدالرحمن او سبحان خان ) په خپلو شخصي لگښتونو له دې هیئت سره ملگري شول . (۳٦ ) وروسته له دوو اونیو بیکر ، روهر او درې اپریدیان روان شول ، هنتیگ ، داپریل پر (څوارلسمه ) دپرتاب ، برکت الله او پاتې اپریدیو په ملگرتیا ، له برلین څخه دویانا له لارې قسطنطنیې ته وخوځید . دویانا په هوټل کې ، ده دمصر له پخواني خدیو عباس حیلمي سره وکتل هغه دده لپاره یو ډیر ښه سفر وغوښت .

هنتیگ ، دخپل هیئت دولس غړي دقسطنطیې په لوړه سویه پیرا هوټل کې ځای پر ځای کړل ، په دې ترڅ کې وروستي اقدامات هم نیول شوي وو . ددوی میلمه پالنه هغه وخت یوې کوچنۍ پېښې رنگه کړه چې . کور به کسان ، دخپلو میلمنو په قدر پوه نشول او دغلطۍ له مخې یې دپرتاب نوم دیو اطریشي چک په توگه پېژندلی و . ځکه هغوی په دې هیئت چندانې پروا ونه کړه خو کله چې دوی پوی شول چې پرتاب « آن داچې » داطریشي واکمنۍ سلاویک تبعه نه دی بلکې یو هندي شهزاده دی ، بیا یې نو ځانگړې

* - دسویډن ژاندارمه دایران په مالیاتي خدمت کې گومارل شوې وه .

اسانتیاوې یې ورته برابرې کړې او لاس پرنامه شول . (۳۷)

هنتیګ او پرتاب د سلطان خلیفه او شیخ الاسلام په ګډون د عثماني واکمنۍ له لویانو او همدارنګه انور پاشا او د عثماني نظامي حکومت له نورو مشرانو سره هم وکتل . (۳۸) انور یو ترکي افسر ، کاظم بای سره یو ځای کړ چې د هنتیګ له ډلې سره ملګرتیا وکړي او پر جرمنیانو یې ږغ وکړ چې د نیدر مایر د ټولي غوندې اشتباه ګانې بیا تکرار نه کړي چې داسې فعالیتونه یې کول چې د دوي په ورسپارلو شویو هدفونو کې شامل نه وو . (۳۹) په پام کې وه چې دا هیئت مخکې له دې چې برتانویان یې مخه ونیسي په چټکۍ سره له ایران څخه تیر شي . په قسطنطنیه کې د جرمني سفیر ، بارون وانګن هایم ، داسې وپتییله چې د نیدر مایر هیئت ته د کابل وضع څرګنده نه ده نو ځکه یې د افغانستان له دې خطري پلان څخه مخ وګرځاوه او پر ځای یې په ایران کې خورا په زړه پورې نقشې ته (چې داوبو خړول وه ) لاس واچاوه . ( ٤٠ ) نو ځکه د هنتیګ استازي باید له داسې کار څخه ځان وژغوري .

مخکې لا د (١٩١٤) په مني کې ، ترکانو افغانستان ته دلیږونکو استازیو په ډیربنت کې مرسته کړې وه . په تهران کې د ترکیې سفیر د خپل نوبنت له مخې افغانستان ته یو پټ استازی واستاوه څو (حبیب الله) د متحدینو په مقابل کې جګړې ته را پاڅوي . دا پټ هیئت هرات ته ورسید او هلته د یو حکومتي میلمه په توګه اوسیده په داسې حال کې چې پیغام یې امیر ته ولیږل شو . څلور اوونۍ وروسته د امیر له خوا یو پټ لیک را ورسید او استازیو ته ور بنکاره کړای شو چې هغوی یې بنه یاد کړي او مضمون یې تهران ته واستوي . په دې مکتوب کې داسې راغلي وو :

« د دې لویې جګړې په هکله ، چې ټولو اروپایي ځواکونو برخه په کې اخیستې ، څوک تر اوسه لا کوم پای نشي ورکولای . زه یو مناسب وخت ته

گورم چې که مازې يو وار راته برابره شي . زه ټول ضروري اقدامات برابروم . هرڅونه ژر چې يوه مناسبه موقع په لاس راشي ، بې له شکه به خپله اسلامي وظيفه ترسره کړم . زه نه غواړم چې په اسلامي نړۍ کې پر مالعنت وويل شي. » (٤١)

تقريباً په همدغه وخت کې ، عثماني حکومت پريکړه وکړه چې د سميرنا وکيل ، عبيدالله افندي د ترکيې شورا ته او دبصرې والي ، جنرال سليمان پاشا ، د يو بل هيئت په توګه افغانستان ته وليږي . (٤٢) دعبيدالله وظيفه داوه چې د ترکيې - افغانستان ديپلوماتيکي اړيکې ټينګې کړي ، امير دې ته اړ باسي چې د ترکيې د غليمانو په مقابل کې جهاد اعلان کړي او بالاخره دافغانستان له خوا د خليفه او اسلامي نړۍ د مشر په توګه د (سلطان) په رسميت پيژندنه ترلاسه کړي . ده دقرآن مجيد يوه ښخوانۍ نسخه قيمتي زر او دالماس هغه ورغ لرونکي توره چې دجرمني له خوا د ترک - جرمن اصلي هيئت ته ورکول شوې ، دارزښتمنو سوغاتونو په توګه دافغانستان امير ته ور وسپارل . (٤٣) خو عبيدالله ونکړای شو چې خپل هدفونه بشپړ کړي او په ډيرو مشکلاتو سره وتوانيدو چې يوازې برتانوي او روسي نماينده ګان پسې واخلي چې هغوی به د محوري ځواکونو داستازيو او هيئتونو په له منځه وړلو يا شنډولو کې زياته هڅه کوله . (٤٤)

دجرمني دبهرني وزارت مرستيال آرترزيمرمان ، فيصله وکړه . چې هنتيګ دې امير ته د سورباز نښان له صليب او زنځير سره يو ځای اهداء کړي چې داکار ترکانو نه شو کولای . دارنګه په درنه سترګه ورته کتل خورا ضروري وه ځکه انګريزي حکومت په (١٨٨٥) م کې د سرلوړۍ په توګه همداسې يو نښان امير عبدالرحمن ته بخښلی و . بيلابيل سوغاتونه سره غونډ کړای شول چې په هغوی کې خورا قيمتي يې په دې ډول وو : دبندونو په

شمول دزرو درې ساعتونه ، دوولس بړغ لرونکي دیوالي ساعتونه ، دزرو خودرنګ قلمونه او پنسلونه په زرو ښکلي کړي او په عصري دوربینونو مجهز درې توپکونه او د کارتوسو په شمول شپږ تومانچې . (٤٥) دخوځنده عکس اخیستلو دیو تن وزن لرونکي روښاندان په شمول ، ډیر درانه سوغاتونه تیار او مخکې له دې چې جرمنيان دافغانستان پولو ته ورسیږي په پام کې وه چې ور واستول شي . همدارنګه په مراکشي صحافت او خط ښکلي شوي شپږ ویشت توري ( چې کیدای شو په جرمني یاکومه بله ژبه پیغامونه ترې جوړ شي ) دهند شهزاده ګانو ته استول کیده خو داهم پر لاری ورک شول. (٤٦)

بالاخره دهنتیګ داستازي لپاره ټول اقدامات ترسره شول ، دمهمند را پرتاب له خولې : د « (١٩١٥ م) دمی دمیاشتې په پیل کې ، په یو ډیر ښه لمرین سهار کې » ، دوی له قسطنطیې څخه دافغانستان پر لور خپل مشکل سفر پیل کړ . هیئت دبغداد ، د نامتو مګر نه ختمیدونکي ریل سړک څخه تیر شو ؛ ځکه نو ، هیئت مجبورو چې مخې ته دځینو جغرافیایي خنډونو دراتګ په وجه لکه ( غرونه یادرې ) بیرته کښته او داسونو یا نورو شیانو پر کرایه کولو سره ځانونه بیا هغسې ځایونو ته ورسوي چې دریل پټلۍ په کې غزیدلې وې ، داډله د « حلب » له لاری د « فرات » پرخوا مخته ولاړه ، په سیند کې د تختو د کښتیو په واسطه دیوولسو ورځو څخه وروسته بغداد ته نژدې راوختل . په دې ښار کې تر یوې اوونۍ وروسته ، هیئت دخپلو مشرانو په ګډون یو کراچۍ ګاډی کرایه کړ او په حرکت کې شول . هنتیګ ، برکت الله ، او پرتاب دګاډی پر فرش بیده شول او د پرتاب له قوله : دا « دمینې دمذهب دلاس نیونکو ، یعنې یو مسلمان او یو عیسوي جنګیالي عځبدنه وه . په رښتیا چې سیاست پردي کسان په یوه بستره کې سره نغاړي. » (٤٧)

دهنتيګ ډله دقصر شيرين له خوا ايران ته ننوته او په پام کې وه چې دکرمانشاه ، سلطان آباد ، اصفهان ، او ناين دلارې تباس ته ولاړ شي او هلته بيا دنيدز ماير دځواکونو سره ملګري شي او وروسته دبشرويه ، دوهک او بير جند له لارې يزدان او بيا افغانستان ته ننوزي .

په (۱۹۰۷) کې ايران په ظاهره دروسيې او برتانوي برخو په توګه ويشل شوی او دواړو ځواکونو دا انګيرلې وه چې دخپلو سيمو دساتنې په خاطر بايد دا برخې په خپل لاس کې ولري . روسي پوځونه په (۱۹۰۵ م) کې دايران دانقلاب څخه را په دېخوا هلته ځای پر ځای وو او د « قزاق » پوځ ، يانې دروسي افسرانو دځايونو ساتوونکې ډله په شمالي ايران کې داغيزې يو بل ښه دليل و . په دې ځواکونو سره نو روسيې په واقعي ډول شمالي ايران تر خپلې څارنې لاندې ښکېل کړی و . برتانيې دخپلو تجارتي ګټو دژغورلو په خاطر د (۱۹۱۱م کال) داګست راهېسې په شيراز او بو شهر کې خپل غونډونه اچولي وو . دواړو ځواکونو داقتصادي تسلط يوه داسې تګلاره پسې را اخيستې وه چې ايران يې پرضد يو نيمګړی او بې سبکه مقاومت څخه پرته نور څه نه شو کولای . دغه په اصطلاح دمنافعو لوزنامې او دزياتو سيمو دنېولو امتيازونو ، برتانوي او روسي کونسلانو ته نور سيک هم پسې ورکړ چې يو شمير پوځې ډلې (کله چې په جنګ کې ضرورت پيداشي) داجيرې په توګه ونيسي .

که څه هم چې دايران حکومت په لومړې نړيواله جګړه کې دنا پيېلې پاتې کېدو جعلي تصديق کاوه خو دمحوري او متحدينو ځواکونو دهېوادونو خلکو دايران په خاوره کې يو دبل پر ضد چريکي جګړه پيل کړې وه ؛ په همدغه وخت کې په تهران کې دجنګ کوونکو ځواکونو رسمي استازي فعال وو ، هغوی دخپلو دولتونو دګټو د پرمختيا لپاره سياسي چالونه او پټې

دسیسې کولې . جرمنیان هم بې له ګټې پاتـه نشول ؛ د ایران اکثریت ولس (پرته له ارمنیانو ) د روسیې او برتانیې دښمن و نو ځکه یې غوښتل چې له جرمني سره دوستي ټینګه کړي . د ایران د ژندارمۍ سویډني افسران عموماً د جرمني پلویان وو او که جرمني هغوی ته لښکر او پوځي مرسته ورکړې وای نو هغوی به د جرمني پر خوا درېدلي وای . (٤٨)

ځکه نو د هغو رنګارنګ رپوټونو په نظر کې نیولو څخه پرته چې په ایران کې جرمني استازیو برابر کړي وو . چې هغوی په کې « په بې اوبو دښتو کې تر وژونکي لمر لاندې » د ځانو اتلولي او ټینګوالی خورا تشریح کاوه ، زیاترو یې ډېره پانګه پکار واچوله او د افغانستان پولې ته د رسیدو په خاطر یې له دغه کمال څخه پرته چې د « دشت کاویر » ، یانې غتې بیدیا ، څخه تیر شي نور نو ، د هنتيګ او نیدرمایر استازي بې له تکلیفه د پوستې په موټر کې آرام مخته ولاړل . د افغانستان لپاره د هیئت پر مخ ایراني ښارونه او همدارنګه د متحدینو پر ضد د فعالیتونو اډې ، د هغو جرمنیانو په واسطه نیول شوې وې چې ځانونو ته یې کونسلان ویل ؛ دغه کونسلان د جرمني له خوا ټاکل شوي مګر په ډیرو برخو کې د ایران د حکومت د مننې وړ نه وو . دوی اطلاع ګانې ترلاسه کړې او د خپلې پانګې زیاته برخه یې پر هغه عمده مرستیال پوځونو ولګوله چې په پام کې وه ، د دښمن پوځ پرې وازمایي او د افغانستان له اړوند استازیو سره اړیکي پرې ټینګې کړي . ویلهم واسموس . چې د افغانستان د هیئت څخه ګوښه شوی ، په ایران کې یوازینی جرمن نماینده وچې ځان یې له نیولو څخه ژغورلی او د جګړې تر پایه یې خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړی دی.

هنتيګ خپل سري د سلطان آباد او اصفهان پر خوا ولیږل ، په داسې حال کې چې په خپله شمال ته ولاړ چې د هو دیرشم هنریښ شهزاده ریوس . سره (چې په تهران کې د جرمني سفیر و ) وګوري . په همدغه ګړۍ د جرمني

استازیو په منځ کې د مشرتابه نه حلېدونکې ستوزه یو وار بیا را پورته شوه . نیدرمایر ، چې په پام کی وه له خپل گروپ سره په ترکي هیئت کې گډشي ، له برلین څخه یې اجابت او تاکلي مسولیتونه په لاس کې نه لرل ، پرته له دې چې یو څه مبهم هدایتونه یې لرل چې باید افغانستان ته ولاړ شي او له راپورته کېدونکې ملي غورځنگ سره د محوري ځواکونو په گټه مرسته وکړي او « په هندوستان کې دنده ترسره کړي . » له همدې کبله نیدرمایر له هنتیگ سره په تماس کې شو او له هغه څخه یې وغوښتل چې خپله ډله دده تر قوماندې لاندې راولي ، خو هنتیگ دا خبره ونه منله .

تورن نیدرمایر ، یو بواری ـ چې د مهندراپرتاب له خوا « د مودبانه لارو د اوږده سفر وهونکی او ښه قاضي » په توگه بلل شوی ، د هنتیگ له خوا د یو اسره باز او قدرت مین سړي په توگه توصیف کړای شو . د نیدرمایر پر کلان کاره رپوټونو قضاوت ، د یو لوړ تیا غوښتونکي سړي تمایل را ښکاره کوي چې په دې عقیده دی : « یوازې د یو جرمن او سپنیزه تکل کولای شوه چې دده هیئت په دغسې مشکلو شیبو کې وساتي . » هنتیگ لکه نیدرمایر دیرش کلن و ، کره وره او طبیعت یې له خپل فعال هیوادوال څخه بیخي بدل و ، هنتیگ د خارجه وزارت یو نوی مامور و چې لومړني بهرني اسناد یې په تهران کې د جرمني په سفارت کې موجود وو ؛ دی په خپله هغه وظیفه کې چې ورسپارل شوې وه ډیر محتاط و او لږ منحرف کیده . هنتیگ ادعا لرله چې په استانبول کې د جرمني پوځي آتشه ، ډگروال نون لیزیک ، داژمنه کړې چې د نیدرمایر ډله به د هنتیگ ترمشرتابه لاندې راځي . (٤٩) د نورو ادعا گانو له مخې هنتیگ د نیدرمایر د امر منوونکی و . مگر دا څرگنده ده چې دده تر قوماندې لاندې د هنتیگ د گروپ دراوستلو په باب د نیدرمایر وړاندیز د جرمني د خارجه وزارت له خوا منظور شوی نه و . زیمرمان په دې پوه نشو چې ولې

باید هنتیگ د نیدرمایر تر واک لاندې راشي . د « نیدرمایر هیئت » سرنوم چې بالاخره د جرمن - افغانستان هیئت ونو ته ورکړل شو ، له همدې کبله یو بې ځایه انتخاب و .

نیدرمایر ، په تهران کې د دې لپاره وځنډید چې د جرمني د جاسوسۍ او ورانکارو فعالیتونو قومانده تر لاسه کړي او ځان له « ختیځ » څخه وښیي . ( ۵۰ ) هغه خپله پاملرنه بیا اصلي مسولیت ته واړوله . دده او د هنتیګ ډلو جلاجلا د افغانستان پرلور حرکت وکړ چې د طباس په رغیانه کې سره یو ځای شول . له دې څخه وروسته ، دواړو ډلو خپلې سرمایې سره ګډې کړې او دیوه هیئت په توګه سره مخ ته ولاړل ، په داسې حال کې چې هدفونه یې نسبتاً سره مشترک وو خو مشري یې یوه نه وه . ( ۵۱ )

دلویې بیدیا پر لاره ، جرمني هیئت ته خورا ناوړه ستونزې تجربه شوې . ډیرو ایراني خیمه والا وو او د باري څارویو مالکانو زړه ، نازړه توب اختیار کړ او تښتې ته یې مخه کړه ، ځکه هغوی په دې وویریدل چې هسې نه خپل ژوند او شته له لاسه ورکړي . جرمنیانو و پتیپل چې د غو کسانو ته به چې د بالقوه جاسوسانو غوندې اهمیت لري د تښتې اجازه ورنکړي او نیدرمایر (چې ځان یې تر اوسپنې کلک باله ) دیوه ناکامه تښتیدونکي داعدام غوښتنه وکړه . د یو خبر ځای له مخې ، د اطریشي هیئت غړیو چې زیاتره یې روسي د منځنۍ آسیا د بندیانو له کمپونو څخه راغور ځیدلي او هم د هیئت نورو غړیو د ټولو زړه غور ځاوه ځکه هغوی ادعا لرله چې موږ ته مواد په مساویانه ډول نه راکول کیږي . دوی شکایت لاره چې د افسرانو غوندې په ناکلي اندازه شراب او سګرټ نه ور رسیږي او په دې خاطر هم خفه شوي وو چې حتی اوبه او نور د غسې ضروري مواد هم سم نه ور رسیږي چې د ژوندانه لپاره ډیر ضروري دي . د غه کاروان کله چې د افغانستان پولې ته ورسید ،

يوازې نيمايي خلک او باري ښاروي يې پاتې وو. (٥٢)

د (١٩١٥ ميلادي کال) داگست پر (٢٠-٢١) شپه، هيئت په يزدان کې له سرحد څخه پورې ووت، په دې ترڅ کې يې دخپلو کړليچونو مانورو په وجه تعقيب کوونکي دښمن پر يله لار خطا ايستو. ددې لپاره چې ژر ژر وخوځي، جرمنيانو خپل ډير شيان لکه د پيسو او دامير دسوغاتونو لس بکسونه له لاسه ورکړل خو په دې بريالي شول چې د دښمن له سيمو څخه دراوتلو خطرناکه دنده ترسره کړي او سياسي وظيفه هم پسې را پيل کړي.

# له جګړه اييز حالت سره د حبيب الله مخامخ والی

د (١٩١٤م) کال د دويي بحران او دلومړۍ نړيوالې جګړې پېښېدلو ، دافغانستان دګاونډيو پاملرنه داروپا کړکيچني وضعې ته ور واړوله . د (١٩٠٧ م) کال دانګليس - روس له کنوانسيون څخه په وروستنه کلو کې پر افغاني واکمن باندې نازل کړای شوي فشارونه پسې سختيدل ؛ په دې ترڅ کې دغه کښيکښنې مستې کړای شوې ، روسيه او برتانيه په دې راضي شول چې د منځنۍ آسيا روانه وضعه که څه هم چې حتی دامير د هوساکېدو سبب کيږي ، همدغسې دې پاتې وي ، داکنوانسيون نه يوازې کورټ د روسيې دانقلاب په وجه چې هغه يې رسماً رد کړ ، لغوه شو ، بلکې په تخنيکي دول هم ، جرمني پر روسيې اغيزمن فشار راووړ چې دغه کنوانسيون بايد د (برست - ليتوفسک ) د تړون له مخې باطل شي چې دايران او افغانستان دواړو خپلواکۍ او ځمکنۍ بشپړتيايې په رسميت پيژندل .

د ( ۱۹۱٤م ) داگست د ( ۷ مې ) نېټې په پيغام کې ( لارډ نګ ) امير پوه کړ چې په اروپا کې د روسيې ، فرانسې او برتانيې له خوا د جرمني او اطرېش سره جګړه را پيل شوې او پرده يې زور واچاوه چې د خپل حکومت مشوره ومني ( لکه څنګه چې دانګلېس - افغان په تړونونو کې راغلي ) او بايد چې نا پېيلي پاتې شي . حبيب الله په يو چټک ځواب کې ژمنه وکړه چې دى به د خپلو کړو تړونونو غوښتنې پسې تعقيب کړي او په جګړه کې بې پر بيطرفه پاتې کېدو خپل تصميم اعلان کړ . ( ٥٣ )

ترهغې پورې چې ترکيې په جنګ کې برخه نه وه اخېستې نو افغانستان هم پر ناحقه په دې اړه څرګندونه نه کړله او د کابل نيمه رسمي ورځپاڼې (سراج الاخبار ) په غصې سره وليکل چې « کافران » د ايران او افغانستان په اړوند په خپلو نقشو کې وارخطا شوي دي . مګر د افغانانو د راويښېدو په هکله ځينې سوالونه راپورته شوي وو ، بانې داچې د دوی هيواد د يو ژور بدلون عصر ته ورننوتلی دی . په بوه مقاله کې ليکل شوي وو چې د سرسري فکروالاوو دا انګيرنه چې وايي افغانستان به دانګليس - روس داختلافاتو په نتيجه کې خپل امنيت وساتي ، غلطه ثابته شوه . ( ٥٤ ) يوې بلې مقالې چې له يوې هندۍ ورځپاڼې څخه بيا چاپ شوه ، په جګړه کې د ترکيې د ورګډېدو د خواخوږۍ مسئله راپورته کړه او پردې ټکي پای ته ورسېده چې هندي مسلمانان دې برتانيې ته وفادار پاتې شي . ( ٥٥ ) يوه مياشت وروسته سراج الاخبار دامير حبيب الله د بې طرفۍ اعلاميه خپره کړه او د هندي مطبوعاتو دارپوټونه يې رد کړل چې ګواکې امير داژمنه کړې چې برتانيې ته به دهغې دجنګي عملياتو په وخت کې مرسته ورکوي . ( ٥٦ )

د ( ۱۹۱٤م ) کال دنوامبر پر ( ٥ مه ) لارډ هرډنګ په خپل يو ډېر زړه وهونکي خبر سره امير حبيب الله پر غوږ وواهه چې « دعثماني حکومت

دناپوهی ، بې ځایه او قصدي عمل په وجه ، دلویې برتانیې او ترکیې ترمنځ جګړه نښتې ده . » په دې اړوند نوموړي مرستیال واکمن غوښتل چې پر دغو پنځه موضوعګانو باندې ډیر زور واچوي:( ۱ ) داجګړه په هیڅ مانا مذهبي جګړه نه ده ، لکه څنګه چې ترکیه دبرتانیې پر ضد ، چې « په نړۍ کې داسلام تر ټولو ستر او خواخوږی ځواک دی » پخپله ددوو داسې عیسوي ځواکونو سره ملګرې شوې چې هغوی « اسلامي ګټې هیڅ په پام کې نه لري. » ( ۲ ) برتانیې له اسلامي نړۍ سره خپله وفاداري دهغې اعلامیې پواسطه ثابته کړه چې دهغې له مخې به په عربستان او بین النهرین کې سپیڅلي حرمین او دجدې بندر له برتانوي یرغل څخه خوندي پاتې وي ، لکه څنګه چې دحاجیانو دسفر په وخت کې هیڅ مداخله هم ونشوه.( ۳ ) ترکیه دچم او خم له مخې دهغه اقلیت په واسطه چې اصلاً یې سلطان ته یوځه وفاداري لرله ، په جګړه کې ورګډه شوه.( ٤ ) په همدې وجه دهندوستان مسلمان لارښوونکي او مخور دهند په ټولو ښارونو کې سره دېره او په ثابت ډول یې له برتانیې سره خپله خواخوږي بیا تایید کړه.( ۵ ) عربي مشران او دپارس خلیج او عدن واکمنان هم دې ته چمتو دي چې له برتانیې سره اوږه پر اوږه ودریږي . مرستیال واکمن په پای کې ټینګار وکړ چې « ددغو حقایقو او زموږ دحکومتونو دملګرتوب او اتحاد له نظره ، زه په دې ډاډه یم چې تاسې اعلیحضرت به له خپلې بې طرفۍ څخه مخ وانه ړوی چې دهغې له مخې زما په اشاره سره دمخه هم تظمین کړی شوي یاست . ( ۵۷ ) »

امیر هم لارډ هرډنګ ته دخپلې همیشنۍ بې طرفۍ په باره کې ژمنه ورکړه. دافغان بې طرفۍ اعلامیه څه ناڅه دوې اوونۍ مخکې لا د ( ۱۹۱٤م ) کال داکتوبر پر ( ۲۱ مه ) ، په سراج الاخبار کې خپره شوې وه ، چې په غوڅ ډول یې روښانه کړه چې افغانستان به له هیڅ کوم جګړه وال سره نه

مرستـه کوي اونـه به يې هم پرمـلا تېـوي او نه به هم دهغوی پرخاوره د تيـري خيـال په مغزکې لري خو په دې شرط چې دهېواد گټې يې خوندي وي او هيڅ خطر ورته پېښ نه شي . (۵۸) کـه څـه هم چې دغـې اعـلامـيـې دهند او افـغـانسـتـان گټې داړتيا له مخې بيلې بيلې گڼلې او داسې خبرېې ورکاوه چې دافـغـانسـتـان دولت خپلواک دی ، بيا هم دهند دحکومت دخوښې وړو گرځېده . بنا پر دې دبرتـانيې خوا پوته اندېوال اعـلان وکړ چې افـغـانسـتـان بـه له جگړه والو سره که څه هم برتانيه وي ، يا ترکيه او يا جرمني ، بې طرفانه رويه ولري .

لارډ هرډنـگ يوه پريشانه کوونکې لـېکنه پېل کړه چې دهغې له مخې د يو شمير ستونزو په هکله له افغاني واکمن سره په تماس کې شو . مـگر حبيب الله پرخپل وخت ځواب ورکاوه څو چې په پای کې يې ځوليکونو ته په يوه پلا ځواب ور واستاوه ، دهند حکومت ترهر څه دمخه په ايران کې دجرمنيانو دفعاليتونو په هکله او پـه تيـره بيـا کـه د دغـه وسله وال دښـمن واحـدونه وغـواړي چې افـغـانسـتـان ته ننوزي او هندله خطرسره مـخـامخ کـړي ، انديښنه لرله .

د (۱۹۱۵ م) کـال دمـارچ پر (۳ مـه ) مرستـيـال واکمن پـــــه دې اړوند پر حـبـيب الله بږغ وکړ چې دجـرمنيـانو پټ استـازي په خپلو چټې درواغو سـره دخلکو ذهنونه خرابوي : دمثال په توگـه ، هغوي وايې چې (دجرمني امپراتور او دهغـه ولس اسلام ته په درنـه سترگـه گوري ) خو دی يانې هرډنگ ، پـه دې ډېر ښه پوه دی چې دغسې کيسې دافغانستـان پـه تعليم يافتـه وگړو کې حتی الامکان باور نشي ترلاسه کولای او پـه ډير تاسف سره يې زياته کړه چې : « زه هک پک يم چې دا خبرې دې حتی د ياغي اونا پوهو قبايلي خلکو له خوا لاهم ومنل شي . »

له دې سـره سره مـرستـيـال واکمن ، امـيـر پـه دې وگومـاري چې دخپلې ټينگې بې طرفۍ کړنلارې ته همدغسې پـايښت پسې ورکـړي . مـرستـبال

واکمن د (۱۹۱۵ م) کال دجولای په (٦ مه) نېټه په خپل وروستي لېک کې د (۱۷۹) کسو وسلوالو جرمنیانو دراتګ څرګندونه وکړه چې ښاپې هغوی تر یو ځای کیدو وروسته افغانستان ته ننوزي. لارډ هرډنګ وغوښتل چې که هغوی داکار وکړي، نو امیر حبیب الله دې دبې طرفانو دعادي چال چلند له مخې هغوی ونیسي، بې وسلې دې یې کړي او دجګړې ترختمېدو پورې باید بندیان کړای شي. (۵۹)

برتانویانو په دې هکله هیڅ شک او شبهه نه لرله چې په افغانستان کې حالت دترکانو په ګټه دی، تر هغه وروسته دجرمنیانو پر خوا دی، او ډېر افغانان غواړي او خدای ته عبادت کوي چې په دې وسلواله جګړه کې برتانویان او روسان مات شي. دجګړې دپیښېدو په وخت کې دامیر ډیر برتانوي کارکوونکي له افغانستان څخه ولاړل او دوی هم دیو امریکایي انجینیر (جیویټ) غوندې رپوټ ورکړ چې افغاني ماموران دجرمني پلویان دي. (٦۰) یو انګریز په بمبیي کې خپلو خپلوانو ته ولیکل چې: «په کابل کې تقریباً هرسړی شدیداً دبرتانیې ضد او دترکیې پرخوا دی، پرته له امیر څخه، چې هغه عوامو ته بېخي لېږ وینا کوي... (مګر) کله ناکله اشارتاً وایي چې: «برتانویان خورا غښتلي دي. (٦۱) »ایس لینچ چې د (۱۹۱۳ م) کال راهیسې په کابل کې و، داسې وویل چې: « دی له افغانستان څخه دبرتانیې ضد احساساتو په وجه ووت » ده څرګنده کړه چې: « صرف یوه سړي زموږ او دافغان ترمنځ له جګړې څخه مخنیوی وکړ. امیر دسولې پر خوا دی، خو نصرالله او عنایت الله په زغرده جنګ غواړي او وایي چې دوی به دمغولو واکمنۍ رامنځته کوي. » (٦۲)

دافغانانو دغه مزاج تر ډېره ځایه په سراج الاخبار کې منعکس کیده په دغه اخبار کې په ادبي ډول دبرتانیې پر خلاف سختې نظریې چاپېدلې. په دې

ورځپاڼه کې د (۱۹۱۵ م) کال داپریل پر (۱٦ مه) دصالح محمد کندهاري د پښتو یو شعر خپور شوی چې « په نړۍ کې روان حالت » یې مطلب و ، په دې شعر کې ده داسې یوه صحنه انځور کړې وه چې جرمني برلاسې دی او هیواد یې خدای غوره گڼلی ، په داسې حال کې چې روسان او انگریزان دخپلو تلفاتو په ویر اخته وي ؛ فرانسه فتح کیږي او جرمني بریالی ځنې راوزي . لیکوال لا پسې څرگندوي چې دنړۍ ټول مسلمانان ، په تیره بیا افغانان دداسې پیښو په راتگ سره هوسیږي . په پای کې دی له خپلو لوستونکو څخه غواړي چې په دې خوشاله شي چې کاپران په خپلو منځوکې سره نښتي او دعا وکړئ چې هغوی ټول پو پناه شي . (٦٣) په همدې گڼه کې محمود خان طرزي هم دجگړې د علتونو په هکله خپله انگیرنه وړاندې کړې ده . ده حیرانتیا ښکاره کړې چې هرلوری دجگړې پړه پر هغه بل لوري اچوي په داسې حال کې چې: « ددې عامې وینې توېدو یوازینی او غټ علت دانگلستان او جرمني ترمنځ تجارتي سیالي او په علم ، دخاورې په پراخولو ، او په سمندري طاقت کې یو پربل له برلاسۍ څخه عبارت دی . » جرمني په دې بریالۍ شو چې ترکیه هم جگړې ته ورکښېباسي ، اسره یې داوه چې درې سوه ملیونه مسلمانان راوپاروي ، « خو دروسیې او هندوستان د مسلمانانو لاسونه او پښې تړلي ، خولې یې جام پاته ، ړانده او کاڼه دي . » طرزي دجرمني ، عثماني واکمنۍ او اسلامي خلافت منافع گډې بللې ، په دې رایه وچې : « هیڅ یو مسلمان به دهغوی (جرمنیانو) تباهي ونه زغمي . » (٦٤)

نوموړې مقاله همدارنگه مخته پسې درومي بې له دې چې وواېي هندي حکومت او دهغه تزاري اندیوال دکابل وضعې او په تیره بیا په ایران کې دمحوري ځواکونو فعالیتونو او دافغانستان په هکله دهغوي پلانونو په اندېښنه کې اچولي دي .

متحدينو په ايران کې دجرمنيانو ، ترکانو ، اطريشيانو او دهغوي دورسره کسانو د خوځيدو په باره کې مستدل او ښه اطلاعات لرل . روسيې اوبرتانيې دواړو خپل جاسوسان او ځينې قومي ډلې ګومارلې وې ، دمثال په توګه ارمنيانو او بيلابيلو قبايلو ته هدايت شوی و چې په ايران کې دخپلو دښمنانو اغيزې شنډې کړي .

متحدينو په تهران کې ددښمنو سفارتونو او هرځای دهغوی دکونسلګريو ، او همدارنګه دلويو ښارونو ترمنځ تلګرافي پيغامونه ثبتول يا يې په مخابره کولو کې پرازيت خپرول . دوي ددې لپاره چې دايراني ښارونو په تيره بيا افغانستان ته له څيرمه سيمو څخه خپل دښمنان پسې واخلي ، نويې وسله وال يونټونه تشکيل کړه ، لکه دروسيي قزاق افسرانو غونډ او دبلوچستان څخه دهندي مليت واحدونه چې شمير يې دايراني سرحدي قبايلو په ګومارلو سره نورهم پسې زياتيدو . د ( ۱۹۱۵ م ) کال دجــــولای پر ( ۳۰ مه ) دامير حبيب الله په نامه په يو ليک کې لارډ هرډنګ څرګنده کړه چې روسيې اوبرتانيې دواړو امر کړی چې خپل پوځونه ايراني سيمو ته ( چې هلته ددوی ګټې موجودې دي ) وليږدوي ددې لپاره چې په سيستان کې دجرمنيانو « پټ چم » وڅيرې او له دې لارې افغانستان ته دجرمني ډلو درسيدو مخنيوی وکړای شي . (٦٥)

که دهندي حکومت دسياسي څانګې دوسيې وسپړل شي نو بايد ووايو چې برتانويانو په ايراني سيموکې دپلويانو په مبندلو کې خورا لږه کاميابي ترلاسه کړه . له دغې څانګې څخه اې ايچ ګرنټ وړانديز لاره چې : « داچې زمونږ کونسلان ددومره وګړو په ګومارلو کې چې وکړای شي له دغه جرمني ډلو سره ډغرې ووهي پاته راغلي او څنګه چې ددوی دپټو خدمتونو دلګښت پيسې دومره نه دي چې ددغه قبايلو ګډه مرسته يا تشکل پرې خوندي شي

چې هغوی وکولای شي دغه جرمنی دلې له منځه یوسي ... » کونسلان دې د پیسو مصرف ته تر هغو چې په نصیریه کې د برتانې د واک اغیزې نه وي را ښکاره شوي همدغسې دوام ورکړي . (٦٦)

جي ایل مافي په ایران کې د متحدینو ستونزې خورا ښې څېړلي او لیکي چې : « د ترک - جرمن له هدف سره په عوامو کې خوا خوږي موجوده ده په داسې حال کې چې متحدین د دې ناخوښه هواد لپاره د انګلیس - روس د پیوند په تاریخ کې د غسې خواخوږي نشي ترلاسه کولای او ایراني حکومت ... په دې باوري شوی چې جرمني نه ماتیدونکی دی ... » په داسې حالاتو کې د برتانوي پوځونو استعمال کیدای شي د دغسې یو حکومت لپاره « ناڅاپي ناوړه بحرانونه » رامنځته کړي . ٦٧ ) د داسې شرایطو په وجه برتانویانو غیر منظم پوځونه تشکیل کړه چې د ماتیدو په صورت کې برتانوي پوځونه د خړیدو څخه خلاص وي . د ګرنټ په فکر افغانستان ته د جرمنیانو ور تیریدنه د انګریزانو بوه پوځي ماتې ګڼل کیږي . (٦٨)

برتانویان او روسان د جرمنیانو د خوځیدو او پلانونو په باره کې ښه پوه وو . د نیدرمایر سخت فعالیتونه او د هر احتمالي اقدام لپاره یې د قوماندې په سر تېنګار ، چې وروسته دده د اهمیت باعث شول ، دده د ډیرو تلګرافي امرونو څخه معلوموي چې د جرمنیانو د هدفونو سمون بیرته اسانه کیږي . د (١٩١٤م) کال له اکتوبر راهیسې لا په تهران کې د جرمني د مرستیال سفیر (ون کرډف ) او په بوشهر کې د جرمني د کونسل (لیسټ مان) ترمنځ له تلګرافي پیغامونو څخه د جرمني هدفونه معلوم کړای شوی وو . غلا کړې تلګرافي مخابرې په جرمني ژبه نیول شوي لیکونه او روزنامچې چې جرمنیان یې خورا مینه وال وو ، د متحدینو د جاسوسي افسرانو لپاره ډیرې مهمې منابع وې . (٦٩) روسانو او برتانویانو په ایران کې د زیاتو جرمنیانو

په نیولو کې هیڅ وخت له لاسه نه ورکاوه او ګن شمیر قبدي جرمنیانو ځانونه سم دم ور وښوول .

مخکې له دې چې متحدین دافغانستان پولې وتړي ، دهنتیګ ډله او نیدرمایر له څو کسو سره په دې بریالي شول چې افغانستان ته ننوزي ، مګر هغه جرمنیان چې په ایران کې پاتې وه ویې نه کړای شول چې ووزي اونه یې هم وکولای شول چې دافغانستان او بین النهرین تر منځ ژغورنده تماس ټینګ کړي . دغه جرمني هیئت ته په افغانستان کې هرکلی وویل شو . د « ختیځ تهذیب ، » په وجه او یا هم دهغه داستانونو له کبله چې په ایران کې د افغانانو دوحشي ګرۍ او خوږري توب په باره کې ویل کیدل ، هنتیګ یو بشپړ اسلامي مخکښ ګارډ هرات ته واستاوه چې په هغه کې دبرکت الله او کاظم بای په مشرۍ یو شمیر اپریدیان شامل وو . برتانوي جنرال کونسل وروسته په خورا بې خوندۍ سره رپوټ ورکړ چې : « ځینې خلک ددغې ډلې لاسونه مچوي او یا داچې دډیرې بې عقلۍ له مخې سلوک ورسره کوي . » ( ۷۰ ) داجرمنیان مخ په وړاندې او فراه ته ورسیدل هلته بې له دې چې زیاته ګټه دې ترې حاصله شي خلکو « دوی ته په درنه سترګه وکتل ، » دهمدې ورځې په ماسپښین ( د ۱۹۱۵ داګست ۲۲ مه ) ، داجرمنیان له یو افغاني هیئت سره مخامخ شول چې دهرات دوالي نیکې هیلې یې ورته وړاندې کړې او هغوی یې دغه ښار ته وربلل . هنتیګ څرګنده کړې ده چې دهرات پر لارې ، ددوی په وړاندې دخلکو عکس العمل ( غبرګون ) ډول ډول وو : « دراغونډو شویو خلکو څخه ( یوې ډلې ) په خپله مرور ته سلام کاوه او استثنا داسې دوستان هم و چې زمور څخه یې اطاعت غوښت لکه څنګه چې دخوښۍ پر مهال شرقیان دغسې کارونه لري ؛ دبلې ډلې عمل مودبانه و ، مګر محتاطانه . » جرمني کاروان چې ښاروي یې له ( ۱۷۰ څخه ۶۵ ) ته را کم شول ، دهرات دنیمایي لارې

ځخه بدرګه او تر ښار پورې راورسول شوه چې د ښار په ګوټ کې یوه ودانۍ په واک کې ورکړای شوه . یو افغاني ډګروال د هرات د والي سردار محمد سرور له خوا ، د خوښۍ مراتب ورته څرګند کړه او هغوی یې د دریو ورځو لپاره په خپلو استوګنځیو کې محصور وساتل . افغانانو د غه تهدیدونه یو امنیتي اقدام باله ، ځکه داسې ویل کیدل چې د دښمن ایجنټان د جرمنیانو پر ضد توطیې جوړوي . په دریمه ورځ جرمنیان او ملګري یې د محمد سرور له خوا وغوښتل شوه او په خورا پراخه تنده یې هر کلي وشو . اکثره د غه جرمنیان په یو شکیدلي او شوړیدلي حالت کې وو ، بې له هغه ځخه چې هغه د نن ورځې د نظامي دود سره سم او سپینېزه خولۍ په سر کړې وه او پاک یو نیفورم یې اغوستی و ، افغان والي د دوی سره د مهربانۍ او ښې پالنې له مخې رفتار وکړ . د مهندرا پرتاپ له خولې ، هغه د د غه بهرنیو استازیو د بیا سمبالښت لپاره « د کسبکارو یوه ډله لکه ، زین جوړونکي ، پښان ،رنګریزان ، ګنډونکي او بوټ جوړونکي ، زموږ د بیا مجهز کولو او تولو اړتیاوو د پوره کولو په خاطر د ده په خپل مصرف » راواستول . (۷۱) په سبا یو ځل بیا د غه جرمنیانو له والي سره کتنه وکړه او نیدر مایر ته د دې ژمنه ورکړای شوه چې په اصفهان کې خپلو خلکو ته خبر ورکړي چې ژر ترژره افغانستان ته راشي . (۷۲)

که موږ د برتانویانو خبرې ومنو ، نو البته چې دا ټول شیان سم نه وو . د هیئت غړیو ته اجازه ورکړای شوه چې د هرات په د ننه او شیر مه ځایو کې زیارتونه وکړي او هم د ښار له نورو برخو ځخه لیدنه وکړي ، په دې وخت کې د ښار له اوسیدونکو ځخه د دوی د ګوښه ساتلو ترتیبات نیول شوي وو . په مشهد کې د برتانیې جنرال کونسل ، ډګرمن تې وي هیګ ، په خپل رپوټ کې ولیکل چې: « د عوامو انګېرنه د دې میلمنو په ګټه هیڅکله یوشان نه ده ، کندهاري او کابلي عسکر اوس اوس د جرمني پرخوا دي ، مګر هراتي

عسکر ټول آرامي او سوله غواړي ... » ۷۳۰ ) هیگ همدارنگه رپوټ ورکړچې په هرات کې د والي او عسکري قوماندان ترمنځ اړیکي خړې پړې شوې دي . جرمنیانو هغه وخت دقوماندان سره ضدیت پیدا کړ چې پر افغاني ساخت ټوپکونو یې انتقاد وکړ او دهغوی افسرانو ته یې په ډاگه کړه چې دا «زاړه او له کاره لوېدلي » دي . کله چې قوماندان اخطار ورکړ چې ځینې دغسې افسران به له کاره گوښه کړي ، نو یو برتانوي نماینده د پوسخند له مخې افسرانو ته وویل چې پر جرمنیانو شکروباسئ . له جرمنیانو څخه وغوښتل شول چې پوځ تر نظر تیر کړي خو قوماندان داخبره ونه منله او هغوی ته یې له ارگ څخه د کتنې اجازه ورنه کړه ، کله چې والي د جرمنیانو د ساتنې لپاره ، (چې یو یې لاهم د تورن څخه لوړه رتبه نلرله ) یو ډگروال وگوماره ، نو قوماندن والي ته خبرورکړ چې که افغانستان ته په راغلو جرمنیانو کې یو نفر هم جنرال وای نوما به په خپله دهغوی ساتنه پر ذمه اخېستې وای .

د اگست پر ( ۲۷ مه ) دجمعې پر ورځ دهیئت مسلمانانو غړیو د ښار په جومات کې لمونځ وکړ اویو برتانوي ایجنټ دبرکت الله هغه کوشش شنډ کړ چې غوښتل یې دعثماني خلیفه پر نوم خطبه ، یانې دجمعې دورځې دعائیه ووایي . ټول افغانان دوستانه وو او هندي حکومت ته یې دحبیب الله هغه ژمنه پوره نه کړای شوه چې ویل یې هره هغه بهرنۍ ډله چې افغانستان ته ننوزي بې وسلې او بندي به یې کړي . د بېلگې په توگه د نیدرمایر یو سړي ، ویلهم ماشن ته اجازه ورکړای شوه چې د یو مخکښ لار ښوونکي په توگه اصفهان او پارس ، ته سفر وکړي اوتر دوو میاشتو وروسته بیرته هرات ته راستون شي . ( ۷٤ ) جرمنیانو ته همدارنگه اجازه شوې وه چې خپلې وسلې او سامان یې په خپل واک کې وي .

جرمني هیئت په هرات کې له دوو اوونیو تم کېدو څخه وروسته ،

د (۱۹۱۵ م کال) دسپتامبر پر (۷ مه) دافغانستان دمنځني ولایت ، هزاره جات ، له لارې بدرگه او پس له څلرویشت ورځو (د نیدرمایر په حساب پس له ۲۳ ورځو) کابل ته ورسید . (۷۵) ددې لپاره چې دوی په اسانه سفر وکړي نو هرڅه ورته برابر کړای شوي وو ، په څو ځایونو کې سرکونه جوړ او کاروانسرایونه دخارجي میلمنو له پاره پاک او اماده شوي وو . خانانو او دولسوالیو حاکمانو ته چې هیئت دهغوی له سیمې څخه تیریده امرشوی وچې هر هغه څه برابر کړي چې پر لارې باندې ورته ضرورت وي . جرمنیان ځکه دجنوبي کندهار دسم سړک پر عوض پر دغه سخته لار رهي کړای شول چې افغانانو نه غوښتل هغوی د هند - افغان پولې ته نژدې تېر شي . هندي حکومت له دې څخه ویریده چې هسې نه جرمنیان به له سرحدي افغانانو سره اړیکي ټینګې کړي ، آن تر دې چې په خپله امیر هم پرقبایلو د دغه خارجي هیئت داغیزې په هکله اندیښمن و . هنتیګ او نیدرمایر داسې انګیرل چې اولس ، په تیره بیا دهزاره جات خلک ، « په منظم ډول ، له دوی سره له تماس نیولو څخه منع کیدل . » خو ددوی ایراني خادمان (چې دهزاره ګانو غوندې شیعه ګان وو) له دې مغولي خلکو سره په تماس کې شول ، هزاره ګانو ددوی پر واسطه جرمنیانو او امیر ته دولسوالانو دناوړه سلوک په هکله ګیلې ګوزارې واستولې . هرڅه ښه روان وو او جرمنیانو تر خپله وسه پرمختګ کاوه ، څوچې هنس یاکوب (یعقوب) (چې یو بواری او دنیدر مایر خاص سړی و) ناروغ او تبه یې شوه . هغه دکاروان پای ته ولېږل شو او پس له څو ورځو مړ شو . وروسته دشیر دروازه دغره په لویدیځو کوتلونو کې دکابل له «باغ بابر» څخه دباندې ښخ کړای شو چې اوس له افغانستان سره دجرمني دلومړني تماس یو یادګار بلل کېږي .

کابل ته په ورنژدې کیدو سره دغه بهرني استازي خورا خوښ شول ، ځکه

دوي ته داسې آوازې رسيدلې وې چې پر خاصو مراسمو سره به د دوي ښه هر کلی وشي ؛ ويل کيدل چې د تيريدو پر لار به دافغاني واکمن پو ځيان ولاړ وي او له مرکز څخه به د دوو ساعتونو په واټن لاره په غاليو فرش شوې وي خو د جرمنيانو دغه لويې هيلې ترسره نه شوې ، مرکز ته په يو ساعت ناوخته رسيدو سره د کابل د ترکي ټولنې تقريباً لس تنه مخ ته ورغلل چې هغوی غوښتله روف بای سره ووينې. دواړو ډلو ته دخبرو اترو موقع ورنه کړای شوه . کله چې ښار ته راننوتې شولو نو د حربي ښوونځي ترکي استاد خيري بای ، خپل زده کوونکي راوايستل او ميلمنو ته يې پوځي سلامي وکړه .دده په دې خپل سري کار سره امير حبيب الله خان سمد لاسه خيری بای له کار څخه گوښه کړ خو چې دهنتيگ او نيدرماير په منځگړيتوب سره يې ځوميا شتې وروسته بيرته مقرر کړ . دلته هم خلکو « لکه د مخه چې هدايت ورکړ شوی وي » دغه بهرني هيئت ته په ښه سترگه کتل ، هيئت ته په باغ بابر کې ځای ورکړ شو ( چې يوه غتيه ماڼۍ او باغ يې لاره او يو لوړ ديوال ترې چاپيره وه . ) داچې يوازې ماسپښين دباغ دروازه خلاصه شوه نو دغو نابللو شويو ميلمنو حتی دهرات په نسبت دلته ځانونه زيات محصور وگڼل ، په سبا ورځ ، کله چې هنتيگ وغوښتل د بابر بڼ له دروازې څخه دباندې پر خپل آس چکر ووهي وی کتل چې يوه برچه يې مخ ته ونيول شوه . دهيئت مشرانو ته وويل شوه تر څو چې افغاني واکمن مو ونه غواړي تاسې دلته نظر بند ياست . ددغه بهرني هيئت رارسبدنه او دلته دکولرا دناروغۍ ختميدنه پر يوه وخت سره برابر شول ، دهنتيگ دوينا له مخې ، دا تصادف ددې ځای زياتو خلکو يو نيک فال وباله .

دهنتيک – نيدرماير دغه جرمني هيئت نومړنۍ ډله نه ده چې کابل ته ورغي ، بلکې په همدې وخت کې کله چې دغه جرمني هيئت په هرات کې

افغانستان ته ننوځي ، هلته دوه ویشت کسیزه اتریشي ډله دروسیې له پولې څخه مزارشریف ته نژدې د افغانستان سرحد ته داخلیږي . کابل ته دنوموړي هیئت په رسیدو سره یو کور او دورځې دوې روپۍ دخرڅ لپاره ورته حواله شوې . ځیني له دوی څخه په عامه خدمتونو کې وګومارل شوه ، لکه دملکي روغتون دډیوالونو رنګ او انځورول . یو برتانوي نماینده رپوټ ورکړ چې دوی آزاد ول چې هرې خواته ولاړ شي ، مګر هروخت باډي ګارډان ورسره ملګري وو . شایي په دې خاطر چې هم دوی وساتي او هم یې له کومې فتنې څخه وژغوري » دغه اتریشیان جنګي بندیان وو چې دروسیې دمنځنۍ آسیا له قیدي کیمپونو څخه راتښتیدلي ول . وروسته چې په سلګونو دغه خلک ایران او افغانستان ته ورننوتل نو دمحوري ځواک استازیو و پتییله چې هغوي دیو پوځ غوندې سره منظم او افغانستان ته یې ولیږي چې هلته دهند پر ضد عملیات وکړي او یا هم دروسي قزاقانو او د جنوبي ایران دټوپک والاوو پر ضد (چې برتانویانو منځته راوړي وو ) جګړه وکړي . دغه اتریشیان په کابل کې لومړی تقریباً نظر بند وو ، خو دهنتګ په شفاعت سره امیر هغوی ته دمرکز په دننه کې نسبي آزادي ورکړه . (۷٦)

جرمنیانو تقریباً څلور اونۍ یو تلولی انتظار وکړ څو چې بیا دامیر حبیب الله خان سره دکتنې اجازه ورکړای شوه . د برتانوي حکومت مقاماتو دغه کار خورا غوره وباله یانې امیر دنوامبر تر شپږمې نېټې پورې په پغمان کې پاتې شو ، ګواکې چې دافغاني واکمن زړه نه غواړي له جرمنیانو سره ووینې . (۷۷) یا داسې هم انګیرل کیدای شي چې ده غوره ګڼله چې له مرکز څخه پرته په یو بل پټ ځای کې له دې بهرنیو استازیو سره وګوري ؛ سربیره پردې ، په مرکز کې دوباځینې نښې نښانې موجودې وې نو دامیر دغه اقدام بیخي پرځای و .

کله چې دغو استازیو دلوړې اعتصاب وکړ نو امیر مجبور شو چې ورسره وګوري . (۷۸) د (۱۹۱۵ م کال) داکتوبر پر (۲۶ مه) دهیئت لوړ رتبه غړي په دریو عرادو رای سیس کې ددوی له استوګنځای څخه پغمان ته (چې دامیر ژمنی استوګنځی و) بوتلل شول . یو برتانوي جاسوس ولیدل چې : « هغوی یونیفورم نه و اغوستی پرته له یو جرمن څخه (هنتیګ) چې اوسپنیزه میخي خولۍ یې پرسر وه . زه یې له سلوک او کړو وړو څخه جرمنیان او ترکي عسکر بولم . » (۷۹) امیر په دې مناسبت یوه جرګه جوړه کړه چې په هغه کې نصرالله خان (دامیر ورور)، عنایت الله خان (دامیر مشر زوی) سردار محمد یوسف خان، آصف خان، نادرخان، او لوی ناب خوشدل خان (دکابل والي) او نورو برخه لرله .

دغې جرګې له نوموړیو خارجیانو سره وکتل او دلې وخت لپاره یې هغوی مصروف وساتل څو چې بیا له حبیب الله خان سره یو ځای شول . (۸۰) ددې غونډې په ترځ کې چې تقریباً پنځه یا شپږ ساعته وخت یې ونیوه بهرنیو استازیو خپله کیسه ورته وکړه . افغاني واکمن افغانستان ته د هغوی پر راتګ سره (ښه راغلی) وواېه او دهنس یاکوب (یعقوب) پر مړینه یې خپل خپګان ښکاره کړ . هنتیګ او نیدرمایر خپل سړي ور و پیژندل . دامیر او لوړو افغاني شخصیتونو لپاره سوغاتونه اکثره په ایران کې ورک شوي ول خو جرمنیانو دجرمني ټولواکمن (امپراتور) او صدراعظم لیکونه له ځانونو سره لرل ، دسرو زرو یو ساعت او ځینې نور کوچني سوغاتونه چې ورسره پاتې ول، عنایت الله ته یې وسپارل . کله چې سوغاتونه راوایستل شول نو یو یې چې ښکاري چاړه وه دنا خوښۍ وړ وګرځیده ، ځکه دهغې پر تیغ باندې دیو ځنګلي خوګ تصویر انځور شوی و . دا چاړه دسپک کړای شوي سړي له خوا ځکه بیرته ورکړل شوه چې هغوی دخوګ له تصویر سره (چې مسلمانان هغه

یو مردار حیوان بولي ) کرکه لرله .

امیر دغې ډلې ته دوینا په ترڅ کې وویل : « تاسو ماته دداسې دلالانو غوندې معلومیږئ چې جګړې موراته ایښې دي ، هره یوه چې مې ځنې خوښه وي هغه واخلم ، » نور نو داسې څه پاتې نه شول چې جرمنیان یې ځنې ترلاسه کړي . ( ۸۱ ) امیر حبیب الله خان ددوی دباور لیکونو په هکله یو څه شک ښکاره کړ . نه دجرمني دتولواکمن اونه هم د هغه دصدراعظم په لیکونو کې داسې څه شی وچې دده بشپړ ملاتړ دې تر لاسه کړي . دی په دې باره کې سم ډاډه نه و چې دجرمني تولواکمن دیو تاپې کړل شوي لیک پر ځای باید یواغیزمن سند را استولی وای . دده همدارنګه پرځوانو استازیو نظر واچاوه چې پرته له برکت الله څخه دنورو تولو سن له دوه دیرشو کالو څخه زیات نه و . جرمنیان بریالي شول چې په دې هکله دامیر شک یو څه رفع کړي ، هغوی ځانونه داسې حق په جانب وښودل چې ډېر معتبر او ښاغلي « سپین ږیري » خو ددغسې سفر ستونزې نه شي زغملای . امیر په دې خبر کړای شو چې دخلیفه او دهغه دشیخ الاسلام له خوا (چې دستري محکمې یو ډول دی ) جهاد اعلان شوی دی اوله ده څخه وغوښتل شول چې که افغانستان دمتحدینو پر ضد په دې جهاد کې برخه واخلي . له ده څخه دا غوښتنه هم وشوه چې که ترکي پوځونو او دهغوی انډیوالانو ته اجازه ورکړي چې دافغانستان له خوا هند ته ورتیرشي . مهندراپرتاپ افغاني واکمن ته په اروپا کې دجګړې په هکله خپلې انګېرنې وړاندې کړې او له هغه څخه یې وغوښتل چې دهند دآزادۍ لپاره دده سلامشوره ومني . هنتګ دجګړه ایزو حالاتو په باره کې دجرمني نظر ورته وړاندې کړ او دجرمني او افغانستان دراتلونکو اړیکو موضوعګانې یې ورسره وڅیړلې . امیر ته وویل شول چې محوري ځواکونه تاسو دیو خپلواک او مطلق واکمن په توګه په رسمیت پیژني او له ده څخه

وغوښتل شول چې دخپلو پيژندل شويو غليمانو په ماتولو کې زموږ سره ملګري وکړي ؛ په هغه صورت کې به دده انعام - پر خپلواکۍ سربېره - دهند پرسرحد ځمکني امتيازونه او په کراچۍ کې به ديو آزاد بندر ورکول وي .
نيدرماير د پوځي مسئلو په ارتباط خبرې کولې او کاظم بای دسراسري اسلام او مذهبي چارو موضوعګانې ور وړاندې کولې . برکت الله چې فارسي يې ډيره ښه زده وه ، ديو ډير پوه سړي په توګه وپيژندل شو ، استازيو په لومړي ګام کې (که امير په جګړه کې برخه واخلي او که بې طرفه پاتې کيږي ) دافغانستان دساتنې په خاطر ، هم داقتصادي او هم د پوځي وسايلو ، دچټک سمبالښت وړانديز وکړ . (۸۲)
اميرځواب ورکړ چې :« افغانان خپله اسلامي دنده په خپله ترسره کوي خو دوی ته دې پوځي وسايل برابرکړای شي » ده ټينګار وکړ په داسې حال کې چې افغان ولس غوښن طاقت لري مانايې داده چې خپله خاوره وساتي خو په يوه قراردادي جګړه کې به له يو اروپايي ځواک سره په جنګ کې خورا لږ اغيزه ولري . دهند په مقابل کې به جګړه يو ستر خطر وي يانې دبرتانيې اقتصادي مرسته به له منځه يوسي او افغانستان به له روسيې سره په جګړه اخته کړي .
دمحوري ځواکونو له خوا ديوې لويې مرستې دنشتوالي پر وجه دبرياليتوب لپاره هيڅ ضمانت موجود نه و . امير حبيب الله خان ترڅوچې دده دشورى مجلس يانې ( دسلاکارانو جرګه ګۍ ) دترکي - جرمن وړانديزونه ، نه وو څيړلي ، دغو بهرنيو ته يې غوڅ ځواب وځنډاوه . په همدغه وخت کې امير په ډاګه کړه چې دی شخصاً په دې ډير خوښ دی چې دنوموړي هيئت دټولو غړيو سره ويني او داژمنه يې ورکړه چې دی به وروسته خپله پريکړه اعلان کړي .
هنتيګ وروسته رپوټ ورکړ چې په دې لومړي وارکې ده ته ددوی له مسئلې سره دخواخوږۍ په باره کې نصرالله ډاډ ورکړی و . له بلې خوا جرمني استازيو

درک کړه چې د سردار محمد یوسف زامن ( چې په حکومتې لوړو څوکیو کې یې کار نه کول ) د برتانوي طاقت تر اغیزې لاندې راغلي او د دغه بهرنیو خواته لېـ میلان لري . د هنتیګ له قوله ، عنایت الله او امان الله دواړه آزاد خیاله او له هماغه پیل څخه یې د محوري ځواکونو له مسئلې سره ناخوښي لرله. (۸۳)

له امیر سره له دغې لومړنۍ مرکې وروسته ، انفرادي لیدنو کتنو پاینښت وکړ چې په دې ډول حبیب الله خان ته داچانس په لاس ورغی چې د هیئت غړي امتحان او ځانته یې ښه معلوم کړي ، دغو مرکو د ( ۱۹۱۵ م کال ) تر دسمبر پورې دوام وکړ ، کاظم بای د دې بهرنیو استازو وروستی سړی و چې له افغاني واکمن سره یې په ځانګړې توګه وکتل ، په همدغه وخت کې دا ډله په دې بریالۍ شوه چې یو څه آزادي تر لاسه کړي . کله چې دوی د یو غوښتنلیک له لارې څرګنده کړه چې د دغه نظر بندي د دوی د ناروغۍ باعث ګرځیدلې ده او د نړیوال قانون سره مخالفت هم دی نو بیا د هیئت غړیو د کابل په شاوخوا کې د ګرځیدو آزادي حاصله کړه ، له جنګي قیدیانو څخه دریو اتریشي افسرانو لکه تورن شریسز ، لومړی بریدمن ایمل دی بچکا او بریدمن او هیلند ته اجازه ورکړای شوه چې په بابرباغ کې له جرمنیانو سره یو ځای شي . *

له دې سره سره داجرمنیان ډیر ژر ناارامه شول ځکه د هغوی د ریغ د دې سبب کیده چې له نه فعالیت او ناامنۍ سره لاس او ګریوان نه شي : په کابل کې دا آوازې خپرې وې چې برتانوي ایجنټان په دې لټه کې دي چې هنتیګ او نیدرمایر ووژني . دا ډیره په زړه پورې خبره ده چې افغاني مقامونو جرمنیانو ته داواک ورکړ چې که د دوی مسلمانان نوکران غلا وکړي ، کولای شي چې په

---

* - ربیچکا وروسته بیا په افغانستان کې د خپلو تجربو په باره کې یو کتاب خپور کړ (لیپزیک ، ۱۹۲۷ )

خپله يې بندي او په سزا ورسوي . دهيئت ايراني غړي هم دخواخوږۍ وړ وو ، چې هغوي به له کوم عقيدوي سببه او يوازې دروزۍ دپيداکولو په خاطر په دې خطرناک پروګرام کې برخه اخيستې وه .

بالاخره دښو مزدوريو لپاره ددوی هيلې هغه وخت له خاورو سره برابرې شوې چې جرمنيانو دهغوی درېيمه برخه معاش ورکم کړ او دپاته پيسو لپاره يې دذمه واري ليکونه وروسپارل . په داسې حالاتو کې نو داد خورا حيرانتيا ځای دی چې يو سړی مجبوره کيږي دخپل معاش د لاکمښت له کبله له خپل بادار څخه غلاوې شروع کړي . دلنډې محاکمې يو بل کيس داو چې جرمنيانو دخپلو ګټو په خاطر يو برتانوي جاسوس اعدام کړ . دغه محکوم جاسوس جرمنيانو ته يو داسې ليک راوړ چې دده له قوله په ايران کې جرمني منبع ورکړی و : سره له دې ، د « سختې املا لیکنې » له مخې دافغاني واکمن لپاره د « امير » توری دانګليسي ژبې پرخلاف په جرمني « ايمير » ليکل کيږي ، نو ځکه جرمنيانو کشف کړ چې داجوړ شوی ليک دی . (٨٤)

د ( ١٩١٥ م کال ) له کريسمس څخه لږ څه مخکې ، هنتګ او نيدر ماير سردار نصرالله خان پوه کړ چې په ايران کې ددوی دوظايفو په وجه ډيره موده په افغانستان کې نه شي پاتې کيدای . افغاني سردار هغوی پردې راضي کړل چې څه موده پاتې شي ، ځکه زياته يې کړه چې جرمنيان اختيار لري که له افغانستان سره د ملګرتوب تړون غواړي او که نه . نصرالله داسې ور وښووله چې امير حبيب الله خان ديو داسې تړون په هيله دی چې په هغه کې به جرمني ضمانت کوي چې له جګړې څخه وروسته به افغاني واکمن خپلې سيمې په خپل کنتـــرول کې لري او دجګړې په وخت کې به ده ته پېسې ، جګړه ييز سامان ، وسلې او خلک ورکوي چې په دې وجه به نو دی په جګړه کې دمحوري ځواکونو پرخوا په دريدوسره نور هيڅ وسواس هم ونلري . هنتګ

ثرگنده کړه چې کیدای شي یوه مسوده جوړه کړم خو هغه به دجرمني دحکومت دمنلو تابع وي . وروسته یې داسې یوه مسوده ترتیب هم کړه چې دامیر د « بشپړې خوښې » وړوګرځیده خودې کار حبیب الله خان هم دبرعکس وړاندیزونو په طرح کولو کې ( چې خورا ستړې غوښتنې پکې شوې وې ) پرشانه کړ ، په دې مسوده کې ده ، دافغانستان ذمه واري په پام کې نه وې نیولې نو ځکه جرمنیان دې ته اړشول چې باید نورې خبرې اترې هم وشي . هنتګ و پتیبل چې داسې یواړخیز تړون ، بیاهم یومهم کار دی ځکه دهغه دتصویب تروخته خو کیدای شي افغانستان پرخپله پخوانۍ خبره ټانې بې طرفه پاتې کیدو باندې ټینګ شي . دتړون داخاکه دامیر سلاکارې شورا ته وسپارل شوه او تصویب کړای شوه څو چې د ( ۱۹۱٦ م کال ) دجنورۍ پر ( ۲٤ مه ) دافغاني واکمن له خوا لاسلیک او جرمني ته واستول شوه . ( ۸۵ )

دجرمن – افغان د دې تړون له لاسلیک څخه څه موده مخکې او ترهغه وروسته ، دغو بهرنیو استازو یوه موده خورا ښه آزادي غوره کړه او د افغانانو فعاله مرسته یې ترلاسه کړه . جرمنیانو فکروکړچې په کابل کې له دغې بدلیدونکې وضعې څخه په ګټه اخیستو سره باید چې پوځي اصلاحګانې پر خپله ذمه واخلي . افغان حکومت ، دجرمنیانو په کومک ، دهیواد دپوځي وسایلو پر تخنیک له سره غور پیل کړ . توپونه او د نظامي پرزو زیرمې ، او همدارنګه دکابل دوسلو جوړولو فابریکه په احتیاط سره معاینه شوه او دپوځي پرسونلو ښوونځی بیا منسجم شو او له سره په کار ولویده . په داسې حال کې جرمنیانو دافغانستان جګړه ییزې چمتو کېدنې په غور سره څیړلې ، هلته افغاني پوځي درستیزو الو دهیواد پوځي ستګرنیوتې سره سمولې ، په دې وخت کې امیر حبیب الله خان لویه جرګه ، ( ستره غونډه ) راوبلله چې په هغه کې د ګڼون لپاره دافغانستان دټولو ولایتونو او هم دسرحدي قبایلو

استازي کابل ته راوغوښتل شول ، داچې دامیر په زړه کې دارنګه یو غټ بدلون پیښ شونو جرمنیان خورا باغ باغ شول .

په افغانستان کې دغې سیاسي وضعې متحدین خورا اندیښمن کړل چې هسې نه دغلیم سترې وسلوالې ډلې دغه هیواد ته داخلې نه شي . برتانوي نماینده ګانو رپوټ ورکړ چې د هرات والي دغو بهرنیانو ته « په خورا درنه سترګه » وکتل ، اوکله چې هغوی کابل ته ورسیدل نود شمال لویدیځ سرحد عالي کمیسار ( روس کیپل ) سملي ته خبرورکړ چې « نصرالله خان او عنایت الله خان د جرمنیانو په رسیدو سره خوشاله دي او دهغوی ډیر احترام کوي ، خو امیر ناغړی کوي او داسې معلومیږي چې هغه د جرمنیانو وخت ور. ضایع کوي او هغوی خطاباسي . » (٨٦) په سمله کې روسي کونسل ( سي نابوکوف ) له جرمنیانو سره دامیر حبیب الله خان دورخلاصې رویې له لاسه دهندي حکومت سیاسي څانګې ته شکایت وکړ . ده ولیکل : « څومره چې موږ دامیر پر رسمي ژمنو باور لاره او ترکومه ځایه چې مو فکرکاوه جرمنیانو ته تر هغه زیاته دعمل آزادي ورکول شوې ده . هغوی په تیره بیا ترکان آزاد پریښودل شوي چې ، ( دهرات ) په جامع جومات کې خلکو ته دا تبلیغ وکړي چې دلویې برتانیې اوروسیې پر ضد له روانې جګړې څخه ملاتړ وکړي . . . »

اوده وپتیله چې « دغه ټول حقیقتونه سړی دې ته اړباسي چې دامیر داعلامیو پر ریښتونولی باندې شک پیدا کړي . » یو بل رپوټ په ډیر شوم ډول سره وایي چې : « ددې ډلې په رارسیدو سره امیر خورا زیات په تکلیف شوی دی ، مګر عام ولس ډیرخوشاله او پر شور راغلی دي اوکه امیر دخلکو پرضد کوم کار وکړي نو ژوند به یې په خطر کې ولویږي . » (٨٧)

دهند حکومت په دې فکر کې شو چې باید دامیر روحیه لوړه کړي او له ده سره کومک وشي څو دخپلو خلکو له هغه فشار سره مقاومت وکړي چې وایي

په جګړه کې دې برخه واخیستل شي . ددې کار دبشپړتیا لپاره دپاچا پنځم جورج له خوا امیر ته یو لیک واستول شو چې دهغه له مخې برتانوي پاچا دافغاني واکمن هغه « دقیقه او داحترام وړ ، کړنه ستایلې ، چې خپله غوښه بې طرفي یې ساتلې وه . » دغه لیک دبرتانوي پاچا او افغاني واکمن ترمنځ چې یوازې به یې دهندي مرستیال واکمن سره تماس نیولای شو دمستقیم ارتباط یوه کوچنۍ بېلګه راښیي . دبرتانیې له خوا دحق پیژندنې یوه ښرګنده نښه داوه چې امیر ته یې په خپلو مرستو کې دوه سوه زره ( یانې دوه لکه ) روپۍ ورزیاتې کړې ، مګر که داحقیقت په پام کې ونیسو چې یو وخت له هندي حکومت سره دحبیب الله خان جاري حساب خورا ډېرو په (۱۹۰۵ م کال ) کې دغه رقم ( شپږ نیم ملیونه روپیو ته رسیده ) چې دِدې دوو لکو روپیو ناڅاپي اېستنې دهند بودجه له کسر سره مخامخ کوله نو بیا دازیاتوالی دامیر پرځان سپار لودومره اغیزه ونه کړای شوه . افغاني واکمن په خپله داموضوع په ډاګه کړه . (۸۸) ده بې ځایه ډېرې اوږدې مودې لپاره دبرتانوي پاچا لیک ته ځواب ورنه کړ . بالاخره کله چې یې ځواب ورکړ نودغه خورا ناچیزه مبلغ یې دځان سپکاوی وباله چې دده په ګومان دیو غیرولسي سیاسي دریغ پرخاطر دده په خرڅ هیڅ نه ارزیده . له دې سره سره ده په کابل کې برتانوي نماینده ته بیاهم په ډاډینه سره ووېل : « ستاسې دریغ اووظیفه دا ایجابوي ، هرڅه چې دلته پیښیږي په تیره بیا پرهغسې پیښه چې اصلاً زما دکړنو او ښرګندونو ښخه منځته راځي ژور غورو کړي ، نه داچې اوازې او بازاري افواهات په نظر کې ونیسئ . په دې ښپانده وضع چې ددې بوې باد وه کلنې جګړې په وجه منځته راغلې او دسرحدي قبایلو دلمسېدلو ذهنونو دغلي کولو په باره کې تاسو دیو مسلمان او افغان په توګه ( برتانوي استازی دبرتانوي هند یو افغان ، یا پښتون سړی و ) زما په جدي هڅو ترهر چاښه پوه

باست او په دې کې هيڅ شک نشته چې زما له هغه ستر هدف څخه چې په خورا زحمت او ناورين سره مې گټلی ، حتی لږ سرغړونه به هم ما د خپل زوړ يار يانې برتانوي حکومت د بې باورۍ په کنده کې گوزار کړي ) او يا به مې دخپل اسلامي رعيت او هم سرحدي مسلمانو قبايلو په واسطه د کفر او عقيدې د خرابوالي په فتوا سره وترټي . . . نو ځکه تاسو ډاډه اوسئ او کولای شئ خپل حکومت ته په ډاگيز او مکررو الفاظو سره ډاډ ورکړئ چې زه د برتانوي حکومت رښتني دوست يم او تر هغو به خپله بې طرفي وساتم څو چې دافغانستان کورنۍ گټې په خطر کې نه وي لويدلي ، البته که داکار وشي نو د ناچارۍ له مخې به د ځانونو د ساتنې لپاره وسلې ته لاس اچوو ، يا به ناپيېلتوب بوې خواته پرېږدو . » (۸۹)

که څه هم چې دهند حکومت دامېر پرچال چلند مستدل باور لاره ، مگر بياهم ويريده چې هغه دخپل ولس د فشار په نتيجه کې جگړې ته داخل نه شي ، ياداچې دخپل رعيت په واسطه د برتانيې پرضد کوم گړندی اقدام ونه کړي . دصوبه سرحد وضعه خوراکړکيچنه وه . دهندحکومت درک کړه چې په خوست کې ددغه بهرني هيئت لپاره خورا ولولې را پاريدلي او يوازې داپاتې وه چې امير دجهاد اعلان وکړي . (۹۰) داامکان هم موجود و چې دبرتانيې پرضد دجگړې پلويان ددې لپاره چې امير جنگ ته اړ باسي په کابل کې دبرتانوي نماينده دوژلو په لټه کې وه .

وضع اصلاً ډيره خرابه معلوميده ، مگر د ( ۱۹۱۵ م کال ) دنوامبر پر (۵مه ) دهند مرستيال واکمن لندن ته دبو ليک په ترڅ کې هغې ته په ښه نظر سره وکتل ، ده داسي رپوټ ورکړ : « دامير کړنه ډېر قناعت وړ ده ، ده له هغو جرمنيانو سره چې په دې بريالي شوي چې افغانستان ته ننوځي ، دوه ځلې ليدنه کتنه کړې ده . وار دواره هغوی پر ده زور راوړ چې زمونږ په مقابل کې يې

دځان ملګری کړي ، اوده په زغرده منفي ځواب ورکړ ، ورته ويې ويل چې: (دی نه شي کولای له برتانوي حکومت سره خپله انډيوالي وشکوي) په دويم وارکې هغوی ورڅخه وغوښتل چې هرات ته دې دبيا ستنېدو اجازه ورکړای شي ؛ ده نوموړې غوښتنې ته هيڅ ځواب ورنه کړ ، لاکن پر هغه باغ باندې يې چې دوی په کې استوګن دي ، کلکه پيره ودروله نوځکه هغوی په اصل کې بنديان دي . زما عقيده داده چې امير دغه جنګ دخپل ژوندون لپاره يو داسې فرصت ګڼي چې دهغه له مخې هم دانګلستان اوهم له روسيې څخه دخپل دريغ په رسميت پيژندنه غواړي . دی په ټول ختيځ کې يوازينی په سياست پوه سړی دی او دده سلوک دبشپړې ستاينې وړ دی . » (۹۱۰)

په (۱۹۱۶ م کال) کې روسيه له لويو ستونزو سره مخامخ شوه چې وروسته له دې روسي حکومت مزدورانو ته ډېره اړتيا لرله . دترکستان مسلمان خلک يې عسکرۍ ته جلب کړه او په دې يې وګومارل چې دجنګ د ميدان شاته کار وکړي ، دهغوی ډېرو خلکو داکارونه مانه او افغانستان ته وتښتيدل . ترکمني مهاجرو دافغانستان له امير سره وکتل او دروسيې په ضد جهاد يې وغوښت ، امير دامسئله خپلې سلاکارې جرګه ګۍ ته وړاندې کړه ، مګر کله چې دهند مرستيال واکمن حبيب الله خان ته دروسيې پرضد دهر رنګه اقدام خبرداری ورکړ ،نوده هم نوموړو ترکمنانو ته خلعتونه ، يانې د (منې جامې) ورکړې او هغوی يې هرات او ميمنې ته واستول . په هرحال ، برتانوي حکومت په دې شکمن وچې دروسيې دمنځنۍ آسيا دښوربښ اوبلوا ترشا دهنتيګ- نيدرماير داستازيو لاس موجود دی . (۹۲)

د (۱۹۱۵ م کال) ددسمبر په پای کې دهند حکومت په دې متيقين شو چې نورجرمني هيئت ناکامه دی . دغه حکومت ته جوته شوه چې سرحدي قبايلو « هم دافغاني پولې په دننه اوهم دباندې کې » په خندا او ملنډوسره

امیر « کافر » یاله. په کابل کې برتانوي استازي رپوټ ورکړ چې ، سردار عبدالقدوس خان حبیب الله خان ته مشوره ورکړې چې په جنګ کې دې د ګډون یا نه ګډون د پرېکړې په باره کې له تلوار څخه کار نه اخلي . دی همدارنګه د لوېې جرګې د فوري غوښتلو طرفدار هم نه دی ، ځکه په دې ګومان وچې « د جرمني هیئت له ضمانت څخه پرته چې د راکولو ژمنې یې کړي داسې یا هغسې کومه فیصله به د نورو انسانانو په نزد زموږ حماقت ثابت کړي او په دې ډول به په ټوله نړۍ کې د افغانانو سرکښته کړي . » (۹۳۰)

هنتیګ او نیدر مایر د جرمني خارجه وزارت ته د جرمن – افغان د خبرو اترو رپوټ د یو پیغام په توګه ولیږي چې ورسره د هغې مسودې متن هم ضمیمه وچې امیر حبیب الله خان خپل لاسلیک پرې کړی و . د ( ۱۹۱٦م کال ) د جنورۍ پر ( ۲٤ مه ) هنتیګ داسې رپوټ ورکړ :

« تراوسه خو لا امیر د خپلې اعلان کړې بې طرفۍ او روایتي انډیوالۍ له مخې د انګلستان ډول ته غوږ ځي اویوازې یې پر انګریزانو ځان تکیه کړی دی . ترنو امیر پورې موږ په دې بریالي وو چې له ګوښه نشینۍ سره سره ، وضعه په خپله ګټه راواړوو . صدراعظم ( نصرالله خان ) چې د امیر ورور او ځای نیونکی دی او د هغه خسر ، ( محمود طرزي چې د امان الله او عنایت الله خسر دی ) زموږ پرخوا ولاړ دی . کله چې موږ د دسمبر په پای کې پر دې ټینګار وکړ چې افغانستان باید یو لاره وټاکي نو نصرالله را څخه وپوښتل چې آیا موږ د داسې تړون لپاره بشپړ صلاحیت لرو ؟ نو ما (هنتیګ) د منفي ځواب په ورکولو سره ورته وویل چې که تاسې وغواړی زه تیاریم چې یوه مسوده ترتیب کړم . هغه ته مو داژمنه ورکړه چې که افغانستان ژر ترژره په جګړه کې برخه واخلي نو تروسه وسه به د جرمني له خوا نقدي او مالي مرسته او همدارنګه د سولې دراتګ په وخت کې به د هغوی داړتیاوو مطابق بسپنه

ورکړای شي . داخاکه دامیر له خوا ترځینو اعتراضونو وروسته دیو تړون دمسودې په توگه تدوین کړای شوه . » (٩٤)

دملگرتوب دغه تړون لس مادې لرلې چې دافغاني لورې داستقلال او سیاسي خپلواکۍ په اعلامیې سره پیل کیدې ، جرمني او دهغه اندیوالانو په رسمیت وپیژاند . افغان حکومت وعده وکړه چې خپل « نامي وسایل او سوق او اداره » به بشپړوي او دایران ، هندوستان او روسي ترکستان له ولسونو سره به اړیکي ټینگوي ، جرمني حکومت دډیرو زیاتو وسلو او دلس ملیونه سټرلنگ پونډو برابر ول پر خپله ذمه واخیستل . نوموړي حکومت دایران له لارې ځخه داکمالاتو او هم دضرورت وړ افسرانو او کارپوهانو دتهیه کولو لپاره دیوې لویې لارې جوړول هم په پام کې لرل . ددې کارونو هدف دافغانستان غښتلي کول او جگړې ته دافغانستان دچمتوالي په صورت کې هغه ته دجرمني مرسته رسول وو . حبیب الله خان هنتیگ دجرمني دیو رسمي استازي په حیث ومانه او په دې راضي شو چې یو افغاني هیئت ایران ته ولیږي چې هغه دجرمني ، ترکیې او اتریش له نماینده گانو سره خبرې اترې وکړي . په پای کې دغه استازي په ډاگه ځان دافغانستان دوزیر پر توگه معلوم کړ او ویل کیده چې دجگړې په پای کې به یو افغاني اختیار مند وزیر دسولې په کنفرانس کې گډون کوي چې دافغان حکومت دحقونو استازیتوب وکړای شي. دغه تړون همدارنگه یو کونسلي قرارداد هم لاره چې دهغه له مخې په افغانستان کې دبهرنیو استازیو اوو گړو حقونه څرگند شوي وه.

هنتیگ اونیدرمایر دواړو دغه مسوده یوبریالیتوب وگاڼه او له هغې ځخه یې ملاتړ وکړه ځکه « هغه کارته دچټک لاس اچولو توان ورکاوه » او په پام کې وه چې « دلس زرو جرمنیانو یا ترکانو په رارسیدو سره به حتی دامیر ستړې غوښتنې ترسره هم نه شي نو هغه به مجبور شي چې جگړه پیل

کړي.» (۹۵) دامهم تکی باید په پام کې ونیول شي چې افغاني واکمن داسې نه ده څرګنده کړې چې په جګړه کې به د محوري ځواکونو په خوا کې دریږي. ددې ترون هدف داوچې « افغانستان به تقویه کیږي او د جنګ په وخت کې به یې ګټې خوندي وي.» دې مسئلې ته په خپله برتانویانو هم (چې د (۱۹۱۸م کال) په جنوري کې له دې ترونه خبر شول) غاړه کښېښودله. دهند په حکومت کې دسیاسي څانګې مشر، ډینس بري، دترون په شننه کې ځان خطا وتلی باله او څرګنده یې کړه چې په هغه کې خوداسې شیان نه وو چې برتانیه دې اعتراض پرې وکړي. داچې افغانستان ځان مستقل اعلانوي اوجرمني یې هم مني داعتراض وړ خبره نه ده. دافغانستان د پوځي او اداري منابعو دبشپړتیا عزم له ډیر پخوا څخه لا افغاني واکمنانو پسې رااخیستی دی. سیاسي اړیکي هم دا یران، هند او ترکستان د « خلکو » سره ټینګېدې، نه دهغوی له حکومتونو سره. ټول ټال ترون له باټو او بې مانا امتیازونو څخه تشکیل شوی و.

بري حتی ددې تفسیر هم ورکړ چې دغه سند د « سراج الملته والدین » لاسلیک لري نه د « امیر حبیب الله خان » ځکه کیدای شو په وروسته کې امیر پرهغه پښیمانه شي. (۹٦)

هغه خوش باوری چې ددسمبر اود (۱۹۱٦م کال) دجنوری په موده کې دجرمنیانو په منځ کې خپره وې کرار کرار په بدبینی سره اوښتې ځکه داسې معلومیده چې امیر خپلې ټولې هغه ژمنې باطلوي چې د جرمن - افغان د ترون له مخې یې کړې وې. په حقیقت کې، دجنوری پر (۲۵مه) یانې دامیر له خوا ددې ترون له لاسلیک څخه یوه ورځ وروسته، امیر په کابل کې دبرتانیې نماینده حاضر کړ او هغه ته یې دخپلې دوامدارې بې طرفۍ ډاډ ورکړ. امیر هغه ته وویل چې: « په ایران کې دعمومي حالاتو او په افغانستان کی دبهرني

هیئت داستوګنې په وجه امیر دعوامو دنظرغوښتونکی دی » له همدې کبله ، حبیب الله وپتییله چې دجنورۍ پر ( ۲۹ مه ) ټول درباریان راوغواړي او خپله بې طرفي یو واربیا په ډاګه کړي . ده پسې زیاته کړه چې دده دهغې اعلامیې په باره کې چې دخپلو عامه ذهنیتونو دارامولو لپاره یې مجبوراً صادر کړي باید چې برتانوي نماینده په غلط فهمۍ کې ونه لوېږي . هغه رسالې چې دجهاد « اصلي » مفهوم په کې تشریح شوی ، ددربار له ختمیدو څخه وروسته به خپرې او وویشل شي . په هغو کې داسې څرګنده شوې چې په اوسني حال کې جګړې ته ضرورت نه لېدل کیږي . (۹۷)

هنتیګ ته ډیر ژر پته ولګیده چې جرمني پلوه افسران تبدیلیږي او پرځای یې دامیر خپل کسان درول کیږي ، هغه افغاني استازي چې دهیئتونو په توګه جرمني اوایران ته استول شوي وو بیرته کابل ته راوغوښتل شول . حتی هغه کارونه هم تم کړای شول چې لږ څه مخکې دمرکز دشاوخوا پر استحکاماتو راپیل شوي وو . جرمنیانو په ناکام ډول پر امیر زور واچاوه چې په خپله کړنه کې دغه نابیره بدلون روښانه کړي ، خو حبیب الله خان ونه غوښتل چې خپل دریغ ورته څرګند کړي څو چې سردار نصرالله خان دامیر له خوا جرمنیانو ته وویل : « افغانستان نه غواړي دهند په مقابل کې په یوه تیري کوونکې جګړه کې برخه واخلي تر هغو چې: ( لومړی ) دترکی - جرمن لږ ترلږه شل زره مجهز او وسله وال سرې دافغانستان مرستې ته رانه شي او ( دویم ) تر څو چې په هندوستان کې یو عمومي بړیالی پاڅون نه وي پیښ شوی .

ددې وضعې په لیدو سره ، هنتیګ له امیر څخه وغوښتل چې برتانویان دې زما لپاره دمیږي یوه لاره پریږدي څو وکولای شم جرمني ته ولاړ شم او ځان دجرمني او افغانستان دهغو اړیکو تینګښت ته وقف کړم چې همدا تازه منځته راغلي دي خو امیر دځو اوونیو لپاره هیڅ ځواب ورنه کړ او په پای کې د

(۱۹۱٦ م کال ) په اپریل کې ده جرمنیان حضور ته وبلل او ورته وېې ویل که هتمګ غواړي چې ولاړ شي ، نو تاسې ټول هم باید ولاړ شی ، که نه نو ټول همدلته پاتې باست او خپلو کارونو ته مودوام ورکړی . (۹۸) حبیب الله خان له جرمنیانو څخه وغوښتل چې پاتې شي او نصرالله خان بیا هغوی ته په غوږ کې وویل چې افغاني واکمن اوس اوس دهندمرستیال واکمن ته خط کښلی چې په هغه کې یې د خپلې بې طرفه پالیسۍ دانعام په توګه بې له قید اوشرطه دافغانستان د آزادۍ په رسمیت پیژندنه غوښتې ده . لاکن جرمنیان له دې وروسته پوه شول چې په کابل کې ددوي نوره پاتې کېدو زیاته ګټه نه لري او په حقیقت کې ، دنوموړي هیئت حیثیت ورخرابوي نوځکه د ( ۱۹۱٦ م کال) دمۍ پر ( ۲۱ مه ) ، دهیئت مشران له افغانستان څخه ولاړل ؛ نیدرمایر دروسي ترکستان له لارې ایران او له هغه ځایه د ترکیې ترلاس لاندې سیمې ته وخوځید ، په داسې حال کې چې هنتیګ ختیځ ته مخه کړه ، دواخان تړه یې پسې واخیسته او چین ته داخل شو او له هغه ځایه بالاخره ، دمتحده ایالتونو له لارې بیرته جرمني ته ستون شو . (۹۹)

ددغه جرمني هیئت اودجګړې په څپانده بهیر کې له هغه سره دافغاني واکمن دکړنې لرغونتوب ګڼ شمیر پوښتنې رامنځته کوي . ترټولو غوره پوښتنه داده چې په دې هکله دامیر حبیب الله انګیرنې څه دي ؟ آیا ده په ټینګه غوښتل چې دبرتانیې اوروسیې پرخلاف دمحوري ځواکونو ترڅنګ په جګړه کې برخه واخلي ، یاداچې آیا په جنګ کې یې دهغوی دبریالیتوب په وړاندې مازې ځان تیراوه ؟ دموجوده اسنادو له مخې باید ووایو چې که پوځې شرایط دمحوري ځواکونو په ګټه څرخیدلي وای نو افغان واکمن به هم جګړې ته ورګډ شوی وای ، څنګه چې دغه کارهیڅ امکان نه درلود نوحبیب الله خان هم دجرمني هیئت شته والی له برتانیې سره دخپلو اړیکو دشاهین په توګه

استعمالاوه . په جنګ کې دبې طرفه پاتې کېدو په وجه ، حبيب الله خان برتانيې ته ستر خدمت وکړ او په دې تمه وچې دجګړې ترختميدو وروسته به انعام ورکړل شي . ضمناً داچې حبيب الله خان دبرتانيې اومحوري ځواکونو ترمنځ په جګړه کې دبې طرفۍ اعلان کوي هدف يې دبرتانيې دواکمنۍ له پالنې څخه دازادېدو يو اعلان و . لارډ هرډنګ په هماغه وخت کې نوموړې مسئله په خوبنۍ سره داسې څرګنده کړه : « کله چې دهندوستان امنيت له خطرسره مخامخ شو نو داغوره وه چې مونږ په کابل کې يو آزاد ، لاکن پر انډيوالۍ ټېنګ واکمن لاره ، نه داسې يو څوک چې په خپله له دښمن سره يو ځای شوی وای . (۱۰۰)

له دې نه پخوا برتانيې دافغانستان کورنۍ آزادي په رسميت پيژندلې وه ، مګر دهغو تړونونو له مخې چې له عبدالرحمن سره يې لرل ، افغاني واکمن نه شو کولای چې دکوم بهرني ځواک سره مستقيمې اړيکې ټينګې کړي او دبهرنيو موضوعګانو په باره کې هغه مجبور و چې دهند له مرستيال واکمن څخه مشوره واخلي ، برتانيې له افغانستان سره خپل تړون داسې تعبيرکاوه چې دازموږ يو تحت الحمايه غوندې هيواد دی ، په داسې حال کې چې افغاني واکمن هغه ددوو برابرو دولتونو ديو داسې اتحاد په توګه باله چې دکوم بهرني يرغلګر په مقابل کې به په ګډه ليچې رانغاړي . داچې برتانيې دافغانستان بې طرفي منله داپه خپله دافغانستان داستقلال (حتی په بهرنيو چاروکې ) يوه ضمني په رسميت پيژندنه وه . له دې ټولو سره سره کله چې دغه شومه جګړه تيره شوه ، برتانيې يو ځل بيا دجګړې مخکنيو شرايطو ته مخه کړه او حبيب الله خان په خپلو هغو کوښښونو کې چې غوښتل يې له برتانيې څخه آزادي ترلاسه کړي سوچ بوچ ناکام شو .

که چيرې دجرمني هيئت اغيزې وڅيړل شي ، ويلای شو چې که څه هم

هيئت خپلو سترو هدفونو ته ونه رسيد خو يو شمير لويې پايلې يې رامنځته کړې . دجرمني هيئت راتګ د افغانستان دګوښه توب پاليسي ختمه کړه او په افغانستان کې يې دجرمنيانو هميشني موجوديت تثبيت کړ . د (١٩١٦م) کال تړون په ضمني توګه تر (١٩٢٦ م کال ) پورې (کله چې جرمني او افغانستان په خپل منځ کې يو نوی کونسلي تړون وکړ) عملاً په رسميت پيژندل کيده .

کله چې هنتيګ اونيدرماير د ( ١٩١٦م کال ) په مې کې له افغانستان څخه ولاړل ، مهندرا پرتاپ او مولوي برکت الله همدلته پاتې شوه او خپلو هڅوته يې دوام ورکاوه . په بهرکې دهندملي حکومت جوړ او له کابل څخه په نبغه دهندوستان دآزادۍ تحريک د ( ١٩٢٠ ) لسيزې ترلومړيو پورې رهبري کړای شو . په داسې حال کې چې محوري ځواکونه دخپلو لويو هدفونو په ترلاسه کولو کې بې وسه پاتې شول خو په دې کوچني هدف کې بريالي شول چې روسيه اوبرتانيه دې ته اړ باسي چې دافغانستان پولو ته نژدې خپل زيات شمير پوځونه واچوي . په کابل کې دګڼ شمير برتانوي اوروسي مخالفوبهرنيانو شته والي دافغان ملي غرور څنګ سره وښوراوه ؛ دغې مسئلې افغان ولس په خپل هيواد کې دګڼ شمير خارجيانو سره هم رووړدی کې. بالاخره ، حبيب الله ونه شو کړای خپله دبې طرفۍ تګلاره رښتينې وښيي نو په پايله کې ووژل شو . په داسې يو نازک وخت کې په خپله جرمني هيئت هم دانګليس - افغان د دريم جنګ يو سبب شو .

# {دویم څپرکی}

## دامیر امان الله امارت

### دحبیب الله خان وژنه :

په افغاني تاریخ کې یوه ډېره غټه پیښه چې دافغانستان بهرنۍ اړیکې یې اغیزمنې کړې ، د(۱۹۱۹ م کال) دفبرورۍ دشلمې په سهار دحبیب الله خان وژنه ده ، حبیب الله خان په داسې وخت کې ووژل شو چې په کابل کې دا ډاګیزه شوه چې نور دخپلواکۍ لپاره د افغانانو هیلې ځوانیمرګې شوې دي ؛ له قدرت څخه دافغاني پاچا ګوښه کونې یو داسې سرې رامنځ ته کړ چې دجګړې په خلاف هرکله په هیواد پالنه مین و . امان الله هغه څه غوښتل چې انګریزانو حبیب الله ته نه ورکول ، یانې دافغانستان بشپړه خپلواکي .

که څه هم دغو حالاتو دامیر حبیب الله خان وژنه رامنځته کړه او دا پوښتنه

هم را پیدا کیږي چې دا دچا کار و ؟ دومره معلومه شوې ده چې دوژلو «څرک یې له خپله کوره » پسې رااخیستل شوی و ، ځکه امیر ډیر ښه ساتل کیده او یوازې خپلو ګړندیو ملازمانو ته میسر و .

د ( ۱۹۱۹ م کال ) دجنورۍ پر لومړۍ نېټه ، امیر او دهغه دربار په جلال آباد کې دده ژمني استوګنځای ته کډه یوړه . حبیب الله خان له خپلو یارانو سره ، دلغمان کله ګوش ته په ښکار تللی و او نیمه شپه په خپله خیمه کې ووژل شو . یو خبر ځای مورږ ته داسې وویل:« افغاني واکمن دشپې پر دوې بجې چې دفبرورۍ دشلمې ورځې ګهیځ و ، په خپله خیمه یا تجیر کې ویده او پر یوه مرمۍ سره وویشتل شو. ». له ده سره په خیمه کې پنځه شپږ کسه « غلام بچه ګان » (ځاني ساتونکي) دده شاوخوا ویده وو ، دهغوی کار داوچې دده پښې چاپي کړي ، څنباک ورته راوړي اوخدمت یې وکړی ؛ *دخیمې یوڅه شاوخوانور « غلام بچه ګان » موجودو او نکل ویونکي دې ته چمتو ووچې که امیر بې خوبه شي نو مصروف یې وساتي ، په داسې حال کې چې دتجیر پرشاوخوا یو لوړ« قنات » ( خندق ) وچې دهغه دننه اودباندې مخصوصه ګزمه ولاړه وه ؛ ددې « قنات » پرشاوخوا دعسکروخیمې ولاړې وې چې دامیر باډي ګارډان وو اوترهغوی دباندې دسردارانو او نورو کسانو خیمې پلنې وې نو په داسې شرایطو کې نه څوک دننه ورتلای شو اونه هم ځنې وتلای شو مګر بیا هم امیر دغوږ ترشا دتوفنګچې په یوه مرمۍ داسې لګېدلی وچې ښورېې هم ونه خوړ ( ۱ ) . »

ددې کار وجه یوازې او یوازې سیاسي اوتر یوې اندازې شخصي وه . تر

---

*- دیو افغاني تاریخ یوه لهخولې ، حبیب الله خان یوازې په خپله خیمه کې ویده و او خادمان یې دباندنی تره وو .

(۱۹۱۹ م کال) پورې ، حبیب الله خان په ټول اولس کې که د لوړې رتبې وو او که د کښته ، قبایل وو که کلیوالي او سیدونکي ، « ځوان افغانان » وو او که عادي اشخاص خپل ملاتړ له لاسه ورکړ ، له « آزاد قبایلي هیواده » څخه د هغو رپوټونو له مخې چې برتانوي هند ته رسیدل ، حالات آرام وو او « د امیر پر وژنې سره عادي قبایلو ته نسبتاً یو څه ګټه ورسېده . هغوی چې په دې نژدې ورځوکې له کابل څخه د امیر په واسطه پیسې پرې بندې کړای شوې وې د ده پر مړینه خوشاله شول . (۲) » په همدې ډول ، روس کیپل رپوټ ورکړ چې د حبیب الله پر وژلو سره په پېښور یا سرحد کې خورا لږ تحرک ولیدل شو . په د غه شرایطو کې د غوښتنې او ګټې پله درنه وه ، خواشیني بېخې لږ حتی داچې هیڅ موجوده نه وه . (۳) »

کله چې حبیب الله خان قدرت ته رسېدلی و ، زیاتو افغانانو ورته ښه راغلی وو ایه ؛ ځکه هغوی د سخت سري عبدالرحمن خان پر ځای د هغه د نرم خیاله او آزاد طبیعته زوی په کښیناستو سره ځانونه آرام وګڼل . د خپلې واکمنۍ په لومړیو کلو کې ، حبیب الله خان داسې وښووله چې که زه له برتانویانو څخه چې غواړي د انګلیس - افغان نوی تړون را باندې ومني ځان خلاص کړم نو په هغه صورت کې په دې ښه پوهیږم چې د افغانستان له ګټو څخه څنګه دفاع وکړای شم . مګر د افغانانو عمومي افکار هغه وخت واوښتل چې حبیب الله خان په (۱۹۰۷ م کال) کې له هندوستان څخه کتنه وکړه . ډیر هغه سرداران چې د هند په سفر کې ورسره ملګري وو ، د ده پر برتانیه پلوۍ ځنې خوابدي ول ، او د افغانستان روایتي ارکان په دې وویریدل چې امیر مذهب ته شا و ګرځوله .

داچې حبیب الله خان ځان په دې مختار وباله چې د لارډ کیچنر او هنري مکماهون سره د میشن په وروړۍ کې شامل شي نو هلته په افغانستان کې

خلک پرې شکمن شول چې ده ځان پر برتانويانو خرڅ کړی دی (٤).

افغانستان ته په ستنيدو سره ، افغاني واکمن خورا ګوزاريزه رويه پسې راواخيسته چې دده په وړاندې هر غبرګون (عکس العمل) وځپي ، دحبيب الله خان دحيثيت لپاره تردې لا غټه ضربه هماغه دانګليس – روس کنوانسيون و اوداسې معلومه شوه چې ، بنايي پردې باندې هغه وخت خبرې شوې وې چې حبيب الله هم په هند کې و او هڅه يې کوله چې له برتانيې سره نژدې اوښې اړيکې ټينګې کړي . له همدې کبله ، ډيرو افغانانو داسې وانګيرله چې حبيب الله خان خپلو برتانوي « يارانو » ترمورې ايستلی دی .

سره له دې ، پرحبيب الله خان نيوکې پرځای نه وې ، ځکه ده څه نه شو کولای او بالاخره د کنوانسيون په وړاندې يې ځواب عموماً بريالی غونډې و ؛ خو بياهم پر حبيب الله خان انتقاد کوونکي ، دخير خلک نه معلوميدل . امير هم غوښتل چې له وخت سره ځان سم کړي خو درعيت د پرله پسې مخالفت سره مخامخ شو .

دحبيب الله خان پرځاني کړه وړو ( دعکس اخيستلو پرشوق او پر اروپايي مود ريشې باندې ) هم ډيرې نيوکې کولې . دده ښځې بې سره او چادرۍ يې نه پرسر کولې ، پر اسونو سپريدې او کره وړه يې زياتو افغانانو له افغاني ميرمنو سره ورنه بلل . تر (١٩١٣م کال) پورې دکابل له وضعې څخه په مرکز کې برتانوي نماينده داسې رپوټ ورکړ : « اعليحضرت امير پر داسې اورغورځوونکي غره ناست دی چې په مازې دستر ګوړپ کې به يې ګودړان پر آسمان وي . (٥) »

لا په لومړۍ لويه جګړه کې برتانويانو ته ترټولو خطرناکه دده دوفادارۍ ننګلاره وه ، چې دهغې له مخې يې له برتانويانو څخه دافغانستان دازادېدو انعام غوښت . حبيب الله حتی اسلامي ګټې هم دافغانستان له خپلواکۍ ګټلو ،

څخه قربانولي او کله چې آزادي ځنډنۍ شوه نو افغانان امیر ته شاو گرځوله. دهند حکومت پوه شو چې حبیب الله خان دخپلواکۍ مسئله جداً په پام کې لري. د (۱۹۱۷ م کال) په اگست کې ، دحبیب الله خان معتمد ، علي احمد خان ، په کابل کې برتانوی استازي ته وویل: « دافغان حکومت دهغه ستر خدمت په اړوند چې په جگړه کې یې دبې طرفه پاتې کېدو په سبب درسره کړی. تاسې دجنگ تر ختمیدو وروسته له کابل څخه نه شی وتلای دهغوی هیلې او تلوسې ددواړو حکومتونو له خوا دسره نه وې معلومې شوې. (٦) »

د (۱۹۱۸) کال دډیلي په کنفرانس کې ، لارډ چیلمس فورډ پردغه هیله ستر گې پټې کړې او ویې ویل: « زه گومان نه کوم چې ددې هیواد په تاریخ کې دې دافغانستان دهرامیر او هر مرستیال واکمن ترمنځ اړیکي دومره صمیمانه او ددوه اړخیزه باور وړ وي لکه نن چې دي .. ځکه نو مخکې له هر څه باید ځیر شو چې څنگه دافغانستان امیر ته چې دخپل هیواد گټې یې پاللې او دده دهغه ژمنو له مخې ډیره مرسته وړکړه چې دبې طرفۍ په نښه لاریې خپله کښیتې وروانه کړې ده. زه په دې فکریم چې موږ کولای شو خپلو دښمنانو ته وښیو: (۱) چې هندوستان دلویې گارې غوندې کلک ولاړ دی .. (۲) که دښمن زموږ پولو ته نږدې ، په بې باکۍ سره خپل قوت پر مخ بوځي نو موږ دغرونو او خلکو په لرلو سره چمتو یو چې دافغانستان امیر ته مرسته ورکړو چې هغه بهرنۍ تیری پرشاو تنبوي . (۷) »

دغې اعلامیې شایې زیات شمیر افغانان ناامیده کړي وي. په داسې حال کې چې همدې اعلامیې دافغاني واکمن ستر خدمتونه او دهند او افغانستان ترمنځ دوروری اړیکي په رسمیت پیژندې ، خو ویې نه شو کړای چې امیر ته دهغه کوم عوض ورکړي . له دې سره سره ، هندوستان داوږدې

مودې لپاره « دډېرې غوندې کلک » نه شو درېدای ؛ په حقیقت کې ، (۱۹۱۹م) هغه کال و چې دهغه په ترڅ کې باید دغه ډېره دړې وړې شوې وای. افغانستان ته دبهرنۍ یرغل په هکله د مرستو ژمنې چې تردې وخته یې اهمیت لاره ، پر (۱۹۱۸ م) کې بې اهمیته شوې . شوروي اتحاد په خپل منځ کې سره اخته شو ، ځکه چې بلشویکانو خپلې منګلې ټینګولې او په دې وخت کې شوروي اتحاد افغانستان ته کوم خطر نه لاره . همدا علت وچې دهندوستان د مرستیال واکمن دا اعلامیه چې د بهرني یرغل په مقابل کې به له افغانستان څخه ننګه کوي ، بې له دې چې د جګړې مخکنۍ وضعې او دغې انګیرنې ته ورغبرګ شي چې وېل یې برتانیه چمتو ده چې دشوروي اتحاد په مقابل کې یوازې دخپلو سرحدونو دفاع وکړي ، بل څه نه وه .

دبرتانوي غبرګون نیمګړتیاوې له ورایه ښکارېدې او دهند او انګلستان انګیرنې څرګندوي چې کومه واضح تګلاره نه وه موجوده . د (۱۹۱۹م کال) دجنورۍ پر (۲۰ مه) دهند ددولت وزیر ، مرستیال واکمن ته ګوته ونیوله چې تاسې باید برتانوي ټولواکمن ته سپارښتنه کړای وای چې هغه افغاني واکمن ته د « ګارټر - جایزه چې هغه ډېر ورته تلولی و » ورکړې وای او یاهم داکافي وه چې حبیب الله خان ته مو داسې لیک سپارلی وای چې دټولواکمن لاسلیک یې لرلای . د (۱۹۱۹ م کال) دجنورۍ پر (۲۵ مه) لارډ چېلمس فورډ ځواب ورکړ : « دامیر خدمتونه خورا زیات دي او که ددې وخت راورسیږي چې هغوی ته جایزې ورکړو نو بیا باید مونږ ډېر سخیانو اوسو. » مګر د مرستیال واکمن دارایه وه چې امیر په خپله څه وغواړي ، دلارډ چېلمس فورډ په خیال حبیب الله خان دلاندېنیو شیانو په هوس و : (۱) بشپړه سیاسي - خپلواکي (۲) دځمکې ارتوالی (۳) پیسې (٤) په

انګلستان کې د استازي لرل .

دهند حکومت و پتییله چې نورنو هغه مهال رارسیدلی دی چې باید اجازه ورکړو افغاني استازي دې په لندن کې حضور ولري او هم باید له جګړې څخه وروسته دسولې کنفرانس ته استازي ولیږي . دهندي حکومت له خوا ظاهراً دداسې وړاندیز تمه نه کیدله ، ځکه دهند په ځواب کې دلندن حکومت په غوڅه سره وویل چې : « هغه ته دومره موقع مه ورکوی چې غوښتنې یې زموږ څخه لار او ګودر ورک کړي . » (۸)

دهندي حکومت دبهرنۍ او سیاسي څانګې دسکرتر ، ډینس برې ، وړاندیز « چې دهوایي کرښې دنړیوال کنوانسیون دهدفونو په خاطر یې افغانستان ترپالنې لاندې نبوه او دالوتکو پورته کېدل او کښته کېدل یې هلته منع کول ، » د ( ۱۹۱۹ ) ترجنورۍ پورې دهندي لوړو افسرانو یو خیال پلو ګڼل کیده .

ددې لپاره چې پر حبیب الله خان دغه ټګماري اثر وکړي نوخبره پردې راغله چې باید معلومه شي چې آیا دی به اجازه ورکړي چې له خاورې څخه یې بهرنۍ الوتکې تیرې راتیرې شي .تر کومه ځایه چې معلومه وه ښایي په « سلو کې یو رګ یې لاهم نه وای منلې چې هو » نو بیا په داسې وخت کې برتانیې ته دامیر سره دمرستې ښه فرصت تر لاسه کیده . (۹)

د ( ۱۹۱۹ م کال ) دفبرورۍ پر ( ۲ مه ) امیر حبیب الله خان مرستیال واکمن نه دپاریس دسولې دکنفرانس له خوا دافغانستان « دغوڅې خپلواکۍ ، دعملي آزادۍ ، اوهمیشني استقلال » په رسمیت پیژندنه په لیکلې توګه وغوښته ، هندي حکومت ددې یادا ښت ترڅیړنې وروسته وړاندیز وکړ چې : « په روایتي تګلاره کې په پټو سترګو ، یو ربښتیانی نور ،

باید مونږ دې ته ونه هڅوي چې هر هغه څه بې له ژورې کتنې رد کړو چې دده (امیر) لپاره اصلي حقیقت او زمونږ لپاره توره تیاره وي . »

په پای کې داپریکړه وشوه : « هندي حکومت دې له ضرورت سره سم له ربنتینولۍ او ښیګنې څخه کار واخلي . » (۱۰) لاکن برتانیې داسې یو سړي ته مخ ورنه کړ چې هغه داحسان منوونکی و اوسي . د پیسو دورکړې په هکله ، دهندي حکومت له خوا امیر ته شپږ میاشتې وړاندې یانې د (۱۹۱۸ دجولای پر ۸ مه) خبرورکړل شوی و چې نوموړی حکومت به دده دخدمتونو په بدل کې لس ملیونه ( یوکروړ ) روپۍ ور وسپاري . دغه اقدام دامیر لپاره چې دهیواد له آزادۍ څخه پرته یې بل څه نه غوښتل یو کلک ګوزار و . امیر دالیک نه مانه ، څوچې د (۱۹۱۹ م کال) دفبرورۍ پر (۱۱ مه) یې ، نابېره دهندي حکومت له خوا تاکل شوي لس ملیونه روپۍ او دافغان دتخصیصي پاتې رقم وغوښت چې په « هندوستان بانک ، کې جمع شوی وي ». ده غوښتنه وکړه چې په هند کې دې دده ټوله پانګه پر سروزرو سره بدله شي او افغانستان ته دې راواستول شي . دده دې اقدام هدف څه و ؟ تر هغه ځایه چې حبیب الله خپل وارداتي شیان په خپله دهند او یا دنوموړي هیواد له لارې راغوښتل نوځکه به یې خپلې پیسې هماغلته په هند کې ساتلې څو سامانونه پرې واخلی البته دا دده لپاره اسانه وه چې دداسې سوداوو لپاره له هند څخه پیسې ورکړي نه داچې له دې ځایه دپیسو یا سرو زرو کاروانونه ور واستول شي . داکار هغه وخت ممکن و چې امیر له برتانیې سره پرخپله اندیوالۍ هماغسې ټینګ ولاړ وای . دافغاني واکمن یو غیردوستانه عمل ښایي دغځ اخیستونکو اقداماتو ، لکه دامیر دجاري حساب دبندولو سره مخامخ شوی وای .

آیا په رښتیا سره حبیب الله خان خپل انعامونه نغدول او له برتانیې سره یې داړیکو د شلولو لپاره دخپلې سلاکارې جرګه ګۍ سپارښتنه منلې وه ؟ یاداچې آیا ده غوښتل په راتلونکو خبرواترو کې یو کلک دریځ ولري ؟ امیر حبیب الله خان په دې زیات خپه و چې برتانیې خپلواکۍ ته ورکوله او داچې وبې نه کړای شو د برتانیې له چړپیدلي حالت څخه ګټه واخلي نو په خپلو وګړو کې یې دځان موقف په خطر کې ولید . آیا امیر په دې هیله وچې دانګلیس - افغان تړونونو ته شاګرځول او دخپلواکۍ اعلامیه به دی او دده هیواد وژغوري ؟ دهوکې ځواب به ډېر شیان روښانه کړي: حبیب الله ورو ورو د یواله ته ودرید ، او داناوړه حالت دده په ورپسې سړي باندې هم نازل و ځو چې خبره دانګلیس - افغان دریمې جګړې ته ورسېده .

# دانګليس ـ افغان دریمه جګړه

دامیرحبیب الله خان ترمړینې وروسته یوشمیر پرله پسې پیښې منځته راغلې . دفبرورۍ پر ( ۲۰ مه ) ( دمرحوم ورور ، له وژنې څخه یوه ورځ وروسته ) سردارنصرالله خان ، په جلال آباد کې ځان دامیر په توګه اعلان کړ. ده دهند دمرستیال واکمن ، لارډ چیلمس فورډ ، سره تماس ټینګ کړ او نوموړي دفبرورۍ پر ( ۲۵ مه )لندن ته داسې رپوټ ورکړ : « دنصرالله له خوا ماته ډیر ژر داخبر راکړ ( چې له حبیب الله څخه یې لاهم داکارژر وکړ ) دزیاتې خوښۍ ځای دی ، دلیک ژبه یې دوستانه او خورا عادي ده ، آن دا چې دحبیب الله خان څخه هم لاډیره محافظه کاره ده ، کیدای شي دده پرمشرتیا سترګې راغتې کړو . . . خو ددې عمل ردول ځکه ناممکن ښکاري چې هغه له مخکې څخه لا په پاخه ډول را پیل شویدی . هرڅومره چې دهغه مننه ځنډوو هغومره زموږ لپاره خطرناکه تمامیږي . زموږ هیلې پر سولې سره دامیر ځای نیول او پر اندیوالی دټینګ امیر پیدا کول دي . که هغه موږ پرتله وتلو نو ډیر وخت به ونیسي ؛ داکار به زمونږ سره د نصرالله ملګرتیا هرومرو له منځه

یوسي. » (۱۱)

هغه وخت چې بیا دامیر حبیب الله دړیم زوی ، امان الله خان قدرت په خپل لاس کې ونیونو دغه مخکښې ویل شوې خبرې ښې ثابتې شوې . دلندن دحکومت داسپارښتنه چې هند ته یې خبر ورکړ : « ترهغویې په رسمیت پیژندنه وځنډوی څو نصرالله سم دم ځان نه دی ټینګ کړی » خوشې ثابته شوه ، ځکه نصرالله له مخکې څخه اړ ایستل شوی و چې له دې تخت کښیناستو څخه تیر شي . هندوستان داحقیقت مانه چې « په ختیځ کې دروانو غورځنګونو ترشامذهبي نه بلکې هیوادپاله بېلګه ځای لري اوکه دا دواړه ځواکونه سره تېکر شي نو هیواد پالنه به هرومرو میدان ګټي . » بناپردې ملایان د نصرالله پر خوا ودریدل ، په داسې حال کې چې پوځ او ملت پر امان الله راټول شول . (۱۲)

اوس نو دامان الله خان وار راغی چې دهندوستان حکومت مخاطب کړي ، د (۱۹۱۹م کال ) دمارچ پر دریمه ، امان الله تاج او تخت ته ورسیدو ، اړوندې پېښې یې لارډ چیلمس فورډ ته څرګندې کړې . ده ولیکل : « زه په دې کې هیڅ شک نه لرم چې تاسو عالي جناب ، زما دوست ، به ددې خوږمنې پیښې له کبله ډیر غمجن شوي یاست ، ځکه له پخوا څخه تردې ګړیه اعلیحضرت ، زما مرحوم پلار ، دبې طرفۍ او نیغ تماس او دوستانه اړیکو ټول شرطونه جاري ساتلي وو . چې دهغوی یادونې ته ضرورت نه شته . » ده زیاته کړه چې دی دامیر په توګه وټاکل شو او « غاصبان » بې برخې کړای شول ، په پای کې یې ددې پیښو اړوند سیاسي کړکیچونه داسې انځور کړل : « ... دنوموړي انډیوال (مرستیال واکمن ) څخه دې داهم پټه نه وي چې زموږ دافغانستان خپلواک او مستقل حکومت به هروخت او هرمهال کې دې

ته چمتو دی چې دانګلستان له حکومت سره د ملګرتوب له هر رنګه غوښتنو سره سم ، داسې تړونونه وکړي چې هم زموږ او هم ستاسې حکومتونو ته د سوداګرۍ په برخه کې ګټور ثابت شي . » (۱۳)

څو ورځې وروسته ، امیر امان الله خان خپل ولس ته یوه اعلامیه واوروله، داسې چې دی پر دوو شرطونو حاضر دی چې تاج او تخت په لاس کې واخلي : (۱) تر هغه چې د خپل پلار له قاتل څخه یې غچ نه وي اخیستی ، هیڅ دمه به ونه کړي ، (۲) افغانستان به د بشپړې خپلواکۍ او آزادۍ څښتن کیږي . امان الله خان د (۱۹۱۹ م کال) د اپریل پر (۱۳ مه) یو عام دربار جوړ کړ او په هغه کې یې پر هغو کسانو محکمه و چلوله چې د خپل پلار د وژلو شک یې پر لاره . ده همدا رنګه په رسمي ډول د افغانستان خپلواکي اعلان کړه او داسې یې وویل : « ... زه د خپل ځان او خپل هیواد بشپړه آزادي ، واک او خپلواکي هم په داخلي او هم په خارجي ډول اعلانوم ، زما هیواد به وروسته له دې د نړۍ د نورو دولتونو او ځواکونو غوندې د یو خپلواک دولت حیثیت لري . هیڅ یوه خارجي ځواک ته به اجازه ورنکړو چې حتی د یوه ویښته په اندازه د افغانستان په کورنیو او بهرنیو چارو کې لاس ووهي ، که یې وکړي ، نو زه دې ته چمتو یم چې د هغه ستونی په دغه توره سره پرې کړم . »

ده وروسته بیا برتانوي استازي ته مخ واړاوه او په سره سینه سره یې ورته وویل : « ای سفیره ، ته پوه شوې چې ما څه وویل ؟ » برتانوي استازي ځواب ورکړ : « هو کې ، پوه شوم . » (۱٤)

د عبدالرحمن خان او حبیب الله خان دواړو دواک په موده کې به هندي حکومت په دې ټینګار کاوه چې د افغاني واکمنانو سره د نورو هیوادو حکومت تړونونه ځاني له هغوی سره دي نه له پاچهۍ سره ، همدا علت و چې امان الله

خان ددې حق درلود چې له برتانیې سره کوم تړون فسخ او یا یې ومني . دهندي حکومت دسیاسي څانګې یو افسر په دې نظر و چې امان الله خان پر برتانیې زور اچولی چې دده له مخکې څخه بشپړه شوې پریکړه تائید او یارد کړي . دغه برتانوي مامور و پتیله چې دامسئله دی دملتونو تولنې ته وسپارل شي چې هغه تولنه داسې فیصله وکړي چې افغان ولس دپوخوالي هغه حدته لانه دی رسیدلی چې وکړای شي د چارو واګې په لاس کې واخلي او لویه برتانیه خو دهغه یوه طبیعي پالندویه ده . » ( ۱۵ ) په افغانستان کې سیاسي پرمختیاوو او مخکنیو شرایطو ته دافغانانو دنه ورګرځېدو تینګې تلوسې او پر بشپړه خپلواکۍ باندې تینګار او دامان الله دلیک په ځواب کې دبرتانیې غبرګون خورا یو لږ پیښې منځته راوړې . داپیښه چې دبرتانوي هند دیو مامور له خوا « ددریم افغان جنګ په حیث یوه ځپانده ویرنه، » (۱٦) بلل شوې ، که دبرتانیې غبرګون وګورو نودومره نامعقوله نه برېښي . د ( ۱۹۱۹ )داپریل پر ( ۱۵ مه ) مرستیال واکمن ، امان الله خان ته په څرګنده سره ولیکل چې هند نه غواړي دغه تبدیل شوي شرایط په رسمیت و پیژني .لارډ چېلمس فورډ خپل غم ښکاره کړ چې : « افغانستان ځکه په ویرناست دی چې خپل هغسې یو سترمشر یې له لاسه ورکړ چې هرکله یې دخپلو هیواد والو ښېګڼه غوښته او دخپلو سیاسي پوهو له کبله یې هیواد دناولې جګړې له لمبو څخه وساته ... برتانوي حکومت پرخپل هغه کلک ملګري ویرجن دی چې دخپل امارت په ټوله موده کې یې ددواړو حکومتونو ملګرتیا په ټینګه مخته بیوله . » داچې امانه الله خان ده ، ته خبرورکړچې دی د « کابل اودشاوخوا وګړو له خوا » دامیر په توګه ټاکل شوی، منته وکړه او ورته ویې ویل چې زمونږ اوستاسو ملګرتیا « پر هغو

ترونونو او لوزنامو ولاړه ده چې د برتانيې له خوا د مرحوم ضيا الملة والدين (عبدالرحمن خان) سره بشپړه شوې او بيا د مرحوم سراج الملة والدين (حبيب الله خان) له خوا پرمخ بيول شوي او زه په دې باندې پوه يم چې د افغانستان حکومت به د پخوا په شان (لکه څنګه چې تاسو واياست) پره پل پښې ږدي.» مرستيال واکمن پرمخکنيو ترونونو له خبرو اترو څخه ډډه وکړه چې د وير څپه خپره وه او د ايې مهال نه و. (١٧)

امان الله خان ته د لارډ چيلمس فورډ له ليک رسيدو څخه دوې اوونۍ وروسته افغاني پوځونو ځوځايه له هندي - افغان سرحد څخه تير او د نا اعلان شوي دريم افغان جنګ دښمنۍ ته يې لاس واچاوه. درې افغاني جنرالان د ډيورنډ د کرښې پرلور وخوځيدل* لوی درستيز، صالح محمد خان، دمی پر دريمه ډکې ته ورسيد؛ دمی پر پنځمه عبدالقدوس خان غلجايي کلات ته ورسيد؛ يوه ورځ وروسته محمد نادرخان له يو منظم افغان پوځ او ځو زره قبايلي خلکو سره (چې زياتره يې غلجيان وو) خوست ته ورسيد.
دلاس اچونې لومړی عمل د (١٩١٩ م کال) دمی پر (٤ مه) نېټه افغاني پوځونو دلنډي کوتل پرخوا داويو رسولود زيرمې غوځولو پر سر پيښ شو چې بيا برتانويانو دغې په توګه دخيبر دره وتړله.

داسې پرېکړه شوې وه چې ټول افغاني پوځونه به سره راغونډيږي او په يوه سم وخت کې به يرغل پيل کوي خو دصالح محمدخان پوځې ډلو ژر دغه کار وکړ نوځکه جګړه هم ونښته، داجګړه لومړی يوازې دمشرقي په محاذ کې

---

*- ډيورنډ خط د «سرمورتيمور ډيورند» له نوم څخه اخيستل شوی دی چې په (١٨٩٣ م کال) کې يې له امير عبدالرحمان خان سره دسرحدي ترون په توګه هغه تاکلی و.

شروع وه او برتانویانو څه بریالیتوبونه هم لاسته راوړي وی ، خولښکریانو ، (قبایلي ځواکونو ) او د نادرخان قواوو یو بل نوی محاذ پرانیست او د « ډکې » پرخوایې د برتانویانو پرمختګ ودراوه . داجګړه له پیل کېدو څخه وروسته ، ډیر ژر پای ته ورسیده ، دمې د میاشتې په ( ٢٤ مه ) امان الله خان دبرتانویانو د خوښې وړ خبره ومنله او هندي حکومت هم که دروانو دښمنیو خاتمې ته غاړه کښېښوده له ځکه چې هلته په شمال لویدیځ سرحد کې حالات خورا کړکیچن شوي وو .

دافغان د دریم جنګ مرګ ، ژوبلو صرف څو اوونۍ پاینښت وکړ ، لاکن دري بې نتیجې کنفرانسونه جوړ شوه او د دواړو خواوو ترمنځ یې د « ګاونډیتوب ، اړیکې بیا ټینګې کړې . د ( ١٩٢١ م کال ) د دسمبر پر ( ٨مه ) د کابل د کنفرانس په نتیجه کې افغانستان د برتانیې له منګلو څخه خلاص شو او دیو خپلواک هیواد په توګه رسماً وپیژندل شو . دغه لنډ او نسبتاً دلږ وینو توئیدونکی جنګ د هند حکومت ته د شپاړس نیم ملیونه سترلنګ پونډو په درنه بیه تمام شو . (١٨) د دې جګړې پیښې اودسولې لپاره خبرې اترې د کتاب په جلا برخه کې تشریح شوي نوځکه یې دلته ضرور نه ګڼم ؛ خو دا به ښه وي ، چې د دې لاس اچونې سببونه او پایلې ( نتیجې ) وڅیړل شي. (١٩)

تاریخ پوهان د فریزر تایتلر څرګندونې ترزیاتې اندازې مني ، هغه وایي : « هغه اولسي پاڅون چې د حبیب الله خان سنه یې ورختمه کړه ، امان الله یې په خپلو څپو کې راپورته کړ . . . مګر افغانان هم ، د نورو ځوانو ملتونو غوندې ، په خپله وفادارۍ کې زړه نازړه او ناثابته دي ، لکه څنګه چې پاچهي ته له رسېدو څخه یوازې څو اوونۍ وروسته امان الله خان که دلویې

مذهبي طبقې سره تکرشو چې خپل اکا نصرالله خان یې دخپل پلار دوژلو په تور بندي کړ او پوځ یې بیا هغه وخت په قهر کړ چې د مصاحبانو نامتو کورنۍ یې ایله کړه . . . »

له همدې کبله ، کله چې امان الله خان ځان په خطر کې ولید نو هڅه یې وکړه چې « خپل وګړي بیا پرځان راټول ، اوداسې زمینه مساعده کړي چې هغوی دخپل ستړي او خیرخواه ګاونډي پرضد جګړې ته اماده کړي . » په دې باره کې بیلې بیلې نظریې شته خوټول دامني چې دنوموړي جنګ سبب د افغانستان کورنۍ پیښې وې ، کولای شو دغه تعبیریو مخکني سند ته راجع کړو : دایوپټ سیاسي یادابنت دی چې علي احمد لیکلي او سرلیک یې « دامان الله خان را پرزېدل » دي چې د ( آر . ان جي . سکاټ ) له خوا په انګریزي هم ژباړل شویدی .

کیدای شي ووایو چې که حبیب الله خان له برتانویانو سره جنګ ونه شوکړای ، مګر دلاس اچولو یوه نقشه یې ضرور درلوده ؛ امان الله خان خپلواکۍ ته دومره اړتیا لرله ، څومره چې یې پلار ورته لرله ، خوخبره داده چې برتانویانو پرده باندې هغه انعامي رقم بند کړ چې هرکله به یې دده پلارته ورکاوه . دهند حکومت پردې ټینګار کاوه چې دافغانستان او برتانیې ترمنځ موجوده تړونونه په ځانې ډول له امیر سره شوي دي . ددې مانا داده چې دامان الله خان پر برتانیې کوم حق نه دی پاتې او دهغه انعام ورکړې ته نور ضرورت نه شته چې دافغانستان دبې طرفه پاتې کېدو لپاره به ورکول کیده . دهند لپاره دارنګه استدلال دروس کیږل له هغه لیک څخه چې ډینز بري ته یې لیکلی اخیستل شوی دی ، ده لیکلي ووچې:« موږ له یو ربړوونکي پوروړي څخه خلاص شوو ، یانې داچې موږ په ځانې ډول دحبیب الله خان پوروړي وو او نور نونه دهغه وروراونه یې هم دزامنو پوروړي یو . » ( ۲۰ ) ښایي ، برتانیې به دبدګومانۍ دارنګه ارادې نه لرلې ، مګر داترلمر روښانه ده

چې برتانیې غوښتل د نورو تړونونو د لاسلیک لپاره دغه پیسې یوه وسیله وګرځوي خو بیا هم ظاهراً د دې وخت لا نه و چې له امیر عبدالرحمن خان څخه وروسته د حبیب الله خان د کښیناستو د مهال غوندې دې بیا هغسې اوږدې خبرې اترې راومنځلول شي چې په نتیجه کې یې برتانیې د عبدالرحمن خان ته کلی تخصیصیه ددې پر ځای چې ورلیږلې یې وای برعکس ترې وېې سپموله . په هغه وخت کی حبیب الله خان له ځانه داخبره پسې راواخیسته چې د عبدالرحمن خان مقرره پیسې او د امیر په حیث دده خپل استحقاق دواړه لاتراوسه نه دي تادیه شوي خو برتانیې هم ورته څرګنده کړې وه چې نوی امیر ترڅو چې د نوي تړون لاسلیک یې نه وي منلی دکوم مبلغ مستحق نه دی .
حبیب الله خان په دې ټینګار کاوه چې د برتانیې تړونونه خو د افغانستان له دولت سره شوي ، نه دده له سلف سره ، ځکه دی پوهیده چې برتانیه ددې لپاره چې کوم نوي افغاني واکمن په رسمیت وپیژني نو پر هغه زور اچوی چې په خپلو تړونونو کې ځینې امتیازونه او ګټورې سمونې ځنې ترلاسه کړي . اخر داچې ، تړون نوی کړ او حبیب الله خان پرې بریالی شو چې برتانویان پرې نږدې چې په هغه کې سمون راوړي خوده له دې حقیقت څخه هم سترګې پټې نه کړې چې برتانیې نوموړی تړون له امیر سره شخصي لاسلیک کړی دی .
امان الله خان او د هغه سلاکاران په روان حساس حالت باندې ښه پوه وو . د حبیب الله خان پر مړینې سره نور نو د افغانستان او برتانیې ترمنځ کوم قانوني تړون وجود نه لاره ؛ همداوجه وه چې امان الله وغوښتل چې له برتانیې سره نوي تړون وکړي . په هرحال ، امان الله خان د افغانستان د بشپړې خپلواکۍ غوښتونکی و ، مګر برتانیې کله داسې ورسره منل . په هند کې پرله پسې ناوړه شرایطو د هند حکومت په داسې مشکل کې اچولی و چې نه یې شو کولای له یو قوي دریځ څخه د انګلیس - افغان پر کوم تړون له

سره غوروکړي .* همداعلت و چې له نوي امیر سره دتماس په ترڅ کې ، لارد چیلمس فورډ داسې وښودل چې کوم نوي تړون ته ضرورت نه شته ، که اصلي موضوع همداوي ، نو دخپلواکۍ لپاره دافغانستان هیله باید نه وای ترسره شوې ، مګر دامان الله خان پر وړاندې دبرتانوېانو کړنه کې نورې ناخوالې هم رابرسېره شوې . په داسې حال کې چې هندي حکومت په دې خوښ و چې امیرنصرالله خان ته د «اعلیحضرت» دریغ ورکړی **، خوامان الله خان ته یې همدغه مقام ورکول نه غوښتل . دسپکاوي دغه عمل ، په افغانستان کې مشاهده هم شو ، لکه څنګه چې دامان الله خان د ( ۱۹۱۹ م کال ) دمارچ ددریمې نېټې د لیک ځواب مرستیال واکمن داپرېل تر پنځلسمې پورې وځنډاوه . نوي افغاني واکمن هم دهندي حکومت درویې لاښه معلومولو لپاره یو استازي وټاکه چې هغه خپله نوې دنده اشغال کړي . کله چې دغه نوي استازی ، عبدالرحمن ، سرحد ته ورسید نو روس کیپل خبرې اترې ورسره وکړې عبدالرحمن چې ځان دامیر داستازي په توګه وښوده ، نو دشمال لویدیځ

---

*- نړۍ والي جګړې دڅپاندهٔ حالت پر وجه هندي هېواد پالو ته له برتانیې څخه زیات امتیازونه ونه غوښتل ، لکه څنګه چې د ( ۱۹۱۷ ) کال دآګست پر ( ۲۰مه ) دهند لپاره ددولت د وزارت مرستیال اعلان وکړ چې برتانیه په هند کې دوګړنیز حکومت پر تدریجي راتګ باندې کار کوي خو درولاټ ددې ریوټ او دوروستي قانون پر مهال هندي وکړې ددې پر ځای چې آزاد کړای شي ، بر عکس له یوې کښېکښو نکې تنګ لارې سره مخامخ شول . په هندي مسلمانانو کې دخلاف او عثماني واکمنۍ دسرنوشت په هکله ژوره اندېښنه خپره وه . د (۱۹۱۹ ع) کال دمارچ پر لومړۍ نېټه ( مهاتما ګاندي) هڅه وکړه چې دیو غیر فعال مقاومت پر توګه درولاټ بیل له منظورۍ څخه راوګرځي ، له دې امله دهند په ډېرو برخو کې اړو دوړ او بلوا وې پېښې شوې ، چې دامرتسر دلیبزه وژنې یې منځ ته راوړې .

**- دمارچ پر لومړۍ نېټه دهندوستان ددولت وزیر هندي حکومت ته خبر ورکړ : تر هغه پورې چې نصرالله خان ځان نه وي ټینګ کړای ، باید پر رسمیت پېژندنه یې وځنډېږي » په همدې وخت کې نصراله مخلوع کړای شو نو ځکه همداخط وانه استول شو .

سرحدي ولايت لوی کمیسار ورته وویل : « کوم امیر ؟ » ، داسې یې وروښوولە چې د ده حکومت امان الله خان هیڅ په رسمیت نه پیژني . د نه پیژندنې دهمدې پالیسۍ له مخې ، برتانیې پرامان الله خان خپله نغدي مرسته هم بنده کړه ، که څه هم چې دلندن دحکومت لپاره دغه کړنه معقوله ښکارېده ، مگر د افغاني واکمن لپاره هغه دافغانستان پر ضد ددښمنۍ په مانا اخیستل کېده . همدا علت و چې دافغاني واکمن دغه شک چې ویل یې (برتانیه افغانستان نه پرېږدي ) سم راوخوت . په هند کې دڅاني واک او اولسواکۍ لپاره چې هیواد پالنو نه کومې وعدې ورکول شوې وې د رولاټ بل په واسطه وتکول شوې . داکار دافغاني تولنپالو لپاره داوبو د سرخطو نه معلومېدل هغوی داسې انگېرله چې آیا افغانستان ته به هم دغسې انعام ورکول شي ؟ آیا د یو مرستیال واکمن ژمنې چې په خاصو شرایطو کې یې کړې ، په نوو شرایطو کې دهغه د عوض په ورانډې صدق نه کوي ؟ آیا برتانیه له افغانستان سره په خپلو اړیکو کې دجگړې د مخکنۍ وضعې بیا غوښتونکې ده ؟ (۲۱) افغاني واکمن ددې پوښتنو ترغور وروسته دې نتیجې ته ورسید چې یو سخت اقدام باید وشي . هغسې چې هندي هیواد پالو سرپورته کړی و ، افغاني هیوادپالو هم دخپلواکۍ لپاره ځانونه تیار کړل . دغسې یو ښه مهال پخوا هیڅ نه و برابر شوی ، روسي انقلاب روسیه دمنځنۍ آسیا له « لوبې » څخه پس واخېستېه ؛ شوروپان په څو جبهو کې جنگېدل او دهغوی ټولې خواخوږۍ دبرتانوي ضد افغانستان پرخوا کړې شوې .

کیدای شي په پای کې ووایو چې دانگلیس - افغان ددریم جنگ لوی علتونه د امان الله هغه ډار وو چې ویل یې :« افغانستان ښایي هم خپل استقلال او هم په جگړه کې دبې طرفه پاتې کېدو په هکله انعام له لاسه ورکړي ».

# دشوروي - افغان تماسونه

امان الله خان قدرت ته له رسيدو وروسته وغوښتل چې يو ګړندی عمل وکړي . ده نوی حکومت جوړ کړ ، دخپل پلار وژونکي يې په سزا ورسول او داسې ګامونه يې پورته کړل چې دهغو له مخې يې افغانستان دملتونو په ټولنه کې ديو خپلواک غړي په توګه راوست . دخپل نامتو دربار په ترڅ کې يې چې د ( ۱۹۱۹ ) داپريل پر ( ۱۳ مه ) جوړشو ، دخپل پلار اشتباهي قاتلان محاکمه کړل . امان الله په دې قضيه کې دخورازړه سواندی څخه کار واخيست او دنرمښت علت يې داو چې ويل يې خپل شهيد پلار مې په خوب ليدلی چې راته وايي :« په ما پسې ډير خلک مه راواستوه . » له تورنو کسانو څخه يوازې ډګروال شاه علي رضا په دار کړای شو چې په هماغه شپه يې دساتونکې ډلې قوماندانې پر زمه لرله*. څه ناڅه شل کسه غلام بچه ګان له يوه څخه تر لسو کالو پورې دبيلابيلو مودو په بند محکوم کړای شول . دساتونکې ډلې له لويانو څخه يې عبدالاحد خان چې دسردار نصرالله خان

---

*- دغه سړی دسيد شا خان زوی وه چې په جلال آباد کې دختيځې قوماندانې قوماندان او دهزاره جات والي و .

اعتمادي سړی و ، دعمر لپاره بندي او ميمنې ته وشاړه او ټول شته يې ضبط کړای شول . سردار نصرالله خان هم په عمري قيد سره محکوم شو ، مګر دمصاحبانو دکهول خاص غړی « داحترام له مخې خلاص او برائت ورکول شو . » له مصاحبانو څخه پرته ، نور تورن کسان په دې محاکمه کې حاضر نه وو ، نو له دې څخه ښکاري چې په دې قضيه کې داصلي فيصلي له مخه لا په نورو غونډو کې بشپړې شوې وې . دغې محکمې دومره يوه عادي بنه لرله چې برتانوي نماينده چې هغه هم په کې ناست و ، وايي:« دا زموږ دهندي پوليسو دټيټ رتبه افسرانو دمعمولي ګروېږنې سره » معادله وه او دی په دې ګومان و چې دا ټوله « داداره يې چارو يادروښان فکري تهذيب او صحيح دماغ دنشتوالي په وجه وه (۲۲) . »

د (۱۹۱۹ ) په مارچ کې ، امير امان الله خان نوی حکومت جوړ او محمود طرزي يې په هغه کې دبهرنيو چارو دوزير په توګه وټاکه . ديو ځيرک اقدام په ترڅ کې امير دمحافظه کارو مشر عبدالقدوس خان دصدراعظم په توګه وټاکه ، خوځواوونۍ وروسته يې هغه دکندهار محاذ ته واستاوه چې انګليس - افغان ددرېيمې جګړې پر وخت دهغه ځای قومانده په لاس کې واخلي (۲۳) .

دلته دبرتانيې په وړاندې دافغانستان مقابله پيل کيدونکې وه ، هلته امان الله خان له بيلابيلو ځواکونو سره دډيپلوماتيکو اړيکو دټينګولو کړنلاره پسې راواخيسته ، واردواره يې له بخارا ، شوروي اتحاد ، ايران او ترکيې سره اړيکې ټينګې کړلې او سمدستي جرمنيانو ، اتريشيانو او دهنتيګ - نيدرماير دهيئت غړو يو ځل بيا مهم رول ولوباوه . امير امان الله دشوروي اتحاد ، امريکې ، فرانسې ، جاپان ، ايران ، ترکيې او نورو حکومتونو ته ليکونه وليږل چې په دغو ليکونو کې يې دځان دپاچهۍ خبرتيا

ورکړه او دا يې هم څرګنده کړه چې پخوا « دځينو علتونو په وجه » ددې مخه نيول شوې وه چې افغانستان دنړۍ له دولتونو سره هرراز اړيکې ولري ، خو اوس داهيواد چمتو دی چې له ټولو سره دوستانه اړيکې ټينګې کړي . داپريل په لومړيو کې امير امان الله خان ، دشاهي خادمانو مشر محمد ولي خان ، په بخارا کې دسفير په توګه وټاکي ، مګر دا ژر معلومه شوه چې دمحمد ولي خان اصلي کار داو چې له شوروي اتحاد سره سفارتي اړيکې ټينګې او اروپاته ولاړشي چې دپاريس د سولې په کنفرانس کې دافغانستان استازيتوب وکړي. دغه افغاني استازي د مې دمياشتې په وروستيو کې دشوروي - افغان له پولې څخه تيراو د (۱۹۱۹ ) دجون پر څلورم تاشکند ته ورسيد ( ۲٤ ) .

دافغانانو له لوري څخه په دې کړنو سره شوروي حکومت خورا باغ باغ شو. دمحمد ولي د ورتګ څخه څو ورځې مخکې ، دحکومتي راډيو يوې خپرونې دختيځ « انقلابي پرولتاريا » ته په ډاګه کړه : « تاسې چې اوس لا هم بنديان ياست ، موږ په بې خبرۍ سره په دې لټه يو چې تاسې حکومت په خپل لاس کې ونيسئ . موږ هيله من يو چې ستاسې سره دنړيوالې پانګوالې او په تيره بيا دبرتانيې پر ضد چې ټول نسلونه تر پښو لاندې کوي دوروستي جنګ په خاطر اوږه پر اوږه ودريږو . . .» افغاني هيئت دزړه له کومي بدرګه شو ، استازي ته ددې اجازه ورکړای شوه چې يوه کونسلګري جوړه کړي چې واګې يې دښکار مشر محمداسلم خان ته وسپارل شوې . د کونسلګرۍ دپرانيستلو پر وخت افغاني استازي په خپله وينا کې وويل چې افغانستان ځکه دبرتانويانو په وړاندې جنګ وکړ چې هغوی مذهبي ازادي نه راپريښوده او زياته يې کړه : « موږ چې دبرتانوي استبداد پر ضد را پاڅيدلې او دشوروي روسيې سره مواندېوالي را شروع کړې يو ازې په دې خاطر نه چې يوازې

ځانونه او هندي ترټل شوي مسلمانان آزاد کړو ؛ بلکې ځکه را پورته شوی یو چې په ټوله نړۍ کې مسلمانان له مریتوب څخه آزاد کړو » ده پر ترکمنانو ږغ وکړ چې دبرتانیې تر سرو زرو دروسیې مسو ته ترجیح ورکړي (۲۵).

افغان استازي له تاشکند څخه دامریکې جمهور رئیس ، وررورویلشن » ته دیو تلګرام په ترڅ کې خبر ورکړ چې دی به دسولې په کنفرانس کې دافغانستان نمایندګي وکړي او هیله یې ښکاره کړه چې هلته به له ده سره له نژدې وګوري چې هغه دافغانستان له حقونو څخه ننګه وکړي (۲۶).

محمدولي خان په تاشکند کې دشوروي نماینده « کې . براوین » ته چې په دې ښار کې دافغان استازي سره ملګری و ، بلنه ورکړه چې په کابل کې دشوروي تاشکند د سیاسي نماینده په توګه پاته شي (۲۷). دابلنه دزړه له کومي ومنل شوه او په داسې حال کې چې افغان استازی لا په تاشکند کې و ، هلته شوروي هیئت د « براوین » تر مشرۍ لاندې افغانستان ته ولیږل شو .

افغانانو په شوروي اتحاد کې بیلابیل هدفونه لرل ؛ هغوی غوښتل چې دخپل شمالي ګاونډي سره سیاسي اړیکې ټینګې کړې او هیله من وو چې دبل ځل انګلیس - افغان جګړې په وخت کې وکولای شي له شورویانو سره ملګرتوب وکړي .

شوروي حکومت په دې باره کې خپله مینه وښودله . د (۱۹۱۹) داګست پر (۱۳مه) ، لیو تروتسکي ، په ماسکو کې له شوروي تاشکند څخه اتلس پوښتنې وکړې چې هغو ټولې په افغانستان کې دپوځي وضعیت ، دامان الله داعتبار او له مادي پلوه دافغانستان داړتیا وو دبشپړو معلوماتو په باره کې وې . په دابله ورځ له ماسکو څخه تلګرامي پیغام ورسید ، په هغه کې ویل کیدل چې افغانستان به ډیر ژر د تاشکند داورګاډي دپټلۍ په جوړیدو سره ورېا پوځي مرسته تر لاسه کړي . په پام کې وه چې نژدې راتلونکې کې

الوتکې هم ورواستول شي ، مگر دبهرني کومیساز مرستیال « ال . ام . کاراخان » ټینگار وکړ چې : « دکولچک محاذ دژر له منځه وړو لپاره داضروري وه چې دقزاقانو پر ضد دې په جگړه کې دافغانانو یو کوچنی ټولی له سور پوځ سره مرسته وکړي . » * کاراخان ددې وړاندیز په هکله دافغاني غبرگون په تمه شو ( ۲۸ ) .

دسپتامبر پر ( ۲٤ ) ، دمحمد ولي هیئت له تاشکند څخه دماسکو پر خوا روان شو . له دې افغاني هیئت سره شوروي مامورانو او دافغانستان پخواني دوست ، کاظم بای هم ملگري کوله چې له افغانستان څخه دهنتهگ -نیدرماېر داستازیو ترتگ وروسته په هرات کې اوسیده ( ۲۹ ) . دافغاني هیئت نور غړي کونسل فیض محمد خان ذکر یا ، مرستیال کونسل ادیب افندي او یو شمیر سکرتران او ژباړونکي وو چې ټول ( ۱۹ ) کسانو ته رسیدل . غلام صدیق خان بیا وروسته له دې ډلې سره ملگری شو . دشوروي ترکستان او دروسیې پر پوله هیئت ته دبهرنیو چارو دخلکو دکمیسارۍ یو غړي ښه راغلاست ووایه او ټول گروپ دیو ځانگړي او رگاډي پواسطه د « اورنبرگ » او « سمره » له لارې ماسکو ته وخوځید . پر ټوله لار افغانانو ته دبریالیتوب سلامې کیدلې ( ۳۰ ) . دلندن « تایمز » مجلې داکتوبر پر لسمه په ماسکو کې د « ان . ان . نریمانوف » له خوا افغانانو ته دښه راغلې اړونده رپوټ ورکړ او دده څرگندونې یې داسې غبرگې کړې :

« ښه راغلاست ! زه دشوروي واک او دبهرنیو چارو دکمیسارۍ له خوا ، دروس کارگرو او کروندگرو دحکومت په مرکز کې تاسې عالي جناب ، افغانستان او ستاسې لومړني سفارت ته مبارکي وایم . دغه تاریخي حقیقت ثابتوي چې دروسي امپریالیزم ، چې هڅه یې کوله کوچني ملیتونه په

---

*- الکساندر وي لولچک - دروسي انقلاب ضد یو سړی وه .

مریتوب او پستۍ کې ښکیل کړی ، ترې تم او بیا بېراونه ګرځي ، زه دسور روس په مرکز کې دخپل حکومت له خوا ځکه په ترکي ژبه تاسې ته مبارکې وایم څو دا ثابته شي چې د کارګرو او کروندګرو حکومت له ټولو خلکو او ژبو سره د درناوي له مخې سلوک کوي . نومړی حکومت په دې پوهیږي چې څنګه دزړه له کومي ملګرتوب ته وده ورکړي . زه بیا هم تاسې ته ښه راغلی وایم . »

سلطان ګالییف ، چې دختیځ دچارو مسئول و ، دجمهوریت دانقلابي شورا په نمایندګۍ یې هیئت ته ښه راغلی ووایه ، ده وویل : « ستاسې کوچنی لاکن اتل هیواد د آزادۍ لپاره دختیځ دبرتانوي امپریالیزم داوږدې مودې دظالمانو په مقابل کې جنګیږي . موږ پوهیږو چې تاسې مرستې او کومک ته اړیاست او له شوروي روسیې څخه یې تمه لرئ ، دانقلابي شورا او دشوروي روسیې دزیارکښو مسلمانانو دڅو میلیونیزه پرګنو دسا زمانونو له خوا ، تاسې ته په جار سره وایم چې ، که څه هم شوروي روسیه دنړیوال امپریالیزم په وړاندې او هم دټولې نړۍ دمظلومو ولسونو دحقونو لپاره جنګیږي ، بیا به هم تاسې ته دغسې مرسته درکړئ . » ددې خبرو په ځواب کې محمد ولي خان داسې وویل : « موږ ته معلومه ده چې دروسیې مسلمان وګړي نور آزاد شول او موږ په ټینګه هیله من یو چې دشوروي روسیې په ملاتړ به موږ د افغانستان او ټول ختیځ په ازاد یدو کې بریالي شو . » دټایمز خبریال زیاتوي چې محمد ولي د « ملګرو لینن ، ترر تسکې ، جیچرین او د کومیاري دنوروکسانو » له روغتیا څخه وروسته وپوښتیدل شو . دماسکو راډیو دخپرونې له مخې ، ولادیمیر ایلچ لینن له افغاني هیئت سره وکتل او په دې ترڅ کې افغاني استازي هغه ته دامان الله لیک وسپاره چې په « ډیره خوښۍ سره » ومنل شو . محمد ولي خان هیله ښکاره کړه چې شوروي اتحاد باید « له ټول ختیځ سره

مرسته وکړي چې هغوی داروپايي امپرياليزم له ستم څخه آزاد شي . » لينن له افغاني استازي څخه مننه څرګنده او ژمنه يې وکړه چې ژر به غبرګون ښکاره کړي .

(۳۱) افغاني هيئت غوښتل چې اروپا ته پسې ولاړشي ، لاکن برتانيې داستونيا پر حکومت زور واچاوه چې خپلې لارې د دوی پر مخ وتړي ، هيئت هم مجبوراً د نوامبر په پای کې بيرته راغبرګ او د (۱۹۱۹ ) د دسمبر پر (۱۹مه) تاشکند ته ورسيد (۳۲) .

په داسې حال کې چې افغاني هيئت په شوروي اتحاد کې و ، هلته د ايران به برجند کې د تزاري کونسلګرۍ پخواني مامور « ان زيډ . براوين » ، د جولای په سر کې هرات ته راورسيد . رپوټ ورکول شوچې له دې شوروي هيئت سره (۱۲۰) په وسلو بار يا بوګان او ديرش سپاره پوځيان ملګري وو ، په دې لړ کې يو جرمني افسر او تقريباً لس اتريشيان هم شامل وو چې ويل کيده هغوی دجګړه ييزه سامانو د جوړولو کارپوهان دي. څه ناڅه تر لس ورځو وروسته دبراوين هيئت د کابل پر لور رهي شو *.

براوين د اګست په وروستيو کې کابل ته راورسيد او د (۱۹۱۹) دسپتمبر پر (٤ مه) يې له امير امان الله سره وکتل ، دا هغه وخت و چې افغانستان ته

* - د کال په دې مهال کې افغانستان ته دروسانو ، جرمنيانو او نورو اروپايانو راتګ معمول دسفارتي هدف په خاطر نه وو ، زياتره دغه اروپايان مهاجر وو ، يا داچې غوښتل يې دافغانستان او هند له لارې خپلو هيوادو ته ستانه شي ، ځکه نو له هرات څخه يو برتانوي خبر رسونکي رپوټ ورکړ چې که کشک څخه هرات ته تقريباً له شپېتو څخه تر سلو کسانو پورې راغلل چې د « لوغړنو او ورو شيطانانو غوندې معلوميږي ؛ د هرات افغان والي ، دغو اروپايانو ته د پوځي احترام په خاطر دسپرو يوه قوه مخې ته ور واستوله ، ځکه ده ګومان وکړ چې هغوی مهم سياسي استازي دي ، مګر کله چې په خپله اشتباه پوه شو نو زړه يې ډېر درد وکړ . (۳۳)

لومړنۍ رسمي اشاره ورسيدله چې شوروي اتحاد چمتو دی افغانستان ته هغه ځمکني امتيازونه بيرته ورکوي چې د (۱۸۸۰) لسيزې په نيمايې کې د پنجدې د کړکيچ په نتيجه کې تزاري حکومت له افغانستان څخه نيولې وې. د براوين له هيئت څخه وغوښتل شول تر هغو پورې چې له ماسکو څخه کوم واکمن هيئت رارسيږي دی دې د شوروي اتحاد او افغانستان تر مينځ خبرې اترې جاري وساتي.

د (۱۹۱۹) په اکتوبر کې، «زيد. سوريتس» يو بلشويکي صلاحيت لرونکي وزير، د افغانستان په نيت له ماسکو څخه روان شو، ده د يو شل کسيز هيئت مشري کوله چې په هغه کې يو جرمني، درې اتريشيان، څوارلس قزاقان او درې هنديان شامل وو. سور يتس ته پر افغاني سرحد باندې سپاره بدرګه کوونکي راوتلي او له ده سره تر هراته ملګري شول چې د نوامبر پر يولسمه هلته ورسيد. دده په بدرګه کوونکو کې يو يې ميرزا محمد يفتلي، دوه افغاني د ګروالان او د هرات د زيارتونو له متوليانو څخه مير ګاذرګاه او حضرت کرخ شامل وو، له هرات څخه رسيدلو رپوټونو ويل چې: «د کابل د هدايتونو پر اساس، د احترام فوق العاده ترتيبات نيول شوي وو؛ د يوويشت توپونو د ډزو سلامي ورکول شوه او له هيئت سره يوې جرګې چې ټول سيمه ييز ملايان او خانان په کې راغونډ شوي او هم ټولې ليواله نژدې وکتل، چې په ګډه بيا د ميلمستيا لپاره چارباغ ته سره ولاړل (۳٤).»

د سور يتس له هيئت څخه دا هيله هم وشوه چې جرمني دې د افغانستان په اړتياوو پوه کړي. د هيئت جرمني غړي په افغانستان کې له دريو مياشتو تيرولو څخه وروسته د هند له لارې خپل هيواد ته ولاړ چې د جرمني د خارجه وزارت لپاره يې د امير امان الله يو پيغام هم يو وړ، د غه پيغام کې افغان واکمن له جرمني څخه غوښتي وو چې هغه هيواد دې افغانستان ته يو رسمي

نماینده ولیږي او هم یې جرمني کارپوهانو او پانګه وال دې ته هڅولې وو چې دافغانستان په پرمختګ کې برخه واخلي (۳۵). ددې شوروي هیئت درې هندي محمد عبدالرب، آچار به او مهندر پرتاپ وو چې وروستی یې یو هندي هیواد پال (نشنلیست) و چې له دې نه څلور کاله مخکې یې ترکابل د هنتګ سره هم ملګرتیا کړې وه (۳۶).

سوریتز او دده ملګري د (۱۹۲۰) دجنوري په سرکې کابل ته راورسیدل او دده په مشرۍ سمدلاسه امان الله سره خبرې اترې هم پیل شوې. براوین پسې واخیستل شو او په پای کې له هیواده تبعید هم شو چې په پای کې یې دافغانستان متابعت ومانه، خو کله چې هندوستان ته دسفر په نیت روان و، د (۱۹۲۱) په جنورۍ کې په غزني کې د نامعلومو کسانو له خوا ووژل شو.

دشوروي له هغو تلګرافي مخابرو څخه چې برتانویانو نیولي داسې څرګندیږي چې سوریتز ته ویل شوي چې افغانستان ته مرسته او ځمکني امتیازونه ورکړي، مګر دداسې ژمنې څخه منع کړای شوی و، چې دبرتانویانو په مقابل کې ددې هیواد ترڅنګ دشوروي اتحاد جنګیدل وو. سوریتز هم دیو تړون مقدمات برابر کړل چې بیا د (۱۹۲۱) په فبرورۍ کې په ماسکو کې بشپړ شو ه. تربحث لاندې تجارتي تړون دلاندینو موادو درلوونکی و:

۱ - دواړه هیوادونه به یو بل ته اومه او صنعتي مواد برابروي.

۲ - شورویان به دشوروي بهرني تجارت دڅانګې او افغان انفرادي سوداګرو او هم دافغاني حکومت ترمنځ یو پراخ تجارت شروع کوي.

۳ - شوروي اتحاد به دافغانستان پر صادراتي اجناسو محصول نه لګوي.

شورویانو غوښتل دغه تجارتي قرار دا دیو سیاسي تړون دمقدمې په توګه راشي، دامیر داخوښه شوه چې له برتانیې سره بیا جګړه پیل کړي، نو که دا

کاروشي -شوروي اتحاد باید افغانستان ته وسلې ، پوځي سامان او مالي مرسته برابره کړي . دبرتانوي سرچینو له مخې ، امان الله دملگرتوب او دوه اړخیزه مرستې یو داسې تړون غوښتی چې باید دلاندینو مادو لرونکی وای :

۱ - د « کرکي » او « تریک » سیمې دې بیرته افغانستان ته وسپارل شي.

۲ - دروس -بخارا په کمیسیون کې دي افغاني نمایندگان هم برخه واخلي.

۳ - افغانستان ته دې دلس ملیون روبلو معادل سره زر دبسپنې په ډول ورکړل شي .

٤ - ماسکو باید په افغانستان کې دبې لوخړو باروتو د تولید فابریکه جوړه کړي .

۵ - شوروي اتحاد په لاندیني شیان هم برابر وي :

الف - له کشک څخه تر هراته او له هغه ځایه دکندهار له لارې ترکابل پورې به مستقیم ډول د تلگراف مزی .

ب - لس زره ټوپکونه .

ج - ملکي او پوځي زبا ړونکي .

د - د توپونو زیاتې گولۍ .

و - په کابل ، هرات او کندهار کې دبې سیم تلگراف نصبول .

هـ - دهندي سرحدي قبایلو دوسلوال کولو لپاره مرسته .

ی - افغانستان ته دآمو په سیند کې ددووانجن لرونکو کښتیو دچلیدو اجازه .

ددې په مقابل کې سوریتز لاندیني وړاندیزونه راوړل :

۱ - دواړه خواوې به داسې کوم قرار داد نه کوي چې هغه بل لوري ته زیانمن وي .

٢- افغانستان به له برتانيې سره دهغې خبرواترو په باره کې چې دشوروي اتحاد پر خلاف وي شورويانو ته خبر ورکوي .

٣- دشوروي اتحاد نمايندګان دې په حکومتي سويه په رسميت وپيژندل شي .

٤- په کندهار ، غزني او جلاآباد کې به دشوروي اتحاد له خوا فابريکې جوړيږي .

٥- دسوداګرۍ نوموړی تړون دې لاسليک کړای شي (٣٧) .

دپورتنيو وړانديزونو له څيړلو څخه ښکاري چې شوروي حکومت دکوم پوځي کاروبار سره مينه نه لرله او په لومړۍ درجه دملګرتوب داړيکو دټينګښت هيله من و . دهند مرستيال واکمن په دومره انديښنه کې ولويد چې له لندن څخه يې وغوښتل چې د افغانستان مسئله دې له ماسکو سره حل او فصل کړای شي . ده پيشنهاد وکړ چې له شوروي اتحاد سره دې يو داسې تړون وشي چې دهغه له مخې بايد ديو اروپايي ځواک پر ضد دهغه بل په استعمالولو کې دافغانستان درول مخه ونيول شي . دداسې لوز نامې له مخې به برتانيه په افغانستان کې له شوروي اتحاد سره يو برابر نفوذ ولري . شوروي اتحاد او برتانيه به دځه وخت لپاره افغانستان ته دوسلو پر ورکولو بنديز لګوي، له داسې فعاليتونو څخه به ډډه کوي چې ديو او بل پر دښمنۍ تماميږي او يو دبل سرحد ته له نژدې سيمو څخه دې کونسولي نمايندګان ايسته کړای شي (٣٨) . مګر دې وړانديز دکړکيچ ځينې ( ديتانت ) په راوسټو کې د (١٩٠٧ ) کال دانګليس - روس دکنوانسيون غوندې کومه نتيجه ورنه کړه . په (١٩٢٥ ) کې شوروي اتحاد او برتانيه دتل په شان يو پربل بې باوره او حتی دا چې تر خپل منځ يې سفارتي اړيکې هم ټينګې نه کړې .

# سفارتي نوښتونه

دجرمن - افغان رسمي اړيکې د ( ۱۹۱٦ ) په مى کې دهنتيګ او نيدرماير په تلو سره پای ته ورسيدې . هنتيګ خپل مسئوليت دجګړې يو اتريشي بندي ، تورن « شرينر » ته سپارلى ، مګر امير حبيب الله دغه اتريشي ديو رسمي نماينده په توګه و نه مانه .

حبيب الله دجرمن - افغان دلوزپانې اوومه ماده عملي کړه : په کې ويل شوي وو چې يو افغاني استازى به تهران ته ځي چې هلته دمحوري ځواکونو له مامورانو سره پټې خبرې اترې وکړي . دغه أستازي يانې دشبرغان پخوانى والي سردار عبدالمجيد ، د ( ۱۹۱٦ ) په دسمبر کې دايران کرمانشاه ته ورسيد ، چې هلته يې له ترکي او جرمني مامورانو سره خبرې وکړي ، په هغوى کې نيدرماير هم شامل و ، چې دشوروي ترکستان له لارې له افغانستان څخه په روغ رمټ وتلو بريالى شوى و . په دې خبرو کې عبدالمجيد دوه وړانديزونه لرل : که جرمني غواړي د متحدينو سره سوله وکړي ، نو بايد چې دافغانستان خپلواکي په رسميت وپيژني او هم ، سمندر ته ددې هيواد په لاس رسيدو کې

مرسته وکړي . که جګړه همداسې روانه وي ، نو جرمني یو «غټ بم » یانې افغانستان ته ضرورت لري چې د « هند له دروازې » څخه ورتیرشي ، که دجرمني پوځ اصفهان او یزد ته راشي ، افغاني پوځونه به هم له هغوی سره په کرمان کې مرستندوی او یو ځای شي . خو عبدالمجید ته دکوم تړون دمسودې جوړولو یا لا سلیک اختیار ورکول شوی نه و ، په دې وخت کې ظاهراً نه جرمنیان او نه هم افغانان په دې گومان وو چې یو ټینګ پوځي عمل دې ممکن وي . جرمني حکومت افغاني واکمن ته د داسي یو تړون مسوده واستوله چې ، هغه سیاسي یا پوځي ماهیت نه لاره ، بلکې یوازې یې دافغانستان خپلواکي په رسمیت وپیژندله چې دهغې له مخې په دواړو هیوادو کې یو دبل نمایندګي پرانیستل شي ( ۳۹ ) . امیر هیڅکله دغه سند په ډاګه نه کړ او له جرمني سره یې ټول رسیمي تماسونه بند کړل ( ٤٠ ) . په غیر رسیمي توګه ، دافغانستان او محوري دولتونو تر منځ تماس له کابل څخه د تورن شرینر او دوو نورو اتریشي افسرانو په واسطه جاري وو ، دا افسران لومړی برید من « ربیچ کا » او دویم بریدمن « روهلند » وو ، چې په هرات کې یې « کورټ واګنر » ته پیغامونه ولیږل چې له هغه ځایه بیا ایراني او افغاني مخکښانو د ایران له لارې په تهران کې د محوري ځواکونو استازیو یا عثماني لوري ته ورتیر کړل .

دهنټېګ – نیدرمایر هیئت کمبله له افغانستان څخه له تللو سره سمه ټوله شوه . واګنر په هرات کې پاته وچې د نه فعالیت له کبله ستومانه او د ( ۱۹۱۷ ) داکتوبر پر ( ۲۷ مه ) ، دی هم له هراته ولاړه له واګنر سره څلور اتریشیان او درې ایرایرانیان ملګري وو چې د ترکمنانو غوندې یې ځانونه جوړ کړل ، دغه بڼه بدلي دهغوی دژوند په بیه هم تمامه شوه . کله چې ایرانیانو د ترکمنانو دغه ډله ولیده چې دبدانو او ړده کالي یې اغوستي ، نو سملاسي یې برید پرو کړه چې په نتیجه کې « بیرل » نومي اتریشي ، ووژل شو

(٤١). د ترشنر والي دغه جرمنيان ونيول ، خو ويې نه غوښتل چې د ايران دحکومت له هدايت څخه پرته يې روسي قزاق پوځ ته وسپاري . دی دجرمنيانو پر خواو ، ځکه واګنر او يو ايراني ته يې د تېښتې موقع ورکړه ؛ لکه څنګه چې نوموړي جرمني وکړای شو ل د (١٩١٨) په فبروري کې ځان موصل ته ورسوي (٤٢).

کاظم بای او برکت الله په هرات کې پاته شول او مهندر پرتاپ دجګړې په اوږدو کې په مزار شريف کې اوسيده ، څوچې روسي انقلاب دوی ته اجازه ورکړه چې دروسيې قلمرو ته داخل شي . مهندر پرتاپ له هغه ځايه جرمني ته وخوځيد او برکت الله ماسکو ته لاړ ، په داسې حال کې چې کاظم بای د ترکمن سراسري اسلامي غورځنګ مشر شو چې دانقلاب په لومړيو څوکالو کې يې دروسي پوځونو سره مرسته وکړه . ددغو هيوادپالو او برتانوي ضد اشرارو لپاره ځکه يو نوی عصر پيل شو چې دشوروی اتحاد دننګې په وجه ګټمن شول.

دروسيې د (١٩١٧) دنوامبر انقلاب ، په افغانستان کې ژوره اغيزه وښندله. لينن او دده بلشويکي حکومت روانه جګړه يو « پانګوالي او امپرياليستي عمل » وباله او نه يې غوښتل چې برخه په کې واخلي . له جرمني سره يې دسولې په خاطر « دنه ضميمه کولو او تاوان نه ورکولو » پر اساس خبرې اترې پيل او شوروي حکومت د (١٩١٨) دمارچ پر دريمه ، دبريسټ - ليتوفسک تړون لاسليک کړ . جرمني په دی تړون کې يوه ماده ورزياته کړه ، هغه دغه چې شوروي روسيه او جرمني دواړه به دافغانستان او ايران خپلواکي او ځمکنی بشپړ تيا ته په درنه سترګه ګوري (٤٣). محمود خان طرزي هم په سراج الاخبار کې دخوښۍ له مخې څرګنده کړه چې « نورنو زموږ هغه پخواني آزادي هم دسترو ځواکونو له خوا په رسميت وپيژندل شوه

(٤٤). » دافغانستان په نزد دروسيې ماته په دې مانا وه چې د (١٩٠٧) کال دانگليس - روس کنوانسيون له خوا او دشمال له خوا دبريد خطر نورله منځه ولاړ ، لکه څنگه چې يې سبکه شوروي حکومت ، چې دانقلاب ضد عناصرو او بهرني يرغل سره يې ډغرې وهلې ، په دې ډير خوښ و چې ملگري پيدا کړي او پراخه سيمه يې دورپورو هيوادو له خوا په رسميت وپيژندل شي . دجرمني په نزد دروسيې ماتې دامانا لرله چې دافغانستان لاره يې بيا خلاصه او گواکي دا چې پر هند باندې يرغل يو وار بيا ممکن شو .

دجرمني دخارجه وزارت ماموړانو موافقه وکړه چې له افغانستان سره به تماس ټينگ کړی شي : هغوی په دې اسره وو چې دجگړې تر ختميدو وروسته دنه بريالي توب په صورت کې به جرمني په افغانستان کې خپله اغيزه له برتانيې سره د ترازو دشاهين په توگه استعمال کړي (٤٥) .

جرمني ته په ستنيدو سره ، هنتيگ او نيدرماير دواړو وړانديزو کړه چې افغانستان ته دې يو نوی هيئت وليږل شي ، خو دهغه دهدفونو په هکله سره جوړ نه وو . لکه څنگه چې نيدرماير د پوځي هيئت دليږلو وړانديز لاره چې هدف به يې دجگړې ډگر ته دافغانستان راکيښل وي ، مگر هنتيگ بيا د يو ملکي هيئت دليږلو په فکر کې و ، داسې چې هغه به هلته د جرمني شته والی را منځته او ښه راغلی به يې وشي ، څکه هغوی به داړتيا وړ مرسته وکړای شي . هنتيگ په دې فکرو چې په دغسې هيئت کې دې يو دغاښو ډاکټر ، يوه روغتيا پاله ، يو ټوپک جوړوونکی ، يو موټروان ، يو برقي او يو بنا شامل وي ، چې ټول به گټې تر لاسه او دخلکو په زړو کې به ځای هم ونيسي په داسې حال کې چې دجرمني او افغانستان دراتلونکې اقتصادي گډې مرستې لپاره به اساسات هم برابر کړي (٤٦) . مهندر پرتاپ هم چې د (١٩١٨) په اپريل کې برلين ته تللی و ، وړانديز وکړ چې دجرمني حکومت دې افغانستان ته يو

بل هیئت واستوي او دایې ویل چې دیو آسیا یي سړي ( چې په خپله دی و ) مشري به دداسې یو اقدام لپاره ډیره ښه نتیجه ورکړي . پرتاپ همدارنګه وړاندیز وکړ چې جرمني دې دجرمن - افغان تړون په ډاګه کړي چې امیر حبیب الله مجبوریته لاس په سر شي (٤٧) ؛ خو هنتیګ دغسې کار کلک رد کړ ،ځکه دی په دې نظر و چې دافغاني واکمن له خواد په خپله خوښه اقدام خورا اهمیت لري . پایله دا چې په تبریز کې جرمني دکونسلګرۍ دیو پخواني مامور پوهاند تافیل په مشرۍ یو بل هیئت ولیږل شو (٤٨) . په کابل کې دجرمني استازي موجودیت ، څومره چې باید وای ، برلین ته یې دومره اهمیت نه درلود ، لکه څنګه چې له (١٩١٦ ) راهیسې په کابل کې داتریشیانو او جرمنیانو شمیر خورا زیاتیده چې د (١٩١٩ ) په لومړیو کې ( ١٢٠ ) کسو ته ورسید. دهغوی ګڼ شمېر جنګي بندیان وو چې دشوروي اتحاد له لارې دلته راغلي او له افغانستان څخه دهند پر لار وتل . له دوی څخه ځینو یې په غیر رسمي ډول دجرمني دحکومت دا ستازیو په توګه عمل کاوه او ځینې نورې په دې ګومارل شوي وو چې دافغاني واکمن پیغامونه دجرمني حکومت ته ورسوي .

له دغو بهرنیو مهاجرو سره حبیب الله او هم دهغه ولیعهد ښه رویه کوله ، لکه څنګه چې داحقیقت په کابل کې دبرتانوي نماینده دخپګانه ډکې تبصرې څخه ښه تر امعلومیږي ، هغه هندوستان ته رپوټ ورکړ چې :

"داسې معلومیږي چې امان الله د جرمنیانو دپلویتوب احساسات لري ، کابل ته دجرمني هیئت د ورتګ له وخته هغه دجرمنیانو او اتریشیانو سره هر کله دمهربانۍ له مخې رویه کړې او ډیر ځله یې دهغوی میلمستیا کړې او ورسره کتلي یې دي . اتریشیان او جرمنیان په کابل کې بندیان دي ، مګر دا بندیتوب یوازې په نوم دی او هغوی کولای شي په خورا آزاد ډول په بازار ونو

کې چکرووهي ؛ په کابل کې دبرتانوي نماینده یا دهغه د مامورانو په پرتله دهغوی خورازیات قدر کیږي ، له مور. سره دمجرمانه غوندې کړنه کوي او مخامخ سپکې سپورې راته ویل کیږي" (٤٩).

افغانستان ته درسمي هیئتونو لیږنه ځکه په ناڅاپي ډول فسخ شوه چې جګړه دمحوري ځواکونو په تاوان سره ختمه او محوریان مجبور شول چې له متحدینو سره د (١٩١٨) په اکتوبر او نومبر کې داوربند تړون وکړي.

دجګړې تر ختمیدو وروسته ، وضع نابېره واوښته ، ځکه افغانستان دسفارتي اړیکو دټینګښت په خاطر دجرمني دهڅولو ښت عملي کړ.

دلته امیر امان الله له خطرناک حالت سره مخامخ و : په دې خوبریالی شو چې د (١٩١٩) په اګست کې له برتانویانو څخه آزادي واخلي ؛ مګر ددې لپاره چې داخپلواکي ربښتیانې وي ، نو باید چې دنړۍ دهیوادو له خوا په رسمیت پیژندل شوې وای او افغانستان باید دډیرو هغسې هیوادو سره سفارتي اړیکې ټینګې کړې وای چې په کابل کې دنمایندګۍ پر لرلو راضي وو. ددې خپلواکۍ اثباتول هم ګران کار و ، ځکه دنړۍ په ځینو برخو کې دا شک موجود و چې ښایې برتانیه بیا افغانستان ونیسي ، همدا علت و چې یوازې دافغانستان ګاونډیو - لکه شوروي اتحاد ، ترکیه ، او ایران چې له برتانیوي مداخلې سره ضد وو ، دافغانستان تر څنګ ودریدل . په نړیوال سیاست کې د افغانستان دلومړنۍ هڅې دبریالیتوب معیار په دې کې و چې دغه نوی دولت دلیرو هیوادو ، په لومړۍ درجه دارو پایې ځواکونو سره هم باید اړیکې ټینګې کړي . ددې لویې دندې د ترسره کولو په خاطر ، امیر امان الله دخپل واکمن وزیر (خود مختار وزیر) محمد ولي خان په مشرۍ یو هیئت ورواستاوه لکه څنګه چې مو پخوا ولوستل ، داهیئت د (١٩١٩) په جون کې له تاشکنده او دهمدې کال په نومبر کې مسکو څخه کتنه وکړه .

ځنګه چې ویې نه شو کړای چې هماغه وخت پاریس ته ولاړ شي ، نو بیرته تاشکند ته راستون او د ( ۱۹۲۰ ) ترمني پورې هلته پاته و . تردې وخته برتانیې له افغانستان سره په « میسوری » کې خبرې اترې کولې باید په دابل کال کې د « کابل د تړون » .مقدمات برابر شوي وای .

دمحمد ولي خان ماموریت ، چې له مسکو ځخه یې ځینو اروپایې او امریکا ته دوه کاله ونیول ، دا وچې همیشني سفارتي تماسونه ، په لومړۍ درجه کونسلي تړونونه وکړي چې په دې ډول افغانستان له یوازیتوب ځخه خلاص شي ( ۵۰ ) . محمد ولي په مسکو کې د ( ۱۹۲۰ ) له مۍ ځخه د ( ۱۹۲۱ ) تر مارچ پورې پاته او په دې بریالی شو چې له شوروي اتحاد ، ایران او ترکیې له اناتولي حکومت سره تړونونه لاسلیک کړي . دغه لوزپانې له اروپایي ځواکونو سره د تړونونو بر عکس چې وروسته وشول ، دماهیت له مخې سیاسي وې چې دملګرتوب او نه مداخلې پر مادو ولاړې وې ، لکه ځنګه چې دشوروي اتحاد په برخه کې دواړو خواوو موافقه وکړه چې « له دریم دولت سره به په هغسې پوځي یا سیاسي تړونونو کې نه شاملیږي چې ددې لوزپانې دکوم لوري له پاره به زیانمن وي . » شوروي اتحاد ته اجازه ورکړل شوه چې په افغانستان کې دجنوبي او ختیځو ولایتونو په شمول خپلې کونسلګرۍ پرانیزي ، دا چې برتانیې په کلکه دغې مادې ته ګوته ونیوله ، نو په کابل کې شوروي استازیو « زیډ . سوریتز » او « ایف . رشکول نیکوف » هم دا ومنل چې له دې تړون سره دې یوه بېله پاڼه مل کړای شي ، چې په هغې کې په شوروي اتحاد « داوس وخت لپاره » په کندهار او غزني کې کونسلګرۍ نه راباسي ( ۵۱ ) . ماسکو ومنل چې د شوروي اتحاد له لارې به پر تیریدونکو افغاني مالونو محصول هم نه لګوي . شوروي اتحاد او افغانستان دواړو دخیوا او بخارا خپلواکي « دهغو دولسونو دغوښتنې په صورت کې » په

رسميت وپيژندله . داسې وپتېيل شوه چې « دعدالت او ځاني واک دحق ( حق خودارادیت ) داصولو » له مخي به هغه سرحدي سيمې بيرته افغانستان ته ورکول کيږي چې پخوايې په دې هيواد پورې اړه لرله . دکارپوهانو او سامانونو په برخه کې د تخنيکي مرستې ورکړه تاييد شوه ، دروس - افغانستان دغه تړون د (١٩٢١ع) کال د فبروری په (٢٨مه) دشوروي اتحاد له خوا « گيورگي واسيلي ويچ چيچرين » او « لييف ميل هيوو يچ کرافان » اودافغانستان له خوا محمد ولي خان ، ميرزا محمد خان او غلام صديق خان لاسليک کړ .

دترک - افغان تړون داو چې « دټول ختيځ دراتلونکو گټو په نوم يې دخپلې اوږدې مودې اخلاقي يووالى او طبيعي ملگرتيا يو سياسي پړاو ته ورجگه کړله . » افغانستان دخلافت د څوکی په توگه دترکيې « معنوی مشرتيا » په رسميت وپيژندله . په پام کې وه چې ترکيه به ښوونکي او پوځي افسران ليږي . دواړو دخيوا او بخارا آزادي په رسميت وپيژندله ، ځينو دغه هسې په نوموړوسيمو کې دترکيې او افغانستان دتسلط يو کوښښ باله . يوه ماده داوه چې پر يوه باندې د کوم دريم ځواک دحملې په صورت کې به دا بل لوری هم گډې مرستې ته ورداننگي ، دايران - افغان تړون کټ مټ دترکيې تړون غوندې و نور مواد يې داوو چې مجرمان به سره ورکوي ، پوسته او تلگرافي اړيکې به ټينگوي او دستونزو او ناخوالو په وخت کې به سمې پريکړې ته ځان نيسي . دغسې يوه کړکيچنه مسئله دسيستان سرحدي سيمه وه چې هلته دبهيدونکو سيندونو دبهيرداړولو په نتيجه کې دغه سرحدي ستونزه منځته راغلې ده (٥٢) .

افغانستان غوښتل چې يوازې له جرمني سره غير سياسي کونسلي تړون لاسليک کړي . په ماسکو کې دجنگي بنديانو او مهاجرو دکميسيون ته

اړوند دجرمني غیررسمي نماینده «گوستاف هیلگر» د (۱۹۲۰م کال)دسپتامبر پر (۲۷ مه) رپوټ ورکړ چې محمد ولي خان ورسره وکتل او ده ته یې له جرمني سره د خواخوږۍ ډاډ هم ورکړ او هیله یې څرگنده کړه چې له خپل هیئت سره جرمني ته هم سفر وکړي او په دې ډول له جرمني سره سیاسي او تجارتي اړیکې ټینگې کړې . محمد ولي په دې هڅه کې هم و چې جرمنیان دافغانستان په بیلا بیلو پرمختیایي پروژو کې د کار لپاره وهڅوي (۵۳) .
هیلگر دغه افغانانو ته د ویزې دنه ورکولو سببونه له برلین څخه وغوښتل او دامعلومه خبره وه چې د دې بندیز له کبله د جرمني دبهرنیو چارو وزارت ماموران هم په غوسه وو . دبهرنیو چارو وزارت مرستیال «کارل فون شوبرټ» دجرمني صدراعظم ته ولیکل چې له افغانستان سره د تجارتي اړیکو ټینگښت زموږ هدف دی خو داهم باید له پامه ونه باسو چې برتانیه به دغسې هڅې ته په بدگومانۍ سره وگوري چې بیا به دانگلیس - جرمن اړیکې زیانمنې کړي . مگر ده وړتیله چې افغانانو ته دویزې نه ورکول به یو غیر دوستانه چال چلند وي نو ځکه باید افغانانو ته دراتگ اجازه ورکړل شي او برتاینه په دې خبره کړای شي چې جرمني نه غواړې په افغانستان یا دختیځ په هر گوټ کې چې وي له برتانوي ضد فعالیتونو څخه ملاتړ وکړي (٥٤). د (۱۹۲۱م کال) دفبروري پر (۱٦ مه) هېلگر دافغاني هیئت ټولواته کسانو ته ویزې ورکړې (٥٥) خو وروسته له برلین څخه دیو تلگرافي شفر په واسطه نوموړې ویزې ځکه فسخ کړای شوې چې ویل یې : «دعمومي سیاسي حالت پر سبب جرمني ته دنوموړو افغاني استازیو ورتگ اوس لازم نه دی . » برلین وړاندیزو کړ چې له افغانانو څخه دې په دوستانه ډول وغوښتل شي چې اوس خپل سفر وځنډوي . کله چې دغه تلگراف ماسکو ته رسیدونکی و، افغانان (د ۱۹۲۱م کال) دمارچ پر لومړۍ نیټه) له دې ښاره دجرمني پر خوا روان شوي

و (٥٦). دافغاني هيئت دنتيجو په هکله نه يوازې داويره وه چې هسې نه لندن به غبرگون ښکاره کړي ، بلکې په آسيا کې دجرمني پرحيثيت هم دهغه داغيزې انديښنه موجوده وه. « او تروويزندوک » د جرمني دبهرنيو چارور وزارت ته وليکل: « په آسيا کې چې دجرمني دلوړوالي کومې غتمې خبرې کيدې هغه وخت به افغانانو ته پوچې معلومې شي چې جرمني په خپله خاوره کې برتانوي يا نورو بهرنيو عسکرو ته پرمخې پريوځي : کټ مټ داسې کله ايران يا هندوستان چې اسکيرلی دي (٥٧). » داچې دجرمني مامورينو فعاليت ډير سوړو ، ويې نه کړای شول افغانان تم کړي.

محمد ولي خان د « ريگا » او « وارسا » له لارې پرمخ ولاړ چې د (١٩٢١م کال) داپريل پر اتمه ، برلين ته ورسيد. ورنر مون هنتيگ دختيځ پروس د « ايډکهنن » په سرحدي سيمه کې دغو افغانانو ته ښه راغلی ووايه او هغوی يې تر برلين پورې بدرگه کړل.

محمد ولي خان هلته خپل باور ليکونه وړاندې کړل چې په کې ويل کيدل، دی دشاه امان الله خان دځانګړي استازي په توګه ټاکل شوی چې اروپايي دولتونو او امريکا ته ولاړشي او هلته سترو ځواکونو ته دامان الله دتخت کښيناستو او دافغانستان دپوره استقلال او خپلواکۍ په اړه خبر ورکړي ، ده دوه ليکونه راوړي و ، يويې دافغانستان دبهرنيو چارو دوزير محمود طرزي له خواد جرمني خارجه وزيرته او بل يې دافغاني واکمن له خوادجرمني جمهور رئيس فريد ريک ريبرټ لپاره و. په دواړو ليکونو کې څرگنده شوې وه چې امان الله پاچا شوی ، افغانستان په پوره ډول خپلواک شوی او له جرمني سره داړيکو دټينګښت غوښتونکی دی (٥٨). افغاني هيئت همدارنگه دجرمني دبهرنيو چارو وزارت ته ځينې اضافي ټکي ورمخته کړل چې دجرمني نظر ځانته معلوم کړي . افغاني حکومت غوښتل چې : (١)

افغاني زده کوونکي جرمني ته راواستول شي او هغوی ته دجرمني په ښوونځيو او پوهنځيو کې داخله ورکړل شي ( ۲ ) په افغانستان کې دې يو جرمني ښوونځی جوړ کړای شي (۳) افغانستان ته دې جرمني انجينيران ، کارپوهان او تخنيکي ښوونکي واستول شي ( ٤ ) دصنعتي هدفونو لپاره به له جرمني څخه ماشينونه رانيولی شي ، په تيره بيا دکاغذ او نساجۍ دتوليد په برخه کې ( ٥ ) ددواړو هيوادو ترمنځ دې په تيره بيا په افغانستان کې دکانونو او يو لړ کارخانو د رايستلو په خاطر دسوداګرۍ دايمي اړيکې ټينګې شي (٥٩) .

فون شوبرټ ډير احتياط کاوه ، خبرداري يې ورکړه چې ، که څه هم افغانستان په ظاهره دراولپينډۍ د تړون له مخې آزادي ترلاسه کړه خو بيا هم دده په فکر کيدای شي د شوروي اتحاد او برتانيې تر منځ يې حايل (بيلونکی ) دريځ دواړو دولتونو دګټو ديوې سيمې په توګه پسې پاتې شي . دافغانستان دتجارت څخه لاس راتلونکې نامعلومه ګڼه په هغې تريګنۍ نه ارزي چې ښايي دلويې برتانيې څخه به راپيدا شي نو ښه لاره يې داده چې دملګرتوب مګرپخوانۍ رويه پر مخ بوځي ( ٦٠ ) . فون شوبرټ وليکل : « داچې دجرمني او لسمشر او دبهرنيو چارو وزير افغاني رسمي تماس ته ځواب ورنه کړ ، کوم دليل يې نه لاره . ده وړانديز وکړ چې افغانانو ته بايد وويل شي چې دافغاني سفارتي استازيو خو دلته هر کلی وشو . مګر جرمني به کابل ته په يو مناسب مهال کې استازی وليږي . دښوونې روزنې او په افغانستان کې دجرمنيانو داستخدام مسئله دې دځاني ( شخصي ) مؤسسو سره حل شي . افغانانو ته کيدای شي ووايو چې د افغانستان د پرمختيار په کار کې جرمني ځکه په رسمي ډول برخه نه شي اخيستلای چې جرمني حکومت نه غواړي په دې شرايطو کې دبرتانيې خبره ورته جوړه شي چې ګواکې داهيواد په افغانستان

کې فعاله تګ لاره پر مخ وهي (٦١). د شوروي دوراندیزونو له مخې افغانان هم خبر کړای شول.

د دې لپاره چې د لندن بدګومانی لیرې کړي په برلین کې برتانوي سفیر «لارډ دي ابرتن» او د برتانیې د بهرنیو چارو وزارت ته به غیر رسمي ډول د دې پیښو او د جرمني د غبرګون په هکله خبر ورکړل شو. په پای کې په ماسکو کې افغاني سفیر د «اثبات» لپاره «اې. ایچ. ګرنټ» ته د خط کاپیانې ورواستولې چې په هغو کې افغانستان د یو خپلواک دولت په توګه ذکر شوی و. د غه افغانان د ناري لپاره وغوښتل شوه چې په هغه کې د جرمني صدراعظم او د خارجه وزارت ماموراتو، د هنتیګ او فریتز ګروبا، به شمول ګډون کړی و. د غه وروستی سړی بیا په کابل کې د جرمني د لومړني استازي په توګه وټاکل شو، همدارنګه د جرمني د صنایعو یو شمیر استازي هم په دې سهارنی کې موجود وو (٦٢).

په جرمني کې له دې لې شان بریالیتوب څخه وروسته، افغاني هیئت روم ته روان شو، چې هلته د ایټالیې پاچا «دریېم ویکټور ایمانویل» او بهرنیو چارو وزیر «کاونټ سفورزا» د هغه تود هرکلی وکړ. داچې ایټالیا وروسته د برتانیې ملګرې شوې وه نو څکه د جرمني غوندې په یو خوړ من دریغ کې نه وه پاتې. له همدې کبله افغانستان پر ته له تکلیفه تړون ورسره وکړ چې په هغه کې دواړو ومنله چې افغانستان ته به د سوداګرۍ یو هیئت لیږل کیږي او د دواړو څواکونو تر منځ به سفارتي اړیکې منځته راځي. د ایټالیې - افغان دا تړون د جون پر دریېمه لاسلیک شو خو د هغه په هکله په لندن او کابل کې بیل بیل غبرګونونه څرګند شول. د (١٩٢١م کال) د جون پر (١٢مه) د برتانیې خارجه وزیر، لارډ کران، څرګنده کړه کله چې مې په لندن کې د ایټالیې سفیر ته کلکه غندنه سپارله په هغې کې د تسلیمۍ هیڅ ځای نه و. د ایټالیې

حکومت ته خبر ورکړل شو چې برتانیه دافغانستان سره یو داسې تړون تړلاس لاندې لري چې دهغه له مخې به په دې هیواد کې « دبرتانیې لویه او زیاته سیاسي اغیزه رامینځته شي » . دبرتانیې حکومت دااستدلال هم وکړ چې موږ « تر اوسه لا افغانستان دبرتانیې دسیاسي اغیزې په ساحه کې بشکیل بولو (٦٣) . » افغان حکومت په دې کار ډیر غمجن شو چې د (١٩٢١ م کال) په دسمبر کې د « کابل د تړون » داړونده خبرواترو دجریان په وخت کې وشو . په دغو خبرواترو کې دافغانستان د خپلواکۍ مسئلې نور کوم ځای نه لاره . افغانان ( دلار د کرزن ) دګواښ پر اوریدو سره دبرتانیې پر دغه دوه مخۍ ووير يدل ، ځکه یې دبرتانیې داغوښتنه هم رد کړه چې ویل یې ( له برتانیې سره دې داسې تړون لاسلیک شي چې شورویان له افغانستان سره د اړیکو له ساتلو څخه بې برخې کړي (٦٤) . دکابل خبرې اترې دڅه وخت لپاره وځنډیدې چې په کابل کې دبرتانوي برخه وال مشر ، سرهنري ډبس ، ددې ځنډ په له منځه وړلو کې ډیرو ستونزو سره مخامخ شو .

افغاني هیئت له دې ځایه پاریس ته لاړ چې هلته دجون پر نهمه ورسید . په دې ځای کې هم نو موړو افغانانو ته دجمهور رئیس « الکساندر میل دنډ » او صدراعظم « ارستیدبریانډ » له خوا تود هرکلی وویل شو او دوی دفرانسوي حکومت میلمانه وبلل شول . دغو افغانانو په پاریس کې د یو تړون ځانګړنې برابرې کړې چې په پای کې د (١٩٢٢م کال ) داپریل پر (٢٨ مه) لاسلیک شو .

افغاني هیئت دجولای پر دویمه ، نیویارک ته ولاړ چې دامریکا جمهور رئیس (چې مخکې هم غوږیدلی و ) په دې راضي کړي چې له افغانستان سره داړیکو ټینګښت دامریکا په ډیره ګټه وي . هیئت هلته پر داسې یو مهال ورسید چې کوم ناولي شیطان ، دامریکا یي سمندري افسر په بڼه کې ،په دې

بريالی شو چې ديوې افغاني شازادگۍ « فاطمې » سره د صدر هارډنګ د مرکې زمينه مساعده کړي . ددې قضيې د پيښيدو او افغاني هيئت ته د مرکې لپاره قصداً دلږ وخت ورکولو پر وجه نوموړي افغانان خپه او ډير کم راغلل . نو ځکه کوم تړون هم لاسليک نه شو . دافغاني هيئت يو غړي ، فيض محمد خان ، وروسته په افغانستان کې لومړني امريکايي استازي« و . ايچ . هارني بروک » ته ددې پيښې په باره کې داسې شرحه ورکړه : « له ځو اوونيو انتظار څخه وروسته چې غوښتل مو دشاه امان الله خط دامريکا جمهور رئيس ته وړاندې کړو ، زموږ دهيئت غړي ځکه ډير خپه شول چې ورځپاڼو کې يې دا خبر ولوست چې صدر هارډنګ شازادگۍ فاطمه پر سهارني ناري ميلمنه کړې ده . ځوورځې وروسته موږ د لنډې او غير رسمي کتنې لپاره وغوښتل شوو . ليک مو وروسپاره ، په ځواب کې هغه د پاچا دغوښتلي پلار دمړينې پر هکله خواشيني څرګنده کړه او پر تخت باندې يې داعليحضرت دکښيناستو په مناسبت مبارکي وويله . دا ټول زموږ لپاره ډير مايوسوونکي او زړه وهونکي وو ... ( ځکه نو ) په پولينډ کې دامريکايي واکمل وزير له خوا موږ ته داډ راکړل شو چې په يو مناسب وخت کې به دامريکا له حکومت سره وګورو ( ٦٥ ) . »

د ( ۱۹۲۱ م کال ) دجولای پر ( ۲۷ مه ) افغاني هيئت په واشنګټن کې دبرتانيې سفارت ته ورغی او له لندن څخه د کتنې بلنه ورکړل شوه : چې دهند پخواني چارواکي لارډ کرزن ، دبهرنيو چارو دوزير پر توګه ټاکل شوی و . کرزن هغه مهال چې حبيب الله دافغانستان پاچا کيدونکی وه دهند مرستيال واکمن او دنوي تړون دمنځته راوړو لپاره دبرتانيې دزور راوړلو ښتر محرک و . دمنځنی آسيا داهميت پر هکله دکرزن هغه کتني خورا مهمې دي [illegible] ويناوو او مختلفو خپرونو کې يې خورې کړې دي ، بېلګه يې دده « پارس او

دهغه مسئله » نومی کتاب دی چې ده په کې ویلي :

« ترکستان ، افغانستان ، ماورا کسپین ، پارس ، هغه ځایونه دی چې خورا لیرې پرتې سیمې یا بې ځایه لوړې ژورې او وژونکې خیالي داستانونه معلومیږي خوزه له خپله اړخه اعتراف کوم چې داسیمې دسطرنج هغه دانې گڼل کیږي چې دنړۍ د تسلط لپاره لوبه وریاندې کیدای شي (٦٦). »

کله چې افغانان داگست پر اتمه ، لیور پول ته ورسیدل ، دا ځرگنده وه چې له یو لړ ستونزو سره به مخامخ شي . هئیت ته دسیاسي چارو د افسر ، « ایس . این . پیرس » له (خوا چې د کوربه په توگه ټاکل شوی و ) دوستانه هر کلی وویل شو . محمد ولي خان خپل هئیت ور وپیژانده او ځرگنده یې کړه چې دشاه امان الله او دبهرنیو چارو وزیر محمود طرزي لیکونه دبرتانوي تولواکمن او لارډ کرزن لپاره له ځانه سره لري . پیرس ځان تیراوه نو په ځواب کې یې وویل چې له افغانستان سره خو تر اوسه اړیکې په هند کې ددولت دوزیر له خوا پر مخ بیول کیدې . مگر محمد ولي خان ټینگار وکړ چې دراولپنډۍ له تړون څخه وروسته « افغانستان له هند سره خپلې ټولې اړیکې وشلولې او که هغه یې غوره وبولي زموږ هیواد به هیڅ رنگه تماس هم ورسره ونه ساتي (٦٧). »

په پای کې د ( ۱۹۲۱ م کال) داگست پر (۱۷ مه ) لارډ کرزن له افغاني هیئت سره وکتل ، مگر کله چې محمد ولي خان دکابل خبرې اترې یادې کړې ، نو کرزن په بې پروایۍ سره دده وینا غوڅه کړه اوویې ویل چې: « دکابل خبرې اترې یوازې دافغانستان او هند خپل منځي چارې دي او دبرتانیې دبهرنیو چارو وزارت پورې اړه نه لري . » کرزن دافغانانو له خوا ورکول شوی لیک خلاص نکړ او په دې هکله یې هم څه ونه ویل چې آیا دا لیک به دبرتانیې تولواکمن ته وسپاري، که د کرزن دغې زړه وهونکې او سپې رویې او هم څه موده مخکې دایټالیې پر حکومت دده اعتراض افغاني واکمن پر دې مجبور

کړ چې له برتانيې څخه د ګټلې آزادۍ سمه ژغورنه په دې کې ده چې بايد له هغه هيواد سره د ملګرتوب هيڅ تړون ونه کړي، ځکه داسې تړون به افغانستان پر هند باندې تکيه کړي .

د (۱۹۲۱ م) له سپتامبر څخه د (۱۹۲۲ م کال) تر مارچ پورې ، د غه افغاني هيئت يو ځل بيا له پاريس ، برلين ، برن او روم څخه کتنه وکړه چې په ټولو ملکونو کې يې خوراښه هرکلي وشو ، په پای کې کله چې د (۱۹۲۲ م کال) په اپريل کې ، هيئت پاريس ته ورغی نو د فرانس - افغان تړون هم لاسليک شو (۶۸).

دغه افغاني هيئت ښه پايله ورکړه ، ځکه ويې کړای شول چې له شوروي اتحاد ، ايران ، ترکيې ، ايتاليې او فرانسې سره تړونونه لاسليک او هم يو شمير نور دولتونه دې ته وهڅوي چې له افغانستان سره هيئتونه تبادله کړي .
دهيئت له غړيو څخه محمد اديب يې په برلين کې د شارژدافير (مرستيال سفير) پر توګه پاتې شو . وروسته بيا ددې هيئت يو بل غړی غلام صديق دنوموړي پرځای وټاکل شو . د (۱۹۲۲ م کال) په جون کې ، افغانستان ته پر ستنيدو سره ددوی د برياليتوبونو پر خاطر د م او د مامې جوړې شوې .

# په منځنۍ آسيا کې يوه بله

# « ستره لوبه »

دنولسمې پيړۍ په وروستيو او دشلمې پيړۍ په لومړيو کې روسي واکمنۍ او لويې برتانيې په منځنۍ آسيا کې دځمکو دنيولو ستره لوبه پيل کړې وه. تر لومړۍ نړۍ والې جګړې پورې، دواړو ځواکونو په سيمه کې خپلې سياسي اغيزې زياتولې او پر هغو سيمو چې دحائل رول يې ډېر ښه لوبولای شو، حکومت چلاوه. دروسيې انقلاب، دعثماني ترکيې پرزېدل او دانګلسي - افغان درېيمې جګړې په منځنۍ آسيا کې يولړ بې ساري شرايط رامنځته کړه چې دهغو له مخې شوروي اتحاد، لويې برتانيې او نورو آسيايي سيالانو په منځنۍ آسيا کې يوه نوې لوبه جوړه کړه.

افغانستان، دبخارا خلافت او دسراسري تورانيو يا سراسري اسلامي اتحاد غوښتونکو دهغې تشې ډکولو ته سترګې نيولې وې چې دتزاري روس پر نسکور يدو سره منځته راغلې وه. بلشويکان له انقلاب ضد مخالفانو سره په جګړه اخته و او په دې اسره وو چې دتزاري روسيې منځنۍ آسيا د شوروي اتحاد لپاره همدغسې پسې وساتي. دغو ټولو ځواکونو يې خپلو منځو کې يو

ابتدايي يووالی هم لاره ، په داسې حال کې چې مقصد ونه يې يو دبل پر تاوان وو .

کله چې شوروي اتحاد د ( ۱۹۱۸ ) په مارچ کې ( دمجبورۍ له مخې ) له جرمني سره سوله وکړه ، هند په دې وويريد چې دمحوري ځواکونو لپاره به يو وار بيا افغانستان ته د پوځي هيئتونو دليږلو لاره اواره شي . ددغسې کار د يو څه مخنيوي لپاره ، هندي حکومت بريد جنرال « ويلفرډ ماليسن » ايران او دشوروي اتحاد دماورا کسپين سيمې ته وليږه . ده ته لارښوونه وشوه چې له افغانستان څخه ددښمنانو هيئتونه ليرې وساتي او له هغو عناصرو سره تماسونه تينګ کړي چې غواړي له برتانيې سره ګډه مرسته وکړي . ماليسن ته زيا ته پانګه ورکړای شوه او له يوې هندۍ قواسره له مشهد څخه د « مرو » او « بيرام علي » سيمو ته ولاړ . دغه ننوتنې له بلشويکي واحدونو سره يو پوځي ټکر را منځته کړ خو دشوروي رژيم د تدريجي تينګښت په نتيجه کې برتانويان مجبور شول چې د ( ۱۹۱۹ م کال ) په مارچ کې ايران ته وخوځيږي . ماليسن له مشهد څخه خپلو فعاليتونو ته دوام ورکاوه او دهغه تلګرافي مخابرو په راوړولو کې چې دماسکو ، تاشکند ، او نورو آسيا يي ښارونو تر منځ به کيدلې بريالی هم و ، که څه هم چې په پوځي برخه کې پاتې راغی ، مګر دومره يې وکړای شول چې دشوروي - افغان ګډه مرسته دهغوی په منځ کې دبې باورۍ او شک پر اچولو سره دړې وړې کړي . دهندي حکوت لپاره دده رپوټونه او س هم دنړۍ په دې ګوټ کې دنغښتو پيښو د بيا تازه کولو لپاره يوه ستره سرچينه ګڼل کيږي .

شوروي حکومت په ښکاره غوښتل چې دمنځنۍ آسيا په ښارونو کې دبيلتون غوښتونکو تلوسو مخه په دې پلمه راوګرځوي ، مسلمانانو ته به يې ويل : « اسلام په خطر کې دی » لکه څنګه چې دعثماني امپراطورۍ زوال

مودادی ولید . پر ترکیې باندی دیونان برید چې دبرتانیې او فرانسې ضمني ملاتړ هم ورسره و ، ډیر مسلمانان په دې عقیده کړل چې پر ریښتیا هم داداسلام ترټولو تیاره ساعت دی او دشلمې پیړۍ په دغه صلیبي جګړه کې برتانیه لویه بدذاته ده . دسیاسي موخو لپاره په انقره کې دافغانستان او ترکیې هیواد پالو له لوري دسراسري اسلامي تبلیغ هم راواخیستل شو . د « یووالي او پرمختګ دانجمن » پخوانیو مشرانو په منځنۍ آسیا کې دیو ترک - اسلامي دولت دمنځته راوړو لپاره سراسري اسلامي ناکراریو ته لاس واچاوه .

افغان واکمن دمنځنۍ آسیا پر کانفدراسیون ( دخودمختاره جمهوریتونو اتحاد ) باندې دتسلط پر اسره له سراسري اسلامیزم څخه زیاته ګټه اخیسته . افغان واکمن دبرتانوي هند سره په خپلو کړنو کې ، زیار ویست چې هندي مسلمانانو ته دخپل قدرت پواسطه وښیي چې دی وروستی اسلامي واکمن او داسلام یوازینی سالم مورچل دی . یو څه موده همداسې هم معلومیده چې ښايي افغان واکمن به دخلافت ځای ونیسيي .

دانقرې حکومت په دې جنجال اخته و چې ترکیه دیو ملت پر توګه ژوندی وساتي . دنړۍ په ډیرو برخو کې مسلمانانو ته دتبلیغ او دمرستې غوښتنې ، دنړیوال اسلام تر کریږي (شعار ) لاندې سرته رسیدل چې په هغو کې دترکیې تباهي کټ مټ داسلام تباهي بلل کیده .

دسراسري اسلام دناکراریو ځینې بنستیز مشران دهنتګ دهیئت پخواني غړي ول . له هغو ی څخه یوېې کاظم بای و چې دسراسري اسلام په تبلیغ کې ورکښیوتی او له هرات څخه روس - ترکستان ته له ورتګ نه وروسته یې دبلشویزم په مرسته دا کارکاوه . کیدای شي دده کړنه دده په رسالو او پیغامونو کې ولیدل شي چې له هغوی څخه یوه بېلګه یې لاندېنې لیک دی چې دهرات والي ته یې استولی و :

« موږ ورو ورو دامریکا انګیرنه په خپله ګټه راواړوو ، دانګلیس - ایران اوروس تړون ( ۱۹۱۹م) امریکایي او فرانسوي حکومتونه له ځانه پردي کړي او هغوی داعمل له متحدینو سره د برتانوي ښکیلاکي ( استعمار غوښتنې ) یواړونده خیانت بولي . زه تاسو ته له خپل لوري ټینګ ډاډ درکوم چې بلشویکان د مسلمانانو رښتیني ملګري دي . زه پر ځاني ډول ، مګر د صلاحیت له مخې ، درته ویلی شم چې بلشویکان غواړي چې اتل امان الله ته یو شمیر ګړندی الوتکې او زښت زیات توپونه برابر کړي » ( ۷۰ ).

کاظم بای رپوټ ورکړ چې له عشق آباد څخه هغه وخت ولاړه چې هلته یې اسلامي احساسات غښتلي کړه ، ترکمنان یې خپل لوري ته راښکیل کړه ، او د ایرانیانو خوا خوږي یې ترلاسه کړه ( ۷۱ ). په مرو کې افغان کونسل هم کټ مټ پر هغه پل کښیښود او هرات ته یې ولیکل :

« زه ډیر زیار باسم چې د دې ځای شیعه ګان او سنیان سره یو موټی کړم ، او په تیره بیا پر ایرانیانو ډیر پام کوم چې بلشویکي ظلم او ستم څخه مې خلاص کړي دي . همدارنګه زه بیوزلو ایراني کورنیو ته خیراتونه هم ورکوم . زه هر ممکنه کوښښ کوم چې ایرانیان متوجه کړم چې د هغوی دهیواد ژغورنه او ملي خپلواکي کورټ له افغانستان او بلشویکانو سره په اتحاد کې نغښتې ده چې لوره یې کړې ، دبرتانوي یرغلګرو له سره به اسلامي نړۍ خلاصوي . له بلشویکانو سره زما د ګډې مرستې یوه نمونه داده چې ګڼ شمیر لالهانده افغانان مې د بلشویکانو په لیکو کې ورګډ کړي دي . دغه کړنې هم سیمه ییز بلشویکان ډاډه کوي او هم ایرانیانو ته د بلشویک - افغان دپیوستون په اړه یوه ښه مفکوره وربخښي ( ۷۲ ). »

د مالین ایجنټانو ډیر کوښښ وکړ چې کاظم بای ، برکت الله ، او مهندراپرتاپ چې ټول په منځنۍ آسیا کې د تبلیغیانو مشران وو ، ونیسي .

کاظم بای د « عشق آباد داصلي واکمن » پر توگه بلل کیده ، چې کتې متې دبراوین ، مهندرا پرتاپ او برکت الله غوندې و او له هغوی سره یې گډه مرسته پر مخ بیوله » له برکت الله سره د ( ۱۹۱۹ م ) دمې پرشپږمه ، د « ایزویستیا » خبریال مرکه وکړه چې دهغې په ترڅ کې ده په ډاگه کړه چې نه کمونیستې یم او نه هم سوسیالیستې ، لاکن یو داسې هیواد پال یم چې هدف مې له آسیا څخه دانگریزانو شړل دی ، ده وویل چې : « په دې هکله موږ یو دبل طبیعي انډیوالان گرځیدلي یو . » برکت الله وروسته یوه رساله چاپ کړه چې سرلیک یې « په اسلام کې بلشویزم » و . په هغې کې ده کمونیزم دصدر اسلام د زمانې له بیت المال سره یو رنگ باله او په ډاگه یې کړه کله چې داموییانو لومړني خلیفه معاویه ، د دنیا او دولت راغونډولو ته لاس واچاوه نو زور زیاتی هم را پیل شو (۷۳) .

دروسیې دمنځنۍ آسیا بیلابیلو ځواکونه له برتانیې سره دجنگ په موخه سره ملگري شول ؛ دهغوی خر خبنه همدارنگه دبخارا له امیر سره هم یو څه زیاته شوه ، ځکه پرهغه باندې له برتانیې سره دهمکارۍ گومان کیده . خو داسې څرگنده شوه چې دغه برتانوي ضد ځواکونه « طبیعي » انډیوالان وو او له هماغه پیل څخه یې موږ د دښمنۍ نښې په کې لیدلای شوو . مالین د (۱۹۱۹ م) په سپتمبر کې هند ته رپوټ ورکړ چې زه « په منځنۍ آسیا کې دگڼ شمیر افغاني ډلو پرواسطه گنگس شوی یم ، پر هغوی باندې روسان هم زموږ غوندې شکمن دي ، » ده دا رښتونواله داسې پسې وانگارله چې یا « طرزي په یوازې توگه امیر له لارې اړوي او یا هم دا چې امیر زموږ دومره ضد دی چې غواړي زموږ پرځولو لپاره دروسیې ملاتړ ترلاسه کړي . » خو بیا هم ده داخبره یقیني ونه بلله او ډاډ یې ورکړ چې « امان الله خان غواړي دمنځنۍ آسیا دمسلمانو دولتونو یووالی دکابل تروا ک لاندې راولي (۷٤) . »

مالیسن په کابل کې دشوروي هیئت دمشر ، سور یتمز دنیولو لپاره خپل ایجنټان واستول خو دې ایجنټانو احوال ورولیږه چې داکارځکه ناشونی دی چې افغانان له کشک څخه تر مرو پورې پر ټوله سیمه بشپړ واک لري . ددې ایجنټانو درپوټونو له مخې:

« افغانان هر ممکن کوښښ کوي چې ترکمنان ځانته راکش کړي . هغه کسان چې بلشویکان یې نیسي بیر ته خلاصیږي ، جریمې یې بخښل کیږي ، ستونزې او ناخوالې یې دافغانانو پرلارښود ، چې سیمه ییز بلشویکان یې خورا اطاعت کوي له اوړو اوړي . هیڅ ترکمن په دې وضع نه پوهیږي چې آیا بلشویکان ددوی اصلي دوستان دي او که افغانان خوټول دامني چې افغانان دمسلمانانو د دفاع پرخاطر دسیمې شرایط او دهرې خوا حالت په خپل گیره کې لري . د « سرخس » په سیمه کې افغانانو دترکمنانو داوړدو مودو خپل منځۍ شخړې او دښمنۍ دهغوی پر یو موټي کولو سره پای ته ورسولې او هغوې ته یې خبر داری ورکړ ، کله چې وخت یې راورسیږي نو باید چې تیار اوسي (٧٥) . »

دبخارا أمیر ، سید میر عالم خان ، مالین ته خبرو ورکړ چې : « زموږ په عقیده ترکستان او بخارا ته دافغانستان دراتگ هدف یوازې دادی چې هغه ترکستاني مسلمانان سره یو موټی او له بخارا سره اړیکې ټینگې کړي او په دې اسره دي چې په یو مناسب وخت کې دبلشویکانو پرضد عملیات پیل کړي (٧٦) . »

د (١٩١٩ م) داکتوبر په سر کې افغانستان دپنجدې په ولایت کې داغیزې ښند لویوه سوله ییزه تگ لاره اختیار کړه چې شوروي اتحاد سره دهغه دمخکنۍ ژمنې په هکله مخامخ شي چې ویل یې داسیمې به بیرته دافغانستان سره ونښلول شي ، افغاني ماموران ، کونسلان او خپل سري

استازي له منظمو افغاني پوځونو سره دوري هوري تلل او اخر دا چې د دې سيمو هيڅ يو ښار د افغانانو له شته والي څخه خالي نه و پاتې ، برتانوي رپوټونه وايي چې په مرو او جنوبي سيمو کې افغاني نفوذ د ټينګيدو په حال کې دی او په مرو کې خلک افغاني کونسل « د بلشويکي کوميسارۍ په پرتله ديو ډير مهم مامور په توګه » پيژني (۷۷) .

د (۱۹۱۹ م) په دسمبر کې افغانستان په مرو کې د څلورسو و تنو يوه منظم ځواک درلود (۷۸) . داسې راپورهم وچې افغانان په فرغانه کې ، د باسمچې انقلاب ضد سړي « محمد امين بيګ » سره ، تماس لري چې د منځنۍ آسيا د کانفدراسيون د جوړښت لپاره د هغه خوښه تر لاسه کړي (۷۹) . رپوټ رسيدلی و چې په فرغانه کې افغاني استازيو د غه باسمچي مشرته وړانديز کړی و چې که دی په سراسري اسلاميزم کې شامل شي نو له نوروشيانو علاوه به لس زره سړي او پوځي وسايل هم ورکړای شي . البته افغاني غوښتنې په دې ډول وې : (۱) افغاني پوځونه به له شورويانو سره د مرستې په پلمه فرغانې ته ليږل کيږي . (۲) په فرغانه باندې يوه ژغورنده سياسي څارنه ايجاد او ديو خپلواک دولت په توګه به اعلانيږي . (۳) بالاخره ، ټريوي افغاني پالنې لاندې به د اسلامي دولتونو يو کنفدراسيون ټينګيږي . داسې ويل کيدل چې محمد امين بشپړې خپلواکۍ ته له کنفدراسيون په پرتله غوره والی ورکاوه (۸۰) .

د بخارا او خيوا سره افغاني ملاتړ په دې خاطرو چې د شوروي حکومت اړياسي څو خپله وعده پوره کړي چې ويل يې : « د دې اسلامي دولتونو د ازادۍ درناوی به وکړي » .

د (۱۹۲۰ م) په پسرلي کې د شوروي او افغان حکومتونو تر منځ د نظر اختلاف په پر له پسې ډول را برسيره شو . له هرات څخه په رسيدلو رپوټونو

کې ویل کیدل چې پر افغاني سرحد یاهغه ته نژدې درمودځې پر سر شخړې شوې دي . په کشک کې له افغاني استازیو سره درویې په هکله افغاني شکایتونه موجود وو . داهم پسې معلومه شوه چې افغانان پر شوروي ضد توطیو لګیا دي نو شورویانو هم جمشیدي تبردې ته ولمساوه چې په افغانستان کې حملې وکړي (۸۱). د (۱۹۱۹م) په دوبي کې دماسکو لنډنۍ (مؤقتي) کمزوري ، ورو ورو دبلشویکي اقتدار پر تینګښت سره او ښته . په نوامبر کې دماسکو او تاشکند ترمنځ مخابرات بیا پیل شول او د (۱۹۲۰م) په اوړي کې ، بلشویکي عسکرو « کراس نوراسک » ونیو . همداو جه وه چې شوروي حکومت وکړای شو ، دغې سیمې ته هوساپوځونه ورسوي او فرغاني او سمیرشیاته دښورښیانو پر ضد ځواکونه ولیږي . په فبرورۍ کې خیوا هم تر شوروي واک لاندې کښیوته او دخیوا پاچا ، سید عبدالله خان ، تاشکند ته وشړل شو . په پنجده کې افغاني اثراو نفوذ هم په مۍ کې پای ته ورسول شو او دشوروي اتحاد او افغانستان ترمینځ سیاسي پولې بیر ته له انقلاب څخه د مخکینیو ورځو کرښې ته وروګرځول شوې . له دې څخه وروسته شورویان له دفاع څخه خلاص شول او حملې یې پیل کړې . بخارا کورنیو « ځوانې بخارا » او بهرنیو بلشویکي ځواک ورته تسلیم شو او د (۱۹۲۱م) ترمۍ پورې دبخارا امیر ، سید میر عالم خان ، په کابل کې پنا اخیستې وه (۸۲).

خو دیوې اسلامي منځنۍ آسیا لپاره دادهلو ځلو وروستۍ ګام نه و . وارد ترکیي سمونو الو هیوادپالو جوړښتون (داصلاح غوښتو نکو نشنالستانو سازمان) یانې دیووالي او پرمختګ دکومیتې د مشرانو شو چې غړو یې ترلومړۍ نړیوالې جګړې پورې عثماني حکومت په لاس کې لاره . رپوټ ورکول شوی و چې طلعت پاشااو انور پاشا دواړه د (۱۹۲۰م) تر دسمبره په برلین کې اوسېدل او بیا له دې ځایه ماسکوته وخوځیدل څو له

برتانوي ضد ناکرار يو سره مرسته وکړي . دوې مياشتې ترمخه جمال پاشا کابل ته ولاړ چې هلته دافغان پوځ دبيا سمبالښت په خاطر ډير ژر مسئوليت ور وسپارل شو (۸۳) . دآرشيفي سرچينوله مخې ، دماسکو حکومت انور ترکستان ته واستاوه چې له ياغيانو سره خبرې اترې وکړي . ښوربښي مشرانو ، پر هغه باور نه لاره او سمدستي يې بندي کړ. څو چې بياد ( ۱۹۲۲م) په مارچ کې دشوروي حکومت پر ضد له ښوربښيانو سره دملګرتوب په نتيجه کې آزاد شو . انور هم ژر د « پخوانۍ بخارا »ځواکونه چې څه ناڅه شل زره کسو ته رسيدل په خپله بولی کې راوستې ، دا لښکر په دريو محاذونو ( ترمز ، بې سن ، او شهر سبز ) کې ځای پر ځای شوې و (۸٤).

امير امان الله ته يووار بيا داسلامي دولتونو دکنفدراسيون دجوړښت امکان ورپه زړه شو . دا چې روانه سياسي وضعه کې وروستي بدلونونه دشوروي ګټيو پر خلاف وو نو افغاني واکمن هم وغوښتل چې دبرتانيې له خوا ژغورنده ملاتړ ترلاسه کړي . امير دبرتانوي واکمل وزير ډګروال همفريس څخه چې د (۱۹۲۲)د مارچ پر شپږمه ، کابل ته راغلی ؤ ، وغوښتل چې دلندن حکومت ته ووايي دبخارا او خيوا آزادي په رسميت وپيژني چې په دې ډول دافغانستان خبره جوړه وي چې وايي: « له دې سيمو څخه دې بلشويکې ځواکونه ووځي ». تقريباً يوه مياشت وروسته بيا دافغان دبهرنيو چارو وزير دهمفريس نه هيله وکړه چې ، دافغانستان له لارې دې بخارا يې ځواکونو ته وسلې او جنګي سامان وليږي ، مګر برتانويانو ځکه دا خبره ونه منله چې ويل يې: « دشورويانو وروستی بريالیتوب له ورايه ښکاري » (۸۵). هو ، دا سيمه له برتانيې څخه دا غيزمنې مرستې له مخې ګوښه پرته وه او هم دهند حتی انګلستان دانه وه خوښه چې دافغاني واکمن دګټيو پر خاطر دې دومره ستر خطر ته ورمخ شي . سر بيره پر دې د (۱۹۲۱ ) په مارچ کې دانګليس - روس

تجارتي تړون هم يوه لنډ مهاله ارامي رامنځته کړې وه نو ځکه برتانيې دغسې اقدام نه غوښت .

خو بيا هم امان الله دغسې کار ته چمتو ولاړو . ده خپل دجنګ وزير ، نادر خان ، دشمالي افغانستان قطغن ته واستاوه چې هلته دفرغانې دښورښيانو سره له نژدې په تماس کې وي . دعدليې وزير ، محمد ابراهيم ، په مزار شريف کې او شجاع الدوله بيا په هرات کې و چې خپلې قواوې يې دکشک په وړاندې تيارسي کولې . د (١٩٢٢) په اپريل کې ، دا رپوټ خپور شو چې غلام رسول نومي له افغاني سرحد څخه وراوښتی او دبيسن دښورښيانو په پلوي يې له بلشويکانو سره جګړه رانښولې ده . شوروي حکومت وړاندې داژمنه کړې وه چې په سرحدي سيمو کې به بدلونونه راوړي او افغانستان ته به پوځي مرسته او پيسې ورکوي خو په عمل کې معلوميده چې خپلې وعدې يې نه پوره کولې . پای دا چې د ( ١٩٢٢ ) په جون کې شوروي حکومت په ماسکو کې دافغانستان پر واکمل وزير ، غلام نبي خان څرخي باندې پړه واچوله او په څوپانو کې يې داسې يوه « غوښتنه » وروړاندې کړه چې کټ مټ ديو جنګي ګواښ حيثيت يې لاره . په دې ګواښيز ليک کې ويل کيده چې :

١ – شوروي حکومت غواړي چې دروس –افغان تړون دزړه له کومي داجراوړ کړي خو دافغاني حکومت کړنه دا کارممکنوي .

٢ – څومره ژر چې افغاني حکومت له سرحد څخه دافغانستان دننه ته دخپلو پوځونو دايستلو تضمين وکړي شوروي روسيه به هم هغومره ژر پوځي او تخنيکي مرستې وروسپاري .

٣ – له ښورښيانو سره افغاني مرسته په هر نوم چې وي بايد بنده شي .

٤ –افغاني حکومت دې په سمه دا څرګنده کړي چې نور دختيځې بخارا په شخړو او دښمنيو کې لاس نه وهي او افغاني اتباعو ته به له ښورښي جنبش سره دملاتړ اجازه نه ورکوي .

۵ - افغانستان دې له بخارا څخه خپل استازی وباسي (۸۶).

ددې غوښتنو پر وړاندې ، افغانستان پرته له هغه څه چې تر دې وختـه يې کړي وو ، نور څه نه شو کولای ، دنه لاسوهنې داعلاميې نه خپرول بـه ضرور له شوروي اتحاد سره ددښمنۍ يو گام بلل شوی وای . افغان حکومت په دې هکله مناسب ډاډ ورکړ نو ځکه وضع هم تر پخوا يو څه سمه شوه ، «د امان افغان »، د (۱۹۲۲ )دجولای په ګڼه کې دمحمد ولي خان په لاسليک سره يو اعلان خپور شوی و چې ويلې يې و : « افغانستان هيڅکله نه غواړي دخپلو دوستو گاونډيو روسيې او بخارا لپاره مشکل پيدا کړي »او « په بخارا کې رواني تريګنۍ دافغاني سياست پوهانو په عقيده يوه کورنۍ شخړه ده چې روسي او افغاني حکومتونه په کې دلاسوهنې حق نه لري . افغانستان له خپله طرفه په تيره بيا دا کورنۍ کشاله غندي او په خپله به ناپېيلی پاتې وي (۸۷). » خو کله چې افغاني حکومت ته بيا هم په شوروي سيمو کې د پرله پسې کوښښونو ثبوتونه وړاندې کړای شول نو محمد ولي هم روسي استازي ته يو چاپي خط ورکړ چې په کې ويل شوی وو : « بايد ټولې افغاني قواوې له ښورښيانو څخه په شل ورځو کې افغانستان ته وګرځي ، که نه دهغوی جايداد به ضبط شي . انور پاشا يو څه بريالیتوبونه تر لاسه کړل ، مګر د ( ۱۹۲۲ ) داگست پر څلورمه ، په يوه شخړه کې ووژل شو . دانور مړينې او باسمچي مشر ، ابراهيم بيګ ، له ځواکونو سره پاشنې ، افغاني واکمن په دې عقيده کړ چې نور نو دروسيې په دننه کې د پراختيا غوښتنې خوب ونه خوت . په کابل کې روسي واکمل وزير ، « ايف . رسکول نيکوف » په خپله برخه کې دجوړ جاړي لاره پسې راواخيسته ، ماسکو ته يې وړانديزوکړ ، دا چې دشوروي لوی مقصد په ختيځ کې دبرتانيې پو پناه کول وو نو شوروي حکومت ته ښايي چې دبخارا په ښورښ کې دافغانستان پټه لاس وهنه هيره او زيار وباسي چې افغاني ملګرتوب په لاس راوړي (۸۸).

# په کابل کې بهرني استازي

دمحمد ولي افغاني هيئت له شوروي اتحاد ، ايران او ترکيې حکومتونو سره د تړونونو پر بشپړ تيا او دسفارتي هيئتونو دتبادلې په مقصد کې برياليتوب وګانه . فرانسې او ايټاليې د سفارتي استازيو دتبادلې تړونونه ورسره وکړل خو لويه موخه داوه چې جرمني له افغانانو سره دداسې کونسلي تړون کولو ته وهڅوي چې افغانستان ته دجرمنيانو راتګ لازمي کړي خو په دې کارکې افغاني هيئت لږ بريالى واو کله چې برتانيې ، فرانسې او ايټاليې په کابل کې خپلې نمايندګۍ خلاصې کړې نو بيا جرمني حکومت هم افغاني غوښتنې ومنلې .

دجرمني حکومت دبرتانيې په نيت نه پوهيده او په دې ويرېده چې ديوې آزادې لارې خپلولو او دافغانستان په رسميت پيژندل هسې نه ، دلويې برتانيې خرخښه راپورته کړي . محمد ولي له روم څخه ترکتنې وروسته ، بيرته برلين ته لاړ او دجرمني پر حکومت يې دازور واچاوه چې له افغانستان سره دملګر توب تړون لاسليک کړي او کابل ته يو تجارتي هيئت ولېږي ، ده

ورته څرګنده کړه چې د (۱۹۲۱) په دسمبر کې د کابل د کنفرانس تر پای ته رسېدو وروسته، برتانيې د افغانستان د بشپړې خپلواکۍ په رسميت پيژندنه يو وار بيا نوې کړې ده (۸۹).

پته دې نه وي چې جرمني اصلاً په دې مسئله کې ځان تيراوه، ځکه پخوايې لا د افغانستان خپلواکي په رسميت پيژندلې وه او له افغانستان سره يې ډپلوماتيک تماس هغه وخت لا ټينګ کړی و چې کابل ته يې د هنتګ هيئت ليږلی و. خو جرمني بياهم، په ښکاره څه نه ويل چې آيا هغه هيواد د جرمن - افغان داړيکو بنسټ د (۱۹۱٦) په جنورۍ کې د جګړې د وخت تړون بولي او که هغه وروستی يې چې حبيب الله خان تر پايه هم لاسليک نه کړ (۹۰). ځکه نو جرمني استدلال کاوه چې د افغانستان خپلواکي خو مو د جګړې په وخت کې لا په رسميت پيژندلې، او س يې بيا تکرار لازم نه دی، ځکه د برتانيې او افغانستان تر منځ د غه ترتيبات دومره نړيوال نه دي لکه دوه اړخيزه چې دي. د انګليس - افغان په اړيکو کې ذارنګه بدلونونه د دواړو دولتونو «کورنۍ» معامله وه.

د جرمني حکومت په دې هکله خوښي څرګنده کړه چې يو افغاني استازی چې په برلين کې به کېږمېږ د نورو ډپلوماتانو غوندې حقونه او دندې لري، له نژدې وګوري. په جرمني کې د يو افغاني استازي شته والی په خپله د هغه د بالقوه په رسميت پيژندنې مانا ورکوي. (۹۱) خو جرمني ځانته دا حق ورکاوه چې هر کله يې لازم وګڼي کابل ته به خپل نماينده واستوي. د (۱۹۲۲) په جولای کې، محمد ولي خان خپل ورار، محمد اديب خان، په برلين کې د شارژدا فير په توګه پريښود چې بيا د (۱۹۲۲) په سپتمبر کې غلام صديق راورسيد او د واکمل وزير د غه لوړ مقام يې واخيست. په برلين کې د دې افغاني مقام لوی کار داو چې د جرمني د صدراعظم او د بهرنيو چارو

وزارت پام دې ته راواړوي چې نورنو هغه وخت رادسیدلی چې جرمني کابل ته خپل استازی واستوي او داسې یو گام به دجرمني لپاره تر هر څه زیاتې سیاسي او اقتصادي گټې ولري .

غلام صدیق پر دې حقیقت ټینگار وکړ چې افغاني هیئت دلویدیځې اروپا له نورو ځواکونو څخه تر مخه جرمني ته ولاړ او دایې دکابل دهیلو ښکارندوی وبلل چې جرمني به په افغانستان کې له نماینده لرونکو لومړنیو دولتونو څخه وي - په تیره بیا دا چې « دجگړې په اوږدو کې ، جرمني دافغانستان ملگرتوب ته زښت زیات اهمیت ورکړی دی . » افغاني واکمل وزیر دجرمني صدر ، فریدر یک ریبرټ ته وویل ، دده هیواد وال چې په افغانستان کې شهرت لري خورا نازول کیږي او حتی د « جرمن » دکلمې اوریدنه په لیرو غرنیو سیمو کې هم دقبایلي وگړو زړونه باغ باغ کوي (۹۲) . غلام صدیق پسې څرگنده کړه چې سر بیره پرلویو ځواکونو یو شمیر کوچنیو دولتونو هم مخکې لا په کابل کې خپلې نمایندگۍ خلاصې کړي او جرمني ته دافغانستان له خوا دلومړیتوب له ورکولو سره سره زمونږ هیواد نشي کولای چې دجرمني له خوا داستازي لیږلو تر وخت به نور خپل کورنې پر مختگ په کار کې لاس تر زنې کښیني . حقیقت دادی چې ، داورگاډي دپټلۍ او لویو لارو دودانو لو ، کانونو او لرغون لټولو په برخه کې دمخه لا دهغه هیواد وگړو ته ستر امتیازونه ورکول شوي چې په کابل کې یې سفارتي استازي لرل (۹۳) .

دډیوالي شوي جرمني له خوا چې ژوندیې پر نړیوال سوداگرۍ ولاړو ، دافغانستان په پر مختگ کې دگډون هیلې ، دهغه هیواد سیاسي زړه نازړه توب نشو رفع کولای . مخکې لاد (۱۹۲۲) په پای کې جرمني سوداگرو په افغانستان کې سوداگرۍ مسئله تر غور لاندې نیولې وه . په « بریمن » کې

يولوى شركت ( كنسر سيوم ) پرانستل شو چې افغانستان ته ديو تجارتي هيئت دلېږلو پروگرام جوړ کړي ، په پام کې وه چې په دې هيئت کې به پر انجنرانو او تخنيک پوهانو سربيره ، ډاکتران هم گډون کوي . دجرمني دبريښنا اړوند ، د« زيمنس شوکرټ » کمپنۍ او دجرمني دپوستين جوړولو فابريکې هم غوښتل چې کابل ته خپل استازي ولېږي ، جرمني سوداگرو او صنايعو په کلکه غوښتل چې دافغانستان په پلازمېنه کې ديو جرمني واکمل وزير موجوديت ډير اړين ضرورت دی ، ځکه يې نو کابل ته ديو جرمني سفارتکار (ډپلوماټ ) دلېږلو په هکله خپل بهرنی وزارت هم راواړاوه . يو بل مهم حقيقت دا و چې جرمنيانو پخوا لا افغانستان ته مخه کړې وه او دافغان حکومت له خوا کارونه ورسپارل شوي وو . ځينې له هغوی څخه په ايران کې تجربه لرونکي او پاتې يې هغه کسان وو چې وړاندې لا په افغانستان کې دجگړې دوخت دجرمني دپوځي هيئت دغړيو يا راتښتيدلو جنگي بنديانو په توگه اوسيدل . ځينې داسې کسان هم پکښې وو چې مخکې له دې افغانستان ته د ورتگ تړون وکړي ددې هيواد نوم به يې هم نه وو اوريدلی . دغوتړولو جرمنيانو غوښتل چې په افغانستان کې دې دجگړې له وخت دجرمني شته والی هماغسې دوام پسې وکړي او د جرمني دبهرنيو چارو پر وزارت يې زور واچاوه چې په کابل کې يوه نمايندگي پرانيزي .

تر جگړې وروسته په افغانستان کې دلومړي ځل لپاره جرمنيان دمحمدولي او محمد اديب له خوا په کار وگمارل شول (٩٤) . تردې دمخه لا ، امان الله دخپلو هغو سمونو او ساختماني پروژو په اړوند چې ورته دبهرنيو کارپوهانو اړتيا ليدل کيده ، ځان يوکړی و . له دې پرژو څخه دلومړيتوب حق دنوي مرکزي ښار (دارالامان) ودانولو ته ورکړل شوی و او يو جرمني انجينير « والترهارتن » ددې مقصد لپاره ، د (١٩٢٢ ) په مۍ کې کابل ته راورسيد .

یو بل جرمن ، پوهاند سیباستین بیک ، د پارسي د عالي گرامر لیکوال او په اسلام مشرف شوی هم و ، د ښوونې او روزنې د وزارت د سلاکار په توگه کابل ته راغی . د بریښنا انجینیر او مخکې په ایران کې د واس موس ملگری ، رودلف او رتیل ، بیاد ( ۱۹۲۲ ) په دوبي کې افغانستان ته راورسید . د غو جرمنیانو دلته د کار د شرایطو او تجارتي امکاناتو په باره کې خپلې کړنې د جرمني د بهرنیو چارو وزارت ته مخابره کړې ، په داسې حال کې چې ویل یې جرمنیان له ارزانه کارکونکو سره اخته دي نو خوښي یې څرگنده کړه چې راتلونکې به ښه وي او په افغانستان کې د جرمني گټې دډاډ وړ دي .

داچې په جرمني کې د اقتصادي حالت د چټکې تباهۍ له کبله په پرله پسې توگه (انفلاسیون ) د دې هیواد اقتصاد سره نیناوه نو افغانستان په ځانگړي ډول هغوی ځانته ورکشول . یو سترلنگ پونډ نابېره په دومره افسانوي ډول سره لوړشو چې د جرمني د پیسو معادل یې هلته یو سړی د یوې میاشتې لپاره چلاوه نو دا چې په کابل کې جرمنیانو ته دوولس پونډه ورکول کیدل هغوی یې خورا جلب کړه او دایې د منځنۍ طبقې د سو کاله ژوند لپاره بې حده لوړ مبلغ وباله . داجرمنیان وروسته په دې پوه شول چې په افغانستان کې د سترلنگ پونډ رانیول دومره لوړارزښت نه لري لکه په جرمني کې چې دی . خو دا ورته مهمه نه وه ځکه د هغوی گوزاره د نورو اروپایانو په پرتله سمه نه وه او په جرمني کې بیکاري زیاته مگر مسلکي کارپوهان یې خوراډیر وو . د جرمني ماتې او بیا یوازې والي د هیواد وگړي بې وزلي کړل ؛ په همدې وجه ، دا د اریانۍ ځای نه دی چې جرمنیان په ډیرې خوښۍ سره دې ته چمتو وه چې لیرو پرتو هیوادو نولکه افغانستان ته لاړ شي او هلته یوه مړۍ ډوډۍ او کار پیدا کړي .

پای دا چې د (۱۹۲۳) په وروستیو کې جرمني حکومت هم په کابل کې

خپله سفارتي نمایندګي خلاصه کړه ، مګر دبهرنیو چارو وزارت بیا هم دبرتانیې دغبرګون په هکله ډاډه نه و . کله چې مصر خپله آزادي اعلان کړه نو جرمني هلته خپله کونسلګري دسفارت پوړۍ ته ورته کړه ؛ په برلین کې برتانوي سفیر « لارډ دي ابرټن » ، هم سمدلاسه خپل حساسیت ښکاره کړاو په ډاګه یې کړه چې دبرتانیې دبهرنیو چارو وزارت په دې عمل سره « هک پک تللی دی (۸۵) . » ددې لپاره چې بیا دغسې ښکاره نه شی ، جرمني دبرتانیې دبهرنیو چارو وزارت وغوړاوه چې کابل ته یې ځکه خپل کونسل استولی چې « هغه هلته پر جرمنیانو پام وکړي او هم له برتانوي استازي سره ګډه مرسته وکړي (۹۶) . » کله چې فریتز ګرویا ، دجرمن شارژدافیر ، د (۱۹۲۳ ) په مني کې مخ پر کابل خوځیدونکی و ، فون شوبرټ له لارډډی ابرټن څخه وغوښتل چې په کابل کې خپل استازي ته لیک واستوي چې هغه له خپل دغه ورتلونکي برتانوي دوست سره « له نژدې مرسته » وکړي .

ماسکو هم په دې عمل سره دخپګان نښې څرګندې کړې . له دې ښاره جرمني رپوټونو ویل چې شوروي ماموران په افغانستان کې دروسي ضد جرمنیانو دکارمیندلو په سر بیخي ترپزې راغلي دي . ځینو جرمنیانو دشوروي اتحاد پرلار دټرانزیټ راتیریدو پر مهال شوروي ضد څرګندونې کړې وې ، په افغانستان کې استوګن جرمنیان ، په وارو وارو دبرتانیې او ایتالیې نمایندګیو ته ورتلل ، په داسې حال کې چې دشوروي پر هغې هیڅ نه ورګرځیدل . دغه ټکي دا امکان هم رامنځته کړ چې ښایي شوروي اتحاد به وروسته له دې پر هغو جرمنیانو ټرانزیټ ویزې بندې کړي چې غواړي افغانستان ته راشي (۹۷) . پر دې مهال د ( ۱۹۲۳ ددسمبر په وروستیو کې ) ډاکتر ګرویا هم په کابل کې و ، هغه دا ښار پر نړیوالو ځانګړنو تقریباً برابر وباله . دجرمني پراستازیو سربیره ، فرانس ، لویې برتانیې ، ایتالیې ، ایران ، شوروي اتحاد ،

او ترکیې هم دلته خپل استازي لرل . دبخارا نمایندګي تازه تړل شوې وه ځکه هغه امارت په سیاسي توګه ختم کړای شو . چینایې هیئت هم راغلی و او بیرته تللی و او په ( ۱۹٤۲ ) کې په افغانستان کې دامریکا لومړنی واکمل وزیر « کارنیلو سن وان اګرټ » ، هم له کابل څخه یوه لنډه کتنه وکړه .

تر دریمې افغاني جګړې وروسته په کابل کې لوړ بهرنی استازی له روسیې څخه ، « کی ،براوین » و : هغه د ( ۱۹۱۹ ) په دسمبر کې دجیلب سوریتیز ، پرواسطه دروس – افغان دتړون په منځته راوړوکې بریالی شوی و . کله چې د ( ۱۹۲۱ ) په جولای کې سور یتیز ماسکوته ستون شو ، پرځای یې « فیودو رسکول نیکوف » کابل ته ولیږل شو . رسکول نېکوف بیا د ( ۱۹۲۳ ) په نوامبر کې له کابل څخه تبدیل او پر ځای یې « لیونید ستارک » وټاکل شو چې د ( ۱۹۲٤ ) په جون کې کابل ته راورسید او د دوولسو کالو لپاره دشوروي نمایندګۍ دمشر په توګه پاتې شو .

وروسته د ترکیې نمایندګي د ( ۱۹۲۱ ) په پسرلي کې کابل ته دعبدالرحمن بیګ پینبوري پر راتګ سره پرانیستل شوه ، داسړی یو کال وروسته د « مدینې دمدافعه کونکي * » ، فخري پاشا پرواسطه عوض کړای شو . لومړنی برتانوی ډپلومات « سرایف همفریسس » ، وچې د ( ۱۹۲۲ ) په جنورۍ کې تیک هغه مهال کابل ته راغی چې دایران واکمل وزیر « اطلاع الملک » هم راورسید . دایټالیې استازی « مارکولیس دې پټرنو » دمحمد ولي خان له

---

*- فخري پاشا په مدینه کې حتی دعثماني واکمنۍ د تسلیمېدو څخه وروسته لاهم فعالیت کاوه برتانوي حکومت هغه دخپل « رشادت » له کبله ډیره موده په مالټا کې بندي کړ ، ځکه نو دادریانتیا ځای هم نه دی چې د ترکي او برتانوي سفارتي استازیو تر منځ تاوتریخوالی منځته راغلی وي .

هیئت سره یو ځای د (۱۹۲۲) په جون کې کابل ته راورسید او فرانسوي واکمل وزیر « موریس فوچر » له « گرویا » څخه درې میاشتې مخکې کابل ته راغلی و.

په کابل کې دبهرنیو ځواکونو اغیزو ته انډول ورکونکې دودیز افغاني تگ لاره یو څپاند پړاو ته ورننوته. یانې دا چې د پلوماتیک استازي په خپل منځ کې پر دووڅه ناڅه سیالو ډلو سره وویشل شول په داسې حال کې چې دریمه ډله « ناپېيلي » پرخپل حال پاتې او د ځاني اقتصادي گټهو په غم کې وه. دبرتانوي رپوتونو له مخې ،« روسي او ترکي نمایندگان پریوه خوا او برتانوي او فرانسوي پر بله خواوو، په داسې حال کې چې ایتالوي او جرمني واکمل وزیران بیا ډیر اندیښمن مگر له دواړو خواوو سره جوړ وو او بالاخره ایراني استازي له وهمه رامخې ته کېدای نه شوه (۹۸).»

امیر امان الله خان په خپله برخه کې لگیاو وچې دغه بهرني اوسیدونکې ترڅارنې لاندې ولري. کله چې د (۱۹۲۲) په مې کې، فرانسوي لرغون پلټونکي فوچر او دهغه ایرانی میرمن کابل ته راغلل ، په افغانستان کې دلرغون لټولو په برخه کې زیات امتیازونه ورکول شول ، افغاني حکومت یوازې په هغه برخو کې « بهرنیو کارپوهانو ته دلټونې اجازه ورکړه چې دنوموړو فرانسویانو په پلان کې شاملې نه وې او بل شرط یې داوچې باید اړونده کارونه یې تر پنځه کلنۍ مودې دمخه پای ته ورسیږي (۹۹).» له دې امتیازورکولو څخه وروسته نوافغاني حکومت د « سراوري یل ستمین » پر غوښته په اسانۍ سره سترگې پټولې چې افغانستان ته یې دراتگ اجازه غوښته. د (۱۹۲۰) له پسرلي را په دېخوا ، برتانوي پوهانو افغان حکومت ته په بلخ کې دلرغون لټولو په برخه کې ننواتې کولې خو فرانسویانو ته له امتیازونو څخه وروسته ، افغاني حکومت دبرتانویانو دغوښتنې دنه منلو

لپاره ښه دلیل پیدا کړ . د ( ۱۹۲۳ ) په جنوري کې په کابل کې دشوروي نماینده له خوا دروسي لرغون لټونکي هیئت دا جازې خواهش هم همداسې رد شو ( ۱۰۰ ) .

باید وویل شي چې دامان الله خان له خوا له اغیزو سره انډول کیدنه یوازې دهغه پر دوو غښتل یو گاونډیانو منحصره نه وه . له جرمني څخه د « هارتن » له رسیدو څخه سمدستي وروسته چې دمرکزي ښار ( دارالامان ) دودانو لو لپاره راغلی و ، امیر یو فرانسوي مهندس « ایې . گوډرډ » په دې کار کې خپل سلاکار وټاکله . دښوونې او روزنې په برخه کې دده یوه ستره سمونتیا (ریفورم ) داوه چې په کابل کې یې دوې لیسې پرانیستې چې لوست یې په جرمني او فرانسوي ژبو و . د (۱۹۲۳ ) په مې کې دریو فرانسوي پروفیسورانو فرانسوي نصاب سره برابر ښوونځی جوړ کړ چې د سوبتیا کتاب یې ډیر ژر دریو سوو زده کونکو ته ورسید . په کابل کې برتانوي واکمل وزیر ددې مسئلې ترشا یوه سیاسي انگیرنه لیدله هغه ځکه شکمن وچې دغو پروفیسورانو ته له فرانسې څخه معاش رسیده او په دې عقیده هم و چې یوه اندازه پانگه د « اسرائیلي اتحادیې » له خوا ورته برابریده . جرمنیانو هم د ( ۱۹۲٤ ) په جون کې یو ښوونځی پرانیست او دهغه مدیر ( ډبلیو ایوین ) ډیر ژر وکړای شو دگڼ شمیر مراجعینو له کبله نور جرمني ښوونکي هم وگوماري ( ۱۰۱ ) .

افغاني حکومت دزده کړې لپاره ډیر زده کوونکي بیلابیلو هیوادونو ( په سر کې جرمني او وریسی فرانسې او ایتالیې ) ته ولیږل ( ۱۰۲ ) . برتانوي مامورانو څرگنده کړه چې « دوخت په تیریدو سره ، جرمني هم دافغاني زده کونکو دښوونې او هم دخپلو تخنیکي پرسونلو داستخدام لپاره ورغ ترورځي

دافغـان حکومت په زړه کې ځای نیسي ، » په داسې حال کې چې « له لویې برتانیــې او روســیــې څـخـه د پرسـونلو د گـومـارلو په برخـه کـې ، دهغـوی دجـغـرافـیـایـي ورنږدې توب سره سره افـغـاني رویـه ، طبـیـعـتـاً ډیره پڅـه ده (۱۰۳). »

وار په وار داسې معلومیده چې یو هیواد لاهم کولای نه شو په افغانستان کې دفعالیت ځانتني ( انحصار ) ترلاسه کړي خو جرمني بیا هم له یو ځانگړي دریځ څخه گټه اخیسته .

# {دریم څپرکی}

## دامان الله لومړنی سمونتیاوې

### نابغه مشر

کله چې امان الله خان په (۱۹۱۹) کې قدرت واخیست ، له اسلامي نړۍ څخه د خلافت او سلطنت عادي رژیمونه مخ پر ځوليدو وو ، په داسې حال کې چې پر ځای یې مشروطه شاهي یا وار په وار داسې نوي دوله سیاسي رژیمونه راتلل چې واګې به یې د پوځي - سیاسي ډوله مشر لاس کې وې . امان الله خان په ځان کې دادواړه ځانګړنې لرلې . سربېره پردې ، کله چې یې دانګلیس - افغان به دریمه جګړه کې برتانیې ته لینګته واچوله نو دډیرو کسانو په نزد داروپایي ښکیلاک په وړاندې دیو آسیایي هیوادپال په توګه وپیژندل شو . دبرتانیې په مقابل کې دامان الله خان بریالیتوب ټول افغانان دده تر مشرۍ لاندې سره یو موټی او په اسلامي نړۍ کې یې د پیژندل شوي لارښوونکیو په ډله کې راوست . که امان الله خان خلافت غوښتلی نو دا لازمي وه چې د یو سمون پال (اصلاح غوښتونکي) حیثیت یې لرلای ؛ ولې

دیو سمون پال په ډول دده گرانښت هله کم شوچې دیو افغاني مجبوب القلوب په توگه له لس کاله قدرت چلولو څخه وروسته له هیواده وشړل شو .

کله چې امان الله خان ځواک په لاس کې واخیست ، په افغانستان کې دانگلیس - افغان دجگړو ، دښکېلاکي گاونډیو ددایمي فشارونواو دعثماني واکمنۍ دله منځه وړو په خاطر داروپایي ځواکونو دعملیاتو په نتیجه کې دهیواد پالنې یو شدید حالت خپور و . دوسلې په زور دخپلواکۍ گټلو روح دافغاني ټولنپالنې یوه بنسټیزه بیلگه وه ، همفریس له کابل څخه رپوټ ورکړ چې دامان الله خان دواک په لومړیو څو کلونو کې د « خپلواکۍ » توري له خپله ځانه بیزاره شوی ،ځکه هرځای دهرچا پرواسطه ډیرویل کیده ، او « له پاچا څخه نیولې تر هغه اوښ والاو پورې چې دهند او منځنۍ آسیا له بازارونو څخه په لوړه غاړه تیریږي ، دټولو افغانانو له سږمو څخه د آزادۍ ساه راوځي . » ( ۱ )

دامان الله خان هیواد پالنې ډیر ژر یو داسې اصلاح غوښتونکې پړاو ته وده وکړه چې پر یوه داسې غیر مذهبي برابروالي ولاړه وه چې افغانستان له دې څخه مخکې هیڅ لیدلې نه وه . کله چې عبدالرحمان « اوقاف » ملي او دعلماوو قدرت یې کم کړ ، نو داکار چاپر اسلامي قانون اوموسسو باندې تیرۍ ونه گڼل شو . عبدالرحمان ځان ډیر « پرهیزگار سلطان » په توگه راوړاندې کړ او مذهبي او لامذهبي ځواکونه - یانې امامت او امارت یې په لاس کې ونیول . که څه هم چې دده ځینې سمون تیاوې له نویو گناهونو څخه ډکې ښکاریدې ، خو دعبدالرحمان عمومي انداز دیو داسې واکمن وچې دقدرت تیرۍ او دغلیم دسر توره وه . مگر بیاهم هغه یو روایتي پرهیزگار سلطان گڼل کیده او دغه مقام ته یې دیو محو شوي خلافت دعوض نوم ورکاوه . دلومړۍ نړۍوالې جگړې له ختمیدو سره سمدلاسه نوې ډول سمون تیاوې راښکاره

شوې حې امان الله خان ، دایران رضا شاه او کمال اتاترک یې خوږا او ځار وو چې ډیر دسپیڅلو دودونو ته یې په سپک نظر وکتل حتی دا چې ترکې مشر خو ښځي مذهب ته شاو گرځوله .

هغه مهال چې امان الله خان قدرت ته ورسید ، په کابل کې برتانوي استازي رپوټ ورکړ چې :« ویل کیږي چې امیر یو داسې فرمان صادر کړی چې په ټینگه د پردې او حجاب غوښتو نکی دی او ښځې داروپایې طرز لباس اغوستنې او په مجلس کې دبې سترۍ څخه منع کوي . په دې مسئله کې دامیر دغه حرکت دده د گرانښت یو ستر علت گڼل کیږي (۲) . »

دورستیو پرمختیاوو په رڼا کې ، ددې کنایې اهمیت په دغسې یوابتدایي حالت کې نورهم لوړځي . که څه هم چې امن الله خان هیڅکله له خپل هیواده پر ته کوم بل ځای نه و لیدلی ، مگر بیاهم یو کلک مترقي سمون پال و . کیدای شي وو ایو چې په افغانستان کې د بهرنیو کارپوهانو او د هنتیگ - نیدرمایر دهئیت له غړیو سره دده تماس ښایي دی دغسې یو تمایل ته ور اړولی وي ؛ سربیره افغاني واکمنان ، له عبدالرحمان څخه را په دې خوا سمون پال وو خو حبیب الله خان په دې هکله ټینگ نه و او یو ځنډنی پروگرام یې پر مخ واهه . دامان الله خان سمونتیاوې په اصل کې ډول ډول وې چې هغوی عنعنوي او ټولنیز - اقتصادي دواړه خواوې رانغاړلې .دده دمفکورې لوری ، دهغه لیک له یو پاراگراف څخه ښه را معلومیږي چې دانگلیس - افغان تر دریمې جگړې وروسته یې دسولې دخبرو اترو په باره کې مرستیال واکمن ته لیکلی و . په دې لیک کې ده په ډیر فصاحت او بلاغت سره څرگندونې کړي چې ښایي دمحمود طرزي لاس کښلی خط به وي : « دخپلواکۍ او طبیعي انسان ولۍ او ملي آزادۍ روح ، په خپل عجیبه او اریانو نکې نړۍ شموله برقي او مقناطیسي قدرت سره چې دسولې زیرې ورکوي ، دبشري مظلومو طبقو

شوریدلي زړونه دې ته راکشو ي چې دنړۍ په هر گوټ کې بیرته پراخ او سره وغوړیږي او په یو فوق العاده طاقت سره هغوی دسولې او مساوات په چوکات کې سره غونډ او په بیلا بیلو ولسونو کې دهغوی په سر ظلم او تسلط مړیني ته ورپورې وهي .... » (۳)

دامان الله مفکوره چې ځای ته ونه رسیده تر یو حده له وخت څخه دمخه وه ، ولې بیا هم هغه د شلمې پیړۍ یو داسې انسان وچې دانقلابي عصر هیلې او امیدونه یې لرل .

امان الله خان چې مونږ یې پیژنو خو یو سمون پال امان الله خان و ، مگر دیوې لنډې مودې لپاره دا هم بیخي ممکنه وه چې هغه دیو خلیفه امان الله خان په توگه راشي . که څه هم چې دا دیو تاریخ پوه لپاره بې ځایه ده چې دده اصلي لوری وټاکي ، خو مونږ باید ورپورې اومابعده امکانات هم رد نکړو . لکه څنگه چې ډیر وکسانو هغه دیو سمون پال په چوکاټ کې ډل بندي کړی و ، خو په آسیا کې گڼ شمیر مسلمانانو پر برتانیه باندې دورستۍ جگړې دبریالیتوب په وجه هغه داحترام وړ یو مسلمان پاچا باله . کله چې عثماني واکمنې او خلافت تر بهرني واک لاندې کنبیوته نو په هند او هر ځای کې هر څوک یوازې او یوازې دده په امید شول . دخپلو اسرو لپاره د افغاني واکمن سرابنتوب حتی دهندي حکومت مامورانو هم هغه وخت ومانه ،کله چې د (۱۹۱۹) په فبرورۍ کې د حبیب الله خان تر مړینې لږ څه وروسته ډینس برې داسې څرگنده کړې وه : « دامیر دالوېه تمنا ده چې له ده سره داسلامي دولتونو لکه افغانستان ،ایران ،بخارا ، ترکستان یو فدراسیون جوړشي چې ضرور به یې دی سلطان ، یا حتی خلیفه وي ، (٤) » سردار عبدالقدوس دانگلیس - افغان تر دریمې جگړې وروسته په کویټه کې له برتانوي مامورانو سره دخپلې مکاتبې په ترڅ کې ، یووار بیا وړاندیز وکړ چې په دې

باره کې فیصله کیدونکې ده چې څوک به خلیفه شي او ده په دې کې هیڅ شک نه لاره چې امیر امان الله خان دغه مقام ته رسیدونکی دي (٥).

د (١٩٢٠) په نوامبر کې، هندي حکومت لندن ته داسې رپوټ ورکړ: «نور نو موږ نشو کولای دامیر دتاکنې په باره کې تنبلي وکړو ..... مونږ په دې باور یو چې هندي بنست پال کسان، لکه شوکت علي، به هم دامیر تاکنه قبوله کړي .... دا لازمه نه ده چې موږ اوس لا دهند لپاره هغه ناوړه وضع بیان کړو چې دامیر دانتخاب په نتیجه کې به منځته راځي خو دا پر ځای ده چې دهغه ددفعې لپاره ممکنه اقدامونه وکړو ... دامیر تاکنه هندوستان ته ګړندی بالقوه خطر لري (٦).»

له کابل څخه دیو رپوټ له مخې، هلته دخلافت لپاره دامان الله خان دغوښتنې په هکله یو یو ګام پورته کیده. ددې رپوټ له مخې، «د (١٩٢٠) دنوامبر پر (١٩ مه) دکابل په محلي په جومات کې، دشوربازار حضرت صاحب ترلمانځه وروسته، دیوې وینا په ترڅ کې اعلان وکړ چې امیر یوازینی هغه خپلواک مسلمان واکمن دی چې اوس داسلام مشري کوي او دنړۍ مسلمانان باید هغه ته د خلیفه په توګه سلامي وکړي. (٧)»

دامان الله خان په خپله دانه وه خوښه چې ددې مقام لپاره دې وټاکل شي خو کله چې په (١٩٢٤) کې خلافت له منځه ولاړ نو «امان افغان» هم ... وکړ چې یو اسلامي کنفرانس «باید په داسې یو سوچه اسلامي هیواد ... شي چې هغه هم له بهرنۍ دسیسه کارۍ او هم بهرنیو اغیزو څخه ... وي» چې ... هغه په لړ کې یو بل خلیفه وټاکل شي. مګر کله چې ابن ... سعود حجاز ونیو او په (١٩٢٦) کې دمکې کنفرانس جوړ شو، امان الله خان له ... اندې څخه لا داسې نه خوښوونکو سمونتیا ووته لاس اچولی و چې

ورغ تر ورځي يې دخلافت لپاره دده چانسونه کمول . دهند لپاره دخلافت مسئلې خاص اهميت لاره (٨) . هلته دجمعې خطبه که څه هم چې برتانوي واکمن حکومت چلاوه دعثماني خليفه پر نوم ويل کيده . دعثماني واکمنۍ ماتې ، په هند کې دخلافت غورځنګ غښتلی او دشوکت علي غوندې مسلمان هيواد پال هيله من وو چې په خپله دغه مبارزه کې چې دبرتانيې له متابعت څخه دغاړې غړونې اعلان به وي ، بناپې بريالی شي چې له دې لارې دسولې دغه شرايط هم دترکيې په ګټه راواړوي ، مهاتما ګاندي دمسلمانانو له غوښتنو څخه ملاتړ وکړ (٩) . تقريباً همداوخت د ( ١٩٢٠ ) په سرکې امير امان الله خان څرګنده کړه چې ؛ « دی له ټولو مسلمانانو سره د يو اسلامي خلافت په غوښتنه کې ځان شريک بولي او غواړي چې ټول غير منقول سپېڅلي ځايونه ددې خلافت تر څارنې لاندې وي . » د ( ١٩٢٠ ) په فبرورۍ کې افغاني واکمن په ډاګه کړه چې « دی له خپله اړخه چمتودی چې دخلافت لپاره خپل ژوند قربان کړي . . . . » ده همدارنګه وويل چې « په افغانستان کې به ټولو هندي مهاجرو ته ښه راغلی وويل شي . » ( ١٠ ) دغه « مهاجرين » مسلمانان په دې مفکوره وو چې زياتې په يو کافر هيواد « دارالحرب » کې نه شي پاتيکېدای ، او غوښتل يې چې د مسلمان پاچا هيوادته پناه يوسي . د ( ١٩٢٠ ) په مۍ کې لومړنيو کډوالو ، افغانستان ته هجرت وکړ او ډيرژر ددې مهاجرو بهيردومره زيات شو چې دافغانستان له توانه را ووتل څو هغوی ته نور ځای ورکړي . کيدای شو افغانستان له ځانګړو مسلکي او کسبي مهاجرو څخه کار اخيستی وای ، مګر هغوی زښت زيات بې وزلي او بې مهار ته خلک وو . ځيني يې په افغانستان کې ميشته شول ، په داسې حال کې چې نور يې شوروي اتحاد يا ترکيې ته ولاړل ، اوزيات شمير

يې ورو ورو هندوستان ته بيا ستانه شول *.

دخپل سلطنت د پراخولو ياد خلافت لپاره د ده تلو سو چې امير خورا اهميت ورکاوه ، دعمل جامه وانه غوسته خو دومره يو غټ هدف يې تر لاسه کړ چې دهر افغان زړه ورته تړی و : هغه دا چې ده جګړه را پيل کړه او دخپل هيواد لپاره يې خپلواکي وګټله او په ډيري ځير کی سره يې داسې تګ لاره پر مخ ووهله چې دهغې له مخې يې له نړی څخه دافغانستان دآزادی په رسميت پيژندنه حاصله کړه . دنړيوالو کړلېچونو پر وخت ددې دوو کارو په نتيجه کې نورو بهرنيو ډرامه يزه سياسي پر مختګونو امکان نه لاره . ځکه نو ډيمو کراتيک امان الله خان هم د يو سمون پال امان الله خان په توګه راميدان ته شو .

---

* - افغان حکومت دهندي مسلمانو کډوالو دانتظام لپاره ، لاندينې احکام صادر کړل:

۱ - افغانستان ته له راتلونکو مهاجرينو څخه هيله کيږي چې له پښور څخه منن ليک ( تصديق ) ځان سره راوړي ، دوی به دافغاني اتباعو غوندې مساوي حقونه ولري او شريعت به پرې چليږي .

۲ - هغو کسانو ته چې افغاني متابعت قبول کړي ځمکه ورکول کيږي : مجرد ته شپږ جريبه ، واده والا ته اته جريبه او کوچنيانو او نا واده شولو نو ته به يې هم څه ورکولی شي .

۳ - ددې مهاجرينو دلومړنی رشې تر اخيستلو پورې به هرد مياشت غټانو ته دسړي په سر پنځه منه وړه او کوچنيانو ته درې منه في نفر حواله کيږي .

٤ - په لومړي کال کې به ديوي او کرلو دغنمو درانبولو لپاره پيسې له مخکې څخه ورکول کيږي .

۵ - دد ريو کالو لپاره به دهغوی دزمځکې عايد ورځنې وانه خيستل شي .

٦ - دحکومت له منظوری څخه پرته هيڅ مهاجر په ليست کې نه نبول کيږي .

۷ - حکومت به دهغو کسانو لپاره چې تعليم يې کړی وي مناسب کارونه لټوي ، پاتې کسان کولای شي چې دخپلې خوښې کار وکړي .

۸ - مهاجرين به له رارسېدو څخه وروسته ډيوي يادوو مياشتو پرمخ ددې لپاره په جبل السراج کې هستوګن وي چې زمکې او دکور اسانتياوې ورته برابرې شي .

# سمون تیاوې او غبرګونونه

کله چې د امان الله خان لومړنۍ سیاسي دنده (د افغانستان آزادي ترسره شوه) خپله انرژي يې ټوله دې ته وقف کړه چې د یولړ پراخو سیاسي، اداره يي او ټولنیزو سمونتیاوو بنسټ کښېږدي، امان الله خان په (۱۹۲۳) کې دلوی اختر په مناسبت اعلان وکړ چې: «نورنو دقلم شپې ورځې دي نه د توري، » او د بېنه راتلونکي لپاره يې يو نوی فرمان هم خپور کړ. مګر لس کاله وروسته يې درک کړه چې د ده تاج او تخت ځکه ولاړ چې «توري» ته يې اهمیت نه ورکاوه.

د امان الله خان له لومړنیو کارونو څخه يو يې د استازيو دیوې داسې اداري منځته راوړل وو چې د حکومت ذمه واری يې د پاچا له هغې سره برابر ولې. ده خپل د غه کوښښ يو اسلامي رسالت وباله:

ما د قرآن مجيد د دې ښکاره امر د منني په غرض چې وايې، «سلامشوره وکړه اې پیغمبره! په چارو کې دې له خپلو پیروانو سره او کله چې دې زړه بیغمه شو، بیا يې نو خدای ته پرېږده،» هغه هر کله غوښتي چې ټول ملت باید تر آخري وسه، د دولت په ټولو هغو حیاتي چاروا کې را سره مل وي په

ولسي ښيګڼې پورې اړه نيسي او تر خپل توان پورې دهغه د روند پيټي په سپکولو کې قول او مشوره راکړي چې زما پر اوږويې ايښې دي .

د امير حبيب الله خان دوخت غونډې ، ده هم يوه شورا تاسيس کړه . ددغې شورا ، « شوراى دولت » دندې داوې چې يو لړ داسې قوانين « نظامنامې » راوباسي چې هم پر اسلامي او هم پر جاري قانون تکيه وي . له نوموړې شورا سره به داسلامي فقهې پوهان ، يانې د « هيئت تميز » يوه جرګه ګې مرسته کوي. په پام کې وه چې په ولايتونو کې داسې جرګه ګې جوړه شي چې دڅانګن حکومت او دواليانو دناوړه اداري په برخه کې سيمه يزه حکومت ته سلا مشوره ورکړي . امان الله خان همدارنګه خپل « يو بل پخواني ارمان » يانې ديوې « لويې جرګې » جوړول هم اعلان کړل ، داسې چې هغه به لږ ترلږه په کال کې يووار غونډېږي چې دملت استازي وکولاي شي چې « دافغانستان دلوړ تيا او پر مختګ لپاره په يو دزړه توليې حياتې ستونزې اونقشې حل او فصل کړي . (۱۱) »

د (۱۹۲۳) دجون په نيمايي کې نمايندګان کابل ته راوغوښتل شول چې له امان الله خان سره دهغه دسمون تيا وو د پراخ پروګرام په مسؤليت کې ځانونه شريک کړي . دجولاى پر ( ۱۹مه ) دجرګې لومړنۍ غونډه جوړه شوه ، مګر هغه توله په تشر يفاتو سره پاى ته ورسيده . امان الله خان دجرګې له ( ۹۳۹ ) غړيو سره معرفي شو او په کلکه ددې غوښتونکې و چې له هر يوه سره دغيږ روغبړ وکړي . دا غونډې دجولاى له (۱۹) څخه تر ( ۳۱ مه) پورې په پغمان کې وشوې او په اجندا کې يې توليې کورنۍ او بهرنۍ چارې شاملې وې . ددې لومړنۍ جرګې پر يکړې پټې ساتل کيدې او دتولو استازيو او د هغوى له مرستيالانو څخه چې (۱۰۵٤) کسو ته رسيدل ، په کلکه غوښتنه وشوه چې خپلې کړنې چاته ونه وايي (۱۲) . امان الله په خپله پرانيستو نکې وينا کې

استازیو ته خبر داری ورکړ چې غلیمان افغانستان ته ګوت ځنډنه کوي او دهیواد خپلواکي او ځواک به مو هله ژغورلی وي چې افغانان سره یو موټی شي .

وروسته افغان خارجه وزیر خبرې وکړې ، هغه دافغانستان له خوا تر آزادۍ وروسته لاسلیک کړي تړونونه ورته ځرګند او له وکیلانو څخه یې دهغوې په باره کې خپلې نظریې وغوښتې . که څیرې دغې جرګې بې ځایه هوکې هوکې لرلای نو امان الله خان به ډیر نامینده شوي وای . استازي دخپل خپل نظر پر وړاندې کولو کې پخ نه وو او دا ځرګنده شوه چې پر جرګه یو زوړ پلوه ( محافظه کارانه ) حالت خپور و .

دروس افغان تړون ته خورا ډیره ګوته ونیول شوه . واردواره دلسمې مادې دامتیازونو په هکله دماسکو غاړه غړونه پسې راتینګه کړای شوه چې دهغې له مخې افغانستان باید بیرته هغه سیمې اخیستې وای چې په ( ۱۹۸۵ ) کې یې دپنجده دبحران پر مهال له لاسه ورکړې وې . دنوکې بله ګوته دخیوا او بخارا پر آزادۍ پښه ایښودلو ته ونیول شوه ، ځکه چې دهغوی ولسي شته والی هم دافغانستان او هم دشوروي اتحاد له خوا په رسمیت پیژندل شوی و . آن دا چې یوه استازي وړاندیزو کړ چې افغانستان دې دشوروي اتحاد پر ضد جګړه اعلان کړي ، خو افغان خارجه وزیر هغه پوه کړ چې تاسو ته دنړیوال سیاست ښاخونه درمعلوم نه دي او ګواکې دا چې شورویان او افغانان دوستان دي نو ځکه باید هغوی یو دبل پرضد جګړې ته هم لاس وانه چوي (۱۳) . له ایتالیې سره تړون دتولو له خوا تصویب او دوسلو او کار پوهانو په برخه کې دایتالیې مرستې ته په درنه سترګه وکتل شوه . دبرتانیې سره دتړون په هکله ، افغان خارجه وزیر ځرګنده کړه چې برتانیې دامیر لیک ته پر ځواب نه ورکولو او افغاني خاورې ته دالوتکو دلیږلو له امله جګړه را پیل کړه . کله

چې جګړه ونښته ، دبرتانيې حکومت پيغام راوليږه چې « که افغانستان دانګلستان پرضد دخپلې آزادۍ دژغورنې په خاطر جګړې ته لاس اچولی نو مونږ خو په تمامه مانا دهغه دخپلواکۍ او استقلال په مخ کې نه درېږو او که چيرې ، دهغوی دا جنګ په بل هدف وي نو هيله ده چې په بشپړه توګه راته وويل شي چې دهغه په سر خبرې اترې وشي . » تردې وروسته افغان خارجه وزير هغه تړون ورته وښيي چې دهغه له مخې ددواړو قواوو تر منځ دجګړې حالت پای ته رسيدلی و . په دې هکله دافغاني استازيو له خوا دسرحدونو دسره ننوتلو پر مسئله هم زياتې نبوکې وشوې ، خو امير اعلان وکړ چې دا تړون يو کال نور وخت لرې کيدای شي افغانستان يې له يو کال انتظار څخه وروسته فسخ کړي ، په دې خبرې استازې هم ښکاره قانع شول ( ١٤ ) .

دترک - افغان دتړون دڅيړنې پر وخت دکمال اتاترک پر کړنلارو او دا چې خلافت يې له منځه يووړ سخت انتقاد او غالمغال وشو . وکيلانو پريکړه وکړه چې پر ترکانو دې تاکيدوشي چې پر دغه موضوع بيا غور وکړي او ددې تړون اعتبار ومني ، پرته له هغې مادې څخه چې وايي افغانستان دترکيې خلافت مذهبي مشرتيا په رسميت پيژني . دجرګې ځينو غړيو وړانديز وکړ چې افغاني واکمن دې خلافت په خپل لاس کې ونيسي خو ترکيه او ايران به په دې هکله مالي مرسته برابروي ( ١٥ ) .دنور واروپايي هيوادو نو سره تړونونه تصويب شوه او « جرګې » سپارښت وکړ چې « له ايران او فرانسې سره دې اړيکې نورې هم پسې ټينګې شي » او هم يې دافغاني زده کوونکو دښوونې او روزنې او افغانستان ته دوسلو دبرابرولو په هکله دفرانسې څخه قدرداني وکړه .

د « جرګې » غړيو دجرمن - افغان (DACOM) ؛ يا پخوانۍ اورينټل - هنډلس اې . جې ) کمپنۍ پر فعاليتونو کوم قيد او شرط نه لاره چې دهغې په

باره کې نورې خبرې اترې کېدونکې وې . هغوی سپارښته وکړه چې کمپنۍ دې تر هغو خپل کار پر مخ بیایي ، څو چې جرمن حکومت د هغې داعتبار تصدیق کوي . جرګې همدارنګه له جاپان سره د سفارتي اړیکو پر پیل کېدو باندې ټینګار وکړ . په پای کې ، جرګې د بهرنیو چارو د تماس په اړوند امیر وستایه او هغه ته یې خپل بشپړ باور او ډاډ ښکاره کړ (۱۶).

په داسې حال کې چې جرګې په یوه خوله په بهرنیو چارو کې د امان الله خان کړنې منظورې کړې خو د کورنیو سمونتیا وو په هکله یې له هغه سره ښکاره مخالفت وکړ .

ډیرې نیوکې پر نوو قوانینو ، د (نظامنامو) باندې وشوې . اساسي قانون « نظامنامهٔ اساسي » اصلاح او ځینې ټولنیزې رواجیدنې پکې راوړل شوې ؛ د بېلګې په توګه ، دویمه ماده یې تر اصلاح کیدو وروسته داسې وه . « اسلام د افغانستان منل شوی دین او حنفي مذهب د هغه رسمي او ټولنیزه ځانګه ده . له هندوانو او یهودانو څخه هم په افغانستان کې ساتنه کیږي په دې شرط چې د سرې سرمالیه ( جزیه ) به ورکوي ، ځانو نه به سم متمایز کوي او روانه آرامي او عامه ذهنیت به نه ګډوډ وي . (۱۷) » ځینو وکیلانو په دې ټینګار وکړ چې غیر مسلمان وګړي دې یوه ځانګړې خولۍ پر سر کړي چې په دې ډول وپیژندل شي او « سلام علیکم » ورته و نه شي ، مګر حکومتي ویاند څرګنده کړه د غسې اقدام د افغانستان له رواجي زغم سره ورنه ښکاري او په دې توګه داوړاندیز هم وغور ځول شو . نهمه ماده په دې ډول سره نوې شوه : « ټول افغاني اتباع د ځاني آزادۍ څخه ګټمن دي ، په دې شرط چې د هغوی جاینو مراعات وکړي چې د مذهب له خوا وضع شوي او په دولتي جزایي قوانینو کې تصریح شوي دي . » او په څلوریشتمې مادې کې ویل شوي « ظلم او د کړاونو ډولونه په عام او تام ډول سره ځای نه لري . هیڅ چا ته

دشريعت دمقرراتو يا په دې هکله ددولتي قوانينو داړونده مادوله تطبيق څخه ماسيوا جزا ورکول کيداى نه شي. »

دواده کولو په برخه کې دامان الله خان قانون ،« نظامنامهٔ نکاح و عروسي » ، چې د يوې ښځې پر کولو ولاړو او دڅو ښځو پر کولو يې نغدي ماليه وضع کوله او هم يې دواده منن ليک لازمي باله ، له اسلامي قانون سره مخالف وبلل شو . خو جرگې په همدغه وخت کې له ښځو سره دناوړه چلند په وړاندې دسزاورکولو سپارښتنه هم وکړه . دجريمو په باره کې دجزا دقانون مادې هم دغير اسلامي توب په توگه ترحملې لاندې راغلې . ځينو استازيو داسې وويل چې جرماني دبډايانو لپاره دومره سخته جزانه ده ولې که څوک ونه شي کړاى هغه تاديه او پرځاى يې بند قبول کړي نو په هغه صورت کې به يوازې بيوزلي کسان وکړېږي اوبس . جرگې سپارښتنه وکړه چې دجريمو پرځاى دې جسماني جزاوې وضع شي . يوې مادې دخطرناکه غلو لپاره داعدم اوبلې دفقر دمخنيوي غوښتنه کوله .

دښونې او روزنې په برخه کې استازيو سپارښت تنه وکړه چې داسلامي پوهنو دلوستنې لپاره دې « عربي » پوهنځى تاسيس کړاى شي ، په هرحال ، ځينو وکيلانو ددې زمانې ښوونې او روزنې ته ، په تيره بيا دنجونو په باره کې دانتقاد گوته ونيوله ، داستازيو اکثريت رايه ورکړه چې جرمني او فرانسوي ښوونځي دې نه تړل کيږي ، ځکه په « قرآن » کې د پرديو ژبو زده کړه نه ده منع شوې خو دښځينه مکتبونه ، په تيره بيا ليسې دې وتړل شي.

جرگې هڅه وکړه مگر ويې نشو کړاى چې دعسکري هغه جلبي سيستم تعديل کړي چې د دوه ويشت او اووه ويشت کلنوتر منځ يې له هرو « اته » کسو تکړه ځوانانو څخه يو نفر عسکرى ته غوښت . دغه « اته کسيز » سيستم ، چې ذکرشو ، دقبايلي جلب او احضار سره ټکر و خوړ . حکومت هم دې ته

اړشو چې د معافیه واړونده فیس راټیټ کړي او په ځینو شرایطو د جلبیانو عوضي کسان قبول کړي . جرګې هدایت ورکړ چې په خپله خوښه دې په عسکري خدمت کې شمولیت ومنل شي ، مګر حکومت پردې ټینګار وکړ چې جرګه مخکې له کومې پریکړې باید په دې هکله له عوامو څخه نظر وغواړي .

جرګې همدارنګه د پاسپور ټونو او پیژند لیکونو ،« تذکرۀ نفوس » ، له ورکړې سره مخالفت وښود خو په څو ځانګړو شرایطو کې یې موافقه ورسره وکړه . مخکې وضع شوې جزاګانې چې په نوو جزایي قوانینو کې درج شوې ، د شریعت پر خلاف وبلل شوې ؛ د اسلامي قانون له مخې سزا باید تر کلې او ثابته نه وي ، ځکه په پورته ډول دا څرګندې دای نه شي چې د سزا په اوږدو کې مجرم کله ځان اصلاح کوي او بیرته سم ژوند ته راګرځي . سپارښتنه وشوه چې د محتسب اداره ، یانې په بازارونو کې د بیوګرو یزونکې او د عامه اخلاقو څارونکې دی باب کره شي .

لویې جرګې د افغان واکمن د خدمتونو دستاینې په توګه امان الله خان ته دغه ویاړنې وبخښلې : ( ۱ ) د برکت او ځانځنې دعاوې ( ۲ ) د « لویې جرګې » نښان او همدارنګه یو ټوپک او یوه توره ( ۳ ) د « غازي امیر المومنین تولواک امان الله خان » لقب ( ٤ ) او هم د « سیف الملته والدین » اضافي خطاب .

امان الله له خپلې جرګې څخه د دې ویاړ بخښنې پر مناسبت د زړه له کومي مننه وکړه خو د دې مختلفو امتیازونو په قبلیدو کې یې ځان ته حق ورکړ . لکه څنګه چې نښان او توره یې ونه منل ، مګر ټوپک یې قبول کړ ، ځکه د ده په خیال القاب او توره په ښکاره توګه روایتي بنه لري ، په داسې حال کې چې ټوپک نوې ټکنالوجي ، پرمختګ او په درد خوړنه تمثیلوي . امان الله خان همدارنګه د « تولواک » پښتو ویی ( چې د افغاني قبیلو ژبه ده ) ځکه ونه

..انه چې ويل يې تراوسه لا دغه ژبه په سراسر افغانستان کې نه ده منل شوې او ... ويل دا به ښه وي چې په ساده ډول د « اميـر امان الله خان » په نوم سره ...لمل شم . پاتې دواړه لقبونه پر اسلامي دود برابر وو ، يوه يې د پخواني خلافت ...شر تيا انځورولـه ، او دويم يې چې غير روحاني و ، تر ډيره ځايه په .. منوي ...ول دده پلار او نيکه هم لاره . امـان الله خـان د « غـازي » لقب ومـانـه ، لکه څنگه چې د برتانيې پرضد په جگړه کې يې ښايې ځان ددې لقب مستحق بللى و .

په جرگه کې دغه زوړ پلوه ( محافظه کاره ) روحيه د تعجب خبره نه ده . ځکه د سمون پالو او د نوي عصر د « ځوانو افغانانو » تام اکثريت له مرکز څخه راغلى وو ، په داسې حال کې چې له ولاياتو څخه راغلي وکيلان د عادي سپين ږيرو مشرانو او دريو سوو عـالمانو څخه مـ..سکل وو ( ۱۸ ) . جرگه اصلاً پردوو نظرياتي خـواو ويشل شـوې وه يـانې يوه يې « حکومـتي ډله » چې داوسني عصر اړتيا والو څخه جوړه وه او بله يې مخالفه ډله وه چې له زوړ پـاله معمولي کسـانو څخه جوړه ده . آن دا چې له حکومتي ډلې څخه هم ځينو ، په تيره بيا د ښوونې او روزنې وزير فيض محمد خان ، تر کيې ته د خلافت د فسخ کولو په سر سپکې سپورې وويلې خو ښايي دابه دده ځاني نظرو ، ځکه دى دهغه هيئت غړى و چې د ترک - افغان تړون يې رامنځته کړ ( ۱۹ ) . همدارنگه په جرگه کې دده پر وزارت باندې جوړه جوړه نيوکې وشولې ، نو ښايي د ښوونې او روزنې وزير ددې کنبيکښنو څخه د ځان بچولو په خاطر له مخالفانو سره په يوه خوله شوى وي .

دافغـانسـتـان له پاره دامـان الله خـان خوبونه څرگندوو : ده يو غښتلى او خپلواک ملت ، پرمخ تللاى او عصري اسلامي دولت غوښت ، دا خوب دده په ژوند کې پوره نه شو . لاکن امان الله خان دراتلونکې لپاره دهغه تخم ضرور

وشینده اودده ناکامي دهغه دځای نیونکـــــو لپاره یوښه سبق شو . هو ، امان الله خان دغه بدلون راپیل کړ چې په کلو کلو مخالفت که ورسره وشي نو ښایي دهغه ګړندیتوب راکم کړي لاکن دتل لپاره به یې تم نه کړای شي .

امان الله خان یو روښان فکره مګربې تجربې واکمن و چې کم شمیره «ځوانوافغاني» اصلاح غوښتونکو یې ملاتړ کاوه ، ده غوښتل چې افغان ولس له مړژوندیتوب او زوړ پالنې څخه را بهر کړي او ټولو ته دښه ژوندون لاره وښيي . دافغانستان غوندې دیو غریب هیواد اقتصادي سرچینې او دکار پوهانو محدود شمیر او سرتیر خلک که په پام کې ونیول شي ، نو داواضع ده چې دده سمون تیاوې تر وخت دمخه ، په نیمګړي ډول پلان شوې وې او دنوبت له مخې په اټکلي ډول بشپړشوې وې . پر دغو سربیره ، امان الله خان په دې وجه هم ناکام شو چې دومره پانګه یې نه لرله چې یو ټاکلی ریفورم په هغه سره عملي کړي ، کله چې به یې دغسي وکړ نو مجبور به شو چې دبلې هغسې پروژې څخه پیسې ورانتقا ل کړي چې اهمیت به یې ددې ریفورم څخه کم نه و . دافغانستان ستره پانګه دمخابراتو ، سړکونو ، تلګراف ، او تلیفون غوندې پروژو پر پراخولو اوپه تیره بیا دنوي افغاني مرکز ، (دارالامان )او دهغه پر غټو حکومتي ودانیو ولګیده چې له متحولو اروپایي ودانیو سره یې سیالي کوله . کله چې امان الله خان دافغاني حکومت واګې په لاس کې واخیستې ، دبرتانوي سرچینو له مخې دافغانستان ټوله خزانه یوسل اوپنځوس ملیونه ( یا پنځلس کروړه ) روپۍ اټکل شوې وه چې داروپۍ دحبیب الله خان په ټټکه سپمیدلې وې*. دامان الله خان ساختماني پروژې

---

* - دحبیب الله خان دتخصیص څنډبدلي پورونه او دانعام هغه رقمونه چې دده دناپیلې تګ لارې په هکله یې ژمنه شوې ، دانګلیسس - افغان دجګړې په نتیجه کې له لاسه ووتل .

په ښه معاش سره د بهرنیو کارپوهانو پر ګومارلو او له بیلابیلو هیوادو څخه دزیات شمیر سامانو نو او ماشین آلاتو پر رانیولو مشتملې وې خو دا په دې مانا نه چې دافغان خزانې لپاره یوازې همداستر لګښتونه وو . افغاني واکمن ډیر ژر درک کړه چې په بهرنیو هیوادو کې دسیاسي نمایندګیو خرڅ اصلاً ډیر دروند تمامیږي خو له دې سره سره د (۱۹۲۲) په نوامبر کې ،امان الله خا ن دخپلې شورا دیوې غونډې په ترڅ کې دسیاسي نمایندګیو دغه درانه لګښتونه تایید او زیاته یې کړه چې « دکوم بهرني ځواک دتیري په مقابل کې دغه مصرف زمونږ ډیره ښه ژغورنه کوي ... حتی که مو د پوځي طاقت په کمښت سره هم تمام شي (۲۰) » یو لړ نور کارونه هم په لوړو لګښتونو سره کیدل ، دبېلګې په توګه په بهر کې دافغاني زده کونکو تحصیل اودالوتکو او پوځي وسایلو رانیول دیادولو وړدي . ځکه نو دا دحیرانتیا ځای نه دی چې امان الله خان له مجبوریته په نورو برخو کې سپما ته لاس واچاوه او د مالیو په تحویل کولو کې یې له سختۍ څخه کاروا خیست . افغاني واکمن دخپل ځان او اهل بیت دمصارفو په کمښت سره ځان خپلو دربار یانو او مامورانو ته دسپما یوه نمونه وښود . پر مختلفو قبایلي خلکو دخرڅ پیسې یا خو کمې شوې او یا دا چې بیخي پر بندي کړای شوې او دا مفکوره چې « تول باید عاید په لاس راوړي » پسې راوا خیستل شوه . دهغه حکومتي مالیو تحویلیدنه په زور سره عملي کیده چې تر خپل وخت به اوښتې وې او پوځ هم راکم کړشو ، ځکه امان الله خان ویل چې نورنو دبهرني تیري کوم خطر نه شته . امان الله خان ظاهراً په دې عقیده وچې یو کوچنی ، ښه سمبال پوځ ، چې له هوايي ملاتړ څخه بر خمن وي ، لازم دی چې وکولای شي له بهرنیو او کورنیو دښمنانو سره ډغرې ووهي . له ټولو پوځي کارکونکو څخه دیوې میاشتې تنخا وضع شوه

چې په دې ډول يو شمير پيسې راټولې او په هغو سره الوتکې رانيولی شي ، او هم له پوځ څخه هغه « زاړه کسان » چې لا يې خدمت ته دوام ورکاوه ، يو په بل پسې وايستل شول ، امان اله د مخه لا د پيسو دچاپ امر دننه په افغانستان کې ورکړی و خو داکار د (۱۹۲۹) ترنوامبرپورې ( هغه وخت چې نادر شاه دچارواکي پلاس کې ونيولې) عملي نه شو (۲۱).

دامان الله خان ځينې سمون تياوې دخلکو خورا خوښې او ژر عامې کړای شوې ، مگر نورې يې دځينو افغاني ډلو له خوا په ښکاره توگه ردشوې. دمريتوب او جبري کار له منځه وړنه خور اوستايل شوه . دامان الله خان دکړنو په مقابل کې ترټولو غټ ضديت دافغانستان پررواياتي دودونو له پښه اينښودلو څخه عبارت و ..

ځکه نو دغه گامونه له اسلامي قانون څخه سرغړونه وبلل شوه . که څه هم چې امان الله خان تر دې وخته لا له هندي انقلابيانو سره مرسته کوله ، خو په افغانستان کې يې هندوانو ته امتيازونه هم ورکړل . ده هغوی سرې سرماليه نيمايې ته راټيټه او په دې برخه کې يې هغوی له مسلمانانو سره يو برابر وگڼل؛ ده اجازه ورکړه چې هندوان دې هم په پوځ کې وگومارل شي او هم يې دهغوی يو شمير ځوانان په حربي پوهنتون کې ( چې دافغاني افسرانو روزنځی و ) دزده کړې لپاره واستول . هندوانو همدارنگه په نوي جوړشوي پارلمان کې خپل استازي هم وټاکل (۲۲).

نورې سمون تياوې ، لکه « نظامنامه » يا نوي اداره يي قوانين ، چې دقسطنطيې دپوليسو دپخواني مشر او دجمال پاشا دنژدې انډيوال ، بدري بای له خوا طرح شوي وو ، ځينو کسانو دشريعت پر خلاف وبلل. جمال پاشا ، چې دترکيې دواکمن « تريوم ويرات » له مشرانو څخه و ، دعسکري جلب

دکرکجن « هشت نفري » سیستم په شمول یې د پوځي سمون تیاو مسوولیت لاره ، له دي کار سره شتمنو او بې وزلو دواړو مخالفت وښود ، بډایو په دې خاطر چې دعسکري معافیت لپاره به یې ډیرې پیسې له لاسه وتلې او مسکینانو په دې خاطر چې دتیښتې ټولې لارې پرې وتړل شوې . امان الله خان وغوښتل چې پغمان باید ډیره عصري بڼه واخلي ، ځکه یې نو دجگو دیوالونو دنړولو امر وکړ څو په دې ډول دشتمنو کابلیانو عصري کورونه چې له سترګو پټ وو ،دخلکو پر مخ را ښکاره شي . دسرو او سپینو زرو ګینو دنه استعمال او دتریاکو دنه څکولو په باره کې دامان الله خان دفرمانو نو څخه ښه تر اخر ګندیږي چې هغه په زړه کې څه نقشه لرله . په دې سره په کابل کې ډیر کسان اندیښمن شول او له کابل څخه دبرتانیې واکمل وزیر ، وریسې پاچا نادر خان دانګیرنو په هکله د ( ۱۹۲٤ ) په اپریل کې داسې ریوټ ورکړ : « امیر غوښتل چې دخپلو سمون تیاوو پواسطه په زړات ګړندیتوب سره پر مخ وخوځي . افغانان متعصب ، سرسخت ، او زوړ پال قوم و او دایې ژغورنده لار نه وه چې دهغوی پر زړه ته ورتیرو عنعنو باندې میخونه ټکوهل شي او په زوره اروپایې طرز مدنیت ته ورکش کړل شي ، ټولو خلکو دازړه ته واچوله چې نوي اداره یې قوانین له اسلامي حکمونو سره سرنه خوري، ځکه نو ملایان او ټینګ متدین کسان دهغه په وړاندې ودریدل . نوموړي قوانین بیاهم پرته له دې چې په دې هکله شک او ګومانونه لیرې کړي په ناڅاپي ډول پسې تصویب هم شول . . . دخلافت دمسئلې پر سر له ترکانو سره کرکه او لعنت ، په ټول افغانستان کې عام شوی وا و دا چې نو موړې سمون تیاوې دانورپادشا ، دنوم سره تړلې وې نو همداوجه ده چې شک او ګومانونه له پخوا څخه نورهم پسې زیات شول (۲۳) . »

زیاتو کسانو په لوړ مصرف سره داروپایانو شته والې یو اصراف باله ، په

تیره بیا نادرخان په دې هکله داسې ویل : « داسې یوه ورځ به هم راشي چې د کابل پر سړکونو به په لس ګونو بهرني ډاکتران او انجینیران په کار پسې لا لټانده ګرځي ... دانجینیرانو لپاره نه کوم ځانګړی پروګرام و ، نه یې د کار لپاره پلانونه او نه یې هم سامان درلود چې کار پرې وکړي ، ښوونه او روزنه پر یو ټیټکلي معیار روانه وه او پیسې داوبو غوندې بهیدلې ... په همدغه وخت کې پوځ هم په خورا ظالمانه ډول پر مځکې وویشتل شو او د دولت ځواک په ډېر تکلیف سره کولای شول چې په ولایاتو کې د هغو ګډوډیو سره ډغرې ووهي چې تازه منځته راغلي وي (۲٤) . »

په دغسې حالاتو کې ، دا د حیرانۍ خبره نه ده چې یووار د (۱۹۱۹) په اکتوبر کې او دوه واره هم په ورپسې پسرلي کې پر امان الله خان دوژلو ناکامه حملې وشوې (۲٥) . دا نه ده معلومه چې دغه بریدونه تصادفي وو او که دیوې منظمې توطیې په نتیجه کې وشول ، په هر حال ، امیر امان الله خان ، دخپلې وژنې لپاره د دغسې پټو دسیسو څخه دومره نه ویریده لکه څومره چې له هند سره له خپلو ورانو اړیکو او یا له یوې عامې بلوا څخه چې په وېره کې و.

حتی په هغه وخت کې چې امان الله خان دخپل پارلمان غونډه رابللې وه ، دخوست دسیمې قبایلو تقریباً د پنځو میاشتو راهیسې شوځایه ښورښونه وکړل ، دمجلس وکیلانو وړاندیز وکړ چې دپارلمان دیرش کسیزه ډله دې ښورښیانو ته واستول شي چې هغوی ته ووایي افغاني اساسي قانون او نوی نافذ شوي قوانین دشریعت پر اصولو برابر اصلاح شوي ، نو ځکه دبلوا لپاره کوم دلیل باید وجود و نه لري . خو امان الله خان په دې معامله کې دړیم ګړي و نه منل او ښرګنده یې کړه چې یاغیان باید په زور سره ایل کړای شي (۲٦) .

امان الله خان په حقیقت کې حالات دقیق نه وو څارلي ، ځکه په خوست کې دعبداله خان تر مشرۍ لاندې ، دمنګلو دغه اړودوړ ، دده دقدرت لپاره په

يوه جدي گوټ څنډنې سره واوښت، لکه څنګه چې دخوست بلوا په ډېر وسختو ستونزو سره غلې کړای شوه .

دخوست دبلوا ځينې پيښې دآرشيفي سرچينو له مخې په دې ډول دي : دغـه ښورښ د (١٩٢٤) دمارچ په نيـمايي کې پيل او ددوبي تر پايه يې په مـتناويـه بڼـه پايښت وکـړ (٢٧). تراګـسټ پورې ، څنګه چې عـبـدالکريم (دپخواني امير يعقوب خان دښځې له خوا زوی چې د ١٨٨٠ راهيسې په هند کې دجلاوطنۍ په حال کې اوسيده ) په افغـاني سرحد کې له منګلو سره يو ځای شو نو داسې وانګيرل شوه چې ښايي دابلوا به يوې کورنۍ جګړې ته لوړه شي . دغه پاڅون په لوړو برخو کې دخوست او التيـمور دغـاښي تر منځ او په کښتنيو برخو کې دحصارک او وردګو ترناوې اودغزني تر جنوبي سيمو پورې غـزيدلی و . افـغـان حکومت يو پنځلس زره کسيـز پوځ ور وليـږه چې حکومـتي مشرانو يې لاربښوونه کوله .

دبرتانوي سرچينو له مخې « غلجايي قبايل » دمنګلو له خوا له هغـوی سره دپخواني خيانت په دليل » کومک ته راوبلل شول . دغه سرچينې رپوټ ورکـوي : داپريل پر ( ٢٢مـه) (١٩٢٤) ، افغـاني هوسا پوځونو په لړو تلفاتو سره ، دالتيـمور په غـاښي کې چې له کابل څخـه دخوست پر لورې يوه طبيـعي لاره ، کمين ونيو ، تردغـه وخت په خوست کې دافـغـاني کنډکونو پوستې يا خو محـاصره وې اويا داچې دګرديز او مـتون مرکزي څوکيوته دتښيتې په حال کې وې چې هلته مازې په نوم سره پاتې وې . »

دافـغـاني بيـلابيلو څوکيـو کنډکـونه دزور په نتـيـجـه کې مخ پر سرحـد تښـتـيـدل، خـو داپريل پر ( ٢٧ ) ګـرديزتـه نژدې « قطعـۀ نمونـه غونډته ، چې دجمال باشا ډلې روزلې و ، خبر ورسيد چې ښورښيان حمله کوي نو دوی هم هغـوی تعقيب او په بې ساري ډول سره يې مات کړل چې خورښيانو دغه عمل

دخاینانو دسیسه وبلله (۲۸). »

داپریل پر (۳۰ مه) برتانوي افسرانو، دپخواني امیر یعقوب خان دوه زامن دغلجایي سوداگرو په بڼه کې هغه وخت بې له کومې رسوا ینې څخه ونیول چې غوښتل یې افغانستان ته ننوځي. په دغه وخت کې افغان حکومت هم خپل پوځونه سره ځای پر ځای کړي وو.

دغزني په جبهه کې دجنګ دوزارت مرستیال، عبدالعزیز دیو غونډعسکرو مشري کوله، په داسې حال کې چې کورنیو چارو وزیر او دوردګ اوسیدونکي، غلام محمدخان، په ولس کې ډیر ملاتړ لاره، جنرال عمرخان په دې سیمه کې یو بل غونډ قومانده کاوه.

دحصارک په جبهه کې، سردار شاه ولي خان، له پخواني صدراعظم او کمزوري شوي ځلور اتیا کلن شخص عبدالقدوس خان سره په ګډه دنظامي چارو مشر توب کاوه. غلام نبي خان، دلوګردناوې اوسیدونکي اودغلام حیدر څرخي زوی، په دې سیمه کې وفادار خلک پوځ ته رابلل.

په ګردیز کې دجنګ وزیر، محمد ولي خان، قومانده په لاس کې لرله، په داسې حال کې چې دعلي خیلو دپوځونو لارښوونه د محمد صدیق خان په لاس کې وه. په جلال آباد کې، دامان الله خان اخښي او دکابل والي علي احمد خان، لګیا و چې دخوګیانیو ملاتړ دحکومت لپار تر لاسه کړي.

دحکومتي قواوو پښې هغه وخت مځکې ته ورغلې چې امان الله خان وکړای شول پارلمان په دې قانع کړي چې دغه بلوا دبرتانیې په لمسون شوې ده. سر بیره پردې، هوایي بریدونو هم قبایلي پوځ سره غلی کړ. قبایل هوایي ځواک ته هر وخت ځیروو او کله چې یو جرمن پیلوټ ډاکتر واسس، او دبهرنیو چارو وزارت مرستیال، شیراحمد خان په الوتکه کې دقبایلي سیمو له پاسه والوتل، نو پر حکومتي پوځونو فشار هم یو څه سپک شو.

دغې حکومتي الوتکې زياتې پاتې راوغورځولې چې په هغو کې قبايلو ته خبرتيا ورکړل شوې وه چې يا پر شاو لاړشي او يا بم ورى ته ځانونه تيار کړي. هلته په جلال آباد کې ، علي احمد خان په دې بريالى شو چې د ښورښيانو پر ضد شپږ نيم زره قبايلي « لښکر » سره راغونډ کړي ، په دې لښکر کې د خوګيانيو ، مهمندو ، شينوارو ، وزيرو او هزاره وو قبايل شامل وو . د اګست پر ( ١٤ مه ) د پارلمان له تصويب څخه وروسته ، د ښورښيانو پر ضد جهاد اعلان شو ، ځکه د څه وخت لپاره کابل له ستر خطر سره مخامخ و او نژدې و چې عبدالکريم بريالى شي او حکومتي پوځونه پسې واخلي . د ( ١٩٢٤ ) تر اکتوبره ، وضع دومره سمه شوه چې حکومت وکولاى شول چې د خپلواکۍ د جشن کالني مراسم په پغمان کې ونيسي ، يوازې د غزني په جنوب کې سليماخيل او د علي خيلو له سيمې څخه ځدران د ښورښ په حال کې پاتې وو . له دوى څخه ځدران هغو غرونو ته وختل چې د حکومتي قواوو له برلاسۍ څخه ليرې پراته وو .

افغان حکومت په دې بلوا کې پر برتانيې تيڼګ شکمن و او داسې يې انګيرل چې دا هيڅ امکان نه لري چې عبدالکريم د برتانيې له غمازۍ څخه پرته په هند کې د هغوى له نظربندۍ څخه راوتښتي . آن دا چې په اګست کې د برتانيې له خوا د کابل حکومت ته د دوو الوتکو ورکړې هم چې د کابل وروستي بريا ليتوب يې منځته راوړ ، دا شک ليرې نه کړ . ( د برتانيې آرشيفي سرچينې داسې کوم شواهد نه لري چې د عبدالکريم له هدفونو څخه د هندي حکومت ملاتړ ثابت کړي . ) د ( ١٩٢٥ ) د جنورۍ په پيل کې عبدالکريم دې ته اړ شو چې له پولې څخه هند ته واوړي ، مګر هلته سمدلاسه بندي کړاى شو ( ٢٩ ) .

د ( ١٩٢٥ ) د جنورۍ پر ( ٣٠ مه ) عبداله خان او د هغه مرستيال «

ګوډ ملا» ګرفتار او کابل ته راوستل شوه . ویل کیدل چې خوست له سره تر پایه وران شو ، ولجه او نیول شوي کسان په یو حیرانونکي سو بمن شاخیص کې تیر کړای شول .

د ګروباله خولې ، په دې پریکړه کې وار له واره ولجه شوي ګورم او نور خوځنده برمته او ورپسې بندیان تیر شول چې په ګنهون زر کسه ښځې ، کوچنیان او ځو سوه د پاخه عمروالا او ځوانان وو چې پر خپل خپل قبایلي قومیت ویشل شوي وو . دبریډ په پای کې څه ناڅه شپیته کراچۍ ګاډی تیری شوې چې ناروغه او ټپي شوي بندیان یې په کې اچولي وو . محمد ولي خان دحکومت دغه سو بمنې لښکرې لاربښودلې . دګروباله قوله ددې بندیانو پاتې برخه منګل وو ، چې« نااېل وګړي وو ، خفه شوې مګر غلې څیرې یې لرلې او دامیر خواته یې حتی هیڅ خپل مخونه هم نه وراړول . ( ۳۰ ) »

امان الله خان ددې لپاره چې بیا کومه بلوا پیښه نشي تصمیم یې ونیو چې دوهلو ټکولو او ځپنې رویه پسې راواخلي . د ( ۱۹۲۵ ) په مۍ کې ده دبندیانو دسزاوو په هکله داسې وویل : « تاسې سوچه افغانان نه یاست . ویخښبی زما رعیتو او زما کوچنیانو چې زه ستاسې سره دغسې یوه سخته رویه کوم ؛ مګر نورنو تاسو زما کوچنیان نه یاست ، ځکه زما پر ضد مو بلوا وکړه . تاسې زما کړنې تر نښوکې لاندې ونیولې چې هغه په لاندې ډول سره وې :ماښونځي پرانیستل ، آیا تاسې په دې ګومان یاست چې دا کار ماځانته وکړ ؟ لاکن مادا کار یوازې ستاسو دماشومانو په خاطر وکړ . تاسو راڅخه وغوښتل چې باید دنجونو لپاره مکتبونه بیرته وتړم . اوس دټولې نړۍ پوهان ماته کاږي چې نجونو ته دمکتب پرانستل ډیر ښه کار دی . ما داوبو لګولو پروژې ودانې کړې . دامې هم دځان لپاره نه بلکې ستاسو او ستاسو د کوچنیانو لپاره وکړ . تاسو وویل چې زه قادیانی ( دهند داحمد یه ګروهې

غـړی) یم . داسـوچ پوچ درواغ دي ، زه قـادیانی نه یم ، تاسـې وویل چې زمانوي قوانین له قرآن سره مخالف دي . ما بلنه درکړه چې راشی او زماسره په دې هکله خبرې وکړی . خو تاسو دا کار ونه کړ . بلکې برعکس ، په عبدالکریم شراچونکي پسې ولاړاست ، زما پرضد راپورته او زما ډیر زړور عسکر مو راڅخه ووژل . ځکه مونږ زه نه شم بخښلای ،. بنا پردې باید ووژل شی . (۳۱) »

امـان الله خـان د دی بندیـانو د اعـدام امر وکړ ، نورو ته د تالاکـونکي کـار او په مختلفو ولایتونو کې د تاش په تاش کیدو سزاوې ورکړل شوې . له دوی څخه د ګروي وثیقې واخیستل شوې چې ونه تښتي *.

په کابل کې کتونکي ټول په دې رایه دي چې دخوست اړدوړ په اصل کې د امان الله خان له خوا د ښځو ښوونې او روزنې او اساسي قانون درا ایستلو او د عسکري جلب د « هشت نفري » سیستم له کبله پیښ شو . دده له ټولو څخه سخته سمون تیاداوه چې کوښښ یې کاوه ښځه د خپل نارینه د تام اختیار څخه آزاده کړي . پوځ ونه کړای شو چې بلواغلې کړي ، بلکې یوازې د الوتکو او قبایلي عسکرو په میړانه ښورښیان مات کړی شول . دې ښورښ ډیرې اغیزې وکړې لکه : دافغـانسـتـان مـالي پیـاوړتوب یې په ټینګه سره ونیناوه ، داقتصاد انسجام یې مختل کړ ، اداري فشار په تیره بیا په ولایتونو کې ډیر شو او دافغانستان پر مختګ عادي بهیرته یې دم واچاوه .

*- د جرمني دنمایندګی دختیغ سکرتر « عبدالله » یا پخواني سیاستمن بیګ ، د دې پېښې عکسونه اخیستې چې اوس هم د جرمني د بهرنیو چارو وزارت په دوسیو کې خوندي دي او په ډرامه یې توګه نوموړي اعدامونه انځوروي ، په کابل کې جرمن واکمل وزیر درواقیانو د فلسفې غوندې په دې خوارو او ځپل شویو کسانو باندې ډیر خپه او په دې وویرده چې ښایي دغه وینې توئیدنه به دیو غچ اخیستونکي اقدام په توګه دافغاني واکمن کمبله پسې ورټوله کړي .

# له برتانيې سره د ښمنی

دانګليس - افغان اړيکې دهغو افغانانو دناخوالو پر سر هميشه خوږ منې وې چې دهند دشمال لويديځ سرحد ديوې برخې تش په نوم په آزاده قبايلي سيمه کې اوسيدل . برتانيې غوښتل چې داسيمه ددوی وي او افغاني واکمن بيا غوښتل چې هغه له افغانستان سره ونښلوي که نه نو ديو حائل په توګه خويي راولي . ځکه نو دا دحيرانتيا ځای نه دی چې دسرحد مسئله داميرامان الله خان په ټوله موده کې او چت مقام لاره .

دانګليس - افغان تر دريمې جګړې وروسته ، امان الله خان هم د (١٩١٩) دجون ددريمې نيټې اوربند ومانه . دجولای پر (٢٥ مه) دعلي احمدخان په مشرۍ يو افغاني هيئت ، دهند راولپنډۍ ته ولاړ او له څو اوونيو سختو خبرو اترو څخه وروسته يې د (١٩١٩) داګست پر (اتمه) دسولې تړون لاسليک کړ . دراولپنډۍ دسولې په دې تړون کې افغانستان خپلواک اعلان شو؛ ولې ددواړو هيوادونو تر منځ « زوړ ملګرتوب » په کښې نوی نه کړای شو . برتانيې ټينګار کاوه چې افغان واکمن بايد لومړی

دملګرتوب لپاره اخلاص ښکاره کړي او تر يوې شپږمياشتنۍ مودې وروسته کيداى شي چې بيا نو دملګرتوب دکوم تړون په سرخبرې اترې وشي . دسولې له دې تړون سره ، دبرتانوي هيئت دمشر « سر ايچ . ګرنټ » له خوا يو ليک ضميمه شو چې په هغه کې ټول هغه څه راغلي وو چې افغانستان يې غوښتنه کوله . په دې ليک کې داسې ويل کيدل :

« له درناوي څخه وروسته . تاسو زما څخه په دې باره کې ضمانت غواړى چې دبرتانوي حکومت له خوا دسولې دغه وړاندې شوى تړون پرته له دې چې په کور نيو او باندنيو چاروکې د افغانستان په ګټلې ازادۍ کې لاس ووهي ، نور څه نه لري . زما دوستـه ، که تاسې دا تړون په غور سره ولولى . ويه وينى چې په هغه کې دافغانستان داستقلال دغسې کومه لاس وهنه وجود نه لري . تاسې ماته ويلي وچې افغان حکومت نه غواړي هغه تړون بيانوى کړي چې دمرحوم امير له خوا منل شوى او په هغوى کې ويل کيدل چې دى به دخپلو بهرنيو چارو له مخې پرته له قيد اوشرطه دبرتانوي حکومت سلا مشورې تعقيبوي . له همدې کبله زه هم ، په دې باره کې فشارنه درباندې راوړم او په تړون کې هم داټکى نه دى ذکر شوى ، بنا پر دې نوموړى تړون او دغه ليک دافغانستان استقلال او خپلواکي هم په کورنيو او هم بهرنيو چاروکې رسماً إعلانوي ( ۳۲ ) . »

سر بيره پردې دغې جګړې ټول مخکني تړونونه له منځه يوړل . برتانويانوته ژر څرګنده شوه چې امير « منکر » نه دى : په هر حال ، ( د ۱۹۲۰ داپريل څخه ترجون پورې ) دهند په ميسوري کې ، دملګر توب داړيکو دټينګښت لپاره هلې ځلې پيل شوې ، مګر کوم تړون يې رامنځته نه کړ . وروسته بيا په کابل کې خبرې اترې وشوې ، لس مياشتې وروسته د ( ۱۹۲۱ ) دکابل تړون لاسليک شو . ولې بيا هم هغه دملګرتوب ديو تړون په

پرتله د « گاونډيتوب » د تړون ځانګړنه لرله. که څه هم چې دواړو ويل ، دا يولنډ مهالی تړون دی چې ددريو کالو دپاره داعتبار وړ دی، خو په(۱۹٤۷) کې هند ته دبرتانيې له خوا داستقلال تر ورکولو پورې هماغسې داجرا وړ پاتې و.

پر افغانستان باندې د برتانيې څه کم يوه پيړۍ دم او چوف هغه وخت باطل شو چې افغانستان له اروپايي ځواکونو سره سفارتي اړيکي ټينګې کړې. مګر هند دجګړې پخواني حالت ته دورغبرګيدو ډيره ليوالتيا نه لرله. يو برتانوي مامور وويل: « زما په ګومان دساتنې لپاره ترټولو هيوادو چې لږ ګټه ځنې اخيستلای شو، هغه افغانستان - يانې د غالبوزو چرګينی دی (۳۳). » مګر تردې وختـه لا دبرتانيې په پرتله هندوستا دانګليس - افغان داړيکو مهار په لاس کې لاره ، لکه څنګه چې ددې ليک څخه ښه څرګندېدای شي:

« که څه هم چې له افغانستان سره اړيکې دبهرنيوچارو وزارت له خوا په کابل کې دبرتاوي واکمل وزير له لارې ، ټولو بهرنيو څانګوته ورپه ګوته شوې ، خو داکار په اصل کې دهندي حکومت او هندي څانګې په واک کې دی. د بهرنيوچارو وزارت او په کابل کې دسياسي نمايندګۍ تر منځ ټول مراسلات د هندي حکومت او هندي څانګې پواسطه سره ځي او راځي يا دا چې کټ مټ يوه کاپي يې دوی اخلي. په کابل کې دسياسي نمايندګۍ ټول پرسونل دهندي سياسي څانګې له خوا اکمال کيږي او دبرتانوي نمايندګانو خرڅ او له افغانستان سره داړيکو اړوند ټول لګښتونه له هندي عايداتو څخه تمويل کيږي (۳٤). »

دانګليس - افغان په دريمه جګړه کې دامان الله خان برياليتوب دسرحد « له آزادې قبايلي تړې » څخه دافغاني قبايلو دملاتړ له کبله و. دغو قبايلو

دافغانانو او مسلمانانو پر توګه ، دافغاني واکمن له خوا اعلان شوی جهاد په سر او ستر ګوومانه خو دايې وويل چې وسلې او پيسې به په واک کې ورکول کيږي . کله چې امان الله خان له هند سره دسولې تړون لاسليک کړ ، ويې نشو کړای چې دغه آزادې سيمې له افغانستان سره ونښلوي ، قبايلو ته دعمومي ښښنې داخيستو لپاره دامير ټينګار وکولای شول چې له برتانيې څخه يوه داسې ګونګه ژمنه تر لاسه کړي چې ګواکې برتانيه کومه جګړه او تيری په خيال کې نه لري او هر کله که يې دسرحدي افغانانو پر ضد پوځي کوښښونه کول نو له امير سره به سلا او مشوره کوي . ددې وعدې په اړوند برتانيې وروسته داسې انګيرله چې موږ نشو کولای ددې سيمو دښارنې په مخ کې خنډ ومنو او کله چې جګړه ختمه شوه نو هندي حکومت وخت غنيمت وباله چې قبايل له افغانستان سره دملاتړ پر وجه وترټي او پرصويه سرحد باندې خپل کنټرول سخت کړي . پر سرحد باندې دبرتانيې دغه مخکښه تګ لاره په کلکه وغندل شوه او برتانوي اډو او سړيو باندې ډير ژر حملې او قبايلي بريدونه زيات کړای شول .

دهند حکومت ددې کړ کيچ داوارولو لپاره يوه « ګروېږونکې سرحدي کوميته » توظيف کړه چې په (۱۹۲۲) کې به شمال لويديځ سرحدي ايالت ته ځي . يوه وروسته دبرتانيې له تګ لارې څخه دبهرنيو چارو مرستيال وزير ، دينس بري ، پرده پورته کړه ، ده د (۱۹۲۳) دمارچ پر پنځمه ، ديوې وينا په ترځ کې دهند « پرثابته او نه بدليدونکې ښارنه » باندې ټينګار وکړ : « هغه څه چې هنديې لري بايد پخپله دهند په لاس کې وي . (۳۵) » ده عقيده لرله چې دابه له خطره ډک کار وي که قبايل « په خپلو ناوړه پخلنځيو کې آزاد پريښودل شي او موږ ته نايابه ستونزې راپيدا کړي . » بري غوښتل چې دمسودو تېر تر کنټرول لاندې راولي ، ده په جارسره وويل چې برتانيه به ، پرته

له مستقیمې نیونې څخه (مسود) دهغوی په سیمه کې د پرتو یو سرا و بل سر پوستو پواسطه اداره کړي چې هغه دواړه به د یو نښلونکي سړک پواسطه اړیکې سره پیدا کوي. ده وویل چې « وروسته له دې به له مسودو څخه هغه ځواک ولاړشي چې هغه دې سیمې ته زموږ د نه لاس رسیدو څخه عبارت دی ... نه همدې کبله په وزیرستان کې د حکومت پالیسي ( سړکونو د جوړیدو پواسطه ) د وزیرستان څارنه ده . » بري خپله وینا په دغه گواښ سره پای ته ورسله چې: « هندوستان دومره لوی دی چې د سیمې هر میل مربع ته یې باید تمه ونه شي چې پخوا د بل چا و . مگر هند دومره لوی هم نه دی چې هر یرغلگر ته دې - که آزاد قبایل وي یا د جنوب یا شمال یا ختیځ یا لویدیځ کوم بهرني ځواک وي - له دې څخه زیاته ځمکه ورسپړي چې اووه فتمه اوږده ،دوه په یونیم فت کې پلنه او څلور فتمه ژوره وي (۳٦) . » *

دهند حکومت د خپلې نوې مخکښنه بالیسی په سبب په ډیرو افغاني ورځپانو کې په کلکه وغندل شو . « اتحاد مشرقي » ورځپاڼې احتجاج وکړ چې « که هغوی ( قبایل ) له کوم حکومت سره د اړیکو د ټینگښت غوښتنه وکړي نو هغه به یوازې افغانستان وي چې یو اسلامي هیواد دی ، ځکه چې هغوی ورسره مذهبي ، تولنیز ، ژبنی او دژوندي پاتې کېدو په پړي تړلي دي (۳۷) . » قبایلي سیمو ته دبرتانیې ورننوتل دخیبر داورگادي له لارې او په وزیرستان کې دسړکونو پروډانو لو سره راښکاره شول چې د آزادو قبایلو غوندې افغانستان هم مخالفت ورسره وکړ . افغاني مامورانو په کابل کې له برتانوي واکمل وزیر څخه سر بیره په لندن کې د بهرنیو چارو وزارت څخه هم پوښتنه وکړه چې دغه گامونه خو له دې حقیقت سره سمون لري

---

* - دډینس بري هدف د دومره ځمکې څخه دهغه سړي قبر دی ، په بله وینا یانې یرغلگر په هند کې له خپل قبر څخه زیاته ځمکه نه شي نیولای ( ژباړن)

چې وايې:« زمونږ اړيکې دسوله ايېز او دوه اړخيزه ګډفکر ( تفاهماتو ) غوره هدف په مخ کې لري . » د ( ۱۹۲۲ ) په دسمبر او د ( ۱۹۲۳ ) په جنورۍ کې هندي پوځونو پر مسودو خورا کلکې حملې وکړې چې دمرستيال واکمن له خولې:« پرسرحد باندې دغسې ستر هوايي عمليات هيڅکله هم نه وه شوي. ( ۳۸ ) . » له کابل څخه په يوه اعلاميه کې (همفريس) څرګنده کړه چې برتانوي الوتکو پرته له مخکنۍ خبرتيا څخه قبايلي درې بمباري کړې. ( ۳۹ ) » دجلال آباد « اتحاد مشرقي » ورځپاڼې دا موضوع پر افغاني سرحد باندې دوحشي او وينې څښونکو برتانوي ځناورانو » ترسر ليک لاندې وڅېړله او زياته يې کړه :

« هو ، دامونه ده هيره چې د نړيوالې جګړې پر وخت ،کله چې جرمني الوتکو دلندن او پاريس دښاريانو سوکاله او سوله ييز ژوند ورګډوډ کاوه او کله چې نر او ښځو دبې انصافۍ کريغې وهلې او تر ځمکې لاندې سمڅو ، سوړو او حتی دمږو غارونو ته يې پناه وړله ، نه يوازې برتانوي خاينانو بلکې ټولو متحدينو دجرمني دا کار « ځناورانه » او « وحشي » وباله . . . او جرمني يې ډارن او نامرده باله . دادی نن يې په سترګو وينو چې دهند دناپوه حکومت الوتکې زمونږ دسرحدي اسلامي ورڼو اودوزيرستان او مسودو دبيوزلو وګړو دګنګس کولو ، ناارامولو او کړولو لپاره پر داسې يو مهال هوايي بريدونه کوي چې موسم ډير سوړ دی ، لکه څنګه چې دا وخت دهيواد پر دې ګوټ کې پرته له دې چې له سړو څخه ښه ژغورنده کورونه ، اور ، نغري او تاوده کالي چمتو نه وي ، ژوند کول ډير سخت دی . . . . » ( ٤٠ )

د ( ۱۹۲۳ ) دجنورۍ پر ( ۳۱ مه ) افغان حکومت په رسمي ډول پروزيرستان باندې دبرتانوي توپونو او الوتکو بمورۍ وغندلې او ادعا يې وکړه چې دغه اقدام د ( ۱۹۲۱ )دانګليس - افغان دتړون پر ( ۱۱ مه ) ماده او

هغه لیک باندې ښکاره تیری دی چې سرهنري ډبس ، ددې تړون دیوې برخې په توگه لیکلی و . افغان حکومت وپتیله چې باید موږ ته « له پوځي کړنو څخه تر مخه خبررا کړل شوی وای او ډبس لیک دسرحدي قبایلو په هکله رسماً دافغانستان گټې منلي اوډاډ یې راکړی چې له هغوی سره به سخاوتمندانه چلند کوي . » خو هندي حکومت په دې برخه کې امتیاز ورکولو ته غاړه نه ایښودله او کله چې داڅرگنده شوه چې امان الله خان دسرحد آخواقبایلو ته مالي مرسته ورکړې نو همفریس محمود طرزي ته وویل چې دده حکومت دغې نتیجې ته رسیدلی چې دافغانستان انگیرنې نورې دوستانه نه دي او « خدای دې نه کړي هغه هیواد زما دهیواد په مقابل کې لمسونکې پالسي پسې راخیستې ده . » بم اورونې هماغسې جارې وې . په توجې کې دبرتانیې سیاسي نماینده پرتازي خیلو باندې دسختو هوایي بریدونو غوښتنه وکړه او دهندزړه ،نازړه حکومت ته یې ډاډورکړ چې دلته پر افغاني سیمو دبم اورونې کوم خطر نشته .لنډه دا چې حکومت هم داخبره ومنله او سیاسي نماینده دنوموړو عملیاتو نتیجه « خورابنه » وبلله چې پر لاندې ډول سره اټکل شوې وه : « څه ناڅه ( ۲۰ ) کسه مړه او ( ۳۰ ) نور هم ټپیان شوي ، په داسې حال کې چې تقریباً ( ۱۶۰۰ ) پسونه او وزې ( ۳۰ ) غواوې او ( ۵۰ ) اوښان یا مړه او یا ډیر سخت ټپیان شول . خیمو اوکور والا ووته دپام وړ تاوان واوښت . . . یو یادوه بمونه په غلطۍ کې د « سیدگې » ددوست کلې پر اوو کورونو ولویدل چې دوه ښځې یې مړې او دوه نورې یې ټپیانې کړې . » خو وروسته دا څرگنده شوه چې په افغانې سیمر کې هم اووه کسه وژل شوي وو . لاکن برتانوي حکومت ددغه سر او مال په تاوان کښې زیاتې پیسې ورکړې ، وروسته له دې پر صوبه سرحدکې پر برتانوي مامورانو قبایلي بریدونه پیل شول او په نتیجه کې یو شمیر برتانویان یا ووژل شول او یا هم وتښتول شول . دهند

حکومت افغانستان سره کښیکښئی او توریې ولګاوه چې هغه دیاغیانو مختلفو باندونو ته پناه ورکړې ده . په هرحال ، په پای کې جوته شوه چې دغه ډلې تېلې د افغاني پولو هغه خوا په هندي خوا کې ډیرې ځای پرځای وې او هغه وخت له سرحده افغانستان ته اوښتې چې برتانوي پوځونو یې پسې واخیستل. پر افغان حکومت باندې دیو اغیزمن فشار راوړو په خاطر ، هندي حکومت افغانستان ته دهغو وسلو له لیږلو څخه ډډه وکړه چې امیر په اروپا کې پیریدلې او د (۱۹۲۳) په سپتمبر کې دبمبئي بندر ته رارسیدلې وې . داوسلې د (۱۹۲٤) ترمارچ پورې همدآسې بندې پاتې وې ، کله چې شرایط سم شول او دهند حکومت په دې ډاډه شو چې امیر دبرتانیې داغوښتنه چې وایي دهغو کسانو دکنټرول لپاره دې اقدام وشي چې بریدونه کوي ، منظوره کړه (٤١) . هندي حکومت افغانستان ته یوه شفاهي خبرتیا هم ورکړه چې له افغانستان څخه به برتانوي سفارتکاران وباسي او دبرتانیې له نظره دکښاندې وضعې له کبله له کابل څخه برتانوي ښځې وایستل شوې (٤٢) . بیله شکه برتانیې ته د امان الله خان هوکې هوکې لرل دده دکورني دریځ دکمزورۍ یو بل علت وګڼل شو او دې کار تریو حده دخوست د (۲٥-۱۹۲٤) له ښورښ سره هم کومک وکړ .

دافغانستان او برتانیې د ناباورو اړیکو له مخې ، دهندي حکومت ماموران اندیښمن شول چې هسې نه امیر امان الله خان له خپل حق څخه په ګټه برتانیې سره کړی تړون له منځه یوسي . باید په یاد یې ولرو چې د (۱۹۲۱) کال دکابل تړون اصلاً دملګرتوب ، بلکې ددریو کالو یو لنډمهالی تړون و چې د « ګاونډیتوب » اړیکي ټینګولې . کله داسې ګمه کیده چې دښه ګاونډیتوب دیوې مودې څخه وروسته به ، دواړه هیوادونه یو همیشنی ، صمیمانه تړون سره کوي . دهمدې لپاره ، یوه یا دواړو څواکونو

کرلای شول هغه فسخ ، یا مسترد کړي او دیوېل قناعت ورښه ترون لپاره خبرې اترې پیل کړي . نو په دغسې حالاتو کې لغوه کېدنه هم یوه مسئله وه . د (۱۹۲۳) په اگست کې ، سرفرانسیس همفریس گومان کاوه چې ښايي افغان حکومت دا ترون څومره چې ممکنه وي ژر مسترد کړي ، یانې ښايي دا به د ترون تر ختمیدو یو کال دمخه (د دسمبر په میاشت کې) وشي . برتانوي سرحدي ماموران د دغسې کار دناوړه نتیجو په هکله اندیښمن وو « چې مبادا دامیر له خوا به د دې ترون دالغا په صورت کې افغاني سرحدي قبایل راپورته شي او هغوی به دا کار پر ته له دې چې په اصلي مفهوم او مانا یې ځانونه پوه کړي ، دنوي کېدو په صورت کې یو د پیلو ماتیک بري او دامیر د دریځ پیاوړتیا او زموږ دهغې کمزورتیا وگڼي . » ځینو برتانوي ماموانو داسلا ورکړه « چې که دامیر له خوا فسخ کیدنه اصلي موضوع ده ، نو باید موږ په خپله د دغسې لغوه کیدونوښت ته لاس واچوو . (٤٣) »

له دې سره سره ، همفریس په دې گروهه وچې لغوه کیدنه دې افغان حکومت ته پرېښودل شي . ده رپوټ ورکړ چې امیر او دده د بهرنیو چارو وزیر په رمز کې څرگنده کړې چې له برتانیې سره دنژدې اړیکو غوښتونکی دی ، مگر نه غواړي چې له خپله اړخه دا ترون لغوه کړي . برتانوي واکمن وزیر په دې گومان و چې دبرتانیې له خوا د ترون لغوه کیدنه به دافغان حکومت د ملگرتوب د گټیلو لپاره دده حکومت په یو ښه دریځ کې ودروي او په دې ډول به افغانستان ته یوه تاکتیکي گټه هم ورسیږي . دشمال لویدیځ سرحدي ایالت لوی کمشنر په دې اړوند دتیارۍ مشوره ورکړه او څرگنده یې کړه چې :« په هر صورت کې به قبایل نا آرامۍ ته لاس واچوي او لغوه کیدنه که له هر لوري وي دافغان تبلیغاتو له کبله به ، په قبایلو کې زموږ په پرتله افغاني لوري زیات گټند وی کړي . خو که دالغوه کیدنه زموږ له خوا وشي ، نو یقیناً به

پردې دلالت وکړي چې مونږ دهغوی بهرنۍ اړیکې قبضه کړي او په دې ډول دافغانستان خپلواکي له ګواښ سره مخامخ کوو . »

دحل یوه لاره داوه چې دانګلیس - افغان یوه ګډه لغوه کیدنه باید شوې وای ؛ بله داچې ، دواړو څواکونو پرته له دې چې موجود تړون دې لغوه کړي باید خبرې اترې یې سره پیل کړې وای . نوي تړون داسې یوه ماده باید لرلای چې دموجوده تړون څوارلسمه ماده یې باطله کړې وای چې دانګلیس - افغان تړون تر ختمیدو پخوا لغوه کیدنه یې لرله ، دا څرګنده شوه چې له روانې وضعې سره دافغانستان ناخوښي په دې خاطروه چې له برتانیې څخه روپۍ وغواړي ، خو دهند حکومت نه غوښتل چې دنامعلوموموخو لپاره پانګه له لاسه وباسي ، یا داچې دهغې مرستې ځای ونیسي چې افغانستان یې له شوروي اتحاد څخه ترلاسه کوي ، د (۱۹۹۵) په نومبر کې مزستیال واکمن په هکله دخپل حکومت له احساس څخه لندن ته دارنګه رپوټ ورکړ : « داسې یې بولو چې په ملي ترقۍ کې دمرستې لپاره . چې دبهرنیو چارو وزیر او پخپله امیر هڅه کوي ، په تمامه مانا له هغه لوړتیا پال کومک څخه عبارت دی چې زمونږ په عقیده باید له روسېې څخه ترلاسه شي . . . نو ځکه مونږ تر اوسه هم په دې ګومان یو چې واکمل وزیر دې امیر ته مشوره ورکړي چې دتړون دلغوه کیدو په صورت کې به ، دی ځان په کوم قالب کې راولي . . . نو بیله شکه باید مونږ په عمومي لحاظ دتړون لپاره دخبرواترو څخه اندیښنه ونه لرو ، ځکه داهر وخت په سرحد کې ناآرامي راولي . »

یوه وړاندیزه لاره ، چې لږ خطر یې لاره داوه چې له امیر څخه باید پوښتنه وشي چې دی په دې تړون کې دڅه ډول سمونو او رغونو هیله من دی ؟ په لندن کې داسې عقیده موجوده وه چې د (۱۹۲۱) کال دغه تړون کومه نیمګړتیا نه لري . دتړون دنوي کیدو ، یا دملګرتوب دکوم تړون د لاسلیک لپاره دبهرنیو

چارو د مرستیال وزیر ، محمد ولي خان بیلابیل وړاندیزونه په کابل کې دبرتانوي واکمل وزیر له خوا مخالفت سره مخامخ شوي ، نوموړي په موجوده تړون کې رغونې غوښتې نه کوم نوی تړون . تر فرانسیس همفریس ددې مسئلې لپاره یوه اتلس ماده ییزه طرح جوړه کړه او د (۱۹۲۳) ددسمبر پر څلورمه یې د (۵٦) نمبر پارسل په توګه کابل ته ولیږله . لندن ته دده دا وړاندیزونه په دې ډول وو :

۱ - دنوي تړون لپاره دې خبرې اترې په کابل کې وشي (٤٤).

۲ -برتانیه دې اعلان وکړي چې نور دافغانستان دشمالي پولي ضمانت نه کوي او له افغانستان سره به یې راتلونکې دخپلې ګټې په نظر کې نیولو له مخې او دبرتانیې په وړاندې دافغانستان د سلوک په څرنګوالي کې نغښتې وي . ( دلندن حکومت په دې باره کې خپل تصمیم نه و په ډاګه کړای ) .

۳ - نه به دافغاني بهرنیو اړیکو دبیا تر لاسه کولو او نه به هم له کابل څخه دشوروي اتحاد دسفارتي استازیو دپسې اخیستلو کوښښ کوو .

٤ - کال په کال دیو ټاکلي مقدار نغدو پیسو کلنۍ غوښتنه باید ونه منل شي .

۵ - که دامیر سلوک دوستانه وي نو په مختلفو وختونو کې دې دلوړینې له مخې دارنګه سوغاتونه چې ارزښت یې ثابت نه وي ورکول شي ، ددې سوغاتونو ارزښت باید له اووسوه زره ( یا اووه لکه ) روپیو څخه اضافه نشي.

٦ - دځمکنیو امتیازونو په باره کې دافغانستان هر رنګه غوښتنه باید رد کړل شي .

۷ - دسرحد دکومې خاصې څوکۍ یا دسرحد پراوږدو دکومې پوستې دړنګیدو په باره کې باید دافغانستان پر غوښتنه دپوځي او سرحدي اړتیا وو په رڼا کې غوروشي خوغوره داده چې دا رنګه غوښتنه باید بیخي ونه منل

شي .

۸ - پر سرحدي کمر بند باندې دبرتانيې دپوځي اقدام تحديد بايد ونه منل شي.

۹ - دډيورنډ دکرښې پر هندي خوا که دافغانستان لاس وهنه بنده شي نو دسرحد په هکله به دافغانستان دمرستې اړونده غوښتنه هم نور ځاى ونه لري. هفريس عقيده لرله: تر هغه ځايه چې په امير پورې اړه لري ، آزاد کمربند بايد زمونږ دغسې ملکيت وي لکه برتانوي هند چې دى ، په دې کې مونږ په هيڅ توګه دامير مداخله نه شو زغملاى . »

۱۰ - که په سوغات کې وسلې وغوښتل شي ، بايد « دلورينې په تخصيص » کې په مناسب مقدار سره ورکړاى شي . ( هند په دې هکله له لندن سره موافقه نه لرله ) .

۱۱ - که دسوغات په تخصيصيه کې الوتکې وغوښتل شي نو دهغوى راتلونکي ساتنه او ترميم هم په دوى پورې اړه لري .

۱۲ -دښوونې او روزنې اسانتيا وې ، داجناسو او ماشينري سوغاتونه او دکارپوهانو اړوند پورونـــــه بايد ټول د « لورينې په تخصيصيه » کې شامل وي.

۱۳ - په چمن کې به ديو افغاني تجارتي استازي دغوښتلو په هکله هم غور وشي .

۱٤ - په پيښور کې به دافغاني کونسل غوښتنه هم په پام کې ونيول شي .

۱۵ - بلشويکي تهديد به زمونږ ترمنځ په خبرواترو کې ځاى نه لري ، ولې بيا هم ، په جنوبي افغانستان کې دشوروي کونسلګريو پر مسلسل موجوديت بنديز لګول ډير ضرور دى .

۱٦ -برتانيه دې له « هندي » لورې له قبايلو سره دتل لپاره دافغاني اړيکو بندښت وغواړي دغه بنديز دلاندنيو ټکو درلودونکى و .

(الف ) « برتانوي » قبايلو ته دمرستندوى معاش حواله کيدنه ( ب ) سرحد ته نژدې د هندي قبايلو ګومارل ( ج ) دامير او دهغه له افسرانو سره په

رسمي توگه دهندي قبايلو لېږدنې کتنې .

۱۷ - د یاغیانو سره معامله د متقابله مخصوص ترون پر بنسټ باید حل او فصل شي .

۱۸ - په افغانستان کې د برتانویانو لپاره د يوې هديرې ترتيبات هم بايد ونيول شي ، ( دا فقره وروسته لرې شوه او داسي وټټيل شوه چې دا به په غير رسمي مباحثو کې وڅېړل شي . )

د همفريس نوموړې سپارښتنې ټولې هم د لندن او هم د هندي حکومت له خوا ومنل شوې ، پرته له هغې مادې څخه چې د افغانستان له جنوب څخه يې د شوروي کونسلگريو د کمبلې ټوليدل غوښتل ، ځکه لندن ويل چې د غسې بنديز بايد ځکه ونشي چې هغه « به د نړيوالو جاري اصول څخه غاړه غړونه او د افغانستان پر خپلواکۍ پښه ايښودنه وي . » د نائب السلطنه حکومت په دې ووريده چې « افغانستان بې له شکه ، کيداى شي د ځان په راوړاندې کولو سره خپل جغرافيايي دريځ پياوړى کړي او په دې حساسه شيبه کې د روسيې له برتانوي ضد څېړې څخه گټه واخلي . روسان بيا کيداى شي په خپل روڼ په دې هکله وخت غنيمت وگڼي او خپله ښه رويه راوړاندې کړي . » هند ، په لنډه توگه نتيجه واخيسته چې اوس لا هغه مهال نه دى رارسيدلى چې « د کنبيکښني له معمولي لارو چارو څخه لاس پر سر شي . ( ٤٥ ) »

د انگليس - افغان د نوي ترون د کيدو په اړوند ، برتانيې هيڅ نه غوښتل چې د افغانستان ټينگار ته ( چې وايي يو نوى ترون لازمي دى ) سر ټيت کړي . همفريس په ډاگه کړه چې ده ته د بيا خبرو اترو په هکله صلاحيت نه دى ورکړل شوى خو چمتو دى چې په موجوده ترون کې د اصلاحاتو لپاره افغاني وړانديزونه ومني ( ٤٦ ) .

ډير پخوا لا د افغاني حکومت مامورانو ښرگنده کړې وه چې همفريس د نوي ترون د لاسليک لپاره برتانيه پر شاپورې وهي ، په کابل کې برتانوي استازي هغه وخت ځان په عوامو کې بې قدره کړ چې ويې ويل د برتانيې د سرحدي تگ لارې په باره کې خبرې اترې لازمي نه دي او دا ځکه چې هغه

دافغانستان په قانوني ملکیت کې نه راځي .

د (۱۹۲۷) دمي پر ( ۳۰مه ) په لندن کې افغان واکمل وزیر ، شجاع الدوله ، دبرتانیې دبهرنیو چارو وزیر ته یو احتجاجي یاداښت وړاندې کړ چې په هغه کې دبرتانیې دمخکښه پالیسۍ غندنه او یو شمیر نور شکایتونه هم درج شوي وو . افغاني واکمل وزیر په خوله هم انتقاد وکړ ، ویې ویل چې په دې اړوند په خپله همفریس مقصردی او که هغه له دې ځایه تبدیل شي نو افغان حکومت به ډیر خوشاله شي*. سر آستین چمبر لین ، دبرتانیې دبهرنیو چارو وزیر ، ددې غوښتنې په باره کې هک پک تللی و ، « چې دهغې په منلو کې یې ځان بې وسه معرفي کړ . (۴۷) »

برتانوي حکومت پرته له دې چې دافغانستان داندیښنې پروا وکړي ، خپله مخکښه پالیسي یې همداشان پر مخ وړله او د (۱۹۲۷) تراگست پورې په وزیرستان کې دبرتانیې استوگن افسر داسې رپوټ ورکړ چې:« ټولو مسودو لړاو ډیر اوس دا حقیقت منلی چې نور نو دوی تربرتانوي واک لاندې راغلل . (۴۸) »

کله چې امیر امان الله خان دلومړني افغاني واکمن په توگه اروپا او منځنې ختیځ ته دسفر ناڅاپي اراده وکړه نو پر سرحد باندې دبرتانوي عملیاتو او دسړکونو او دخیبر دریلوې سړک دودانولو په هکله دافغانستان اعتراضونو او دسر فرانسیس همفریس دتبدیلۍ اړوند غوښتنو هم زیاتي پاینښت ونه کړ .

---

*په لندن کې افغاني واکمل وزیر ( خودمختاروزیر ) همفریس دافغانستان په کورنیو چارو کې دلاس وهنې پر وجه ځکه وغانده ویل یې ده پر افغانانو زور اچولی و چې د « پښپړنو » په مسئله کې دې دایتالیې له حکومت سره موافقه وکړي .

# جرمني د ډېرېدو ځواک په توګه

دامان الله خان سمونتیايي پروژې او دبرتانيې او شوروي اتحاد په منځ کې دده سياسي درز اچونه ، ددې باعث شوه چې جرمني به افغانستان کې ډېر پياوړي دربيم ځواک په توګه راشي . د (۱۹۲۳) په ډسمبر کې ، دجرمني مرستيال سفير « فريتز ګروبا » کابل ته راورسید او جرمنيان په ګڼون يو دم زيات شول . د ( ۱۹۲٤ ) تر اګست پورې ، په افغانستان کې داستوګن جرمني کارپوهانو شمير پر ته دهغوی له کورنيو څخه ، دوه او يا کسو ته رسيدل چې دا په هيواد کې داروپايانو ترټولو ستر شمير و .

له امير امان الله خان سره دګروبا دلومړنۍ کتنې پرمهال ، افغاني واکمن په افغانستان کې دجرمني له کړنو څخه خوښيي څرګنده کړه . له ګروبا سره په ترکي ژبه دامير دزړه خواله پرته له کوم ژباړن څخه کيده ، هغه يې وغوړ اوه چې دى به دافغانستان په عصري کولو کې تر زياتې اندازې دجرمني ښوونځي فارغانو ته دجرمني په پوهنتونونو کې چې دده له قوله په نړۍ کې ترټولو

غوره وو ، داخله ورکړای شي . لکه څنګه چې جرمني ته دده له خوا استول شوي زده کوونکي ددې خبرې ښه ثبوت و ، دغه زده کوونکو نورو هیوادو ته د تللو ځوانانو په پرتله ډیره ښه زده کړه حاصله کړې وه . افغاني امیر د جرمني له ماتې سره سره په نړۍ کې ددې هیواد مقام بیاهم لوړ باله او امان الله خان داخبره د خپلو دښمنو ځواکونو په پرتله د جرمني په کورنیو عواملو کې نغښتې بلله ، امیر عقیده لرله چې جرمني به یو وار بیا د پخوا په شان غښتلی شي .

امان الله په دې باره کې چې افغاني جامې یې اغوستې وې ، بخښنه وغوښته او ویې ویل چې دا زما دخلکو د کالیو نمونه ده چې په دې ډول افغانان وهڅول شي چې دخپلو تولیداتو په استعمال سره دهیواد له ملي صنایعو ملاتړ وکړي . ددې خبرې په غبرګون کې ګرویا هم مناسب ځواب ورکړ ، داسې چې د پروس پاچایانو لومړی او دویم فرید ریک چې د جرمني د عظمت بنسټ یې ایښی هم ، کټ مټ د امان الله خان غوندې پالیسي لرله (۴۹) .

ګرویا له اروپایي سفارتکارانو سره په محتاطانه ډول تماس ساته . دی په کابل کې له برتانوي واکمل وزیر سره دوستانه و ، زیاریې ایست چې همفریس په دې ډاډه کړي چې « دغه هیواد ته دده د راتګ اصلي مقصد د سواد ګرې سمیالښت دی چې په دې ډول وکولای شي ، د متحدینو د جنګ تاوان یو څه سره برابر کړي ، » همفریس چې په منځني ختیځ کې د ګرویل پر تجربو ښه خبرو ، څه موده وروسته یې هغه د « ډنډورې متخصص ، مګر په خپلو میتودونو کې غیر ځیرک ‌وباله . ( ۵۰ ) »

جرمنیان له افغانستان سره د خپلو اړیکو د ټینګښت په برخه کې تر سیاسي ملحوضاتو په اقتصادي اړخ کې زیات راښکیل کیدل ، د جرمني

اقتصادي ښيګڼه پر بهرني تجارت ولاړه وه ، آن دا چې هغوی ته دافغانستان غونډي ګوښه هیواد هم دپام وړو ، په ( ۱۹۲۳ ) کې ، جرمني سوداګرو له افغانستان سره دتجارت دپراختیا په خاطر په بریمن کې دصادراتو او وارداتو یوه کمپنۍ پرانسته . دا کمپنۍ لومړی « دو یچ او رینتهالیش هندلجن شلف ، یا الې ، جې ، »نومیده ، مګریو کال وروسته په « دویچ – افغانسچې » (DACOM) سره ونومول شوه (۵۱). د ( ۱۹۲۳ ) په دوبي کې » ډاکوم په کابل کې یوه څانګه پرانسته چې دغودریو جرمنیانو کار په کښې کاوه :

کورټ واګنر دهنتهګ نیدرمایر دهئیت غړی ، یو جغرافیه پوه او بیا څیړندوی او لیکوال ایل تر نکلر ؛ او بالاخره یو تخنیکي سلاکار ګوتیلف بلاج. وروسته ډیر ژر دډاکوم دوه مشران لکه فریتز اییز او ایس سهلرمان کابل ته راغلل. ډاکوم یو کال وروسته ځیني سامانونه لکه چودنې نلان ، دتلګراف خادې ، سمنټ ، او بیلابیل ماشیني آلات افغانستان ته وارد کړل . دکار پیل ښه و ، ځکه چې ډاکوم د ( ۱۹۲۵ ) ترجولای پورې موقتي لائسنس درلود . تر دغه مهاله ، ډاکوم ګرسره دهغه تولیداتو او سامانونو واردولو ته لیږلې وه چې افغان حکومت دخپلو بیلابیلو پرمختیایي پروژو لپاره اړتیا ورته لرله . کله چې دافغان حکومت اقتصادي بیلانس ناوړه نتیجه ورکړه نو دجرمن کمپنۍ طالع هم خرابه شوه ، فعالیتونه یې ، محدود او ځیني بندیزونه پرې ولګول شول . افغان حکومت وار دواره اعلان وکړ چې مونږ دا حق لرو چې دکمپنۍ لائسنس وروسته له شپږمیاشتو څخه لغوه کړو : خو وروسته حکومت نرم شو او اعلان یې وکړ چې تړون به یوازې هغه وخت له منځه یوړل شي ، که کمپنۍ له افغاني کړنلارې څخه تیری وکړي . ډاکوم دافغان حکومت له خوا دورمعرفي شوو تجارانو څخه پرته، له نورو سره له معاملې څخه منع کړای شو . دا چې پخوایې هم عمده تجارت له افغان حکومت سرهونو

ځکه کمپنۍ داعمل دخپلو فعالیتونو لپاره مهم بندښت ونه ګاڼه . په هرحال ، ډېره جدي موضوع لاداوه چې ، افغان حکومت په دغه ټينګار وکړ چې ډاکوم دې دخپلو کلني وار داتو او صدراتو انډول سره وساتي . جرمنۍ مؤسسې ژردرک کړه چې دا کله کولای شي دخپلو صادراتو په اندازه افغاني مال روانیسي . همدا علت و چې خوړلې ګټه یې دسوداګرۍ دناوړه بیلانس او هم دلوړی بیې او نیمګړې اداري په وجه تالاوالا شوه . دهغې دلس زرو پونډو پانګه په مال بنده وه ، چې دځینو دغو شیانو جنسیت ټیټ او په افغانستان کې یې غوښتنه هم نه کیده ، بنا پردې ، دګروباله قول ، کمپنۍ به « تل دخولې را ایستلي بیرته خوړل . »

دکمپنۍ یوازیني عایدات دټولو خریداریو څخه پنځه په سلو کې کمیشن او دهغو مالونو ګټه وه چې له جرمني څخه یې افغانستان ته لیږل-۵۲ ) . دا لاڅه ، ډاکوم هله دربنده شو چې په ( ۱۹۲۸ ) کې دافغانستان کورنۍ جګړه پیښه شوه هغه یې له تجارت څخه بې برخې کړه .

دا چې د پوځي علومو او وسلو دتکنالوجۍ په برخه کې امیر امان الله خان دجرمني فني کارپوهنې ته خاصه پاملرنه لرله نو داداریانۍ خبره نه ده چې ده دافغان پوځي اکاډیمۍ لپاره دجرمني پوځي مرستې او لارښوونکي راغوښتل . خو جرمني د « ورسل » دتړون د ( ۱۷۹ ) مادې له کبله چې دهغې له مخې بهرني هیوادته د پوځي مرستې له ورکولو څخه منع شوی و ، دهمدغه بندیزپر وجه ، امان الله خان دې ته اړ شو چې دخپلو وسلواولوړني افغان هوایي ځواک دجوړښت لپاره بالاخره شوروي اتحاد ته مخ واړوي . برتانوي ماموروانو لیدل چې په افغانستان کې دشورویانو پر پرتله جرمنیان ډېر ګومارل شوي خو لندن په تمامه مانا غوښتل چې دافغانستان د پوغ په عصري کولو کې جرمنیان ځای ونه لري . د ( ۱۹۲٤ ) په اپریل کې ، دیو ځلویښت کسو یوه

جرمني، دله کابل ته راورسیده ؛ زیاتره دهغوی پخواني پوځي افسران وو چې افغان حکومت غوښتل هغوی په حربي پوهنتون کې د سلاکارانو یا ښوونکو په توګه وګوماري (۵۳) . په کابل کې برتانوي واکمل وزیر له جرمن استازي څخه وغوښتل چې په دې هکله مداخله وکړي خو ګرویا استدلال وکړ چې دی نشي کولای انفرادي اشخاص په افغانستان کې له کارمیندلو څخه منع کړي ، که څه هم چې خپل برتانوي اندیوال سره یې ومنله چې جرمنیانو ته به اجازه ورنه کړي چې په افغان پوځ کې شامل شي . برلین ګرویا ته خبرورکړ چې په افغان پوځي ښوونځیو کې جرمنیان له استادۍ څخه راوګرځوي خو له دې سره سره ، بیا هم یو شمیر جرمني افسران دافغان حکومت دسلاکارانو یا استادانو په توګه وټاکل شول . یو شمیر جرمنیان دافغان حکومت له خوا دپیلوټانو او دالوتکې دمیخانیکانو په توګه وګومارل شول چې د (۱۹۲٤-۲۵) کال دخوست دبلوا په ترڅ کې یې افغان پوځ ته دقبایلي ځواکونو پرضد ښه بریالیتوب ورپه برخه کړ (٥٤).

په کابل کې برتانوي نماینده پردې مهال دجرمني پیلوټانو پرګومارلو اعتراض وکړ ، مګر هندي حکومت بیا دورسل پر بندیز سترګې پټولې ، ځکه هغه عقیده لرله چې « دجرمنیانو ټاکنه به دښوونکو پر توګه او هم په افغاني پوځ کې په ټینګه دروسانو سره متعادل ، اووار په وار به دهغوی دورکولو سبب شي . (٥٥)»

دهند دغه نظر دلندن او پاریس دبشپړې منني وړنه و ، خو دموضوع اصلي زړه داوه چې پخوانیو متحدینو نشو کولای چې دورسل دتړون بندیزونه شاته وغورځوي . افغانستان ته دانفرادي جرمنیانو ورتګ نشو بندیدای . په خپل بې وسلې شوي هیواد کې ، پوځي افسرانو دنژدې راتلونکي لپاره خپل مسلک صفر باله نو ځکه چا چې کولای شول په بهر کې کار پیدا کړي ، ډیر

په خوشاله کیدل .

کله چې امان الله خان بهرنيي کارپوهان افغانستان ته راوبلل، هیڅ کوم هیواد ته یې ځانګړی امتیاز ورنه کړ . ده اصلاً د بهرنیو اغیزو په انډول کولو کې خاصه ځیرکي وکړه د (۱۹۲۲) په اګست کې همفریس هند ته داسې رپوټ ورکړ : « څنګه چې امیر د خپل هیواد د پرمختګ او خپلو وګړو د ښوونې او روزنې په برخه کې له برتانوي یا روسي نفوذ څخه په وهم کې دی نو ځکه یې د داسې هیوادو وګړي ګومارلي چې ویره ځنې نه لري ، همداسبب دی چې ، ایټالوي معدنپېچیا ن ، جرمني انجینیران ، فرانسوي پوهان او امریکایي سوداګر چې د سوکالۍ او تمدن پر لور د افغانستان په پرمختګ کې د مرستې لپاره بلل شوي له عجیبه امتیازونو څخه دادی ګټه اخلي . (۵٦) »

دوه کاله وروسته ، برتانوي واکمل وزیر رپوټ ورکړ چې جرمني کارکونکو په افغان حکومت کې ډیر لوړ دریځ تر لاسه کړی دی : « په دارالامان کې د کابل د بې سیم دستګاه ، او د تنګي غارو سړک د جوړولو کار جرمني انجینیرانو ته وسپارل شو ، او رپوټ ورکول شوی چې د بګرام او جلال آباد داوبو لګولو پروژې او د جبل سراج د برېښنا بټۍ هم چې (پخوا یې انګریزاو هندیانو مسئولیت درلود ) دوی ته سپارل شوي دي . جرمنیان په دې هم غږیدلي چې غزني داوبو لګولو کار ، او له کابل څخه تر کندهاره د نوي تلګرات د مزي غزولو چارې به هم د دوی په واک کې ورکړل شي.... »۵۷)

په پای کې کله چې ، په اصطلاح د « پیپرنو پیښه » وشوه . اوګڼ شمیر ایټالوي انجینیران له افغانستان څخه ولاړل . نو جرمنیانو ته د ایټالیې اړوندې پروژې وسپارل شوې . (۵۸)

د خارجیانو او افغانانو تر منځ د تاوتریخوالي ټرټولو غټه واقعه د پیپرنو پیښه وه چې د افغانستان په بهرنیو اړیکو کې یې مهم غبرګونونه منځته

راوړل . په دې اړوند نوموړې پیښه د لاې پرلاې آرشیفي پاڼو له مخې ، په لنډه توګه داسې بیانیږي :

د (۱۹۲٤) د جولای پر (۲۷ مه) ، یو ایتالوي انجینیر پیپرنو هغه وخت یو افغان پولیس په ګولۍ سره وواژه چې هغه دده د نیولو پسې راغلی و چې د کابل د پولیسو قوماندان ته یې بوځي ، د (۱۹۲٤) په دسمبر کې پیپرنو د یوې اسلامي محکمې له خوا پر مرګ محکوم شو ، مګر د مقتول د نژدې خپل ، محمد یاسین له خوا وبخښل شو . د هغه وخت د افغاني قانون له مخې ، دولت دا حق او د نده لرله چې یو څوک قانوني تعقیب کړي . د همدې قانون له مخې پیپرنو په لس کاله بند محکوم شو . خو کله چې له بنده و تښتید بیا ونیول شو ،او د (۱۹۲۵ ع) د مې پر دیرشمه نیټه اعدام کړای شو . د افغانانو دانګیرنې له مخې ، پیپرنو یو افغان په خپل سروژلی نو ځکه باید د خپل د غه جنایت پر وجه دی هم ووژل شي . دا کار د کسات کښلو د لرغونو وختو له دودسره سم و چې په اسلامي قانون کې د قصاص ( غچ اخیستلو ) په توګه خو ندي شوی دی ،سربیره پردې ، سلطان یا سیاسي واکمن ، کولای شول ترخون بها وروسته بیا هم پر تورن د محکمې چلولو غوښتنه وکړي ، یا دا چې د اعدام د مخنیوې لپاره انصاف وغواړي ، لکه څنګه چې په دې موضوع کې یې هم د غسې عدالت وغوښت . امان الله خان نوي قوانین وضع کړي وو چې د هغو له مخې نه قصاص او نه هم تعذیر یانې په سمه پوه کولو ( یا د تورن اخري جرم ته د نه رسیدو جزا ) ځای لاره . لاکن د خوست شورش امان الله خان دې ته اړ یوست چې په دې هکله د قانوني محدودیت اصلاحات د ترکانو په مشوره راوباسي ، د دې افغاني اقدام د قانونیت په باره کې هیڅ کوم دلیل نشو ویل کیدای ، لکه څنګه چې هم افغاني او هم اسلامي عدل ، له اروپا یې قوانینو څخه توپیر لاره .

په دې هکله پوښتنه په افغانستان کې د بهرنيانو د حالت په باره کې وه . اسلامي قوانين د سيمې پر پرتله پرفردي اصولو ولاړ دی ، همدا علت دی چې ، ذميانو (د اسلامي پاچهانو غير مسلمان رعيت ) ته اجازه وي چې خپلې محاکمې د خپلو مذهبي محکمو له لارې صادرې کړي ، په دې شرط چې مسلمانان په کې دخيل نه وي . په عثماني امپراطورۍ کې هم وروسته ، بهرني غير مسلم اوسيونکي ، د کاپيتولاسيون د سيستم له مخې د هغوی د خپلو کونسلي محکمو تر پرېکړو لاندې اوسيدل . له بهرنيو سره د غه زيادتي مراعت او د عثماني غير مسلمانو اتباعو د گڼون زياتوالي هغوی په عثماني دولت کې د يوې ممتازې طبقې د ريځ ته ورسول چې له اقتصادي او سياسي پلوه له عثماني کنترول څخه خلاص او دلته د لويديځ تمدن د راوستلو عمده سبب وگرځيدل . افغاني واکمنان په دې پوه وه ،که په افغانستان کې بهرنيو ته کټ مټ همداسې امتيازات ورکړي نو ضرور به يې خپلواکي په خطر کې ولوېږي ، ځکه يې نو په کينيز ډول پر ټولو بهرنيانو اسلامي قانون چلاوه ، پرته له سفارتي معافيت څخه چې هغه پر متقابل امتياز ولاړ و . دا خبرې تر (۱۹۱۹) پورې عملي اساس درلود ، لکه څنگه چې برتانيې منلې وه چې په کابل کې به د دوی نماينده او کارکوونکي ټول مسلمانان وي . که څه هم چې دغه برتانوي استازي تر سفارتي معافيت لاندې خلاص ول خو نه يې شول کولای چې خپل تر لاس لاندې کسان د سيمه ييزه محکمې له فيصلو څخه وژغوري . کله چې اروپايي ځواکونه له (۱۹۱۹ ) څخه وروسته کابل ته راغلل ، دا ضمانت ورکړل شوی نه و چې د هغوی اتباع به له افغاني قانون څخه خلاص وي . مگر کله چې پيپرنو په دار وځړول شو نو د ايتاليې حکومت دا محاکمه نيمگړې وبلله او په روم کې يې افغاني واکمل وزير ته د اعتراض پر توگه لاندې غوښتنې وړاندې کړې :

۱ - په کابل کې دې دایټالیې په سفارت کې دافغانستان دبهرنیو چارو وزیر دعوامو په مخ کې ددې پیښې له امله بخښنه وغواړي او په دې ترڅ کې دې افغاني عسکر دخپل بیرغ تر څنګ ایټالوي بیرغ ته هم سلامي وکړي .

۲ - دخون بها هغه پیسې چې په رضائیت سره اخیستل شوي په ټیټوسترګو سره دې بیرته راانتقال شي .

۳ - دایټالیې حکومت ته دې اووه زره پونډه تاوان ورکړل شي چې له هغه څخه به نیمایې دپیپرنو پاتې کسانو او متباقي نیمې به یې دایټالیې خیریه ځانګې ته وقف شي ..۵۹ )

له دې غوښتنو څخه لومړنۍ غوښتنه یې افغانستان ونه منله ، ځکه چې پرافغاني بیرغ دقرآن ایتونه لیکلي ول او هغه دومره یوه ملي نښه نه وه لکه مذهبي چې و ، ددویمې غوښتنې پر اړوند ، ګرویا چې په دې مسئله کې یې مرسته کړې ، درک کړه چې ایټالویانو هغه وخت له خیانت څخه کاراخیستی و چې یو جرمن ژباړن « سیاستین بیک » یې دوژل شوي افغان لپاره دخون بها پیسو داخیستلو په خبرو اترو کې وربللی و . دبیک زړه هغه وخت پر ارامه شو چې دغه پټې خبرې اترې بر بندې شوې . ( ٦٠ ) ایټالیې له ټولو اروپایي نمایندګیو څخه په ډله ییزه توګه دیو سیاسي اقدام غوښتنه وکړ ،لاکن نتیجه یې ورنه کړه . په کابل کې برتانوي واکمل وزیر وراندیز وکړ چې برتانیه دې په دغسې اقدام کې برخه نه اخلي او هندي حکومت بیا څرګنده کړه چې :

« دغه نوټ ته پاملرنه به یوه اروپایي ضد څپه راپورته کړي چې روسیه به هرومرو دایران او ترکیې په لمسولو سره هغوی زمونږ پرضد راته ودروي . دافغان حکومت دنه منلو په صورت کې به مونږ هرو مرو لومړی دسیاسي نمایندګۍ او کونسلګریو پرسونل او په پای کې به په خپله سیاسي نماینده او کونسلان را باسو . . . ددغسې کار پای زمونږ لپاره ډیر خطري دی ، ځکه که

نوموړی شرط نورهم پسې وران شي ، نوروسیه به په افغانستان کې یو سخت برلاس توب ته ورسیږي . (٦١)

په همدغه وخت کې . ایتالوي حکومت دهغو وسلو لیږنه بنده کړه چې پخوا یې لاا فغانستان ته پنځه ویشت زره پونډه ورانتقال کړي وو او په روم کې یې دافغاني واکمل وزیر دبانک ځاني حساب هم و تاړه . دسفارتي اړیکو بندښت له ورایه په څرګند یدوشو او داګست پر (١٤ مه) یوازې څو ساعته مخکې له دې چې ایتالوي سفارت له کابل څخه حرکت وکړي ، امیر دایتالیې دغوښتنو لړه برخه ومنله . (٦٢)

که څه هم چې دافغانستان او ایتالیې ترمنځ ستونزې رسماً او ارې شوې ، خو په افغانستان کې دایتالیې تجارتي ګټې خورا زیان منې شوې او ورپسې څو کالو کې په کابل کې دایتالویانو شمیر خورا لږ شو . د پیپرنو پیښې له هرڅه مخکې دافغانستان پر نړیواله اړیکو زیاته اغیزه وښندله . دا پیښه له حده ډیره تحریف شوه اودیوې نیمګړې محاکمې غوندې ښودل کیده ، لکه څنګه چې امریکا له افغانستان سره دخپلو اړیکو په ټینګولو کې له همدې کبله مغزی کوږ نیولی و . ډیر ژر ، دیو جرمن او یو افغان له خوا کټ مټ یوه بله داسې پیښه وشوه چې جرمن – افغان اړیکې یې ږغنې کړې .

دلپزیک له پوهنتون څخه « جي ستراتیل – شاور » یو جرمن جغرافیه پوه اوسیاسي اقتصاد پوه ، افغانستان ته پر خپل موټر سایکل باندې راغی ، دده په سفر کې همدارنګه ترکیه ، ارمنستان ، ایران اوهند هم دڅیړنې او سروې پر غرض شامل وو . د (١٩٢٥) دنوامبر پر (١٧ مه) ، کله چې د جلال آباد اوکابل ترمینځ لار یې وهله ، دغاترو له یو کاروان سره مخامخ شو . دکاروان له دوو اس والا وو سره دڅغاستې په سیالۍ کې یو یې له خپل آس څخه راولوید او کله چې ستراتیل شاور ودرید نو جنګ هم سره ونښته ، ستراتیل

شاور دځان دبچولو په خاطر يو افغان په شاکې په تومانچې سره وويشت . ستړاتيل شا ورژر له صحنې څخه وتښتيد او کابل ته په رسيدو سره يې دجرمني په سفارت کې ځان پټ کړ . نوموړی افغان وروسته له نهو ورځو مړشو او دجرمني دختيځې ځانګې دسکرتر سيباستيني بيک دضمانت په صورت کې ( چې ويل يې محاکمې ته به يې حاضر کړي ) ستراتيل شاور پرېښودل شو چې هماغلته دجرمني دسفارت په لاس کې دې پاته وي . فريتز ګروبا دېوي بلې پيپرنو پيښې دبيا تکرار څخه وويريد او اراده يې وکړه څو ، دستراتيل شاور سره په تښتيدو کې مرسته وکړي . ګروبا هغه ديو افغان په جامو او بڼه کې دهيواد پولې ته وليږه ، مګر دا فراري دګروبا له موټر سره يو ځای ونيول شو او سمدستي بيرته کابل ته واستول شو .

افغان حکومت بيا يو شکايت را پرمخ کړ : په هغه کې ګروبا په دې تورن شوی و چې د ستراتيل شاور له تښتيدو سره دکومک په خاطر يې افغاني قانون تر پښو لاندې کړي ، ځکه يې نو د جرمني له حکومت څخه وغوښتل چې خپل شارژدا فير ( مرستيال سفير ) ور وغواړي خو ګروبا دا تور رد کړ ، ادعا يې وکړه چې يوازې دفراري دنيولو او بيرته کابل ته دهغه دراوستو لپاره يې دا کار وکړ . دجرمن حکومت هم دګروبا پر څرګندونو باور وکړ او دافغانستان غوښتنه يې تر هغې ونه منله څو چې دستراتيل شاور دوسيه په جريان کې لويدلې نه وي ، تر څو مياشتني ګروېږنې وروسته ، دستراتيل شاور هغه صورت دعوا چې ويل يې ماد ځان دژغورلو په خاطر دا عمل وکړ يو څه قبوله شوه او د ( ١٩٢٦ ) داګست پر دريمه ، پر څلور کاله بند محکوم شو ، مګر دوې ورځې وروسته دشاه امان الله خان پواسطه وبخښل شو . دجولای پر ( ٢١ مه ) ( دمحاکمې پر وروستۍ ورځ ) ستراتيل شاور ، په ډاګه کړه چې: « دهغه دوستانه احساساتو له مخې چېزه يې افغانستان ته وهڅولم او دهغه

صمیمانه اړیکو پر وجه چې ( زمونږ ) دواړو ولسونو ترمنځ شته دی ، زه دخپلې محاکمې دلومړی ورځې څخه ، ترنن پورې په دې بیخي راضي یم چې دویني توئید و په بدل کې پیسې تادیه کړم . »

محکمې هم داخبرې ومنلې او دمدعي وکیل څرګنده کړه چې :

« شرعیت زما موکل ته داحق ورکړی چې د تورن دمرګ او ژوند په هکله ځنګه چې لازم وي پریکړه صادره کړي. دهغو ښو انګیرنو له مخې چې تورن يې افغانستان ته راوهڅاوه ، دهغه میلمه پالنې له مخې چې نوموړی بې دینه يې دیو بې دینه هیواد څخه دراتګ په نتیجه کې دلته خوښ ساتلی دهغه دوستانه اړیکو له مخې چې (زمونږ) ددواړو هیوادو او حکومتونو ترمنځ شته ، دهغه اوږده بندله مخې چې ده تیر کړی ، په تیره بیا دپاچا له هغه نیت څخه چې ټولو جرمنیانو ته يې لري ، بالاخره ، دهغه حقیقت له مخې چې جرمنیان دلته ښه کارونه کوي ، مونږ دغه تورن دافغاني سخاوت په نظر کې نیولو له مخې معاف کوو . . . . »

ټولو ناستو کسانو ، دقاضیانو په ګډون ، دغه ا قرار په ولولو او چکچکو سره وستایه . د ( ۱۹۲۵ ) داګست پر څلورمه ، دشاه امان الله خان له خوا دستراتیل شاور له بخښنې څخه وروسته ، هغه دجرمني سفارت ته تسلیم کړ شو . څوورځې وروسته هغه پر کومه لاره چې راغلی و ، بیرته له کابل څخه ووت .

ګروبا دستراتیل شاور دپیښې قرباني شو او « اګټ فیجل »ته يې خپل ځای خوشې کړ . چې نوموړی د ( ۱۹۲٦ )دجون پر ( ۱۸ مه ) کابل ته راغی؛ دغه سړی چې جرمن حکومت دګروبا پر ځای وټاکه دلوړې رتبې واکمل وزیر و . ګروبا هیله من و چې له افغانستان سره داسې خبرې اترې او تجارتي تړون وکړي چې دهغه له مخې په افغانستان کې دجرمني دپراخو تجارتي فعالیتونو

لپاره یو اساس جوړ کړای شي . خو افغانستان دغسې کنوانسیون یوازې له برتانیې سره وکړ ، ځکه افغان حکومت په دې عقیده و چې د مالونو د ترانزیټ انسجام ته یوازې دهندوستان له لارې اړتیا لري .دا چې دافغانستان زښت زیات واردات دهند پر لار راتلل نو دو اړو څواکونو دامتیازاتو او مسئولیتونو داړونده مقرراتو او تګ لارې د شته والي خوا ضروري وه . افغان حکومت نه غوښتل چې هیڅ کوم هیواد ته « له نورو ډیر » امتیازات ورکړي . ځکه عقیده یې لرله چې ښایي دغسې قرار دادونه به دکاپیتولاسیون دقرارداد و غوندې خطرناک ثابت شي . همدا علت و چې جرمني په افغانستان کې پر ته له کوم دوه اړخیزه تړونه همداسې پاتې وه ډاکوم په لومړي سر کې اصلاً له کوم تجارتي تړون سره مخالفه وه ، ځکه په دې ډاریده چې هسې نه نورې جرمنۍ کمپنۍ هم دهغې په امتیازاتو ورګډې نشي . خو کله چې افغان حکومت دډاکوم فعالیت تحدید کړ ، نو کمپنۍ هم له جرمن حکومت څخه وغوښتل چې له افغانستان سره د تجارتي تړون لاسلیک وکړي . دسترا تیل شاور پیښې دګروبا هغه تلوسه پای ته ورسوله چې غوښتل یې دافغانستان سره کوم تجارتي تړون ترلاس لاندې ونیسي .

لکه څنګه چې پورته وویل شول ، تردې دمه دجرمن - افغان اړیکې پرهغو تړونونو ولاړې دي چې دلومړۍ نړیوالې جګړې په ترڅ کې منځته راغلې وې ، په همدغه وخت کې افغانستان له شوروي اتحاد او ایران سره ددوستۍ تړونونه ( ۱۹۲۱ ) ، له ترکیې سره دملګرتوب تړون ( ۱۹۲۱ ) له ایتالیې سره کونسولي تړون او تجارتي پروتوکول ( ۱۹۲۱ ) ، له برتانیې سره دکابل تړون ( ۱۹۲۱ ) او دسوداګرۍ کنوانسیون (۱۹۲۳) اوهم له فرانسې او بلجیم سره تړونونه ( ۱۹۲۲او ۱۹۲۳ ) لاسلیک کړل . ځکه نور دا دلیل پر ځای نه و چې له افغانستان سره ددوستۍ د تړون دلاسلیک په صورت

کې به برتانیه پر جرمني ستر ګې راوباسي . په هرحال په دې اړوند نوښت دافغان حکومت له خوا رامنځته شو ، باید څرګنده يې کړو چې په برلین کې دافغان واکمل وزیر ، غلام صدیق خان څرخي ، داتلوسه لرله چې مخکې له دې چې په برلین کې يې دنده پای ته ورسیږي له جرمني سره ددوستۍ تړون لاسلیک کړي ، ځکه نو په برلین کې خبرې اترې پیل شوې چې نه جرمني حکومت او نه هم افغان حکومت رضائیت لاره . جرمني هغه بشپړ او کافي نه باله او افغانستان هغه له « نوروڅخه زیات » امتیازي ګاڼه . خبرې اترې د (۱۹۲٦) دمارچ تر دریمې پورې په پر له پسې ډول جارې وې چې بالاخره په برلین کې ددوستۍ تړون لاسلیک شو . داتړون عام او د (۱۹۲۲) کال دفرانس - افغان دتړون غوندې یوه نمونه وه . دې تړون یوازې کونسولي مقررات اوسیاسي امتیازات په خپلو پانو کې رنغاړل ، مګر دغسې یو پاراګراف يې هم لاره چې دهغه له مخې دواړو دولتونو په راتلونکي مناسب وخت کې دنورو تړونونو دلاسلیک هیله څرګنده کړې وه .

# له شوروي روسيې سره اړيکې

دامير عبدالرحمان خان له وخته افغاني تګ لاره داوه چې په افغانستان کې دسوله ييزو لارو چارو پر واسطه دبرتانيې اوروسيې دا غسيزو مخه ونيول شي ، همداعلت و چې عبدالرحمان خان او حبيب الله خان دواړو ګوښه والى غوره کړی و ، مګر امان الله خان بيا په خپل وار ، سربېره پردغو ، دنورو هيوادونو پر اتباعو هم ځان تکيه کړی و . دملي دفاع په چارو کې لکه دوسلو او پوځي پوهنې واردول ، دجيو پولتيکي عواملو له کبله حتمي وه چې افغانستان له خپل يو يا بل اروپايي ګاونډي څخه مرسته وغواړي . دافغانستان واکمنان تل په دې عقيده وو چې دوی دخپلې اړتيا وړپوره وسلې نه لري ، په داسې حال کې چې اروپا يي ګاونډيان يې په دې ډاريدل چې ښايي په دې هيواد کې زير مه شوې وسلې ددوی پر ضد استعمال نشي ، ويل کېده چې افغانستان تر خولې پورې وسله وال دی . افغانستان داقتصاد له مخې په ځان تکيه وا و کولای يې شول چې پر ته له خپل بهرني تجارت څخه ځان

وچلوي : خو دخپل یو یا دواړو ګاونډیانو د دښمنۍ په صورت کې افغانستان ضرور دهغو وسلو او موادو څخه چې جنګ به یې کاوه بې برخې کیده، ځکه نو افغاني واکمنان په دې عقیده وو چې باید ضرور له خپل یو یا بل ګاونډي سره داحتیاط له مخې دوستي وکړي . په اصل کې داګټوره وه چې دخپلو دواړو ګاونډیو سره یې ملګرتوب کړی وای ، مګر دې کار امکان نه درلود ، ځکه روسیې او برتانیې که په ښکاره یو دبل وینې نه څښلې نوزاړه سیالان خوو .

له امیر عبدالرحمان خان څخه دانګلیس - افغان تر دریمې جګړې پورې به ، افغاني واکمنانو دخپلې اړتیا وړ وسلې له برتانیې څخه تهیه کولې، تر جګړې وروسته له برتانیې سره داړیکو دخړپړ والي په نتیجه کې او په دې دلیل چې ښايي جګړه به نور پایښت وکړي ، امان الله خان دوسلو لپاره مجبوراً شوروي ته مخ واړاوه . دې مخ ګرځونې دبرتانیې حکومت په یو سخت دریځ کې ښکیل کړ او هغه یې له افغاني واکمن سره دخپلو اړیکو دانډول ساتنې څخه بې برخې کړ . په (۱۹۲۵) کې هغه په دې هکله ، خپله تګ لاره ښکاره کړې او ویې ویل چې : « که افغانستان وسلې رانیسي نو دا زموږ لپاره هم دسوداګري اوهم پوځي نقطې نظره ګټوره تماميږي ، که یې زموږ څخه واخلي او که یې لازم وبولي موږ کولای شو چې هغه دروسیې غیږې ته له ځان اچولو څخه راوګرځوو . »(٦٥)

کله چې سرایچ ډبس د (۱۹۲۱) کال دکابل دتړون اړوندې خبرې اترې پر مخ بیولې ، دهند له خوا تر فشار لاندې وچې باید پر افغانستان باندې وسلې بندې شي ، مګر هغه پوه و چې داکار هیڅ شونی نه دی . ده هند ته رپوټ ورکړ چې : « افغانان دوسلو آزاد و وارداتو ته دومره ستر اهمیت ورکوي که چېرې هغوی زموږ په خورا کوچنې رمازه هم پوه شي نو یقیناً چې تړون به لاسلیک نه کړي . . . دغه رنګه کوښښ به هغه وخت په ګټه وي چې

زمونږ ترمنځ اړیکي په ښکاره ډول غوځېږي . » (٦٦)

د (١٩٢٣) کال دانګلیس - افغان کړکیچ په ترخ کې ، برتانیې افغانستان ته دوسلو ترانزیټ بند کړ . لاکن برتانیې ژر درک کړه چې په بهر کې خود افغاني استازیو له دندو څخه یوه یې دافغانستان لپاره دوسلو پیریدل وو چې دهند له خوا دبندښت په صورت کې د شوروي اتحاد پر لار استول کیدې . له بیلابیلو سرچینو څخه پوځي سامانونه راورسیدل . واردواره شوروي وسلې راغلې ، مګر سمدستي ایټالیې ، فرانسې او نړیوال وسلتونونو هم د وسلو پر برابرولو کې ځانونه ورګډ کړل . په دې وسلو کې به کله ناکله داسې نیمګړي ماډل سلاوې هم راوتې چې افغان حکومت به نه قبلولې او بیرته به یې ورلیږلې .

دیو افغان هوایي ځواک دجوړښت لپاره دامان الله خان کوښښونو ژر تر ژره نتیجه ورنه کړه . شوروي او ایټالوي الوتکې کابل ته راورسیدې ، مګر دبیلابیلو عواملو پر وجه نشوی الوتلای . کله چې دغه الوتکې پر زه پرزه کړای شوې ، ځینې یې افغانستان ته درالیږلو پر وخت ماتې او یاهم ورکې شوي . بله دپام وړ ستونزه داوه چې افغانستان دالو تکو دساتنې او ترمیم لپاره مسلکي پرسونل نه لاره .

افغان هوایي پوځ هغه وخت یوه اضافه الوتکه ترلاسه کړه چې یو برتانوي پیلوټ دلارې ورکولو پر سبب مجبوراً به کتواز کې خپله الوتکه راکښته کړه . افغاني خارجه وزیر دافغانستان له پاسه دا تیری وبانبه او پرسریې دلاس ورتیر ولو پر توګه ، سرفرانسیس همفریس ته وویل : « افسرېې ستاسو مګر الوتکه یې زمونږ . » له همدې کبله تر (١٩٢٣) پورې ، افغان هوایي پوځ دوې شوروي ، دوې ایټالوي او یوه برتانوي الوتکه پهواک کې لرله .

د (١٩٢٤) په دوبي کې چې دخوست اړ او دوړپه خطرناکه ډول پراخیده

افغان حکومت له هندي حکومت څخه لېتر لږه د شپږو پوځي الوتکو د چټکې لېږنې غوښتنه وکړه . دبرتانوي پیلوټانو گومارل هم دافغانستان او هم دبرتانیې خوښه نه وه ؛ پر دې سر بېره برتانوي حکومت دا هم نه غوښتل چې ددوی الوتکې دروسانو له خوا پکار واچول شي خو دجرمني پیلوټانو له خوا یې د هغوی له الوزولو سره مخالفت نه لاره . مخکې له دې چې دا الوتکې د کابل پر خوا والوزي ، د «الله اکبر» اسلامي کلیمه پرې ولیکل شوه چې په دې ډول سرحدي قبایل خوشاله کړي . برتانوي پیلوټانو په ملکي لباس کې دغه الوتکې ورسولې او د هند حکومت پر دې حقیقت سترگې پټې کړې چې پدې توگه یې دورسل د تړون (۱۷۹) ماده تر پښو لاندې کړه په افغانستان کې د جرمني پیلوټانو له خوا د نظامي الوتکو پر الوزولو یې بندیز لگولی و .

د هند حکومت غوښتل چې تر هر څه مخکې ، افغاني قبایل خوشاله کړي او په افغانستان کې د شوروي اغیزه شنډه کړي ، مگر دا یو غیر معقول امیدو .

له دغو برتانوي الوتکو څخه وروسته شوروي اتحاد هم د (۱۹۲٤) په اکتوبر کې پنځه الوتکې او په ورپسې کال کې شپږ نورې الوتکې ، پیلوټان او دالوتکو میخانیکان ورکړل . افغان حکومت کولای شول چې پخوایې لا شوروي الوتکې غوښتې وای خو په دې یې ټینگار کاوه چې په پرزه پرزه ډول دسړک له لارې دهغوی راوړل کـه نا شوني نه وي نو د پخوا غوندې سختې ستونزې خو هرو مرو لري . دیو برتانوي مامور له خولې د (۱۹۲۰) لسیزې په ترڅ کې دافغان هوایي ځواک وضعیت داسې خلاصه کیدی :

۱ - دا چې په کابل کې دالوتکو د کارکولو شرایط ډېر سخت دي نو دهغوی ترمیم او ساتنه دروسي میخانیکانو څخه زیات سخت کار غواړي .

۲ - روسي پیلوټان ډېر تکړه دي ، ځکه په الوتلو کې د کالونو تجربې لري ، میاشتنی معاش یې د (٤٢) څخه تر (٤٥) پونډ و پورې دی . افغانان له

دوی سره داسې چلند کوي چې کوم برتانوي څوکۍ وال به يې قبول نه کړي او په بازار کې هغوی په خورا بې ډوله کورونو کې ځای پرځای کړل شوي دي .

۳ - دهوايي ځواک اغيزمن وسايل په دې ډول دي :لس ډی .ايچ ( ۹ ) الوتکې ، يوه دشپږو څوکيو مونو پلين جنګي الوتکه او دوی بريستول جنګي الوتکې . له دغو څخه يوه يې لاهم هيڅ دالو تلو وړ تيا نه لري .

٤ - روسانو هغه جرمني او هندي هوايي پرسونل پسې اخيستی چې په بيلو بيلو وختونو کې افغان حکومت ګومارلي وو .

۵ - په اصطلاح افغان هوايي پوځ ټول ټال تر يو روسي اداري او خدمت لاندې کنبيو تلی او کيدای شي هغه ديوې روسي اډې په توګه قياس کړو ... که هغسې يوه پيښه ... چې مرکزيې له تهديد سره مخامخ کړ ، بيا وشي ، نو دانه ده ثابته چې روسي هواباز به له مرکزي حکومت څخه ملاتړ وکړي که نه . (٦٧)

دبرتانويانو انګيرنه په ښکاره داوه چې « تر روسي څارنې لاندې » دغسې يو هوايي پوځ دافغانستان دټينګښت په نسبت ، دهغه لپاره يو بالقوه خطر دی ؛ داچې دهند حکومت دافغانستان په نسبت هند ته له دې خطر څخه زيات اندېښمن و ، پرځای خبره ده . لکه څنګه چې په (۱۹۲٤) کې په کابل کې برتانووي واکمل وزير ته لاربښوونه وشوه چې « دروسي الوتکو په رارسيدو سره کومه ليوالتيا څرګنده نه کړي » او دابل کال برتانيې هغه « دروسي نفوذ دتم کولو » يوه جدي مسئله وګڼله . (٦٨) ډيلي وړانديز وکړ چې:« دافغان هوايي پوځ روسي کول »بايد له لاندنيو اقداماتو څخه دیوه پرواسطه راوګرځول شي :

۱- په افغان هوايي پوځ کې دې دروسي پرسونلونو شته والی (دانګليس - افغان) دتړون دمعنا او مفهوم يو غير دوستانه او لمسونکی

عمل وګڼل شي .

۲ - د هندوستان له لارې د الوتکو ، پالتو پرزو او د سونګ موادو ترانزیټ ترهغې بند شي چې د روسانو په لاس د هغوی د نه استعمال په هکله لیکلی ضمانت ونشي .

۳ - ورته ودې ویل شي ، څنګه چې مونږ د افغانستان په جنوب کې د روسي کونسلګریو موجودیت زغملی چې برتانوي ضد اغیزه ښندي نو په جنوبي زون کې به د روسي هوایي پرسونلونو شته والی غیر دوستانه او لمسونکی اقدام وګڼو او د هغه له امله به مونږ پر خپل تړون باندې هم ونه درېږو . (۶۹)

د غه وړاندیزونه د لندن د حکومت له خوا ځکه رد شول چې ویل یې (۱) افغانانو ته به یو ښه دلیل پیدا شي او هغوی به دا کار د برتانیې د پخوانی تګ لارې په نظر کې نیولو له مخې یو نا معقوله او چټي رویه وګڼي (۲) یوازې په جلال آباد کې د روسانو ځای پرځای کېدل هم د پوځي او هم د سیاسي دلایلو پراساس اضافه تهدید نه ګڼل کیږي (۳) په دې کې د روسانو د پسې اخیستلو لرلید په باوري ډول سره نه دی وړاندې شوی (٤) په دې ډول به د اد افغان هوایي پوځ په وړاندې تګ کې یوه مداخله وي ، بدګوماني به راپورته کړي او د دښمنۍ سبب به شي .

په پای کې ، سرهمفریس وړاندیزو کړ چې: « د روسانو د فعالیتونو ساحه » دې د داسې معقولو لارو له مخې تحدید شي چې بالاخره د روسي پرسونلونو د وتلو او « د افغان هوایي پوځ د طبیعي او بې ساندې مړینې » سبب شي ، د همفریس او امان الله خان تر منځ د شخصي خبرو اترو په ترڅ کې ، افغان واکمن ژمنه وکړه چې دی به د روسانو د فعالیتونو ساحه محدوده وي او له کوم بل ځایه د پرسونلونو د پیدا کولو څخه وروسته به سمدلاسه روسي پیلوټان هم

وشړي .

لنډه دا چې ، په افغانستان کې د روسي اغيزې تحديد نه د برتانيې د فشار له امله او نه هم د افغاني واکمن د نوښت په سبب پيښ شو . د (۱۹۲۵) د دسمبر پر (۱۹ مه) د « امان افغان » د جريدې يوې ځانګړې ګڼې په يو تورچوکاټ کې د خپاره کړي يو پيغام له لارې اعلان وکړ چې شوروي لښکر ديو پوځي عمل په نتيجه کې د « افغانستان پر سپيځلې خاوره » راتير شوی چې په نتيجه کې يې د افغانانو ژوبله مړينه پيښه کړې ده . (۷۰) دوې ورځې وروسته (دامان افغان) يوې بلې ځانګړې ګڼې د شوروي واکمل وزير ليونيد سمارک او د افغان خارجه وزير محمود طرزي هغه اوږده مباحثه چاپ کړه چې د هغې په ترڅ کې نوموړي روسي څرګنده کړې وه چې د ده هيواد د آزاد افغانستان ځمکنۍ بشپړتيا او واک ته په درنه سترګه کتلي او هم به وګوري او د شوروي پوځونو له خوا د درقد ، بوستان ، سفتالو بز او قول آباد د سيمو نيول – که رښتيا هم وي – په غلطۍ کې شوي دي ، د نوموړې افغان ورځپانې چلوونکي تفصيل ورکړ چې د دې پيښې څخه تقريباً شل کاله وړاندې د آموسيند (سيحون) خپل لوري اړولی او؛ مخ پر شمال يې زور کړی چې په نتيجه کې افغانستان ته نوموړې سيمه په لاس ورغلې چې له هماغه وخته يې پسې اداره کړې ده . (۷۱) دا مسئله په رښتيا هم ، داوږده وخت راهيسې يو کړکيچ ګرځېدلی يانې داسې چې کوم دولت د اورتانګای (ينګي قلعه) پر سيمه چې په سيحون کې د (۱۶۰) ميل مربع په مساحت يوه تاپو دی ، د مالکيت حق لري ، دغه تاپو د سيحون د ځوښاخونو په منځ کې راغلی ، په جنوب کې ژور ښاخ يې د روسيې او برتانيې له خوا د (۱۹۷۲) کال د « ګرين ويل – ګورچاکوف » د تړون له مخې د افغانستان د پولې په توګه پيژندل شوې وه . دژور بهاند منځ د سرحد پر توګه تاکل شوی خو د هماغې

پیړۍ په ختمیدو سره دغه بهانه خپل لوری واړاوه چې په نتیجه کې شمالي
ښاخ داصلي سیند پر توګه راغی . افغانانو به هم هرځل دغه سیمې ته
ورمخته کیدل خو روسیې هم خپله ادعانه پریښودله . یو وار په (۱۹۰۶) او
بیا په (۱۹۱٤) کې ، دا مسئله راپورته شوه ، مګر روسیې پر خپل دریځ زیات
ټینګار ونه کړ . دروسیې تر انقلاب وروسته څه ناڅه زرکسه ازبک مهاجر په
دې ټاپوکې ځای پر ځای شول چې تر دې وړاندې یې یوازې (۱۵۰) کسه
تاجک او سیدونکي لرل ، داټاپو دغه مسلمانو انقلاب ضد باسمچي کډوالو
دیوې اډې په توګه هم راغی چې افغانستان ته تر مجبوراً تښتیدو وروسته یې
ددې ځایه پرله پسې شوروي قلمرو تر برید لاندې راوستی ، دوروستیو پیښو
په رڼاکې دشوروي واکمل وزیر دعوه چې ویل یې دغه پیښه پرته له نړیوالو
ستونزو څخه یوازې یو سیمه ییز ټکر دی ،دمنلو وړوه او په دې باره کې څه
نښو ویلای چې له افغانستان سره دښو اړیکو دپراختیا له مخې به شوروي
حکومت ددې ځمکنۍ دعوې څخه کومه ګټه تر لاسه کوله . دا خبره سمه ده
چې ممکن شوروي حکومت به غوښتل په دې ډول افغاني واکمن سره
کښیکاږي چې له وړپورو سرحدي سیمو څخه باسمچیان وشړي .
دغه پیښه دافغانستان په دننه کې کوچنۍ ونه ګڼل شوه . دعوامو خرخښه
او د شوروي له حملې ویره بیا راپورته شوه چې هر کله یې دزیاتو افغانانو په
زړونو کې ځای لاره ، له کابل څخه درسېدلو رپوټونو له مخې شاه امان الله
خان د هر رنګه پېښو دراتلو لپاره چمتو کیدنو ته لاس واچاوه . په کابل کې
بهرنیو سفارتونو ته خبر ورکړل شو چې تر بلې خبر تیا پورې به محمد ولي
خان (دجنګ وزیر) دپاچا کارونه پر مخ بیا یي ، دابه ښایي یو مانورو چې په
دې ډول یې دراتلونکو پیښو لپاره مسئولیتونه دخپلو سلاکارانو پراوړو
اچول. د (۱۹۲۵) ددسمبر پر (۲۵ مه) دجمعې د لمانځه په ترڅ کې امان الله

خان په ډاګه کړه چې دښمنۍ کېدای شي په هره شيبه کې پيښې شي نو راځي چې موږ افغانانو ددې پر ځای چې يوه ګوله مړۍ راڅخه جوړه کړي ، برعکس جګړې ته ځانونه چمتو کړو . هوسا پوځونه شمال ته وليږل شول ، مګر دژمي په شپو ورځو کې دهندوکش له درو څخه ددومره زياتو لښکرو تيريدنې اصلاً امکان نه درلود . له افغان هوايي پوځ څخه دشوروي سلاکارانو لاسونه لنډ او پرې يې نښودل چې ځانونه هوايي ډګرته ورسوي . دروسي انجينيرانو هغه ډله چې د سالنګ - ايبک - مزار دلويې لارې دسروې لپاره استول شوې وه بيرته کابل ته راوغوښتل شوه .

په کابل کې سفارتي ټولنو ګومان نه کاوه چې شوروي اتحاد به له دې تيا پو څخه پرشا شي . دوی عقيده لرله چې اوس به شورويان دسيحو ن له پاسه پل ودان کړي او په دې ډول به په شمال کې دافغانستان ستراتيژيکي دريځ دموادو له مخې پر دابله راواړوي . همفريس لندن ته خبرداری ورکړ چې:« دشوروي لومې ته دازبکو ، تاجکو او ترکمنو تدريجي ورکيشه کيدنه ، په دې نيت چې دافغانستان دهندوکش شمال بايد يوروسي ولايت شي ، ښايي (دروسانو) تګ لارې ته عملي جامه واغوندی ، » او ده احساس کړه چې « که دهغه شمالي خواوې غوټې پرې شي نو دابه ډيره مشکله وي چې افغانستان دې ديوامارت په توګه نور ژوندی پاتې شي . » ددغه کرغيړنې وړاندينۍ (پيش ګويۍ) په نظر کې نيولو له مخې ، همفريس هدايت وغوښت چې په دې هکله دده دحکومت دريځ بايد څنګه وي . محمود طرزي کټ مټ مسئله همفريس سره مطرح کړه ، مګر دپوځي مرستې غوښتنه يې څنې ونه کړه . دبرتانيې پوځي آتشر د افغانستان د جنګ په وزارت کې ديو ملاقات په ترځ کې په غير رسمي توګه غږيدو چې که ممکن وي . افغانستان له هند څخه زيات مقدار پوځي وسايل او هم ټوپکونه ، دکوچنيو وسلو ، سامانونه ، ليويز

تهپکونه او خوځنده توپونه رانیسي خو مخکې له دې چې برتانوي حکومت په دې باب کوم عمل ته لاس کړي هلته شوروي اتحاد لاس په سر شو .

د ( ۱۹۲۶ ) دفبروري دڅلورمې نیټې ، دامان افغان یوې ځانګړې ګنې اعلان وکړ چې د درقد دټاپو ستو نزه ( د آمو په سیند کې دینګي قلعه دټاپو بیل نوم ) دشوروي اتحاد او افغانستان تر منځ دخبرو اترو په نتیجه کې او اره شوه . ( ۷۲ ) شورویانو ومنله چې ټاپو خوشې کړي او افغان پوځونو ته به دیوې ګډې کومیټې له خوا ددې مسئلې تر اوارولو وروسته دهغې دنیولو اجازه حاصله وي . یوه میاشت وروسته ، امان افغان خبر ورکړ چې شوروي پوځونه دفبرورۍ پر ( ۲۸ مه ) له جزیرې څخه ووتل . ( ۷۳ ) دوتلو دغه مرحله یې په دې ډول سره تشریح کړه : تر خالي کولو یوه ورځ دمخه دشوروي لوی قوماندان خپل افغاني همرتبه ته یو پیغام ولیږه چې په کې یې داسې ویلي : « له ماسکو څخه دیو چټک امر له مخې به زموږ لښکر سبا له درقد څخه ووځي » دا چې شورویانو دمخه لا ددې ځایه خپل سامانونه لیږلي وو نو افغانانو هم هغوی ته دمیلمه پالنې له مخې مواد او هر څه برابر کړل . په ورپسې ورځ ، افغاني لښکرو درقد ، یانې دټاپولویې ناوې ته مخه کړه چې له هغه څخه شورویان تر لنډو پوځي مراسمو او سلامۍ وروسته ، له سیحون څخه پورې وتل ، د ( ۱۹۲۶ ) داګست پر ( ۱۵ مه ) دشوروي - افغان یو پروتوکول لاسلیک شو چې په هغه کې دقانوني او تاریخي دلایلو پر اساس دټاپو دمالکیت په سر خبرې اترې بې ګټې وبلل شوې . دا چې افغانستان دغه سیمه مهمه او داقتصادي ګټو په لحاظ غوره بولي ، نو شوروي حکومت پر اور تاتګای باندې له افغاني مالکیت سره موافقه لري . سیمه ایزو ګړوته شپږ میاشتې وخت ورکړل شو چې که غواړي شوروي اتحاد ته وکوچیږي ، په همدې ډول دافغانستان په شمال کې یو همیشنی کړکیچ حل او فصل شو .

سره له دې چې دډېرو کسانو له خوا د شوروي - افغان پر دغه وروستي بحران باندې جدي نظر ورکړل شوی خو دا مشکله ده چې ووايو شوروي اتحاد قصداً دغمکنۍ سوبې په هدف دغه کړکيچ ته لمن وهلې وه . شورويانو په افغانستان کې دخپلې سوله ييزې اغيزې په خاطر ښه کار کړی و او دډېرو خصوصاً هغه کسانو په زړونو کې يې ځای نيولی وچې ماسکو يې دبرتانوي تيري دتمبولو لپاره يو ښه انډول باله ، شوروي نفوذ هغه وخت سيک واخيست چې افغان واکمن دقبايلي شورش دخپلو لپاره يو هوايي ځواک ته اړتيا پيدا کړه ، جرمني نه شو کولای او برتانيې نه غوښتل چې په دې هدف هوايي پرسونل او سامانونه ورکړي : له همدې کبله ، افغاني واکمن بله کومه مرجع نه لرله چې دغه بيړني حالت ته يې راوهڅوي . دخوست دشورش په وخت کې برتانوي شارژدافير ، ريچارډ ميکوناشي ، دهندي حکومت سياسي آمر ، ډينس بري ته وليکل چې ، که امير له دې بحران څخه روغ رمټ راووځي ، نو خپل پوځ به يا دشورويانو او يا هم دبرتانويانو په کومک سره سمبال کړي ، دی په دې عقيده و چې: «ترکانو خپل موقف له لاسه ورکړي ؛ دی ( امير ) به جرمنيانو ته مخه کړي چې هم په ارزانه بيه کارکوي او هم کارنده دي ،لاکن دا کار خوموږ ( برتانويان ) کله بې مداخلې پرېږدو ، له ايټالويانو څخه هغه کرکه لري او ميدان يوازې بايد فرانسويانو ته پاتې شي ....» په داسې حال کې چې ميکوناشي په دې گومان و چې احتمالاً فرانسويان به دامير مرستې ته ودانگي ، خوده کابل ته د شوروي دپوځي هيئت احتمالي راتگ هم بې اهميته ونه گانه خوکه چيرې داسې هم وشي ، شورويان به يوازې له دې کبله استخدام کړای شي چې موږ ته رااوړده شي او نور څه به ورونه سپارل شي. که په افغانستان کې جرمني افسرانو ته ددې اجازه نشته چې په رسم گذشت کې ښکاره شي نو روسان به بيا څنگه کولای شي چې په دې هکله

آزادي ولري ؟ (٧٤) »او په واقعیت کې . افغان حکومت دکینې له مخې خپل حقونه او فوځ واک په خپل لاس کې ټینګ نیولی او په دې ټینګار کوي چې په افغانستان کې ټول بهرنیان دافغان حکومت مستخدمین او دهغه دمقرراتو او اصولو تابع دي .

شورویان هم له دې امره مستثنا نه وو او دهغوی بریالیتوبونه دتخنیکي سلاکارانو په توګه او هم په نورو ځانګو کې ددوی دسیاسي ګټو په لړکې نشي راتلای ، په افغان هوایي پوځ کې دلوړ دریځ له لرلوسره سره شورویانو دبې سیم هغه یوازینی ستیشن هم چلاوه چې دافغانستان دامیر لپاره مؤظف و ، هغوی دسړکونو او بیلابیلو انجینیري پروژو په ودانولو کې فعالیت کاوه ، او شوروي موادو ، په تیره بیا دخاورو تیلو او نفتي موادو ، تر هر څه دمخه ، افغانستان په شمال کې دبرتانوي موادو ځای ونیو.

له دغو جدي حالاتو سره سره دشوروي افغان کړکیچ په روانه وضعه کې خاص بدلون پیښ نه کړ . ددې لپاره چې شوروي اتحاد افغانستان ته بیا ډاډ ورکړی وي او داسې وښیي چې دا هیواد پراختیا غوښتونکي هدفونه نه لري ، نو ډیر ژر یې له افغانستان سره د ناپییلتوب او تیري نه کونې تړون لاسلیک کړ . دغسې تړون د «اورتاتګای» له کړکیچ څخه مخکې هم تر غور لاندې و او بنایي دا به اساساً په دې خاطرو چې تړون ډیره ساحه لکه نژدې پوځي مرسته او یا د برتانیې پر ضد دافغانستان دځمکنۍ دعوې څخه ملاتړ هم په خپلو پانو کې راونغاړي . دې تړون دریو کالو لپاره اعتبار درلود او د (۱۹۲۱) کال دشوروي - افغان دتړون عوض نه و . که ددې تړون تر اصلي اهمیت تیر شو ، نو داورتاتګای په سر یې دلاس اچولو ترضربې وروسته یو محتاطانه روغ نیتي خو ضرور رامنځته کړه . (٧٥)

# {څلورم څپرکی}

## دامان الله سفر او ماتې

## اروپاته دامیر سمندري سفر

د (۱۹۲۷) داکتوبر د (۱۵ مې) نیټې امان افغان ورځپاڼې په داګه کړه چې شاه امان الله خان -چې د پاچا نوم یې ځانته په (۱۹۲۶) کې غوره کړ- نیت کړی چې له سمندري لارې اروپاته سفر وکړي. ددې کابلی ورځپاڼې له مخې ، ددغه بې ساري سفر علت دا و چې پاچا غوښتل« دژوند انه لپاره ښه وسایل او دخپل هیواد لپاره نیکمرغي راوړي .... (ځکه نو) دی اروپاته روان دی چې دلویدیځې نړۍ د پرمختګ بنسټیزې لارې چارې کسب کړي او دخپل ملت دښیګڼې او خلاصون لپاره له هغو څخه تر ټولو غوره کلتوري برياوې انتخاب کړي . دی به په اروپاکې ژوند او دهغه ګټور دودونه مطالعه کړي او دخپل هیواد له معاصرو اړتیا ووسره پر تله کړي.» (۱) دیوې بلې خبرې سرچینې له مخې شاه امان الله خان اراده کړې چې دایټالیې دحکومت

دبلنې په ځواب کې بهرته سفرو کړي .

په دې کې شک نه و چې امان الله خان غوښتل له بهرنیو تجربو څخه په الهام اخیستو سره د افغانستان دعصري کولو تګ لارې ته لاس واچوي ، مګر سیاسي غرضونو هم کټ مټ همداسې اهمیت لاره ، په کابل کې دبرتانیې شارژدافیر ، ګولډ ، دوه علته اټکل کړل ، چې پرته له شکه یې یو باید وخیژي. ده عقیده لرله چې امان الله خان بهزیار وباسي چې:(۱) په نړۍ کې دافغانستان برم لوړ کاندي او مخکې له دې چې جوړونکې بهرنۍ تګ لارې ته لاس کړي ، دنړۍ دمشرانو له سلا مشورې څخه ګټه واخلي ( ۲ ) انګلستان او شوروي اتحاد خپل منځي سیالۍ ته داسې سره ولمسوي چې پرده دملګرتوب پرغ وکړي (۳) دافغانستان او هند تر منځ دبې خونده اړیکو په نظر کې نیولو له مخې ، کیداي شي اروپا ته دامان الله خان سفر تر یوې اندازې ، پر سرحد باندې دده دګاونډي دمخکښه پالیسۍ په وړاندې داعتراض کولو یو کوښښ وي . له همدې کبله ، دامان الله خان لیدنه کتنه هم کټ مټ په (۱۸۹۵ ) کې د نصرالله دهغې په شان وه . امان الله خان په ښکاره هیله من و چې ښایي وکولای شي دبرتانوي ټولواکمن او دلندن دحکومت له غړیو سره دځان لیدو کتو په نتیجه کې دهند مخه راوګرځوي .

ښایي دابه په همدې خاطرو چې ده نه غوښتل له مرستیال واکمن سره ووینې ، لکه څنګه چې دشمال لویدیځ هند له لارې دکراچۍ او بمبیي پرلار وخوځید . دیوه برتانوي خبرځای له مخې ، امان الله خان وغوښتل چې دهند له حکومت سره له هررنګه تماس څخه ځان لیرې وساتي او له همدې کبله یې د « عزیز الرحمان » ترمستعار نوم لاندې سفر پیل کړ . (۳)

دخپل پاچا داعلان کړه شوي سفر په وړاندې دافغان ولس غبرګون ټول ټال منفي و . دافغانانو عمومي ذهنیت بهرته دخپل واکمن دسفر له مفکورې سره

بیخي مخالف و ، ډیر کسان په دې ویریدل چې هسې نه دهغوی امیر هلته برغمل شي یا شایي تر داسې فشار لاندې راشي چې دخپل هیواد دګټو پرضد کوم تړون لاسلیک کړي ، په (۱۸۹۵ ع کال ) چې عبدالرحمان په هند کې و ، هلته روسانو پنجده ونیوله ؛ کله چې په (۱۹۵۷ ) کې حبیب الله خان په هند کې و ، ډیرو افغانانو داسې وانګیرل چې هغه به خپل ځان پر برتانویانو وپلوري – هغه چې کله ځان دفرې ماسو په وروړ ولی کې ورګډ کړ نو ډیر و داسې وپتیپله چې هغه عیسوي دین منلی دی ، پرته له دغسې ویرو ، خلک ددې سفر دلګښت څخه هم اندیښمن او په دې ګومان وو چې دا به دمالیو دلوړیدو سبب شي ، هغه کسان چې دامان الله خان سمونتیاوو سره مخالف وو ، عقیده یې لرله چې له اروپا څخه دده کتنه به هرومرو دافغانستان دلویدیځ غوندې کیدو پلانونو ته یونوی سیک ورکړي .

په هند کې هم دافغانانو غوندې دامان الله خان ددې سفر په هکله خورا لږ خوشالي موجوده وه خو په هرحال ، دهند او لندن حکومتونو خوښي څرګنده کړه چې « لندن ته دغه دزړه له اخلاصه او صمیمانه بلنه او هغه تود هرکلی چې ورته شي ، پر دې دلالت کوي چې باید په راتلونکې کې به ددواړو هیوادو ترمنځ اړیکې بیخي سمې شي . » ( ٤ ) داسې پریکړه وشوه چې دغه شاهي ډله به دهندي حکومت میلمانه او دافغاني پولې څخه دمصرد « پورت سعید » تر بندر پورې به دهغوی دسمندري لارې ټول مصرف هم ورکوي .

د (۱۹۲۷ )ددسمبر پر ( ۱۰ مه ) ، دورځې پر پاوکم یوولس بجو ، شاه امان الله خان او ورسره کسان ، لکه ملکه ثریا ، شازاده ګان او دافغاني حکومت اراکین ، په چمن کې له افغاني پولې څخه تیر شوه او دموټرو کاروان یې داورګاډي دستیشن پرخوا وخوځید . ( ٥ ) دسرحد پرهندۍ خوا افغاني قبایلو امان الله خان ته درونډ هرکلی ووایه او ترچمن پورې پر ټوله لار دده

د موټر ترڅنګ ورسره ځغاستل . داورګاډي سټيشن ته په رارسيدو سره ، ډګروال سنټ جان او جنرال هر ينګټن د شاهي ډلې مخته راوتلي و او امان الله خان ته يې په سروزرو ليکل شوي د ښه راغلي هغه ټلګرامونه وړاندې کړل چې دپاچا پنځم جورج او د هندوستان د مرستيال واکمن له خوا رارسيدلي وو . وروسته د غه افغانان په يوه ځانګړي اورګاډي کې سپاره کړی شول او د کوټې له لارې کراچۍ ته روان شول .

دهند حکومت د شاهي کهول لپاره دوې ځانګړې ډبې په يو سل او پنځوس زره روپيو تهيه کړې او افغاني ميلمانه په ډيره سوکالۍ سره سند ته ورسيدل ، دلارې په سرچې به هر ځای رسيدل ديو ويشت توپونو سلامي به ورته کيده . په کراچۍ کې ، دموزيک باند دغو افغانانو ته ديو ښه هر کلي په ترڅ کې دوې افغاني نغمې ياني ، اميري مارش او شاهي سلامي وږغولې ، په دې وخت کې افغاني ملي سرود په جرمني کې تر کمپوز لاندې و . ددغو شاهي ميلمنو داحترام لپاره دکراچۍ په ژوبڼ کې يوه ميلمستيا وشوه چې په هغې کې دهندوستان دبيلابيلو ټولنو غړو دهرکلي ويناوې وکړې او ټولو ته دپاچاله خوا مناسب ځواب وويل شو . امان الله خان دمسلمانانو او هندوانو ديووالي په ملاتړ خبرې وکړې او دې ټکي ته يې په ډير اهميت سره اشاره وکړه چې دده دواک په موده کې دافغانستان ټول ولس يو برابر حقونه لري . ده څرګنده کړه چې دسونيانو او شعيه ګانو تر منځ توپير حقيقي نه دی بلکې خيالي او تصوري دی او داد يې ورکړ ، که هغوی ښه مسلمانان دي نو دغه ډله ډله والی هم بايد ورک شي . ده خپلو مسلمانو وروڼو ته په تکرار سره خبرداري ورکړه چې دناپوهو ملايانو « ملاهای نادان » ترغولوونکې لارښوونې لاندې چې دسرخوږۍ باعث ګرځي رانشي ، دده وينا په زياتو ولولو

او ليوالتيا سره بدرګه کيدله . افغاني ډلې له کراچۍ څخه د « ايس ايس منيلا » کښتۍ پرواسطه راواني او د دسمبر پر (١٤مه) بمبيي ته ورسيدلې . په بمبيي کې دافغانانو او دهغوی دکوربه کسانو تر منځ دتشريفاتو په سر هغه وخت اختلاف راپيدا شو چې غلام صديق په دې ټينګار وکړ ، داچې دبمبئی والي ، دکابل دوالي غوندې د « نايب الحکومه » رتبه لري ، نو بايد چې له افغاني وزيرانو څخه مخکې روان نه وي ، دغه اختلافونه بالاخره حل شو ل ، مګر دهند حکومت عصبي او دغه ليدنې کتنې ته يې دګډو احساساتو تمه لرله ، دهند مرستيال واکمن امان الله خان اروپاته دخپل سفر په مناسبت دهلي ته هم وباله ، مګر امان الله خان منفي ځواب ورکړ . ده دهندي حکومت پر ضد ګيلې او شکايتونه لرل او نه يې غوښتل چې دلارډ ايروين سره دليدو کتو په خاطر خپل خط السير واړوي . ځکه نو ، هغوی دواړو ، مخکې له دې چې افغاني ميلمانه به « ايس ايس راچوتانه » کې دمصر پر خوا راوان شي په بمبيي کې يې د هغه محفل په ترڅ کې سره وکتل چې لارډ ايروين دمخه ښې لپاره ترتيب کړی و ، کله چې امان الله خان له کراچۍ څخه بمبئی ته په « ايس ايس منيلا » بيړۍ کې سپور و مخکې له رسېدو څخه د ( ١٩٢٧ ) د دسمبر د (١٣مې) په ماښام يو تلګرام ورته ورسيد چې په هغه کې افغان واکمن ته خبرورکړل شوی و چې مرستيال واکمن « ناروغ » شوی ، ځکه نو نشي کولای په بمبيي کې ستاسو خدمت ته حاضر شي . غلام صديق څرګنده کړه چې هر څوک دلارډ ايروين پر ناروغه کيدو شکمن او هغه يو سياسي چل بولي ، ده ټينګار وکړ چې مرستيال واکمن بايد ژر جوړ شي او بمبيي ته حرکت وکړي . دلارډ ايروين دناڅاپي ناروغۍ پر وجه دافغانانو خوابدي په بمبيي کې راولاړ شوي اختلافونه ښه په ډاګه کوي .

دهند حکومت له خپلې خاورې څخه د تیریدو نکو افغاني لویانو له خوا د جګړه ییزه او دښمنیزو وینا وو په اوریدو سره یووار بیا په غوسه شو . کټ مټ همداسې یوه پیښه یو کال وړاندې هغه وخت شوې وه چې دشاه امان الله خان زوی ، شازاده هدایت الله خان ، له پاریس څخه د راتګ پر وخت دهند پر لار راتیریده . پر هغه مهال ده خپل ځاني سکرترته صلاحیت ورکړ چې دډهلي داور ګاډي پر ستیشن کې په ډاکه کړي چې : « ... موږ دګاونډي او آزاد ولس پر توګه ستاسو دهغه سپیڅلې مبارزې ته دبریالیتوب دعا کوو چې هند نن ورسره اخته دی اوموږ هیله من یو چې هند به ډیر ژر دخپلوا کو هیوادو په لړ کې ووینو . » (٦)

ښایي په همدې دلیل به وچې مرستیال واکمن نه غوښتل ددغسې یوې پیښې ننداره وکړي ، مګر دا چې میرمن ایردین ځان پر « ناروغی » نه واچولی ، لومړنی هندی ښځه وه چې بمبیي ته ورسیده او په ډیر مهربانی سره یی دافغاني میرمنو میلمه پالنه وکړه . په بمبي کې له دریو ورځو تیرولو څخه وروسته ، افغاني میلمنو خپل بحري سفرته دوام ورکړ . ددسمبر پر ( ۱۷ مه ) دهغوی کښتی دبمبیي له بندره په داسې حال کې روانه شوه چې سمندري او هوايي ساتونکی ګارډېي ملګری او دیو ویشت توپونو د سلامی ږغ آسمان نیولی و . ددوی دبیړۍ ( راجپوتانه پر سر ) افغان شاهي بیرغ نصب او امان الله خان دننه په کښتی کې سپور و . له کښتي وانانو او نفرخدمتو څخه پرته ، نور ټول سپاره دامان الله خان کسان او دهغوی میلمه پالان ، هر یو سرفرانسیس همفریس او جګړن ویکهم وو . شاهي میلمنو له دې بحري سفر او خوند ورو خوړو څخه ډیره مزه اخیستله . برتانویانو اروپا یي خواړه ځکه منع کړي ووچې هسې نه افغانان په غوسه نه کړي او تحویلدار خولا داسې

ربوټ ورکړ چې کله کله به دافغانانو اشتها دومره زیاته وه چې ده به کمه ګڼله او ویه یې نشو کړای چې پوره مقدار خواړه ورته برابر کړي .

دغه افغاني میلمانه په عدن او سویز کې له تم کیدو سره سره ، نهه ورځې سمندري سفر وکړ او ددسمبر د (۲٦مې) په ګهیځ پورت سعید ته ورسیدل ، دلته دشاه فواد په نمایندګۍ شازاده عمر توسن ددې شاهي ډلې هرکلی وکړ . وروسته دوی په ګډه دیوځانګړي ګاډي پرواسطه قاهرې ته روان شول چې هلته شاه فواد ، صدراعظم ، دمرستیالانو دشورا رئیس ، دکابنې غړي او نور مصري مخور یې مخې ته راوتلي وو . کله چې دواړه پاچهان له جادو څخه تیرېدل ، زده کونکو له ولولو او احساساتو څخه ډکې نارې وهلې« تل دې وي مصر او افغانستان ! » ، « تل دې وي دافغانستان پاچا او نماس پاشا ! » ، « تل دې وي دوه خپلواک ملتونه!» ، « تل دې وي ختیځ ولس ! » یا فقط « ختیځ! »

دمصر وګړو ددوی له هیواد څخه دامان الله خان کتنه دزیاتو بریالیتوبونو څخه بیخي ډکه نه بلله .دی په رارسیدو سره ، دیو سوچه اسلامي پاچا پر توګه نه بلکې داسلامي نړۍ دخپلواکۍ غوښتنې دیو اتل اوولسواکو ( دیموکراتیکو ) احساساتو درلوونکی یو عصري پاچا په توګه وغتمول شو . سربیره پردې ، له مصر څخه دده لیدنې برتانوي ضد انګازه هم لرله .

ده د هیواد پال صدراعظم ، نحاس پاشا او دمصري حکومت له یو شمیر لویانو سره وکتل امان الله خان دمصري هیواد پال زغلول پاشا دمړینې په مناسبت دهغه کونډې ته خوا خوږي څرګنده کړه ، نوموړې دبرتانویانو له خوا ډیر کړیدلې او هغوی ګومان وکړ چې دغه دماغزه اي خبرې اترې ښایي دوبندګوند آرمانونو ته نور سیک هم پسې ورکړي . امان الله خان دمصر

ولسي جرگې ته وينا وکړه او د مصر د پارلمان « دملت دهيلو څرګندونکې يوازيني سپيڅلي ځای » لپاره يې برياليتوب وغوښته او هيله يې وکړه چې مصر او افغانستان به د همښنيو غوړيدلو اړيکو پر واسطه سره وتړل شي . په پای کې ده دوفد ( آزادی ) دګوند دبنسټ ايښوونکي ، زغلول پاشا ، او دسراسري اسلامي پيوستون داوځار مشر ، سيد جمال الدين افغاني ، تلوسو ته ددرناوي پر توګه د « تل دې وي آزادي ! » په شعار سره خپله وينا پای ته ورسوله . دده وينا په وارو وارو د « تل دی وي افـغـان ملت ! » او « ژوندی دی وی ولسواک پاچا ! » په زوړ او ولولو سره غوځيدله .

مصري خپرونو دبرتانيې پرضد دامان الله خا ن له ټينګ دريغ څخه خلکو ته پوره معلومات ورکړل او مصر ته چې په دې وخت کې له برتانوي کنترول څخه دآزادی لپاره په ملي پيوستون او تحرک کې ښکيل و ، دامان الله خان سفر ديوې سياسي هڅونې مانا لرله . امان اله ځان مصر يانو ته نژدې وښود او په خپلو دغو خوښوونکو او عادي طريقو سره يې ، له شاه فواد څخه ډير تو پير لاره چې هغه عموماً يو مغرور او زيږ شخص ا و له خپلو وګړو څخه يې ځان جلاګاڼه ، پاتې دې نه وي چې دده ولس دامان الله خا ن داستوګن لپاره دشاه فواد په نسبت ډير لېوالتيا څرګندوله ، افغاني پاچا دوه واره په مختلفو مراسمو کې ناوخته راورسيد او حتی يو ځل خو داسې هم وشو چې شاه فواد يې تر نيم ساعت لا هم زيات منتظر کړی و ، همدارنګه دامان الله خان سياسي بيانيو هم شاه فواد سره پړ سولی و .

په مصر کې تر لسو ستونزمنو ورځو وروسته چې لکسر ته تګ هم په کې شامل و ، افغاني ډله په « ايتاليا » نومي بيړی کې سپره شوه او د ( ۱۹۲۸ ) دجنوری په ( ۳ مه ) ، دايتاليې « نيپلز » بندرته وخوځيده ، وروسته له هغه

چې امان الله خان له مصر څخه حرکت وکړ ، دبرتانوي مامورانو له خولې فواد ویلي وه : « شکر خدایه چې دی خو لاړ ! » (۷)

افغاني میلمانه دجنوری پر اتمه ، له نیپلز څخه دیو اورګاډي پرواسطه ، روم ته ورسیدل . افغاني میرمنو چې په هند او مصر کې دسفر په ترڅ کې مخ پټې وې ، په اروپاکې بې ستره او په لوڅو مخونو یې په مراسمو کې برخه واخیسته .

په روم کې ستیشن ته پر رسیدو سره ، دافغانانو مخ ته دایټالیې پاچا او ملکه او د شاهي کهول نورغړي ، صدراعظم موسولیني او دده دکابنې غړي ، او هم دایټالیې مشران او لوړرتبه مامورین راوتلي وو . په روم کې برتانوي استازي « سر آر . ګراهام » ، روم ته دافغانانو رسیدنه او د هر کلي مراسم دارنګه بیانوي :

« دغه جمعیت له ستیشن څخه تر وتلو وروسته ، کیرنیل ته ورسید . شاهي بګۍ پرلارې په پیازا ایسیدرا کې د هغه جوړشوي تخت مخې ته تم شول ، له کومه چې دروم والي ، شازاده پوتین زیاني دښه راغلي وینا وا وروله . دافغانستان ملکه او دهغې ملګرې ، ښځمنې په سر لوڅي ګاډیو کې لوڅ مخ ناستې وې . تولې جادې په بیرغونو ښکلې شوې وې او لوېې ګڼې ګونې اعلیحضر تینو ته دزړه له کومي ښه راغلی وایه . ګڼ شمیر لښکر یوه لیکه پر تولو لار ولاړ وو . دوه الوتکې اویوه هوایي بیړۍ ددوی په سر په هوا تللې . » (۸)

امان الله خان پاتې ورځې دایټالیې دپوځي او صنعتي لویو فابریکو او له هغې ډلې د فیات دکارخانې په کتلو او ددوو میلمستیا وو په کولو تیرې کړې چې دایټالیې شاهي کورنۍ او نورو ایټالوي مشرانو ګډون په کې کړی

و.

دجنورۍ پر (۱۲ مه) پاپ له امان الله خان سره په ځانګړې توګه وکتل. واتيکان امان الله خان او د هغه ملګرو ته شاهانه احترام وړاندې کړ او په دې سپيڅلي ښار کې د برتانوي واکمل وزير او ډروسيل له خولې هغه هيله من وچې امان الله خان «بالمقابل د خپل ښه تهذيب او سلوک له مخې د واتيکان ناز پر مځکه نه اچوي،» يانې دا چې په افغانستان کې د عيسوي تبليغ فعاليتونو ته اجازه ورکړي. د افغانستان پر هکله د واتيکان بې خبرې، د دغسې يو پرهيزګار شخص له خوا، له افغانانو څخه د يوې نادرستې هيلې له کولو څخه ښه په ډاګه کيږي، د برتانوي رپوټونو له مخې، امان الله خان د دې خبرې په اوريدو سره ټکان وخوړ چې د غه رنګه ستر اشخاص لکه پاپ او د هغه اصلي دولتي سکرتر جره ګان دي. (۹) امان الله خان «کارډينال ګسپري» او د ايټاليې د حکومت نورو لوړرتبه مامورانو ته لوړ القاب ويخښل چې يو برتانوي ليدونکي هغه «تر يو ځايه دلويو لويو انعامونو راکړه ورکړه» وبلله. امان الله خان ته د «لوکرانون زيانا» لقب ورکړ شو چې دی يې د ايټاليې د شاهي کورنۍ يو غړی وباله او همدا علت و چې څه کم يو کال وروسته هغه له خپل هيواد څخه له وتلو وروسته په ايټاليا کې په ډير احترام سره ومنل شو. په روم کې برتانوي واکمل وزير وروستنۍ پيښې داسې را لنډوي:

«دروانې مياشتې پر (۱۳ مه) پاچا د مشرانو جرګې او د مرستيالانو له شورا څخه يوه غير رسمي کتنه وکړه. د سباورځې پر سهار يې له موسوليني او ګراندي سره په افغاني سفارت کې وکتل. په ماسپښين کې يې له پوهنتون او نظامي پوهنځي څخه کتنه وکړه. په پای کې اعليحضرت د روم والي ته

(۱۰۰۰) پونده ورکړل چې پر بیوزلو یې وویشي.

علیا حضرتان او ورسره ملګري یې د (۱۵ مې) نیټې په ماښام دروم څخه ونیس، میلان، تورین او جنیوا ته ولاړل. » دجنوري پر (۲۲ مه) افغاني میلمانه د جنیول څخه نائیس ته وخوځیدل.

ایتالیا ته دشاه دسفر بریالیتوب د مصر او راوروسته سفرونو له هغې څخه کم نه و. ایتالوي خپرونو ددغو افغانانو لپاره زیات تبلیغات وکړه، پوځ او بیلابیلو فاشستي جوړښتونو ځانونه منسجم کړل چې له دې میلمنو څخه دزړه له اخلاصه هر کلی وکړي. دپیپرنو د پیښې خطرناکه اغیزې چې څه موده یې دایتالیې - افغان اړیکې تر اغیز لاندې راوستلې وې، په غوڅه توګه پای ته ورسیدې. خپرونو امان الله خان پر کړنو دزیاتې رڼا اچولو پر ترڅ کې ادعا وکړه چې هغه موسولیني ته زیاته عقیده لري او داچې افغاني واکمن دبرتانویانو په وړاندې ټینګ ودرید نو خپرونو هم ډیرې کرښې دده په ذکر سره ډکې کړلې. دا هیله هم څرګنده کړای شوه چې ایتالیه به دامان الله لپاره دصنعتي تولیداتو ستر برابرونکی او په راتلونکې کې به افغانستان او ایتالیا دواړه په اقتصادي او سیاسي چارو کې ګډه مرسته کوي. په حقیقت کې، دموسولیني حکومت داهیله څرګنده کړه چې افغانستان ته جګړه ییز وسایل برابر کړي. افغاني واکمن ته یو ټانک سوغات ورکړ شو او دایتالیې دښوونې او روزنې وزارت ومنله چې په ایتالیا کې به شپیتو افغاني محصلانو ته وړیا زده کړه برابره کړي. (۱۰)

دایتالیې غوندې په فرانسه کې هم په لږ بدلون سره کټ مټ سلوک وشو، سره له دې چې دلته دافغاني ټولواک کتنې دومره پرګنیزه ګرانښت لکه دایتالیې فاشستي حکومت چې برابر کړی و، نه درلود. افغاني میلمانه

دجنورۍ پر (۲۳ مه) ، په نائسس کښې پلې شوه او دوې ورځې وروسته پاریس « پوئنس دي بلوګنی » ستېشن ته ورسېدل چې دفرانسې د جمهوررئیس ګاستن دومیرژ ، دصدراعظم ریموند پونکاري او دحکومت دنورو لوړرتبه مامارانو له خوا یې هرکلی وشو .

د (۱۹۲۸) دجنورۍ د (۲۷ مې) نېټې تیملپس نومې ورځپاڼې ، دایلي السي په ماڼۍ کې دهغې میلمستیا د پېښو جریان خپور کړ چې دومیرژ د امان الله خان دروغتیا په هیله جام وڅښل او دهغه پوهه ، شکل او نورې کړنې یې دلوړ نوم په ګټلو سره یادې کړې . ده په فرهنګي چاروکې دفرانس - افغان تر منځ مخکنۍ ګډې مرستې ، لکه په افغانستان کې دفرانسوي لرغون پېژندنکو فعالیتونه ، په کابل کې فرانسوۍ لیسه او په فرانسه کې دافغاني محصلینو زده کړه یاد کړل ، او ددواړو دولتونو تر منځ یې دنورې ګډې مرستې او دسوله ییز واړیکو دزیاتوالي هیله څرګنده کړه . امان الله خان هم مناسبه ځوابیه ولوستله او د جمهوررئیس دروغتیا په امید یې داوبو یو ګیلاس په سر پورته کړ . (۱۱)

وروسته یې بیا دلږې مودې لپاره بلجیم او سویس ته هم سفر وکړ . په بلجیم کې دخپل سفر په پای کې امان الله خان دسږې هوا په وجه یو څه ناروغ شو . په برن کې ، دسویس حکومت د « ورانکارو » له خوا دفشار اچولو دمخنیوي لپاره امنیتي اقدامات نیولي وو ، خو وروسته معلومه شوه چې ضرورت یې نشته او دبرتانوي مامور دخبرو پراساس « شاهي میلمانه دیو دارنګه ساړه او خاموش هر کلي سره مخامخ شول چې هر کله به په برن کې لیدل کیده . » دعلیا حضر تینو سره عموماً « ساده جمهوري » سلوک وشو ، غرمنۍ او ماښامنۍ یې په بلیوو ماڼۍ کې وخوړه او دلته هم یو ساعت ناوخته

راورسید . (۱۲)

په سویس کې تریوې اوونۍ سفرورروسته افغاني میلمانه دفبرورۍ پر (۲۰مه) جرمني ته ولاړل او برلین ته د پنځلس ورځنې رسمي سفر له پاکلي مهال ځخه دوې ورځې ناوخته ورسید ، په پام کې وه چې له دې ځخه وروسته به (۱۸) ورځې نور په غیر رسمي توګه په جرمني کې پاتې شي . داچې دجغرافیایي دلایلو پر اساس له جرمني ځخه دویمه پلاکتنه تر سره شوه نودامهمه ده چې افغاني میلمنو په جرمني کې ټول ټال دري دیرش ورځې تیرې کړې چې په بهر کې داتر ټولو ډیرو ورځو تیرول وو . افغاني میلمنو ته دلهرتر پر ستیشن کې دجمهوررئیس هنډن برګ ، داحترام دګارډ او دریش دخورا لوړو ماموریتو له خوا هرکلی وویل شو . دکوم حکومتي میلمستون دنشتولي په وجه ، افغاني میلمانه د «ویلهم ستراس» دشازاده «البرچ» په مانۍ کې ځای پر ځای کړه شول چې د همدې کار لپاره دشهزاده «هوهنزولرن» ځخه په کرایه اخیستل شوی وو . وریسې ورځې یې پر عادي ډول سره تیرې شوې . هغوی دمیلمستیا وواو ښه راغلیو سره مخامخ شول ، او افغاني واکمن پوځي او صنعتي مرکزونه او همدارنګه دښوونې او روزنې مؤسسې له نژدې ځخه وکتلې دچارلو نټنبرګ عالي تخنیکي انستیتوت امان الله خان دانجینیرۍ ویاړیزې (افتخاري) دوکتورا په ورکولو سره وغتاوه .

دجرمني صنعتي ځانکو هیله درلوده چې امان الله خان به د خپلو مختلفو پر مختیا یي پروژو لپاره غټې خریدارۍ وکړي . په کابل کې جرمني واکمل وزیر ، اګست فیګل ، رپوټ ورکړ چې امان الله خان دنورو شیانو تر څنګ ، خپل نوي مرکز دارالامان ته دبریښنا دسامان دبرابرولو پر غرض یو

میلیون سترلنګ پونډه اروپايي بانکونو ته ورانتقال کړي دي . فیګل څرګنده کړه چې په تیرو میاشتو کې بیلابیلو ځانګو د دغسې ترون د ترلاسه کولو له پاره سیالي کولې او په دارالامان کې د جرمني لوی انجینر جرمني ته پر رخصتي سره ولاړ چې هلته دخپلې نوې جوړې کړې کمپنۍ لپاره دغه تړون وکړي . پر برلین کې افغان واکمل وزیر د جرمني د صنعتي کړیو هیلو سره همغاړی شو یانې داسې رپوټ یې ورکړ چې افغاني واکمل غواړي پر جرمني سامانونو باندې شه ناشه پنځلس ملیونه طلايي مارکه ورکړي همدا علت وچې شاه امان الله خان نه غوښتل چې تاریخې او لرغوني ځایونه وویني ، برعکس ویې غوښتل چې فابریکې ، پوځي تاسیسات اوتعلیمي ځانګې تر نظر تیرې کړي .

فریتس ګروبا چې داوخت یې د جرمني په خارجه وزارت کې کار کاوه ، یوه داسې مسوده ترتیب کړه چې دهغې له مخې یې له افغاني پاچا سره دخبرو اترو لپاره حکومتي لوړرتبه مامورینو ته لازمي لارې وښودلې ، ګروبا دافغانستان له خوا جرمني سوداګرو ته دفرمایش پر امکاناتو زیاتې خبرې اترې وکړې . ده څرګنده کړه چې افغان پاچا تر وسه زیار کښلی چې د کوم اروپايي ځواک په ملاتړ دخپل هیواد آزادي وساتي او وړاندیزیې وکړ چې جرمني په دې باب دیوازیني اخلاقي دریغ درلوونکی دی ، روبا ادعاوکړه چې افغانستان یووار بیاله جرمني ددفاعي - تعرضي ملګرتوب غوښتنه کړې چې په کابل کې دجرمن استازي له خوا داموضوع نه وه په ډاګه شوې . ددې کار په نه کیدو سره ، افغان حکومت وغوښتل چې جرمني ته په صنعتي چارو کې دپانګې اچونې فرمایش ورکړي چې په دې ډول دخپل هیواد خپلواکي ټینګه کړي . په پای کې ګروبا وړاندیز وکړ چې جنګر الوتکې باید

خپلې الوتنې له ایران څخه افغانستان او له هغه ځایه چین ته ورغزوي.
دګرروپا له خولې دا هیواد ونه هیله من وو چې له اروپا سره خپل تماسونه ټینګ کړي چې په دې ډول دشوروي اتحاد او برتانیې له کنترول څخه دباندې وي. (۱۳)

امان الله خان له هند نبرګ سره په ځانګړي ډول وکتل چې په هغه کې یوازې غلام صدیق، دژباړن پر توګه، برخه لرله، امان الله خان دشوروي اتحاد او برتانیې داړوند اړیکو پرهکله له خپلو ستونزو سر تماس ونیو، څرګنده یې کړه چې که دماسکو او لندن تر منځ اړیکې ښې وي. نو دافغانستان پرضد به د دواړو دګډ دریځ خطر موجودوي - خو که یې اړیکې سره وراني وي، بیا به هم همداسې خطر موجود وي، ځکه افغانستان به په دې ډول دهغوی په کړکیچونو کې بند پاتې وي. امان الله خان همدارنګه وویل چې غواړي په افغانستان کې دریل سړک جوړ کړي. خو هند نبرګ په خپل ګواښمن ځواب کې هغه ته په دې باره کې دزیات لګښت خبرداری ورکړ. دخپل هیواد دپرمختګ لپاره دجرمني دمالي کومک په باره کې د امان الله خان غوښتنو ته هم جرمنیانو وعده ورکړه. جرمني صدر څرګنده کړه چې دده هیواد ددغسې هدفونو لپاره ځانګړې بودجه نه لري، خو کولای شي په افغانستان کې دتکړه کسانو دګمارلو په ساحه کې مرسته وکړي.

کوم وخت چې افغاني پاچا او دجرمني صدر په خبر واترو لګیاوو، هلته دجرمني دخارجه وزارت دسیاسي څانګې څخه ون شوبرټ دافغاني لوړ رتبه مامورانو سره په پوسهاري اخته و. دافغانستان دجنګ دوزارت مرستیال شوبرټ ته په نړیواله جګړه کې دجرمني پر ستړې کارنامې او ترجګړې وروسته یې دجرمني پر بیا سیک اخیستلو باندې خپله اریانتیا څرګنده کړه.

دنړیوال سیاست په برخه کې د دغه افغان وړاندیز داو چې جرمني باید داسې نیک کار ته لاس واچوي چې شورویان د برتانیې پر ضد را وپاروي . ده وویل دبرتانیې واکمن باید روغ رمټ پاتې نشي او باید چې په پای کې هماغلته په اروپا کې یوازې دیو کوچني ټاپو په حال کې پاتې شي . دهمدغه افغان له خولې دراتلونکې لپاره سمه تګ لاره داوه چې باید د جرمني ، ایران او افغانستان تر منځ یو اتحاد رامنځته شي ، فون شو برټ ریوټ ورکړچې ده د دې خبرو اترو په ترڅ کې خپل سر په شکمن ډول سره ښوراوه او داسې یې ښودل چې پر دغسې پرمختګونو پوره پوره باور نشي کولای او نو موړی افغان یې په دې خبر کړ چې جرمني ځکه په احتیاط سره باید ګام پورته کړي چې تراوسه یې لا رین لینډ تربهرني ښکیلاک لاندې دی . ( ۱٤ )

دوې ورځې وروسته د برلین په « ښاري سالون » کې د ناري په ترڅ کې دافغان دولتي شورا رئیس ، شیر احمد خان ، هم د جنګ دوزارت د مرستیال غوندې کټ مټ جذبات څرګند کړل . ده وویل چې جرمني ته ښایي چې خپله بهرنۍ پالیسي پر دغسې یوه لاره چې لندن او ماسکو سره ټکر کړي ، ووهي پرته له دې چې ځان په کې ورښکیل کړي ، ده دا هم زیاته کړه چې افغانستان په یو داسې تنګي کې ایسار دی چې نشي کولای له خپلو ګاونډیو څخه له یوه سره پرته دهغه بل له شک او دښمنۍ نه دوستانه اړیکې وساتي ، علي احمد خان د (۱۹۱۹) کال دسولې په کنفرانس کې د افغاني هیئت مشر ، ځکه شوبرټ اریان کړ چې نابېره یې اعتراف وکړ چې دی پا چهي واک ته ښه نظر نه لري بلکې پارلماني حکومت غوره ګڼي . دغه څرګندونه د جابر حکومت په باره کې یوه تیوریکي مباحثه نه وه ، ځکه علي احمد زیاته کړه چې دابیخي شرم دی چې د کومې مسئلې په ترڅ کې د پاچا د تره د زوی ، یا د ده د تره ، یا د ده

د ترور غوښتنې بیا بیا په پام کې ونیول شي ، ده خپله استدلالي وینا دجمهوریت په پلوۍ سره داسې پای ته ورسول چې ویل یې دحیثیت او تفوق معیار باید په فردي بریالیتوب کې نغښتې وي . او پر ته له دې نور څه ټول له ناوړتیا څخه ډک دي .

دافغانانو لپاره ترهرڅه اقتصادي موضوع ډیر اهمیت لاره ، افغانان هیله من وو چې تر ښو شرایطو لاندې دجرمني څخه پور ترلاسه کړي او غوښتل یې چې ددواړو هیوادو ترمنځ تجارتي اړیکې پراخه شي . دمختلفو لوړرتبه افغانانو له خوا سیاسي څرګندونې دهغوی ځاني احساسات انځوروي ، خو داسې کومه نښانه نه لیدل کیده چې افغانان دې په سیاسي چارو کې له جرمني سره دمرستې په لټه کې وي . لکه څنګه چې دا موضوع په خپله برلین ته هم څرګنده وه .

دجرمني له خوا دیو سیاسي ګام دپورته کولو رپوټ د (۱۹۲۸) دفبرورۍ د (۲۳ مه) نیټې د برلین په (درتګ اوډوې ټاګ لیچ دنډسو) نو مو ورځپاڼو کې ورکول شو . رپوټ د جرمني دمرستیال صدراعظم او سکار هرګټ ، له خولې داسې بیان شوی و : « جرمني افغان ولس په تیره بیا ځکه ښه پیژني چې افغانستان هم دخپل امنیت او استقلال لپاره په یوه همیشنۍ جګړه کې ښکیل دی . » خو هرګټ دځا ن په حق کې دغسې خبره رد کړه او زیاته یې کړه چې ما یوازې دومره ویلي وو چې جرمني تر اوسه لاهم دجګړې له پایلو څخه خوړین دی ، ځکه نو دبهرنیو میلمنو له منلو څخه معذرت غواړي . هرګټ وویل چې ده افغانانان ډاډه کړل چې جرمني ولس په دې ویاړي چې افغان پاچا لومړنی هغه خپلواک واکمن دی چې له جګړې وروسته جرمني ته سفر کوي . (۱۵)

نور مطبوعات چې د افغانانو داړتیا وړشیانو په لګښتونو یې بحث کاوه ،

اريان تللي وو چې آيا دادومره ډېر خرڅونه به کومې ښکاره ګټې هم له ځانه سره ولري که څنګه ، پر عمومي توګه جرمني نشرات دوستانه وو او دافغانانو له دې سفر څخه يې دجرمني خوښي څرګندوله ، افغاني ډله وروسته بيا دفرانسي له لارې ، په اورلين کښتۍ کې دکلايس څخه تر ډاور پورې په اوبو کې لاړه او دمارچ پر (۱۳ مه) د برتانيې خاورې ته ورسيدله .

په پيل کې برتانيې ډيره هڅه وکړه چې دامان الله خان دغه سفر بريا ليتوب سره مخامخ شي ، درې کسه افسران : ولکهم ، ډډ او فرازر چې دهندي حکومت له خوا مؤظف شوي ، ددې افغانانو لپاره دلاس پرنام دريدو او دپروګرام دتينګو انډيوالانو پر توګه ورسره ملګري کړای شوي ول . ددې لپاره چې دافسرانو حيثيت لوړ او په پروتوکول کې ګډوډي پيښه نشي ، هغوی له جګړن څخه دډګرمن رتبې ته پورته کړای شول . ( ۱٦ ) کله چې د « اورلين » بيړۍ نيمه لاره ووهله نو دڅلور برتانوي او سلونو او جنګي الوتکو له خوا بدرګه شوه . دډاور څنډې ته په رسيدو سره توپونو سلامي وکړه او د « والی » شازاده دپنځم جورج پر وکالت افغانانو ته ښه راغلی ووايه. نوموړې ډله وروسته په يوه اورګاډي کې لندن ته وخوځيده چې هلته پاچا جورج ، ملکه ماري ، دشاهي کورنۍ غړي ، صدراعظم متنلي بلډوين ، په بهرنيو چارو کې ددولت وزير سر آستن چمبرلين ، دکابينې غړي او نور شخصيتونه دافغانانو مخې ته ورو تللي ول . افغان پاچا او دهغه ملګرو ددې ورځې په بوکنګهم ماڼۍ کې دبرتانوي پاچا ميلمانه او پاتې ټولې ورځې له نورو ښارونو څخه دکتنې پر شمول دبرتانوي حکومت ميلمانه وو . که چيرې له لندن څخه تر بيلو بيلو ښارونو لکه بر منګهم ، پورټس ماوت ،آکسفورډ ، مالچستم او ليور پول پورې ددوی ددرويشت ورځو سفر بيان کړو نو داکاريه ددغه کتاب له

توان ځـــخـــه وتلي کــار وي ، دشـاه امــان الله خـــان په ویاړ زیات مــراسم او دننباانونو دورکړې غونډې جوړې شوې . د آکسفورډ پوهنتون افغان پاچا ته دمدني حقوقو ویاړیزه (افتـخاري ) دوکتـورا ورکړه چې امان الله خان یې دمنلو په ترڅ کې داسې وویل : « زه به په وروستـه پاتې افـغـانستــان کې ،دښوونې او روزنې ډیو مـخکښ پر توګه ډیر زیار وباسم چې دغه امتیـاز د پوهو انګلیــسي خلکو دخـواخوږۍ ډیوې بیلګې پر توګـه خوندي کـړم . »

دشاهي جغرافیـا ټولنې امان الله خان خپل یو افتـخاري ملګری وټاکه او برتانوي پاچا خپل ورور واکمن په « شاهي ویکټوري زنځیر » سره ږغتاوه ، امان الله خان دلندن د پاسـه په الوتکه کې چکر وواهه ، ډیو او بتـل پر واسطه دسـمندر ( ۹۵۰ ) یارډه تـل ته ورکښتـه شـو ، یو کـان ته هم ورکښتـه شـو او دنیلسن له کښتۍ ځـخـه یې سمندري تمرینونه هم له نژدې وکـتـل . بیـلابیلې برتانوي ځانګې او جوړښتـونونه د پاچا ملکې پادشاهي کهول دخوښۍ او ښه خـدمت کـولو له پاره یو له بل سـره په سیـالۍ کـې لویدلي وو. آن داچې د انګلیس – افـغـان دجګړو دزړو عسکرو یو جوړښتون وغوښتل چې دافغـاني واکمن مخې ته تیر شي . ( ۱۷ )

دبرتانوي حکومت مامورین له دې کتنې ځخه ډیر خوشاله شول او دا یې ځکه یو مهم فرصت وباله چې امان الله خان په داسې یو ډول ترفشـار لاندې راولي چې نورنوافـغـانانو تـه دبرتانیـې قـدرت او منابع « هیڅ مـهـ ژواندې معلومې نشي » . افغان پاچا او ورسره ملګري یې دخپلو کوربه کسانو له خوا دومره وستـایل شول ځومره چې یې دوی په خپله تمه لرله ، دهمفریس له قوله ، امان الله خان په پټه ورته وویل : « مادا احساس کړه چې په یو داسې شاهانه او دوستـانه حالت کې اوسم چې دفرانسې او جرمني له سور جمهوري مـاحول

شخه کورټ توپیر لري » دهمفریس په گومان دا هغه « ماحول و چې امان الله خان دشاهي ویکتوري زنځیر پر اخیستلو سره ډیر خوشاله شو ، په داسې حال کې چې دگارټر دانعام په تمه و . »

امان الله خان چې به پرهره خوا روانیده دپرگنیز ولولو او جذباتو سره به مخامخ کیده ، آن دا چې دلیدر پول دزاړه ښار خلکو خپلې کوټې په پیسلو گلانو سره ښکلې کړې او افغان پاچاته یې هرکلی ووایه ، امان الله خان داسې محافظه کاری ته هڅول کیده چې « په انگلستان کې کمونیستان نشته ، بلکې ټول خلک یې دپاچا پلویان دي . » (۱۸)

دهرهیواد « ولسي کره وړه » چې دامان الله خان دکتنې په لړ کې وه ، فرانسویان او ایتالویان ژر لمسیدونکي او پر خپلو افکارو لږ دریدونکي وبلل ، جرمنیان یې په بیوزلۍ کې ډوب وستایل ، چې نیم ولس یې دسلطنت او نیم نوریې دجمهوریت پلویان وو ، په داسې حال کې چې ویې ویل : « یوازې برتانویانو ټینگه اراده او استقامت درلود . » (۱۹) دده داومنله چې « جرمنیان ( دفرانسویانو په پرتله ) زیات کاري وو خو کله کله به یې له خپل جمهوررئیس شخه (دژوندی دي وي سلطنت او مړدی وي جمهوریت ) پر نارو سره لار او لیکه ورکه کړه . »

آستین چمبرلین* په کابل کې خپل سفارت ته رپوټ ورکړ چې : « پاچا او ملکې ته دومره پرگنیز هرکلي وشو چې نه یې دوی او نه یې هم هغه کسانو تمه لرله چې نوموړي مراسم یې ترتیب کړي وو ... دا یوازې او یوازې دپاچا

---

* - سراستین ( جوزف) چمبرلین د ( ۱۹۲٤ع) کال شخه تر ( ۱۹۲۹ع) کال پورې په بهرنیو چارو کې ددولت وزیر و ، نوموړی باید له سرنیول چمبرلین سره مشتبه نه شي چې دشاهي خزانې مشر او بیا دلویې برتانیې صدراعظم و .

دلیدو ، فطري ورکشېدو وجه وه . » دا خو رښتیا ده چې افغانستان د انګریزانو لپاره دهند دڅغورنې پر مقصد اساسي دریغ لاره او انګریزانو په دې سبب هم غوښتل چې هغه سرې له نژدې ووینې چې په بریالتوب سره یې » برتانوي امپراطورۍ ته لېنګته واچوله .

دامان الله خان سفر داسې ترتیب شوی و چې هغه خوښ او اغیزمن وي ، پرته له دې چې د برتانوي تجارتي ګټو د ترلاسه کېدو امکانات په پام کې ونیول شي ، دهمدې طرز العمل په وجه نوموړی سفر خورا بریالی او دهمفریس خبره « هغه تود هرکلی چې دی (امان الله خان ) ورسره مخامخ شو دهغه پر حواسو یې دومره اغیزه وکړه چې له برتانوي بندرونو څخه دخدای په امانۍ پر وخت یې پاچا ، د انګلستان حکومت اووګړ و ته ډېر کورودانی او ښه نیتي څرګنده کړه او داهم د پام وړده چې وزیر ( غلام صدیق ) چې د برتانوي ضد احساساتو پر لرلو سره او ښارو ،دارنګه اصلاح شو چې ددغه سفر تر ختمیدو لږ څه دمخه یې خپل ضدیت یو دم پای ته ورساوه . » دامیر امان الله خان او سر آستین چمبر لین په خبرو اترو کې ،افغاني واکمن پر سرحد باندې دهند مخکښنه پالیسي وغندله ، پرته له دې چې بریالی شي ؛ ځکه نو ددې سفر بریالیتوب د نړیوالو اړیکو پر سطحه نه بلکې دیو پروتوکول پر ساحه کې و .

افغاني میلمانه دغیررسمي چکر لپاره بیرته فرانسې او جرمني ته په ترتیب سره ددریو ورځو او پنځلسو ورځو لپاره ستانه شول او وروسته د پولینډ له لارې شوروي اتحاد ته لاړل . په پولینډ کې درې ورځنی سفر یوازې په وارسا کې تیرشو ، پر یوه غرمنۍ د پولینډ دحکومت میلمانه شول خو حکومت ونه غوښتل چې هغوی دمې د لومړۍ ورځې سوسیالیستي رسم ګذشت

ووېني . په وارسا کې د برتانوي واکمل وزير ، سر ډبليو ، ايرسکين له خولې ، د پولينډ حکومت غوښتل چې افغانان په دې عقيده کړي چې د غه حکومت په ختيځه اروپا کې د خوراستر رول لوبولو ارمانجن دی او غواړي د شوروي اتحاد په شمول له آسيا يي ځواکونو سره يوه مشترک المنافع ټولنه جوړه کړي . ( ۲۰ )

شوروي اتحاد ته دافغاني ټولواک له رسيدو څخه مخکې ، شوروي خپرونو له ولس څخه وغوښتل چې په هغه ننداره کې برخه واخلي چې د کارگرو کروندگرو د جمهوريت له خوا ، د يو مطلق واکمن د رسمي کتنې په وياړ ترتيب شوی ده . پر او داد (۱۹۲۸ ) داپريل پر (۲۹ مه) ، دا« ددوه ولسونو د ورورگلويزې دوستی » ، ترسرليک لاندې وليکل چې ددواړو خواوو دسياسي نظامونو له ژور توپير سره سره « تاريخ دا دواړه دولتونه سره نژدې کړي ، تر هغه ځايه چې دوی ... دا روپايي ښکيلاک پر ضد گډې هلې ځلې کړي او دا چې ددواړو دولتونو اصلي او شوم دښمن د ټولو اروپايي داړه مارانو له منځ څخه هماغه انگريزي امپرياليزم گڼل کيږي ، نودې کارهغوی نورهم سره نژدې کړي دي ، » دغې ورځپانې وروسته وليکل چې دروس انقلاب او دهند ملي آزادي غوښتونکی غورځنگ افغانستان ته داسيک ورکړ چې « دانگريزانو واک پرغوڅه او برياليې توگه دړې وړې کړي . » او امان الله خان په ختيځ کې « تر ټولو مترقي ټولواک وبلل شو . » پراوداخپلولو ستونکو ته ورپه زړه کړه چې شوروي اتحاد لومړنی هيواد دی چې دافغانستان خپلواکي يې پر رسميت وپيژندله او تېنگار يې وکړ چې په دې کړکيچن مهال کې څنگه چې افغانستان يو وار بيا له دې پوښتنې سره مخامخ دی چې « آيا له انگريزي امپرياليزم څخه به همدغسې آزاد پاتې وي که نه ؟ » نو ځکه دواړو هيوادونو د گډ غليم دشتـه والي پر اساس دوروری لاس سره ورکړی دی . (۲۶) د

(۱۹۲۸) دمي دڅلورمې نيټې ايزويستيا په يوه مقاله کې چې دبهرنيو چارو کوميسار « جې ، وي ، چيچر يي » ورکړې ، کټ مټ همداسې جذبات څرګندشوي وو . په دې مقاله کې له افغاني واکمن څخه هرکلي شوی او عقيده يې څرګنده کړې چې په شوروي اتحاد کې به دامان الله خان شته والی دواړود دولتونو دخلکو ترمنځ ملګرتوب نورهم پسې غښتلی کړي .

افغاني ميلمنو ته دمې پره دويمه دشوروي پر سرحدباندې پر ختيځو مسئلو کې دبهرنيو چارو مرستيال کومېسار کاراخان او دده ميرمن هرکلی وواية ، چې دشاهي ميلمنو داستوګنې په ټوله موده کې ورسره ملګري وو . دا بله ورځ نوموړي افغانان ماسکو ته ورسيدل چې په ستيشن کې دغه کسانو ددوی هرکلی وکړ: دمرکزي اجرائيه کوميټې رئيس ام ، آس ، کالينن ، د بهرنيو چارو کوميسار جي ،وي . چيچرين ، دماليې کوميسار الې ، ميکويان او نور شوروي لوړرتبه ماموران ، ستالين موجودنه و او په ورپسې ټولو مراسمو او غونډو کې ونه ليدل شو . (۲۲) که څه هم چې شوروي غټان په وارسا کې دافغاني پاچا سفر غوسه کړي وو ، مګر بيا يې هم امان الله خان ته کټ مټ هغسې ښه راغلی وواية چې په پانګوالي ، هيوادو کې يې عموماً شاهانه هرکلی ورته واية ، ده په يوه ځانګړي اورګاډي کې سفر وکړاو ماسکو ته په رسېدو او بېرته دوتلو پر وخت داحترام ګارډ ليکه ولاړه و ، داورګاډي دسفر په وخت کې يوې ډلې الوتکو دامان الله خان ساتنه کوله او ديوې شوروي جنګي بيړۍ دسمندري سفر په وخت کې ، دلينن ګراد او کرونستاټ ترمنځ سمندري جهازونو هغه په داسې حال کې بدرګه کاوه چې سپرلۍ يې کتارو ته په لين سره ولاړې وې .

داسې معلوميده چې دماسکو ښاريان دپاچا دليدو شو قمن اوغوښتونکي

دي ، مګر پرته له کومو ولولو او جذباتو ، دشاه هرکليو په غونډو کې شوروي مشران هم ناروغه شانته معلوميدل . دبرتانوي رپوټونو له مخې ، يوه ستونزه چې پيښه شوه داوه چې امان الله خان پر کوم خطاب سره يادشي . په داسې حال کې چې پريکړه شوې وه چې ده ته به د « بادشاه » پر نوم خطاب کيږي ، دماسکوښارد جشن غونډې ښکلى کړاى شوى و ، ځکه دمى دلومړۍ ورځې بيرغونه دامان الله خان دهرکلي په خاطر تردې وخته لا هماغسې ځوړند ساتل شوي وو . په ويناوو کې دملګرتوب او سولې په باره کې زيات ټينګار کيده او دسوسياليزم په مرکز کې اړونده فعاليتونو دنورو ملکونو له هغې سره توپيرنه لاره ، په لندن کې امان الله خان دهندي مسلمانانو دوينا اوريدل ځکه ونه منل چې دیو اسلامي پاچا پر توګه يې ده ته اهميت نه ورکاوه خو په ماسکو کې يې ، دشوروي دمفتي صدر الدينوف ، دهرکلي دوينا ځوابيه ورکړه چې په هغې کې يې دخپلې سمونتيا فلسفه هم تشريح کړه . ده وويل چې : « زوړپاله ملايان اسلامي ښوونې په تيره بيا دښځو پر ارتباط غلطې تفسير وي . » امان الله خان څرګنده کړه چې « د ګڼو ښځو کول او پټ مخي نورنو پخوانى خبرې دي » او علما بايد داسلام واقعي ارزښتونه خلکو ته تشريح کړي . (۲۳) امان الله خان لکه په نورو اروپايې مرکزونو کې چې يې وکړل ، دلته يې هم زر پونډه « دماسکو بې وزلو کسانو ته » وبخښل .

له ماسکو څخه دامان الله خان دِکتنې پر مهال دشوروي - افغان دراکړې ورکړې دترون په باره کې هم خبرې اترې رواني وې او دافغانستان دسوداګرۍ وزير عبدالهادي ، په دې هدف نوموړي ښار ته راغلى و . داخبرې اترې ، ځاى پرځاى وچې پاتې شوې ، ځکه شوروي حکومت غوښتل چې دافغانستان په لويو ښارونو کې خپل تجارتي استازي ولري ، مګر افغانانو

کله دا کارمانه، افغانانو فکر وکړ چې دوی ماسکو ته « دیو ممتاز ملت » امتیازات څکه نشي ورکولای چې په دې توگه به ددوی په هیودا کې شوروي خپل نفوذ پرانیزي . دبرتانوي منابعو له مخې ، افغانانو بالاخره درک کړه چې « ددواړو هیوادو دصنعتي شرایطو دستر توپیر له کبله دهررنگه تړون ترلاسلیک دمخه باید زیاته پاملرنه شوې وای ، » (۲٤) افغانانو یو وار بیا په ښکاره دهغه شوروي سیمې دخپلولو غوښتنه وکړه چې د (۱۹۲۱) کال دشوروي - افغان د تړون په نهمه ماده کې یې ژمنه شوې وه ، مگر کوم تړون ترلاسه نشو . دغه افغانان بیاهم خالي لاس رخصت نه کړای شول ؛ دوی ته هررنگه پوځي مرسته او په دې لړکې ځوالوتکې ورکړل شوې . (۲۵) شاهي میلمنو په شوروي اتحاد کې پنځلس ورځې تیرې کړې او دمې پر (۱۸ مه) یې دترکیې په سمیرنا بیړۍ کې له کریمیا څخه خپل بحري سفرته دوام ورکړ چې په سبا ورځ یې استانبول ته ورسیدل . (۲٦)

دشوروي خپرونو روحیه دوستانه او میلمنه پاله او له کمونیستي مرکز څخه دیو پاچا دکتنې په هکله یو څه معذرتي غوندې وه . غیر کمونستي خپرونو دامان الله خان دې سفر دسیاسي مشکلاتو په باره کې اریانتیا ښکاره کړه . لکه څنگه چې دمې د (۲٤ مې) نیټې ، دبرلین « تاگې بلات » نومې ورځپانې څرگنده کړه چې شوروي اتحاد او افغانستان په یو ضد امپراياليستي بلاک کې سره مل شوي دي .دوی دواړو له برتانیې سره په خپلو اړیکو کې یو لړ ستونزې لرلې : افغانستان پر سرحد باندې دبرتانوي کړنو په هکله اندیښمن و او شوروي اتحادبیا کله چې نوی زوړ پاله ( محافظه کار ) حکومت سفارتي اړیکې ورسره وشکولې دتیارسی په حال کې و . له بلې خوا دجرمني ورځپانو گومان دا و چې شوروي اتحاد دآسیایي دولتونو

سره په خپلو اړیکو کې سخته احسان هیرونه زغملې وه او دا ئمه یې نه لرله چې نور نوله خپلو اسلامي گاونډیو سره دورور گلوۍ په بنه اړیکې ټینگې کړي. (۲۷)

مخکې لا د (۱۹۲۸) داپریل پر شپږمه ، دشکاگو « تریبیون » دپاریس گڼې د افغانانو ددورې پر هکله حیرانتیا ښکاره کړه او په خپلو سرلیکونو کې یې وپوښتل چې : « آیا په ریښتیا افغاني پاچا دروسیې ملگری دی ؟ » ورځپاڼې ادعا وکړه چې بر تانیې دافغاني میلمنو لپاره هره ورځ پنځه زره ډالره خرڅول او تعجب یې وکړ چې آیا بر تانیه به وکولای شي دخپل دغه لگښت په بدل کې لږ شانته گټه هم په لاس راوړي . تر یبیون دامان الله خان ددې کتنې دستونزو دڅېړلو په ترڅ کې یو لږ هغه پیښې ولیکلې چې په ښکاره په زړه پورې لاکن په اصل کې منځ تشې وې .

شاه امان الله خان په ترکیه کې دوې او ونۍ تیرې کړې او له کمال اتاترک سره یې له نژدې وکتل ، ده په دې ترڅ کې دنوې ترکیې دمشر له خوا دپلي کړای شویو انقلابي سمونتیاو دنتیجې له نژدې ولیدلې . دجون پردویمه ، دیو ې دولتي میلمستیا پر وخت اتاترک او امان الله خان دواړو د خپلو اصلاحي تگ لارو پر جاري ساتلو ټینگار وکړ دانقرې« حاکمیت ملیه » ورځپاڼې ، ددې ویناوو بشپړ متن خپور کړ ، چې یو بل ته گټور اویودبل پر ملگر توب او گډ بنسټ او په یوه نوې نړۍ کې یې دخپلواکو او آزادو ولسونو پر توگه دگډ برخلیک پر ټاکلو باندې ټینگار وکړ ؛ امان الله خان په ترکي ژبه وینا کوله چې « له ترکي ورور ولس سره خپله مینه وښیې . » (۲۸) دهغوی دوینا وو په زړه پورې اړخ دادی چې له دې دواړو دولتي مشرانو څخه یوه یې هم داسلام کلمه ذکر نکړه ، له هغوی څخه

داسلامي نښې په پرتله هیواد پاله او سمونپال علامت ښه څرګندیده . ددې افغاني کتنې یوه بریا دملګرتوب او مرستې د یو تړون لاسلیک و چې هغه د « عدلي ، علمي او پوځي کارپوهانو » ګومارنه په خپله ځولی کې نغاړله چې په دې ډول له افغانستان سره دهغه په « روښانفکری او پوځي وړاندې تګ » کې مرسته وشي . ( ۲۹ )

دامان الله خان دیون ورپسې او وروستی ځای ایران و ، دجون پر ( ۳۰مه ) ، له تهران څخه دبرتانیې واکمل وزیر رپوټ ورکړ چې دامان الله خان کتنه دایراني حکومت لپاره « فوق العاده زیاته دردونکې » ده ، دایران اندیښنې په سیاسي ، مالي او مذهبي برخو کې نغښتې وې ، ( دایران دوګړو اکثریت شعیه او دافغانستان وګړي سني دي خو افغانستان دشعیه ګانو یو لوی اقلیت هم لري چې دا وخت دعامه کرکې وړ ګرځیدلی و . ) افغان واکمن ددې لپاره چې بیا شوروي اتحاد ته ونه ګرځي ، نو ویې غوښتل چې له ترکیې څخه « تری بیزوند » او تبریز ته وخوځي او له ایران څخه دمشهد او هرات له لارې راوځي . ددې یون سیمې وروسته پاتې وې او دایران حکومت له همدې کبله ددې میلمنو لپاره په ډار کې و . پای دا چې ، ایراني حکومت اټکل وکړ چې ددې کتنې لګښت ښایي څه ناڅه پنځوس زره پونډو ته ورسیږي چې « مجلس » به یې تیر نه کړي . سربیره پردې ، دا رپوټ هم ورکړل شو چې هم ایراني حکومت او هم په تهران کې افغاني سفارت ته غوښتن لیکونه رسیدلي چې وایي افغاني ملکه دخپل مسافرت پر مهال باید مخ پټې وي . ( ۳۰ )

رضاشاه پرته له شکه چې نه یې شو کولای دخپل ګاونډي اسلامي هیواد له تولواک سره له لیدو کتو څخه غاړه وغړوي . په پای کې معلومه شوه چې دایراني حکومت ډار پر ځای نه و بلکې ناحقه وو . امان الله خان وپتېیله چې

دخپل یون مخه بدله کړي او د « ایزمیر » په ترکۍ بیړۍ کې له استانبول څخه « باتوم » ته وخوځي او له دې ځایه داورګاډي پرواسطه باکوته ولاړشي ، وروسته دغه افغاني ډله په « پهلوان » نومي کښتۍ کې سپره او دجون پرشپږمه دایران پهلوي بندر ته ورسیدله . په دې ځای کې دپاریس ددربار وزیر تیمور تاش او ګڼ شمیر پوځي او حکومتي لوړرتبه مامورانو دشاهي میلمنو هرکلی وکړ . کڅ ته دراکوز یدو پر وخت امان الله خان ته افغاني ملي سرود ورغول شو او دهرکلي پردې مهال ، ده ایراني مخورو او عوامو ته ، دهغو عسکر و په شمول چې دی یې ساره لاس ورکړ . ملکي اروپايي جامې اغوستې ، لاکن مخ یې کاملاً پر نقاب سره پټ کړی و . اعلیحضرت په دې ښار او پهلوي بندر کې وګرځید او داسې ویل کیده چې هغه دخپلو « دوستانه ، ساده او دیموکراتیکو کړو وړو » پر وجه دډیرو خلکو په زړونو کې ځای ونیو . دده دتینګار له امله دی په ښار کې دچکر وهلو پر وخت پلی ګرځیده او له هغو ایراني وګړوسره یې دزړه له کومي اخلاص کاوه چې په واټونو کې دپاچاتر خوا دورې هورې تیریدل . دا بله ورځ د « رشت » دښار کتلوته وقف شوه . درپوټونو له مخې دا ښار « دخوراښکلو دروازوپر درولو سره ښکلی کړای شو . دجادو پر دواړو خواوو ګڼې ګونې پر مینې سره ولولې او هرکلی څرګنداوه او پر اعلیحضرتینو یې چې ددوی دهرکلیو په څپو کې لاهو وه ، جوپه جوپه ګلان پاشل . ټولواک ډیرې خوښۍ له مخې سر ټیټاوه او سمدلاسه یې خندل . » (۳۱) وروسته بیا ماسپښین ، امان الله خان دشاهپور کلب بڼ ته ولاړ اوهلته یې دټینس لوبه وکتله بیا یې خپله کرتۍ او خولۍ ایسته کړه او « ایراني افسرانو سره یې یوه په زړه پورې او ډیره ښه لوبه وکړه . »

افغاني میلمنو په قزوین کې تریوې ورځې تیریدولو وروسته ، دجون پر

نهمه د تهران پر خوا حرکت وکړ. په کیرج کې ، چې له پایتخت څخه پنځه ویشت میله لیری و ، ایراني ولیعهد د میلمنو هرکلی وکړاو ترمرکز پورې یې هغوی بدرګه کړل چې هلته رضاشاه پهلوي ، دده د کابینې وزیران ، او لوړ پوځي افسران د افغاني میلمنو د ښه راغلي لپاره سترګې پر لارو و. دلته ښځمنې د امان الله خان له ډلې څخه ځکه بیلې شوې چې د ایراني ملکې له خوا یې هرکلی وشي ، په دې ډول دواړه پاچهان د تهران له کوڅو څخه پر ګډه سره تیر شول. د تهران د (۱۹۲۸) د جون د (۱٦مه) نیټې اووه نیزه اخبار «طوفان» ، د افغاني واکمن تود هرکلی وکړ او ګډو توکمي او کلتوري ریښو ته یې د اشارې په ترڅ کې ولیکل چې: « ایران او افغانستان په هره برخه کې متحد دي او د تاریخ ، ژبې ، ادبیاتو او د دواړو ولسونو د ملي پیژندنې له مخې هیڅ توپیر نه سره لري. » ورځپانې هیله څرګنده کړه چې ټول مذهبي اختلافونه باید نور نو شاته وغورځول شي او د هر توکم او نسل افغانان باید سره یو موټی شي ، دغه ایرانۍ ورځپانې له جغرافیایي اړخونو سره د تماس په ترڅ کې ولیکل چې: "دادواړه هیوادو نه د هندوستان د دروازو حیثیت لري چې هر کله د نړۍ بیلابیلو واکمنان « هند - یاني د خزانې ځمکې » ته له دې لارو ننو تلي دي". طوفان زیاته کړه چې « په راتلونکې کې به هم ، هغوی چې غواړي هند ونیسي ، دغه دروازو ته د ټمې سترګې ونیسي ، » ځکه نو ، ایران او افغانستان باید د خپلې ژغورنې لپاره ګډه مرسته وکړي. (۳۲)

له تهران څخه هم ، د نورو دولتونو د سفرغوندې ، د افغانانو کتنه آرامه او پرته له کومو ستونزو تیره شوه. افغان پاچا او دده ملکې د تهران پر « فرد فرد » باندې ځانونه ګران او هرچا په ولولو او چکچکو سره هغوی ته خپله مینه ښکاره کړه. دیو کتونکي له خولې ، « دواړو واکمنانو تقریباً خپله خپله

لار پرېښوده چې په دې ډول د مهربانۍ او ګرانښت له مخې تواضع ښکاره کړي خو عوامو د افغاني ټولواک فطري ګرانښت او خوا خوږي د خپل پاچا د همېشني تر یو تندي او ناوړه رویې سره کله پر تله کولای شوه . » آن دا چې یو یادوه ځله افغاني ملکه لوڅ مخ راښکاره شوه ، مګر هیچا د مخالفت ګوته ورته ونه نیوله . په داسې حال کې چې د ایران بې وزلي خلک د افغاني واکمن له خوا تر اغېزې لاندې راغلي وو ، مګر درپوړیونو له مخې زیاتو ایراني لوړ رتبه مامورانو څرګنده کړه چې دا لازم نه وه چې افغاني پاچا دورې هورې وګرځي او هر چاته لاس وخوځوي . د تهران انځور کښونه « ناهید » نومې ورځپاڼې ، چې د ایراني دربار له خوا تمویل کېده د افغان پاچا د غه سلوک د ده « له شان سره ورڼه » نه باله ( ۳۳ ) .

افغاني میلمانه د جون پر ( ۱٦ مه ) له تهران څخه روان ، دسمنان ، میامای او نیشاپور له لارې مشهد ته ورسیدل . داسې ویل کېدل چې امان الله خان تقریباً په ټوله لار په خپله موټر چلاوه او ښځمنې له ده سره سپرې وې ، پر لاره څو څو ځایه امان الله خان ته دسیمه ییز وګړو له خوا ، ځکه اهمیت ورنه کړای شو چې د چلونکي ګومان به یې پرې کاوه . نیشاپور ته پر رسیدو سره ، پاچا اجازه ورکړه چې هر څوک کولای شي د ښه راغلي په ترڅ کې له ده سره خبرې اترې وکړي . په دې مناسبت امان الله خان یو ځل بیا داښکاره کړه چې په زړه کې څه لري . داسې رپوټ ورکړل شو چې ده ویلي دي : « زه د اروپایي خولې د په سر کولو پر وجه مذهبي کسانو ترنیوکې لاندې ونیولم ، په داسې حال کې چې هغوی خپله په اسلامي هیوادو کې د شرابو د بندښت په برخه کې دیوې خاشې کوښښ هم نه دی کړی . . . او دا خو حتمي نه ده چې مسلماني ښځې باید مخونه پټ کړي ، که ارتجاعي عناصرو نه غواړي په هغه

سمونتیاوو کې برخه واخلي چې ما پر لاره اچولي نو په هغه صورت کې به دسیاست او مذهب تر منځ حدود هم معلوم وي . » ( ۳٤ ) .

وروسته بیا افغاني میلمنو له مشهد څخه کتنې ته دوام ورکړ چې دښاریانو له خوا ( زیاتره افغانانوو ) یې تود هرکلی وشو هلته امان الله خان داسلام د شعیه څانګې دیو سپیڅلي ځای ( د امام رضا ) زیارت وکړ چې وروسته ملکې هم په لوڅ مخ سره زیارت وکړ چې یو څه نیوکې یې راپورته کړې . په پای کې افغاني مسافران دجون پر شلمه له افغاني پولې څخه تیر او په موټرکې له کندهار څخه دکابل پر خوا روان شول او دجولای پر لومړۍ نیټه مرکز ته راورسیدل . ( ۳۵ )

له اروپا څخه دامان الله خان پر کتنه دکامیابۍ یا ناکامۍ حکم ستونزور دی . د اقتصاد له پلوه دا سفر ګټور غونډې معلومیده ، که څه هم چې دهغه د بریاوو په پرتله یې لګښت زیات و ؛ دبهرنۍ تګ لارې له مخې یې بې ساري بریالیتوب ترلاسه کړ ، مګر دکورني سیاست پر هکله په دې کې شک نشته چې دامان الله خان مخالفینو دومره سپک کړ چې شپږمیاشتې وروسته یې دده نسکوریدنه را منځته کړه .

په دې کې هیڅ شک نشته چې دپاچا دغه رسمي سفر دافغانستان زیاتې پیسې لګولې ، که څه هم چې افغانان دخپلې کتنې پر وخت دنومړو هیوادونو میلمانه وو خو ټول تال لګښتونه یې دکوربه دولتونو له اړخه نه وو . په اکثرو دغو هیوادو کې به ، دافغانانو رسمي کتنه یوازې ددوو دریو ورځووه ، چې تر هغې وروسته به افغاني میلمانه شخصي دمه ځایونه (استراحت ګاهو) ته تلل او داټول خرڅونه به یې له جیبه کول ، امان الله خان دهر هیواد له مرکز څخه دکتنې پر وخت زر پونډه دهغه ځای بې وزلو ته

وربخښل او په خپله ده او ورسره ملګرو يې د حکومتي اړتيا وو او ځانونو لپاره زيات شيان هم وپيرېدل . افغانستان ته چې د بهرنيو حکومتونو له خوا لې شانته سوغاتونه ورکړل شول زيات ته برخه يې پوځي شيان وه . له همدې کبله په برتانيه کې افغانانو وکولای شول چې د سر آستن چمبر لين د غير رسمي ژمنې له مخې زياتې مادي مرستې ترلاسه کړي . ځکه نو موږ ګورو چې افغانستان ياني د ځواکمن کېدو ليوال غښتلي کړي . ځکه نو برتانوي حکومت ومنله چې امان الله خان ته لاندېني وسايل ورکړي : « يوه بشپړه توپخانه چې هر يو يې د ۷۵ , ۲ غرنيو توپو ، ۷۵ , ۳ هاويتزر او ۱۸ پونډه صحرايي توپو لرونکې وي په داسې حال کې چې هر توپ يې ۲۰۰ مرمۍ درلودې او هم زرميله عصري ليي ايفلډ ۳۰۳ , ۰ ټوپکونه او سل زره کارتوس ، د دري رولس رايس زغره لرونکي موټران او شپږ و يکزر ماشينګونه . » (۳٦) برتانيې همدارنګه ژمنه وکړه چې شل تنو افغان پوځي زده کونکو ته به د « سندرسټ » په نامتو پوهنتون کې وړيا زده کړه ( چې د هند حکومت به يې پر ځان مني ) برابره کړي. لاکن د برتانيې دا ټولې مرستې (لکه پوځي او نور )او همدارنګه هغه پنځوس زره ټوپکونه او مهمات چې د رانيولو خبرې اترې يې شوې وې ، پر خپل وخت ونه رسيدې چې د امان الله خان له خوا د ياغيانو پر ضد کارېدلې وای .

له اروپايي مرکزونو څخه د امان الله خان د کتنې پر مهال ، افغاني لويانو زيار وايست چې د پور اخيستو لپاره خبرې اترې وکړي ، مګر پرته له جرمني ، هيڅ اروپايي ځواک ونه غوښتل چې په دې هکله د ځانګړي بانکي ګټوورکړې ته ځانونه چمتو کړي . افغانان چمتو وو چې بې ساري امتيازونه ورکړي . يو برتانوي بانک لرونکي له افغاني لويانو سره تړون وکړ چې څلورسوه زره پونډه پور په دې شرط ورکړي چې د افغانستان د لورې تجارت به انحصار وي ، د نورو رپوټونو له مخې د فرانسې بانکي ټولنې ومنل چې يو

میلون ستېرلنګ پونډه به داووه یانه فیصده ګټې پر منلو سره چې دافغانستان دعوایدو له خوا به یې تضمین کېږي، برابر کړي. له بلې خوا، برتانوي حکومت وغوښتل چې« له کوچنیو ځانګو څخه دافغانانو له خوا دپور غوښتو »مخ راوګرځوي . دایې زړه غوښتل چې دافغاني حکومت لویان دانګلستان بانک سره معرفي کړي خو په دې موضوع کې یې له هر رنګه مسئولیت څخه ځان وکیښ. (۳۷) سرفرانیس همفریس ولیکل چې افغانستان په بیړنۍ توګه بهرني پورته اړدی، مګر په دې هکله ضمانتونه نه لري. همدالامل و چې افغانانو هڅه کوله« کوچنیو مؤسسو» ته کمیشنونه او امتیازونه ومني . دې خبرواترو هیڅ نتیجه ورنه کړه او یوازې دصادراتو تړی هیواد جرمني وچې افغانستان وکولای شو ل له هغه څخه دشیانو درانیولو پر غرض شپږ ملیونه مارکه پورواخلي ،ددې اتکل ګران دی داچې امان الله خان دافغانستان پر ځای تکیه عادي اقتصادي تګلارې ته شا وګرځوله نو پر ځای یې کومه لاره غوره کړه. لکه څنګه چې دامان الله خان تر وخته افغانستان له خارج او داخل څخه دهیچا پور وړی نه و او هیواد له وروسته پاتې والي سره سره . داقتصاد له مخې پر ځان بیخي تکیه و. دارښتیا ده چې افغانستان ددې لپاره چې دیو ملت پر توګه قابل او غښتلی شي نو باید دځاني صنایعو بنسټ جوړ او پسې عصري یې کړي خو که پر مختګ یوازې دزیات پور اخیستو او دګڼ شمیر خارجیانو پر رابهیدو پورې تړلی وي نو په هغه صورت کې افغانستان هم باید چې دنړۍ ختیځ او نورو وروسته پاتې هیوادو غوندې خپل قسمت ته غاړه ایښې وای. په افغانستان کې پرته له شکه همدا احساس موجود و چې دامان الله خان ضد ځواکونو په وده کې یې بنسټیز رول هم ولوباوه .

دبهرنیو اړیکو په ساحه کې ، دامان الله خان سفر بې ساری بریالیتوب وګاڼه : یانې داچې « افغانستان یې دنړۍ په نقشه کې تثبیت » او له برتانیې

ځکه يې ګټلې خپلواکي نوره هم پسې غښتلې کړه . لکه څنګه چې وويل شوه دخپلواکۍ تر جګړې وروسته افغانستان دا مشکل درلود چې څنګه اروپايي ځواکونه په دې قانع کړي چې له برتانوي پالنې څخه يې آزادي اخيستې ده . برتانيې نه غوښتل چې دغه افغاني ادعا وتـه غاړه کښيږدی او دڅه مودې لپاره يې ځان دورې هورې کاوه ، کله چې امان الله خان دبرتانيې پر شمول ، له اروپايي دولتونو څخه کتنه وکړه او هرځاى يې شاهي احترام وشو . نورنو ديو آزاد او خپلواک دولت پر توګه دافغانستان په باره کې شک او ترديد هم پاى ته ورسيد . له ايتاليې څخه دامان الله خان کتنې ددواړو هيوادو تر منځ دتجارتي اوسياسي اړيکو اصلي خنډهم له منځه يووړ اوديونوي پيل لپاره يې لاره اواره کړه . په برتانيه کې دامان الله خان تود هرکلي هم افغانان او هم دهغوى کوربه کسان هک پک کړل ، ځکه نودغه کار بايد ددواړو هيوادو تر منځ وروروګلويزه اړيکې هم سمې کړاى واى ؛ لاکن دبرتانيې سره افغاني اړيکې ځکه هيڅکله صميمانه نه شوې چې هندي حکومت په سرحد کې خپلې مخکښې پاليسۍ ته دوام ورکاوه او په لندن کې هم ددې پاليسۍ دتم کيدوپر هکله هيڅ ضمانت او ژمنه ورنه کړاى شوه . دامان الله خان دسفر ترټولو ګوابښمنه نتيجه داوه چې هغه پردې ټينګ شو چې افغانستان پراخواو ژورو سمونتياووته اړتيا لري ، همدا علت و کله چې امان الله خان افغانستان ته راستون شو ، په خورا سيکمن ډول يې خپلې اصلاحي تګ لارې ته پاينبت ورکړ ، پرته له دې چې پوه شي ، دده په غياب کې زوړپالو او مخالفو ځواکونو ځانونه جګړې ته چمتو کړي ول .

# دسمونتیا وو وروستی پړاو

امان الله خان په افغانستان کې د تیریدو پر مهال له ګډوډ هرکلي سره مخامخ شو ، په هرات ، کندهار او کابل کې پر وینا وو او جشنونو سره وغتول شو. او شـــاه امان الله خان د همیشه غوندې دیو اتل پر توګه معلومیده ، امان الله خان په خپله هره وینا کې د اصلاحاتو موضوع پر هر اړخیزه توګه راپورته کوله .

په کندهار کې د جون پر (۲۷ مه) د ښـــاروال د ښه راغلي په ځواب کې امان الله خان په اروپا کې زده کړې سبق تشریح کړ او تینګاریې وکړ چې افغانستان اصلاحاتو ، ښوونې او روزنې ، د ځان ولې مرستې او پر له پسې ملي هلو ځلو ته اړتیا لري او دایې هم پر ډاګه کړه چې پر مختګ یوازې او یوازې د افغاني میرمنو د آزادۍ په صورت کې امکان لري ، ده تینګار وکړ چې سمونتیاوې یې یوازې د افغان ولس د ښیګڼې لپاره دي ، نه د ځان په ګټه. ده د افغانستان پر هغه ابتدایي پوستي سیستم باندې ملنډې ووهلې چې ډاګیان د پاکټو نو غوټې پر شا اخلي او ډیر لیرې واټن پلي وهي . بالاخره افغان پاچا خپل مامورین د تنبلۍ او له کاره د ځان کښلو پر وجه وغندل ، ده وویل چې هغوی د عام المنفعه کارونو د کولو پر سر یوه ورځ د زیاتې تودوخې او

بله ورځ له زياتې يخنۍ څخه شکايتونه لري . امان الله خان داسلوک په اروپا کې له هغې ورتيا څخه برعکس وباله چې ده ليدلې وه او دتنبه پر توگه يې ويل :

« تاسې نشئ کولای چې يوازې تنبلۍ پرواسطه خپلې موخې ته ورسيږۍ. امان الله خان خو تاسو ته هرڅه نشي کولای ، ځکه هغه تاسې ته نصيحت کوي ، هيله درڅخه کوي او فشار دربانديې راوړي ، لاکن له دې څخه نو هغه هم اضافه څه نشي کولای . تاسې پوه شی چې که له درانه خوبه راپورته نشي ، امان الله خان به هم د پرمخ تللي او غوړيدلي افغانستان دليدو توليې هيلې له ځان سره گورته يوسي . »

کابل ته پر رسيدو سره ، افغان پاچا ديوې لنډې وينا په ترڅ کې بيا هم کټ مټ همداسې جذبات ښکاره کړه او ويې ويل چې دی لگيا دی « دنورو دولتونو د پرمختگ دراز د سپړلو له لارې دخپل هيواد د پرمختگ لارې چارې لټوي . » ده بهرته يوازې دساتيرۍ لپاره نه بلکې دخپلو وزيرانو دغوښتنې او نړۍ ته دافغانستان دورپيژندلو پر هدف دا سفر وکړ . ده او ملگرو يې خپله هغه وعده ترسره کړه چې ويل يې دوی به داسلام پابند وي* افغانستان په نړۍ کې هيڅ دښمنان نه لري او هغه څه چې ورته ضرورت و دښوونې او روزنې پر مختگ و . په پای کې امان الله خان يو عسکر ،يو افسر او يوزده کونکی دخپل هيواد دټولو پوړيو پر نمايندگۍ په غيږ کې ونيول. (۳۸)

مرکز ته دپاچا ترر سيدو وروسته دکابل دغه مراسم ددريو ورځو لپاره روان

---

* - ښايي دلته دليکوال هدف دامان الله خان اوملگرو هغه ژمنه وي چې گواکې په اروپا کې په شراب نه څښي ، عيش او عشرت به نه کوي او نور هم څه چې اسلام منع کړي وبه يې نه کړي ( ژباړن )

وه او وروسته بيا امان الله خان دځو ورځو لپاره پغمان ته ولاړ چې هلته دمه وکړي ، افغاني واکمن ونه غوښتل چې زيات وخت بيکاره کښيني ، لکه څنګه چې امريې وکړ داګست پر (۱۹ مه) به په پغمان ننداره کې ستره افغاني غونډه ، (لويه جرګه) راوغواړي (داغونډه به له هغو کسانو څخه جوړه وي چې دخپلو قومونو داحترام وړاوپوه او اغيزمن شخصيتونه وي) ځکه يې نو خپل وخت ددې غونډې دچمتو کيدو لارښوونې ته وقف کړ.

دافغانستان په انتخابي حکوت کې دغه لويه جرګه ديو نوښت حيثيت لري (۱۰۰۱) کسو استازيو چې له قومي مشرانو ، کليوالي مخورو او علماو و څخه عبارت وو ، مجبور کړای شو ل چې خپل لنګوټي او روايتي جامې لرې کړي او پرځای يې تور رنګه کورتۍ ، پتلونونه او سپين کميسونه واغوندي ، توري نيکتايانې وتړي او هم نرمې توري خولۍ په سر کړي ، وکيلانو ته دغه لباسونه وړيا برابرشوه او دې ته اړ کړای شول چې ترکومه وخته په پغمان کې وي دغه لباس به اغوندي، دې کار دامان الله خان د «اصلاحي پارلمان» په تولو پنځه ورځنۍ ناسته کې (چې داګست پر ۲۹ مه پيل شوه) دوام وکړ.

داپروګرام داکتوبر پر پنځمه دامان الله خان دځلوروورځنۍ وينا پر کولو سره پايښت وکړ چې امان الله خان اروپا ته خپل بحري سفر تشريح کړ او پر افغاني دودونو يې خپل ورستي ګوزار وکړ او هم يې له ملکې څخه وغوښتل چې دټولو پر وړاندې لوڅ مخ راووځي . دا وضع تاپي ته ورسيده ، ځکه امان الله خان دچاودېدونکي غبر ګون سمدلاسه ودې ته ځيرنه و ، لاکن خپله دعوامو ناخوښه مفکوره يې پر مخ وهله .

امان الله خان دجرګې لومړنۍ غونډه په دې ټينګار سره پرانيستله چې دی وکيلانو ته دواکمن پر توګه نه ورغيږي او هغوی به دې ته اړهم نه باسي څو دده وړانديزونه ومني ، ده هغوی ته وويل چې دا ددوی دنده ده چې دخپل هيواد پر

گټه آزاد بحث وکړي خو دا يې په ټينګه وويل چې که جرګه په ګډو رايو سره کومه پريکړه وکړي نوکوم استازی که يې پر وړاندې ودرېږي هغه به دخپل ملت ، خپلو کورنيو او رسول الله (ص) سره خيانت کول وي . امان الله خان په دې رايه و چې په جرګه کې به هيڅ داسې شی نه څېړل کېږي چې داسلام له دين سره مخالف وي . په لومړۍ غونډه کې پريکړه وشوه چې دولتي جرګه ګۍ (شورای دولت) د ې پر يوه ولسي جرګه يا پارلمان ( شوري ملت ) سره (چې دعوامو له خوا به ټاکل کېږي ) واوړي . حکومتي لوړرتبه مامورينو په انتخاباتو کې برخه نشوه اخيستلای . ملي شورا به له لويې جرګې سره يو ځای موجوده وي . دامان الله خان پر انيستونکې وينا وې په خورا ولولو او چکچکو سره بدرګه او روسته د پاچا دکابينې منشي ، غلام صديق خان دانتخابي پارلمان دقانون مشوره ولوستله . (۳۹)

داکتوبر پر ( ۳۰ مه ) په دو يمه ناسته کې ، د تيرو دريو کالو په لړ کې د بيلابيلو وزيرانو دفعاليتونو راپور ولوستل شو نورنو ښتونه هم تصويب شول. لويې جرګې دا اړه کښيښوده چې دبخششيو دورکړې واک دې دبډو او له ځواک څخه دناوړه استفادې دمخنيوي پر خاطر ، دقاضيانو او حاکمانو څخه واخيستل شي او يوازې په پاچا پورې دې اړه ولري. ( ٤٠ )

داسې وپتېيل شوه چې يوه ځانګړې څارونکې اداره د ې په ولايتونو کې دشکايتونو د څېړلو پر خاطر جوړه شي چې بودجه به يې دسيمه ايزو ځمکو دماليې يو څه لوړولو څخه تهيه کېږي . دعسکري خدمت موده له دوو څخه دريو کالو ته جګه کړای شوه او هر څوک (پرته له استثنايي مجبوريو) هغه دا دنده به سر ته رسوي او هم د تبديليدو اجازه بنده کړای شوه . دتعذير کارروايي چې خورا زيات او تورن يې دجنايت کولو څخه داعدام تروختته په يو شوم انتظار کې راوستي ، بالکل مشخص کړای شوه ، په پای کې استازيو

پریکړه وکړه چې هرکال دې دټولو ښاروېو ښمیر نه وشي.

داگست پر (۳۱ مه) امان الله خان او دده جرگې حتی له دې څخه هم بنسټیزو سمونتیا وو ته لاس واچاوه. ټول افغاني لقبونه او همدارنگه دمامورینو ټولې رتبې لغوه شوې ورو سته له دې، ټولو لوی رتبه مامورانو ته په ساده ډول دگران «عزیز» خطاب کیده، لکه «گران...» یا «گران وزیر صاحب»؛ امان الله خان وغوښتل چې زه باید «بادشاه غزیز» په نوم سره یاد شم، استازیو داټول ومنل خو ټینگار یې وکړ چې دامان الله خان لپاره دې د «اعلیحضرت» لقب همداسې پاتې وي. داسې وټیپیل شوه چې رسمي لباس او یونیفورم دې لغوه شي او درسمي محافلو پر مهال دې، ملکي مامورین ساده تورې دریشۍ او پوځي افسران خړې دریشۍ اغوندي. سربیره پردې ټول افغاني مډالونه او نښانونه فسخ شول او یوازې د «استقلال» نښان پر خپل حال پاتې شو چې دجگړې اتلانو ته ورکول کیده. نه بهرنیانو او نه هم افغانانو اجازه لرله چې نښانونه پر ځان پورې کړي یوازې هغو کسانو کولای شول له دې امتیازونو څخه گټه واخلي چې ترلاسه کړي به یې ول.

دغه کارونه دهغو کسانو له خوا پر مخ بیول کیدل چې دعلما وو سپکاوی یې غوښت، ځکه هغوی مذهبي کسان تر خپلې وسې له قدرت څخه بې برخې کول. له ملایانو څخه چې ښوونه او وعظ یې کاوه، وغوښتل شول چې په خپله هم ازموینې ورکړي او دتصدیق د ترلاسه کولو وروسته یې کولای شول چې دنده ترسره کړي. بهرني ملایان، په تیره بیا هم هغه کسان چې دهندوستان له «دیوبند» مدرسې څخه راوتلي وو، افغانستان ته له ننوتو څخه منع کړای شول، ځکه کیدای شول چې هغوی «بد او ناوړه اشخاص» یا ښایي بهرني مبلغین او خاینان وي.

جرگې داهم جوته کړه چې دعدالت څخه تښتیدلي کسان دې دقانون سره

د یو دولتي نماینده له خوا په سزا ورسول شي . په پام کې وه چې د نوي عصر سره سم محکمې پرانیستل شي ( کومو چې دشاهدی دودیزو لارې پرځای به یې دثبوت له مخې پرېکړې کولې نورې سمونتیاوې دقانوني صلاحیتونو او انتخابي مقرراتو په برخه کې وې . په پای کې امان الله خان اعلان وکړ چې ده دري پنځوس زره ټوپکونه رانیولي او غواړي چې نور پنځوس زره ټوپکونه هم له پنځو س ملیونه ګولیو سره واخلي چې لګښت به یې له هر پنځلس کلن افغان نارینه څخه د پنځه افغانیو یو ځلي مالیې او دټولو دولتي مامورانو دیوې میاشتنی تنخاله بسپنې څخه تهیه کړای شي . ( ځینو افغانانو دا کار هندوستان ته د ګوت څنډنې په توګه وګاڼه . ) دافغاني خپرونو له مخې دا اعلان په خورا مینه سره قبول شو او دکابل یو استازي ، غلام محی الدین ، راولاړ شو او په ډاګه یې کړه چې زه تیاریم ددې سپیڅلي هدف لپاره سل زره افغانی ورکړم او له نورو څخه یې هم کټ مټ غوښتنه وکړه .

د لویې جرګې څلور مې غونډې خپل یو څه وخت ملکي کارکوونکو اوحکومتي مامورینو ته وایست . له ملکي مامورینو څخه دفشار او ناوړه استفادې د مخنیوي په خاطر ، وغوښتل شول چې دټاکل کیدو له هماغه پیل څخه خپل شته معلوم کړي چې دهر کال عاید ورباندې اضافه کړای شي ، په پام کې وه چې د غه صورت حساب باید تفتیش شي او دخورازیات لګښت یا عاید په صورت کې به هغه دناوړه استفادې د یو ثبوت پر توګه ترې ضبط او سزا به ورکړل شي ، مامور ینو ته لارښوونه وشوه چې دبډو ورکولو اړونده رپوټ ورکړي . دملکي خدمت نظامنامه ترتیب شوه او د ترفیع او مقررۍ شرطونه یې سم کړل . دوظیفې داجرا کیدو په وخت کې د لازمې سفر یې ورکول او دحکومتي کارکونکو دمعاشونو ټاکنه ولسي جرګې ته وسپارل شوه . د یو ټولنیز نوښت پر توګه ، حکومتي مامورین له یوې څخه داضافه

ښځو له کولو څخه منع کړای شول .

نژدې وچې دواده کولو دودونه هم واړوي، مگر ونه شو . امان الله خان وکیلانو ته وویل چې : « جرمن او برتانوي نسلونه تر ټولو تکړه دي » او ددې کار علت یې دناوخته واده کولو رواج وگاڼه . همدا علت وچې ده وغوښتل نارینه باید تر دوه ویشت کلنۍ او ښځه تر اتلس کلنۍ دمخه واده ونه کړي . تر ښورنده مباحثې وروسته ،دانظر د ډېرو استازیو له خوا ځکه رد شو چې ویل یې دا کار له اسلامي دود څخه غاړه غړونه ده ، امان الله خان هم ژر پر شاشو او څرگنده یې کړه چې دده دې وړاندیز یوازې له والدینو سره دمشورې مانا لرله ، نه دیو رسمي فرمان . په پای کې ، امان الله خان وغوښتل چې دده میرمن دې دملکې پر حیث او دهغې زوی ، رحمت الله دې دتخت وارث وگڼل شي ؛ دا کار دزیاتو ولولو په څپو کې ومنل شو .

دسپتامبر پر دویمه ، دپنځمې او وروستۍ غونډې په ترڅ کې ، امان الله خان دنوي افغان ملي بیرغ دمنلو وړاندیزو کړ . ده څرگنده کړه چې پخوانۍ جنډې ویرجن رنگ لاره ، ځکه چې افغانستان کاملاً آزادنه و . ده تور – سور او زرغون درې رنگي ښکلي ماډل وړاندې کړ چې په هغه کې د واورو ډکو غرونو شاته لمر ځرک وچې دغنمو د وږو پرواسطه کړۍ شوي او دهغه پر سر د « الله » نوم لیکلی و . ده دنو موړو رنگونو دځیړلو په منظور څرگنده کړه چې، توررنگ ویرجن و، ځکه چې افغانستان یو وخت تر بهرني واک لاندې و، سور په دې مانا چې دخپلواکۍ دگټلو لپاره وینې وبهیدې ، لمر ځرک دافغانستان وده او پرمختگ انځوروه . دغنمو د وږو کړۍ پر هغې تاریخي پیښې یې دلالت کاوه چې په (۱۷٤۷) کې احمد شاه بابا دتخت کښیناستو پرمهال دتاج دنشتوالي پر وجه هغه دسر جوغه کړې وه. دیوه استازي دوړاندیز په نتیجه کې دپیغمبر حضرت محمد ( ص) نوم هم پر هغه باندې

وکنبل شو . دمغ پټي له مشلې سره تماس ونیول شو خو تقریباً یوه میاشت نور په دې هکله کومه پریکړه ونشوه څو چې امان الله خان اروپا ته د تګ تکل وکړاو تر ستنیدو وروسته یې بیا و غوښتل چې افغان ولس د ده سمونتیاوې ومني .

له دې څخه ښکاري چې امان الله خان دخپلې دغې لویې جرګې له غبرګون څخه راضي نه و . څکه یوه میاشت وروسته ، ( داکتوبر پر دویمه ) ده بیا هم خپلو ورتیر و کسانو ته څلور واره ویناوې وکړې . دااوریدونکي نږدې شپږزره کسانو ته رسیدل چې په هغو کې سفارتي کارکونکي ، افغاني ملکي او پوځي لوړرتبه کسان ددولت دشورئ غړي او دکابل او ښارښار یان (دنوښت پر توګه ) ټول له خپلو میرمنو سره شامل وو .

امان الله خان دمالي اوهم سیاسي ملحوظاتو پراساس له خپل سفر څخه ننګه وکړه او وروسته یې دافغاني میرمنې دحالت په باره کې نور اصلاحات (سمونتیاوې ) هم پسې رامخته کړي، ده اروپاته خپل سفر بریالی وباله ، څکه په دې ترڅ کې یې او یازره پونډه خرڅ کړل . په داسې حال کې چې دده له قوله څلور سوه شپیته زره پونډه یې په اروپا کې دبیلابیلو سوغاتونو په ډول ترلاسه کړي وو . په دې عددونو کې له خارج څخه دده خریدارۍ چې بیلابیل شیان وو شاملې نه دي چې دجرمني محاسبو له مخې ، په ایټالیا او فرانسه کې دیارلس یا څوارلس ملیونه نقدو مارکونو او په جرمني کې شپږ ملیونه مارکونو ته رسیدل . ( ٤١ )

امان الله خان دخپل سفر لپاره دسیاسي پرڅو یادونه هم وکړه : لکه څنګه چې د مصر ، ترکیې ، سویس ، پولینډ ، جاپان ، فنلینډ ، لتویا ، لایبریاسره یې دملګرتوب تړونونه او له پولینډ سره یې د ترانزیټ په ساحه کې هم دیو تړون خبرې اترې وکړې هغه هیوادونه چې د تړونو نو لاسلیک کولو ته یې چمتو

والي ښکاره کړي و دغــه وو:ا تریش ، هالینډ ، ډنمارک ، سویدن ، ناروې ، چین ، یمن ، حجاز او مکسیکو ، امان الله خان دهغو تود و هرکلیو یادونه هم وکړه چې هرځای ورته کیدل ، که څه هم چې یا به دبرتانیې دشاهی کورنۍ او یابه په شوروي اتحاد کې دبلشویکانو له خوا وه . ده وویل : « له پولینډ څخه چې ماسکو ته ورتیر شوم نو دیو خورامهم هرکلي سره مخامخ شوم ، که څه هم چې هغوی بلشویکان دي او کوم پاچا نه خوښوي ، لاکن بیا یې هم زما په خاطر خپل ځیني اصول پریښودل . زه له هغوی څخه دزړه له کومې مننه کوم . له صدراعظم سره مې وکتل او جمهور رئیس یې خورا متین سړی و . دجنګ وزیر اوښاغلی چیچرین ماته ښځې لاس پرنامه ولاړ وو ، آن تردې حده چې دجنګ وزیر په هغسې مراسمو کې هم راسره ملګری و چې دده شته والی به هلته ضروري نه و . هغوی غوښتل چې دسوداګرۍ کوم تړون ورسره وکړم خو دا چې زه ډیر بوخت وم ، نو خپل دتجارت وزیر مې په دې باره کې ورته وګوماره . »

امان الله خان په خپله دویمه وینا کې دپوځي او ملکي زده کړو پراړه خپلې سمونتیاوې په ډاګه کړې . ده هیله څرګنده کړه چې اوسني پوځي ښوونځي دې له سره سم او نور دې هم پسې پرانیستل شي ، ویتیل شوه چې افسران باید په « مریدۍ » کې شامل نه شي او له عسکرو څخه وغوښتل شول چې ښه زده کړه وکړي چې ملکي ژوندته دستنیدو په وخت کې یې نوروته هم ورزده کړي . امان الله خان له پوځي افسرانو څخه دسړي سرمالیې داخیستلو تکل و کړ چې په دې ډول دا پیسې په خپلو اصلاحي پروژو کې ولګوي ، دځینو خبر ځایونو له مخې له افسرانو څخه وغوښتنه وشوه چې په خپله خوښه دجولای دمیاشتې له معاش څخه کابل ته دپاچا دراستنیدو دهرکلي په خاطر تیر شي ؛ داګست دمیاشتې تنخاوې له بهر څخه دتوپکونو رانیولو ته وقف

شوې او داکتو بر معاشونه دیو عصري نظامي کلپ جوړولو ته ورانتقال شوه .
په همدغه وخت کې پاچا د پوځیانو د معاشونو دجګیدو خبر هم ورکړ خونو موږې اندازه یې روښانه نه کړه ، په ولایتونو کې یې دهررنګه ښوونځیو او هم یې په کابل کې دجرمني او فرانسوي لوړو ښوونځیو ( چې وروسته اماني او امانیه ، او بیا نجات او استقلال لیسې وبلل شوې ) دجــوړولو تجویز وکړ .
امان الله خان دځوانانو په منځ کې دواده کولو په هکله خپل مقصد ته ورسید (هغـه فـرمـان صـادر کـړ چې زده کـونکي ترهغې چې ښـوونځی پای ته ونه رسوي ، نشي کولای چې واده وکړي .)
په خپله دربیمه وینا کې امان الله خان پر یو خورا سپیڅلي دود ، یانې مخ پټې او دافغاني ښځې پردریغ باندې سخت انتقادوکړ . ده اعلان وکړ چې ددوو میاشتو په موده کې دې چادرۍ ( چې په افغانستان کې ښځو په سر کولې ) له منځه ولاړې شي ؛ یو دلیل یې داو چې نوموړې د خیمې غوندې لباس دکابل په جادو کې دګرځیدو پر وخت ښځو ته خطر متوجه کوي . ده وویل چې دغه چادرۍ دې په ترکي غوندې په دوو ټوټو حجابونو سره واوړي چې دمخ کښتنۍ نیمه خوا پر هغه سره پټیږي . باید وویل شي چې ددې نوي ډول حجاب اغوستل او یا باالکل لوڅ مخ ګرځیدل اختیاري وو . ددې لپاره چې خپلې دغه هیلې ته یوډرامه یې بنه ورکړي نو ویې ویل چې مخ پټول اصلاً په اسلام کې جبري نه وه ، ځکه یې نو وغوښتل چې دده میرمن باید بیخي لوڅ مخ شي ، په همـدې ډول ملکې ته ورتیـر شـو او ورته ویې ویل چې خـپـل مخ ټولو ته لوڅ کړي . هغې هم دده امر ومـانه او په دې کارسره دتالار ټولو ښځو زیاتې ولولې ښکاره کړې . وروستـه بیـا امـان الله خان نـاپوهو متـعصبو پر توګه ملایان تر انتقاد لاندې ونیول او هغوی یې د عوام غولونې او دجهالت او تعصب دپراخولو ذمه وار وبلل.

داکټو بر پر پنځمه ، په خپله څلورمه وینا کې امان الله خان رپوټ ورکړ چې ده شیر احمد دصدراعظم پر توګه ټاکلی او ورڅخه غوښتي يې دي چې خپله کابینه وټاکي ، دا چې شیر احمد ونشو کولای چې نامتو افغانان تر خپلې مشرۍ لاندې راولي نو امان الله خان دنوي انتخابي پارلمان تر جوړېدو پورې ځان دغه مقام ته کاندید کړ ، داځکه چې یوازې دي په دې قادر و چې خپلې هغه انقلابي سمونتیاوې پر مخ بوځي چې ورته اړتیا وه . ده خپله وینا په دې جملې سره پای ته ورسوله : « زه یو انقلابي پاچا یم او هیله من یم چې دهیواد دژوند په هر ګوټ کې اوښتون راولم . » ده وړاندیزو کړ چې هغه لوړ رتبه مامورین چې دده سره دزړه له کومې ملګري نه دي ، کولای شي ځانونه له کاره ګوښه کړي له استازیو څخه یو تن عبدالرحمان خان لودین ( دمالیاتو لوی رئیس ) همداسې وکړل . (٤٢)

# ښوروښن او ماتې

امان الله خان په (۱۹۱۹م) کې برتانوي امپراتورۍ ته دلینګتۍ اچولو او دافغانستان دغوښتې ازادۍ دګټلو په وجه یو ملي اتل وپیژندل شو ؛ مګر لس کاله وروسته له هیواده وشړل شو او افغاني تخت حبیب الله خان ته په لاس ورغی چې دکښته طبقې یو ښکاره لاره نیونکې و ، حبیب الله یا (بچۀ سقاو) « دژي چلونکي زوی » دکابل دشمال دغرني ولایت کوهستان څخه و ، دی دتاجک اقلیت څخه و چې هیڅکله یې دافغانستان اداره نه وه تر لاسه کړې خو دومره یې وکړای شول چې دعوامو نسبتاً خوښ پاچا ګوښه کړي او دنهو سرګردانو میاشتو لپاره افغاني تخت لاس ته راوړي ، ددې ډرامه یې پرمختیا لوی علت داو چې دده اکثریت اتباعو دامان الله خان په هغه تلوسه کې برخه وانه خیسته چې غوښتل یې افغانستان عصري او پرلویدیځ سیستم باندې روان کړي ، دامان الله خان ښنستیزو سمونو (اصلاحاتو) دخلکو ژور غبرګون راپورته کړ ؛ دده مخکنیو سمونتیاوو ، په تیره بیا دافغاني میر منې دآزادۍ پر هکله تولنیزو نوښتونو د (۱۹۲۰) لسیزې په لړکې دخوست بلوا رامنځته کړه او دده د (۱۹۲۸) کال خوراژور و

اصلاحاتو یولوی ښورښ جوړکړ . داچې امان الله خان دهیواد شته پرخپلو وګړ وباندې دخپلو بې ساري اصلاحاتو په تر پلو کې ولګول نو ځکه یې په ولس کې ګرانښت هم له لاسه ورکړ . پر ته د « ځوانو افغانانو » له ډلې څخه ، چې هغه هم یوازې دکابل په ښار پورې تړلي وو ، امان الله خان نور ملاتړلي کسان نه لرل . امان الله خان په خپل دغه احساس سره چې ویل یې اوس « دقلم عصر دی نه دتوري ، » خپل پوځ سپک کړ او له هغه تخصیص څخه یې بې برخې کړ چې دخپلو تجهیزاتو او افرادو په سمون کې یې اړتیا ورته لرله ، همداوجه وه چې ده دخپلو دښمنانو د دړې وړې کولو لپاره اغیزمن ځواک نه لاره . دامان الله خان ضد قواوو مشري دعلماوو په لاس کې وه چې مېدان یې بلواته هوار کړ او دقبایلو ، عسکرو ، او ولس په منځ کې یې لمسون ورګډ کړ چې پردې توګه یې یو لو تمار ته د مرکز دنیولو لاره هواره کړه .

په کابل کې دامان الله خان غیابت له دې بلوا سره نوره مرسته هم وکړه ، کله چې هغه په اروپا کې و نو مخالفانو یې دښورښ لپاره ځمکه هواره کړې وه . لکه څنګه چې ددې فصل په سرکې وویل شول ، له دې څخه دامان الله خان دکتنې پر سر په افغانستان کې دپام وړ ناخوښي موجوده وه ، په کابل کې برتانوي نماینده نوموړی افغاني غبرګون خوراښه رانغاړي : « یو پښتون قبایلي له دې سفر څخه ځانته کومه ګټه نه ویني ، پرته له دې چې یوازې راتلونکې غیر ولسي تولنیزې سمونې اود مالیو زیاتیدل په خپلو سترګو وګوري . دی ددغسې نیښ لرونکونوو پروژو د رواجولو څخه ډیر په ډار کې دی چې دبهایو اروپا یې هیوادو لپاره ښې دي ، او دده پر ګومان ، دافغانستان له خواروبې وزلو سره هیڅ سرنه خوري . ملایانو او کلکو مذهبیانو تینګه اندیښنه لرله چې پاچا تر ستنیدو وروسته داسلامي تمایل پر نسبت عیسوي ګروهه ورسره راوړې . له بلې خواد داسفر دهغې پر مختللې ډلې افغانانو له

خوا له تاوده هر کلي سره مخامخ شو چې په لویدیځ کې یې زده کړه کړې وه ، ځکه هغوی داسې انگیرله چې دا به هغسې سمونې راوړي چې د دوی د هیوادد پر مختگ او غوړیدو لپاره لازمې دي . په حقیقت کې ددې طبقې ځوانو افغانانو په زغرده ویل چې کابل به لږ څه وروسته په آسیا کې د ښوونې او روزنې او کلتور د یو عام مرکز په توگه راشي . » (٤٣)

هغه وخت چې امان الله خان په خارج کې و ،دده سر پرست حکومت ډیر خوار ځواکی او په او مړي تار سره بندو . مرستیال واکمن او د پاچا استازی محمد ولي خان ، په دې گواښمنه وضع ښه پوه و ، ده نشو کولای چې دافغان حکومت پر غړیو خپل واک وچلوي ، ځکه یې نو خپل ځان هم له حالاتو سره سم جوړ کړ . اگست فیگل چې د گرویا پر ځای په کابل کې د جرمن استازي پر توگه ټاکل شوی و ، په افغاني مرکز کې د غه کښانده وضع ښه انځور وي . دی لیکي : « ...له څو میاشتو راهیسې هر وزیر څه چې زړه یې غواړي هغسې کوي . محمد ولي چې باالکل په کورنیو ستونزو کې نغښتی ، ددې وخت نه لري چې بهر نیو سیاسي مسؤلیتونو ته پام وکړي ، دمالیې وزیر دهغو بود جو په برابرولو کې ستونزې لري چې امان الله خان ځنې غوښتې دي . دافغاني ارزښت د (٢٥) افغانیو في سټرلنگ پونډو څخه (٥٠ - ٢٩) ته کښته شوی دی (په ١٩٢٦ کې شاه امان الله خان دافغاني روپۍ پر ځای نوې پیسه چې افغانۍ نومیده راوایسته ) د کابل د سوداگرو او هم له ډاکوم څخه چې حکومت ته یې دوه زره پونډه تادیه کړي وو ، وغوښتل شول چې پانگې تهیه کړي . ډیر لوړ رتبه مامورین دامان الله خان په راستنیدو سره په دې تمه دي چې له خپلو څوکیو به گوښه کړای شي نو ځکه لاس تر زنې ناست وي . له نادر خان سره دامان الله خان د پخلاینې امکان داویره رامنځته کړې چې ښایي هغه به افغانستان ته راستون شي او له گټمنو اصلاحاتو څخه به ملاتړ

وکړی. »(٤٤)

څرنګه چې دامان الله خان پلویان په دفاعي حالت کې وو ، علما وو هم خپل لمسون راپیل کړ او دا چې ویل یې امان الله خان به ترستنیدو وروسته نور ونه کړای شي چې دولسي کړکې بهیر تم کړي یو څه بریالي هم شول.
دعلماوو مشري دشور بازار حضرت صاحب کوله چې کهول یې دهندوستان دسرهند له مذهبي لاربنوونکو څخه شمیرل کیده او په (١٨٧٠) لسیزه کې افغانستان ته کوچیدلي و ، ددې کورنۍ مشر په افغانستان کې ډیو خورا اغیزمن ملا په توګه منل شوی و ، هغه دهند - افغان د پولې پردواړو خوا وو ډیر مریدان لرل او پر قبایلو یې ډیر امر چلیده ، دشوربازار حضرت صاحب فضل عمر چې شیر اغاهم نومیده او په هند کې دنور المشایخ پر لقب سره مشهور و ، دخوست په بلوا کې لاس درلود او مجبور شو چې هند ته فرار وکړي هلته دبرتانوي واکمنانو تر نژدې پالنې لاندې اوسیده خو دده دوو نورو ورونو فضل رحمان او ګل آغا خپلو لمسونونو ته دوام ورکاوه . د (١٩٢٧) په وروستیو کې چې امان الله خان دخپل سفر ترتیبات نیول ، فضل رحمان او ګل آغا د ملایانو او قبایلو سره پټې لیدنې کتنې لرلې چې څنګه ترقي غوښتونکي له قدرت څخه راوغورځوي ، د جنوبي سیمې (اوسنۍ پکتیا) او کندهار دسیمې ملایانو ، دهند په دیره اسماعیل خان کې یوه غونډه جوړه کړه چې په هغې کې دسمونوالو پر ضد دیو ګډ عمل پر پلانونو سره وغږیدل . هدف دا نه وچې پاچا به پسې اخلي ، بلکې غوښتل یې چې « ځوانو افغانانو » ته کودتا وکړي او امان الله خان له راستنیدو څخه وروسته ، دروانې وضعې سره همغاړی کړي . دغه زوړپالو پریکړه کړې وه چې واکمن له تخته ایسته کړي او دناچارۍ له مخې جمهوریت جوړ کړي . (٤٥)

د (١٩٢٨) په سپتامبر کې ، فضل رحمان او ګل آغا د علماوو د

لاسلیکونو پر راغونډولو پیل وکړ او غوښتل یې داسې یوه خبرتیا وړاندې کړي چې په هغې کې داسې وښيي ، دامان الله خان اعلان شوې سمونې داسلام ضد دي . دڅلور سوو لاسلیکونو تر اخیستلو وروسته ، دوی له خپلو ځینو پیروانو سره خوست ته ولاړل چې هلته دقبایلو ملاتړ هم تر لاسه کړي . امان الله خان چې داوخت بهر ته افغانستان ته راستون شوی و ، دهغوی پر مقصد پوه شو ، دوی او ګڼ شمیر نور ملایان یې ترنیولو وروسته کابل ته راوستل . ( ٤٦ ) مګر دبلوا تخم شیندل شوی و او قبایلي وګړي لاس اچولو ته چمتو ول .

ښورښ د (١٩٢٨ ) دنوامبر پر ( ٢٨ مه) په مشرقي کې پیل شو ، لښکر ( قبایلي پوځ ) چې درې سوه سنګو خیل او علي شیر خیل شینوارو ته رسیدل ، پیش بولک ( پیش پلاق) او اچین یې تر برید لاندې ونیول او لوټ یې کړل ، هغوی دډکې او جلال آباد تر منځ تلیفوني لینونه پرې کړل او ددې ښارونو تر منځ یې ټول ترافیک بند کړل . دډکې او جلال آباد پرشاوخوا کوچنی افغاني پوستې یې وسلې کړې او په اچین کې دافغان حکومت ټول شته لوټ کړای شول . دمړ ژواندي یوه شپه هغه وخت خپره شوه چې دجګړې دواړه خواوې دخپل لوري پر تقویه کولو بوخت وو . دشینوارو دښورښ مشران محمد عالم دملکي مدافعانو ټانکي او محمد افضل وو چې په (١٩٢٦ ) کې دجلال آباد دځواکونو لارښوونه یې کوله . ښورښیانو یوه اعلامیه خپره کړه چې خپلې ګیلې او شکایتونه یې داسې ښودلي وو :

١ - دده ( امان اله) خپل راایستلي قوانین دشریعت مخالف دي .

٢ - په محکمه کې داسنادو او ثبوتونو شواهد ( داسلامي قانون له مخې شاهد یا ثبوت باید صرف خبرې کوونکی وي ) .

٣ - تر څلورو ښځو پوره کول چې قرآن اجازه ورکړې اوس صرف په یوې

ښځې پورې محدوده شوې .
٤- دده دلوېو مامورانو له خوا په زور او فشار سره دماندينو طلاق .
٥- دښځو دوېښتـاتو غيـچـې کـول ، دپوړنو لرې کـول او دهغـوی دليـچـو لوڅوالی .
٦- دښځودمخ پټې له منځه وړنه .
٧- اروپا ته دنجونو استول .
٨- دلمانځه دورځې پر توګه دجمعې پر ځای دشنبې ټاکنه .
٩- دبدو او فساد هڅونه .
١٠- دننداړو او سينما ګانو او دساتيريو دنورو ځايونو پرانيستنه .
دغې اعـلاميـې کـې نورې څرګندونې داسې وې : « امير امـان الله خان دلويې جـرګـې په ورځ ،دافـغـانسـتـان دټولو مـشـرانو په مخ کـې دحضـرت محـمد (ص) په شان کې دبې احترامۍ خبرې وکړې نو ځکه هغه کافرشوی او بايد ووژل شي . » ( ٤٧ )
ددې لپـاره چې شـينواري خپـل تهـديد ته پايښت ورکـړي، دډ کې او جلال آباد ښارونـه يې ونيـول ، د ( ١٩٢٨ ) دنوامبـر پر ( ٢٩ مـه ) په جـلال آباد کې برتانوي کونسلګرۍ دشينواري قبايلو له خوا چورشوه . دغـو قبايلو برتانوي کـونسل خان صـاحب مـحـمد جهـانګير خـان ته وويل : « مونږ پريکړه کـړې چې کونسلګري چور کړو » خو کله چې ده استدلال وکړ چې :«زه او او زما ډله شاه امـان الله خان او دافـغـاني دولت مـيلمـانـه يو » نو شينوارو ځواب ورکړ چې : « امـان الله خـان خـو يو کـافـر دی او دهغـه مـيلمـانـه هم ځکه هيڅ مـهـم نه دي. » وروسته له دې هرڅه چې دهغوی خوښ وو وايې خيستل او و دا نيو ته يې اورور واچاوه . ( ٤٨ )
امـان الله خان هيله من و چې له يـاغيـانو سره دخبرو اترو لپـاره وخت ولري

او ځکه یې یوه ډله لوړ رتبه مامورین د غلام صدیق څرخي او شیر احمد په مشرۍ وروليږل چې له قبايلي استازيو سره خبرې وکړي . دالیدنه کتنه د (١٩٢٨) د دسمبر پر څلورمه او پنځمه وشوه او قبايلي شورا لاندینۍ غوښتنې وړاندې کړې :

١ - د ټولو ټولنيزو سمونو له منځه وړل .

٢ - اته کسیز جلبي سیستم لغوه کول او د پوځیانو د معاشونو ډیر والی . ( د پوځ د تنخاوو جګوالی پر قبايلو ځکه هیڅ اغیزه نه لرله چې هغوی عموماً له منظم پوځي خدمت څخه معاف وو . )

٣ - له اروپا څخه د ټولو هغو افغاني ښځو راغوښتل چې د تعلیم لپاره تللې دي او په افغانستان کې د ښځو او نجونو د تعلیم او تربیې پای ته رسول .

٤ - د ملايانو او سیدانو په فعالیتونو کې د لاس وهنې بندښت .

٥ - د شینوارو په وړاندې د غچ اخیستونکو اقداماتو څخه ډډه کول .

نوموړې شورا د یوامتیاز پر توګه دا هم ومنله چې شینواري به ټولې هغه وسلې او مهمات بیرته ورکړي چې د افغان حکومت د پوستو څخه یې ولجه کړي وي . شورا اخطار ورکړ چې که افغان حکومت تر روغې جوړې وروسته شینوارو ته د جزا ورکولو نیت وکړ نو دا قبایل به بیا ښورښ ته لاس واچوي او له نورو سره به یو ځای شي . (٤٩) ،

ښورښیانو احتیاطي چمتو ینې ته دوام ورکاوه ، په داسې حال کې چې د دوی غوښتنې افغاني پاچا ته ورسول شوې ، بیا یې هم داسې ګامونه اوچت کړل چې د جنوبي قبایلو خوا خوږي تر لاسه کړي ، هغوی د لاندینۍ معاهدې د مراعت په خاطر لاسونه سره ورکړل :

١ - شینواري ، مومند او خوګیاني به همداسې یو موټی پاتې کیږي .

٢ - دوی به د حکومت لخوا هر رنګه بدې ونه مني .

۳- له دوی څخه به یو یې هم په جلاډول له افغان حکومت سره سوله نه کوي . ( ۵۰ )

د (۱۹۲۸ ) دډسمبر پر نهمه ، هندي حکومت لندن ته دافغاني وضعې په هکله خپل رایه څرگنده کړه . په دې وخت کې هندوستان امان الله خان ته دپاتې کېدو هیڅ چانس ورنه کړ ، هندپه دې فکروچې :

« قبایلو د هغه نه گالونکي فشار له کبله چې دوی یې دپاچا له خوا لیونتوب گڼي ، خپله وفاداري پای ته رسولې ده . دا افغان هیواد پالنې او ملي غرور ته یوازې دغازي د شخصیت دبریاوو مطالبه وه چې هغوی یې تراوسه څانته وفادار ساتلي وو ، پرته له دې چې اصلاحاتو ته دده لاس تېرونکې جذبه ولري او هغه خو داسې کارونه کړي چې که دکوم خوار ځواکي پاچا له خوا شوي وای نو هغه به دخپلې دغه بې اداره گۍ له کبله تاج او تخت هم ژر له لاسه ورکړای وای . »

هند همدارنگه ویریده چې : « دښورښ دبریالیتوب یا پرا خیدو په صورت کې ښایي دافغانستان څمکنی بشپړتیا د کوم ولایت دبیلیدو له کبله له منځه ولاړه شي . که دغسې څپه راپورته شي نوروسیه به هرومرو له هغې څخه گټه واخلي چې داکار به مرو دهندوستان دخوندي ساتنې لپاره نورو څیړنو ته اړیاسي ، »

دهند حکومت داوخت دیاغیانو په منځ کې داسې څوک نه لیدل چې هیواد یې سره متحد کړی وای . هند په عمومي ډول په دې فکر وچې داښورښ په هند کې هم غبرگیدنې لرلای شي څکه « دا ترلرسپینه ده چې دامیر ستونزې په عمومي ډول بیرته زمونږ لپاره مشکل جوړوي . » ( ۵۱ )

دځینو اټکلي پښتو او آوازو په وجه دیوې نړیوالې دسیسې گومان کیده چې امان الله خان یې په دې فکر کړی وچې آیا دده دواک پر ضد خو به

دبرتانيې لاس موجود نه وي . د ( ۱۹۲۸ ) دډسمبر د ( ۱۲ مې ) نيټې « امان افغان » دلندن دسپتامبر د ( ۱۳ مې ) د « سنډي ايکسپريس » يوه ليکنه او هم يې دلندن دنورو ورځپاڼو تازه خبرونه خپاره کړل . چې دهغوی له مخې دګروال تي ، اى ، لارنس ( عربي لارنس ) په شمال لويديځ هند يا پر افغاني پوله باندې پټ کارونه پر مخ بيول . او اصلاً خو هغه د ( ۱۹۲۸ ) دمې راهيسې په هند کې افغاني پولې ته څېرمه دميرانشاه او کراچۍ په شاهي هوايي ځواک کې د « ايرمين سا » تر مستعارنوم لاندې په هلو ځلو بوخت و. امان افغان په ډاګه کړه چې ددې پر ديو رپوټونو مقصد که هر څه وي خودا باوري ده کوم سړی « چې د ترکانو په وړاندې يې بدبخته عرب په يوبشورش کې سره غونډ کړي وو » داوخت دافغانستان په هکله دادی خپل مطلب څېړي . ورځپاڼې زيار ايست چې د لارنس کړنې حدوتلې وښيي خو پر افغاني پوله د هلو ځلو پر هکله دده پوهه او س سړی په شک کې اچوي ، ځکه چې هغه بيا هم « صرف يوانګريزو » ( ۵۲ ) له دې سره سره ، همفريس ، ډير خوابدی شو او تکراراً يې له هندي حکومت څخه وغوښتل مخکې له دې اوازې چې وايي دانګليس - افغان اړيکو ته به ددغه نړيوال پارونکي له خوا زيان ورسيږي هغه بايد له هنده وباسي .

په داسې حال کې چې دغه موضوع په کابل کې يو لړ شکونه او ترديدونه پيدا کړي وو ، يو بل ډيرې مهمې پيښې افغاني لوړ رتبه کسان په دې فکر کړل چې دهند حکومت په ربښتيا هم پر سرحدباندې توطيې جوړوي . لکه څنګه چې د ( ۱۹۲۹ ) دجنورۍ پر شپږمه ، افغان خارجه وزير غلام صديق په کابل کې برتانوي استازي ته وويل چې : « دی غوږيدلی چې دامير شيرعلي خان لمسی او دميوند دفاتح سردار ايوب زوی ، عمر خان دهند په امباله کې له بنده تښتيدلی ، غواړي چې افغانستان ته راشي » ، غلام صديق دهندي حکومت

ځنځه هیله وکړه چې دافغاني سلطنت د دعوه لرونکي عمر خان دمخنیوي لپاره ، لومړني اقدامات وکړي چې هغه افغاني پولي ته رانشي . ده برتانوي نماینده ته ورپه زړه کړه چې په (١٩٢٤) کې دمنګلو دپاڅون پر مهال هم چې افغاني ځواکونه برلاسي وه ، دتخت یو بل وارث ، عبدالکریم له هند څخه راتښتیدلي او نوموړي بلوا یې پیښه کړه چې « دافغان حکومت لپاره یې دویني بهیدو او لګښت د سترو تلفاتو » یو نوی پړاو رامنځته کړ . ده زیاته کړه چې زه « دغه اندیښنې خورا نینولی یم ، عمر خان چې تر عبدالکریم څوکر ته خطرناک دی ، هغه ښورښ چې ختمیدونکی دی ، بیا راپورته کړي ، افغانستان ته به څومره ډیر زیان ورسیږي ، » (٥٣)

له دې ټولو ګوت څنډنو سره سره عمرخان وکړای شول چې افغان قبایلي سیمې ته ننوځي ، لاکن هڅوبې کومه نتیجه ورنه کړه او دامان الله خان پر مخ وروستی چیږه له یو بل ګوټ څخه ووهل شوه .

دا چې دامان الله خان پر وړاندې بلوا راډیره شوه ، افغان واکمن دخپل تخت دژغورنې لپاره بې ګټې کوښښونو ته لاس واچاوه . لکه څنګه چې دجنوری پر پنځمه یې جارواهه چې امان الله خان خپلې مخ پر وړاندې سمونې پر یښودلې او امریې صادر کړی چې : (١) ملایان کولای شي چې له حکومتي منن لیک څخه پر ته سبق ورکړي.(٢) بهرني ملایان ، دهند ددیو بند والاوو په ګډون پر آزاده کولای شي چې افغانستان ته راشي.(٣) پرمذهبي لارښوونکو او دهغوی پر مریدانو هیڅ ډول بندیزنه لګول کیږي. (٤) د افغانستان په پوځ کې د هشت نفري جلب سیستم نور پای ته رسیږي. (٥) دشراب څښلو دبند ښت لپاره په ځانګړي مامورین وټاکل شي .

له دې څخه دوې ورځې وروسته امان افغان ولیکل چې یو ځل بیا « دجنګ تور لوګی راپورته کیدونکی دی . افغان له افغان سره جنګیږي . مسلمانان د

مسلمانانو پر وړاندې دریدلی . او دا یوازې دځو کسو غرضي شیطانانو کار دی . » ( ٥٤ ) خبرې اترې ناکامه شوې او نور ددې وخت له لاسه وتلی و چې د یاغي ځواکونو مخ راوګرځول شي داماناللّه خان ورځ ګرځیدل او حبیب اللّه دسقاو زوی ، په دې تمه و چې دخپل ویاړ ورځ له نژدې څخه ووینې .

حبیب اللّه ویل چې ده داماناللّه خان له رژیم سره دمذهبي دلایلو پر اساس ضدیت لاره خو دی لاره نیونکی او تاجیکي ریښې پر لرلو سره کیدای شي ووایو چې په دې مخالفت کې ټولنیز - اقتصادي علتونه هم شامل وو . دسقاو دزوی په هکله بیلابیلې را یې شته او ځو بیل بیل کسان په دې نوم سره او ځار شوي دي ، برتانوي سرچینې نوموړی داسې راپیژني :

« ... دی دکابل - چاریکار دلارې پر نیمایي سرای خواجه ته څیرمه ، دکله کان دکلي یو تاجک دی . دښوروښ پر مهال دغه نوی « رابن هوډ » تقریباً څلویښت کلن و . دخپل ژوند لومړی پړاو یې په قلعه مراد بیګ کې دده کورته نژدې له یو لوړ رتبه افغاني مامور ( محمد ولي ) سره دنوکر پر توګه تیر کړ ، اوبیا یې په کابل کې د « قطعه نمونه » په غونډ کې یو نیم کال عسکري وکړه چې ورسته له ټوپک سره تری وتښتید . په پیښور کې یې د سماوار چي په توګه کار وکړ او پاړاچنار ته پسې ولاړ ، هلته دیو کور د وهلو پر وجه یو ولس میاشتې بندي کړای شو . په ( ۱۹۲٤ ) کې دخوست د ښوروښ په لړ کې له منګلو سره ودرید او یو ټولی عسکرې هغه وخت وویشتل چې حکومت دده دنیولو لپاره ګومارلي وو . وروسته دی یو لاره نیونکی شو ، چې په دې ترڅ کې پر بې وزلو زړه سواندی ، مګر دافغاني مامورانو او بډایو لارویانو پر وړاندې نازړه سواندی و . » ( ٥٥ )

حبیب اللّه دکوهستان په سیمه کې عملیات کول او له دې څخه یې ګټه اخیسته چې حکومتي ځواکونه په مشرقي کې بوخت وو . ده په شمال کې

دکابل - چاریکار تقریباً څلویښت میله لویه لار وتړله ، یوازې یې ملکي کسانو ته د تېرېدو اجازه ورکوله . د بچۀ سقاو پر ضد له بیلا بیلو پوړیو څخه زر کسیزه پلې پوځ واستول شو خو ویې نشو کړای چې شورشیان پسې واخلي ؛ نو ځکه په دې موخه خبرې اترې پیل شوې چې د مشرقي د شورشیانو پر ضد سقاو د حکومت ملګری کړي . د دسمبر پر اتمه ، رپوټ ورکړل شو چې بچۀ سقاو له امان الله خان سره د پیسو او وسلو د ترلاسه کېدو په بدل کې روغه جوړه کړې خو د یو با بل لوري د درغلۍ په نتیجه کې شورشي مشر د کابل پر ضد ودرید او د دسمبر پر ( ۱٤ مه ) یې د باغ بالا کلا ونیوله . د څه ناڅه درېو زرو کوهستاني قبایلو دغه شورشي ځواک وروسته پر مخ راغی او کابل ته څېرمه له برتانوي سفارت څخه را تیر شو . لاکن د حکومتي قواوو له خوا تم کړای شو او ترلس ورځو جګړې کولو وروسته د سقاو پوځونه پر شا ولاړل . پر دغه وخت یې برتانوي سفارت زیاتره د جنګ په خوله کې راغلی و . که څه هم چې یاغیانو او حکومتي ځواکونو دواړو پر هغه باندې له تیري څخه ډډه کوله خوله ایسار شوو ودانیو څخه ځینې یې په ګولیو او مرمیو سورۍ سورۍ شوې . بچۀ سقاو د سفارت د دروازې تر شا له همفریس سره خبرې اترې وکړې او برتانویانو ته یې ډاډ ورکړ چې دی له برتانویانو سره د دښمنۍ هیڅ خیال نه لري. د دوی ترمنځ دا تماس دغسې یوه بدګوماني رامنځته کړه چې برتانویان د سقاو له ځواکونو څخه ننګه کوي .

برتانوي پوځي الوتکې پر کابل باندې چور لیدې چې د سفارت ساتنه له نژدې وڅاري چې له ښار څخه تقریباً دوه میله لیرې پروت و ، الوتکو د افغانستان د بیلابیلو سیمو له پاسه پاڼې غورځولې چې « د افغانستان له دوستو ، زړورو او متقي خلکو » څخه یې غوښتنه کوله چې « د خپلو ملګرو او خیرغوښتونکو » سفارت او کونسلګریانې وساتي ، ځکه « د ټولو سفارتونو

ژغورنه او ښه ساتنه یوه مقدسه دنده ده چې نه یوازې یې نړیوال قانون غوښتنه کوي بلکې دسپیڅلي پیغمبر (ص) دعالي ارشاداتو او متبرکو اسلامي قوانینو له خوا یې هم هدایت شوی دی . » ( ٥٦ )

برتانویانو ورسره جوخت دا ګوت څنډنه هم کړې وه چې « دوی یا ددوی شتو ته که خطر پیښ شي کټ مټ به یې غچ وخیستل شي » دامان الله خان حکومت دغه تهدید ته په ډیره کرکه سره وکتل چې دمخه یې لاپر افغاني سیمه باندې دبرتانوي حکومتي الوتکو دغیر قانوني الوتلو په خاطر زړه خوږل کیده . دامان الله خان حکومت دبرتانیې دغه عمل ددښمنۍ یوه بیلګه وبلله او په کابل کې یې پر برتانوي استازي یو واربیا اعتراض وکړ . لاکن دسیاسي هلو ځلو وخت نور تیر شوی و ، ځکه دسقاو ځواکونه کابل ته ننوتل.

امان الله خان په دې پوه شو چې هر څه له لاسه ووتل، نو د ( ١٩٢٩ ) دجنورۍ پر ( ١٤مه ) دخپل مشر ورور عنایت الله خان په ګټه له تخته تیر شو او کندهار ته ولاړ چې دکورنۍ غړي یې هم درې اونۍ دمخه هلته خوځیدلي وو . کله چې دواکمن کهول لپاره دافغاني تخت دژغورنې داوروستۍ هڅه ناکامه شوه نو سرفرانسیس همفریس هم په کابل کې دقدرت دانتقال دآسانولو مسؤلیت په لاس کې واخیست . همفریس له خپل دغه عمل څخه دیو لیک په ترڅ کې چې خارجه وزیر « اې هنډرسن » ته یې ولیږه داسې دفاع وکړه :

« شاه عنایت الله خان له پنځه زره کسیزه لیوا او لږ تر لږه دیو کال له موادو سره په ارګ کې تقریباً ایسار پاتې و ، په داسې حال کې چې دولتي خزانه ، دیو ملیون پونډو دریمې برخې ته اکښته شوې او زښت زیات جنګي مواد یې په واک کې لرل . له بلې خوا حبیب الله ، د ( ١٦ ) زره کسو په لرلو سره ( چې داعدد یوه مبالغه ښکاري ) ، دارګ پر شاوخوا تول ستر اتیژیک

دریځونه نیولي ، هوایې ډگر او زیات توپونه یې په واک کې لرل ، خو گولۍ یې کمې وې ، یو لوی قبایلي ځواک چې هیڅ خوا ته وفادار نه و ، دې ته سترگې نیولې وې چې څنگه ښار چور کړي او په دې جگړه ایزه حالت کې هر رنگه وسلې ولجه کړي . حبیب الله ( ۱۰۰۰ ) پایې دلرگیو ځنې جوړې کړې او خپل توپونه یې دارگ دروازو ته په ( ۵۰ ) یارډه واټن کې سیخ نیولي وو . وروسته یې عنایت الله خان ته په ( ۲٤ ) ساعتو کې د تسلیمیدو اخطار ورکړ او همدارنگه دلیواژوندي پاتیدو ژمنه یې ورکړه . یوازینۍ چاره دا پاتې وه چې یرغل پیل شي . ننوتونکې دروازې په هوا کړي او ټولې ودانۍ والوزل شي . ددې کارلپاره هغه چمتو و چې اووه زره کسان ووژني او د دغسې یوې ناچارۍ په صورت کې د دولتي خزانې دلوټ کولو ، دلیوا دعامي وژنې ، دزیاتو جنگي سامانونو د چاودلو او دښار او ( پرته له برتانوي سفارت څخه ) بهرنیو سفارتونو د تباهۍ امکانات خورا ډیر وو . نو ده نشو کولای چې د دغسې اقدام ننداره وکړي .

په دې څپانده مهال کې عنایت الله خان په دې شرط لاس په سر کیدنه ومنله چې دی او دده ښځمنې به د برتانوي نماینده په ساتنه کې راځي ، ځکه نو په برتانوي الوتکه کې له صحنې څخه وایستل شول .

دشوربازار حضرت چې په افغانستان کې تر ټولو نامتو ملا او تردې وخته یې له یو غیر مسلمان خارجي سره هیڅ خبرې هم نه وې کړې د دواړو له خوا دمنځگړي په توگه مقرر شو او زما سره دخبرو اترو لپاره سفارت ته راولیږل شو . ماهغه ته وویل چې دالوتکو درارسیدو پر مهال که دواړه خواوې اوربندو کړي او زما خبره ومني نوزه به هم دا له خطره ډک مسئولیت واخلم . دغه ضمانتونه په لیکلي ډول واخیستل شول او هند ته مې یو تلگرام مخابره کړ . د ( ۱۸ مې ) نیټې په سهار دوې برتانوي الوتکې راورسیدې وې

غوښتل چې پر هوايي ډګر باندې چې ،دهر يوه څخه د ( ٤٠٠ ) يارډه په واټن پروت و دوژونکو ټکانو پر شرايطو کې کښيني .

دډزيندۍ اشاره ورکړای شوه چې پر ټينګه ومنل شوه . الوتکې په آرامۍ سره راکښېنه شوې . شاه عنايت الله خان او دده ښځمنې دبې وسلې انګريزو کسانو په ملګرۍ منتظرو الوتکو ته بدرګه او په خوندي توګه هند ته ورسول شول . ارګ هم په سوله ييز ډول تسليم شو او « شاهي هوايي ځواک » يوازينۍ هغه وسيله شوه چې کابل يې ديو شوم برخه ليک څخه وژغوره . (٥٧)

عنايت الله خان دجنورۍ پر ( ١٧ مه ) له تخته ګوښه شو او بچۀ سقاو دامير حبيب الله خان غازي پر لقب سره ، دکابل امير اعلان شو ، دارګ دروازې خلاصې او ليواچپلې وسلې پر ځکه کښېښودې اودباندې ووتل ، دامان الله خان پاتې پوځ وويشل شو . ډلې ډلې ، دشاه امان الله خان دخپلوانو او پيروانو پر شمول داويه چلونکې دزوی پر اطاعت کولو بوخت شول.

عنايت الله خان يوه رسمي وينا خپره کړه چې په څرګنده يې دده پخواني احساسات انځورول :

« هرڅوک په دې ښه پوهيږي چې زه ددې خيال يا هدف نه لرم چې پاچا شم، ما دا کار دخپل غم ځپلي پلار د شهيد کيدو پر مهال هم (چې کورټ کيدای شو ) ونه کړ . اوس چې امان الله خان لهپاچهۍ څخه ګوښه شو ، بيا هم مانه دي غوښتي او نه مې اراده وه چې باچا شم خو دمرکز لوړ رتبه مامورينو او مخورو ډير ټينګار وکړ چې دا مسئوليت ومنم ، ځکه دايې راته څرګنده کړې چې دا کار به د اسلام پر خير او ښيګنه تمام شي ، ما دهغوی دهڅو نو له مخې موافقه وکړه ؛ لاکن اوس دمسلمانانو دنيکمرغۍ پر خاطر ورڅخه

تیراو گوښه کیږم ... » (۵۸)

په دې ډول عنایت الله خان خپل بیعت پرېښود او خپل پیروان یې دځان له تابعیت څخه خلاص کړل. څو اوونۍ داسې تېرې شوې چې دهغو په ترڅ کې افغانستان دمختلفو سیالانو له خوا دتخت دنیولو پرخاطر عملاً پر بیلابیلو ساحو ویشل شوی و. لکه څنګه چې په کابل کې امیر حبیب الله مشهور په بچۀ سقاو ناست و، لاکن په قندهار کې شاه امان الله خان ځای پرځای و چې ډیر ژر « درې ورځنی پاچا » عنایت الله خان هم ورسره ملګری شو. دقدرت په دې سیالانو کې وروسته یو بل سړی هم (علي احمد خان بارکزی دعلیا حضرت خورېې او دشاه امان الله خان اخښې) ملګـــــری شو. علي احمد څوواره دامان الله خان غوسه راپورته کړې وه، لاکن بیا یې هم پر خپله دنده پرې ایښی و. برتانوي مامورانو هغه دیو « ښه کرکټر، جدي او زړه ورشخص » پر حیث باله. ده زیار ویوسته چې مشرقي ولایت دامان الله خان لپاره ونیسي، کله چې دا کار ونه شونو په خپله دسلطنت دنیولو لپاره رامیدان ته شو. علي احمد پر ختیځو قبایلو خصوصاً مهمندو ډیره اغیزه لرله او همدارنګه په بهرنیو چارو کې یې ډیره تجربه لرله لکه څنګه چې په (۱۹۰۵) کې له سردار عنایت الله خان او په (۱۹۰۷) کې له امیر حبیب الله سره دهند دسفر ملګری واو په (۱۹۱۹) کې دراولپنډۍ دسولې د تړون پر مهال دافغاني هیئت مشر و. نوموړی پر فارسي او پښتو سربیره پر انګریزي او اردو ژبو هم ښه پوهیده او پر تکړه مذاکره کوونکی و.

علي احمد خان وکولای شول چې خپلو پلوي مهمندو ته درشوت پر ورکولو سره دمهمندو - خوګیانیو - شینوارو درې ګونی یووالی مات کړي چې په دې ترڅ کې یې یو څه خوګیاني هم ځانته راکش کړه او ویې کړای شول چې شینواری تجرید او یوازې پرېږدي. دی په یوه غونډه کې دافغاني پاچا پر

توگه اعلان کړی شو ، ځکه چې مخکې امان الله خان د یو کافر پر تور له تخته گوښه کړای شوی و . لاکن علي احمد د دې کفایت نه درلود چې خپلې قواوې تریوې اداري لاندې راولي . کورنۍ دښمني چې تریوې اندازې ختمه شوې وه ، د نوې اداري په مقابل کې هغه وخت بیا راپیل شوه چې د جلال آباد دولجه شوي مال پر سر د قبایلو تر منځ شخړې را پورته شوې . علي احمد ونه کړای شول چې قبایلي دښار له چور او چپاول څخه راوگرځوي . هغوی څومره چې یې کولای شول ښار لوټ کړ او بیرته خپلو کلیو ته ستانه شول او د جنگ خیال یې له سره وغورځاوه چې په دې ډول علي احمد په جلال آباد کې له یو ډیر کوچني پوځ سره پر میدان پاتې شو . (۵۹) بناً علي احمد دومره پانگه نه لرله چې دا پریدیو او مهمندو قبیلې پرې وساتي او نه یې هم غښتلو شینوارو ته څه ویلای شول چې پر دوی یې دامان الله خان دبیرته راستنولو شک هم درلود .

دفبرورۍ پر لومړۍ نیټه د مشرقي قبایلو یوې جرگې علي احمد ته وویل ؛ «مخکې له دې چې دوی پر بچۀ سقاو حمله وکړي . باید د جنوبي قبایلو ملاتړ هم تر لاسه شي .» دا پر ویلو آسانه خو په عمل کې گران کار و . ځکه کوهستاني واکمن هم په خپلو نظامي ځواکونو کې د ځان پر ملاتړ ډیر تبلیغ کړی و . دارگ د نیول کیدو پر مهال هغه ته ډیرې پیسې پر لاس ورغلې وې چې د هغو پر واسطه بچۀ سقاو د ځینو قبایلو ننگه تر لاسه کولای شوه . د ده د پروپاگند هدف دا و چې قبایل په دې عقیده کړي چې گواکې علي احمد د امان الله خان استازی دی او غواړي چې په دې ډول باالاخره له دوی سره خیانت وکړي . د علي احمد ملاتړ هم ډیر ژر پای ته ورسول شو او دې ته اړوت چې هند ته وتښتي ، په همدې ډول د فبرورۍ پر (۲۸ مه) پیښور ته وخوځید . دا یو څرگند حقیقت دی چې د علي احمد د جگدلک له تم ځای څخه د شرابو شل بوتلو نه راووتل او کله چې هغه د عوامو په مخ کې مات کړای شول نو ورسره

دعلي احمد اعتبار هم ختم شو . دمارچ پر لومړی نیټه علي احمد دپېښور په ښارکې دجمعې لمونځ په داسې وخت کې ادا کړ چې دسلطنت یو بل نوی سیال نادرخان هم له پاریس څخه رارسیدلی و .

علي احمد بیاهم دتخت اوتاج نیولو څخه پر شانشو . ده په پېښور کې هڅه وکړه چې دبچۀ سقاو په مقابل کې دجګړې لپاره دانګریزانو ملاتړ ترلاسه کړي خو بریالی نشو . هیڅ مرسته ورنه کړای شوه او هندي حکومت ټینګار پرې وکړ چې یا بیرته افغانستان ته ستون شي او یا هم له دې ځایه کوم بل هیواد ته ولاړ شي . علي احمد یوه میاشت لانورهم په پېښور کې پاتې او دمارچ پر ( ۲۸مه ) کندهار ته په دې تکل روان شو چې له شاه امان الله خان سره یخلاشي . بالاخره دا پریل پر دریمه افغانستان ته داخل شو او دامان الله خان له ځواکونو سره ملګری شو . مګر کله چې دمئ په وروستیو کې امان الله خان دپوځي ماتو پر وجه مایوس شو او مخ پر هند وخوځیدنو علي احمد یووار بیا هم دتخت دنیولو کوښښ وکړ . دده پوځونه دجون پر دریمه دبچۀ سقاو دځواکونو له خوا مات شو او دوې ورځې وروسته دیو پاچا په حیث نه بلکې لوڅ سراو لوڅې پښې دیو بندي پر توګه دکابل په واټونو کې تیر کړای شو . ده قمار وواهه خو هغه یې بایلود . علي احمد د « ټیټې پوړۍ » داویه چلونکي دزوی قرباني شو ، لاکن په پای کې دیو اتل پر حیث وپیژندل شو ، ځکه ده دهغه توپ میل مچ کړ چې څوشیبې وروسته یې دتالندې غونډې په یوه برغ سره دده بدن هوا ته والوزاوه .

# {پنځم څپرکی}

## امیر حبیب الله ، دسقاو زوی دیووالي لپاره هڅې

د (۱۹۲۹ میلادي کال ) دجنورۍ په نیمایي کې امیر حبیب الله پر افغانستان باندې خپل (لهبې نظمۍ څخه ډک) واک راپیل کړ . دحبیب الله پر وړاندې دپاچا کیدو په خاطر یو لړ جدي ستو نزې پرتې وې، دی دپاچهۍ له نسبت څخه یو افغان نه و ، بلکې دفارسي ویونکي اقلیت څخه یو تاجک و ؛ دی دیو نوکر زوی و چې باید دخپل پلار دغه ټیټ مسلک یې تعقیب کړی وای ، دی تریوې اندازې بربنډ لاره نیونکي او بالاخره داسې یو یاغي چې دخپل اسلامي پاچا اطاعت یې نه کاوه ، دخپل امارت په نهو میاشتو کې حبیب الله ډیر کوښښ وکړ چې دغه بیلوالی لرې کړي او یو وخت داسې هم معلومه شوه چې په دې برخه کې یو څه بریالی غوندې دی ، کله چې له تخته

گوښه کړای شو نو ظاهراً د ده تاجک والي یو ازیني هغه عامل و چې پر تخت نه ارزیده .

کله چې حبیب الله د امیر پر توګه اعلان شو نوی کاریې دا وچې نظم او قانون جوړ کړي . د (۱۹۲۹) د جنورۍ پر (۲۱ مه) همفریس له کابل څخه رپوټ ورکړ : « ځینې داسې ګامونه پورته کیږي چې د هغو له مخې ژوند بیرته خپل عادي حال ته راګرځي ، له بهر څخه چې په زرګونو خلک پاچا ته د سلامي کیدو پر خاطر راځي حکم ورته کیږي چې په ارګ کې د خپلو وسلو تر تسلیمیدو وروسته بیرته خپلو کورونو ته ستانه شي . نود دې لپاره چې نظم ټینګ شي دا یو لازمي کار دی . اوس په بازارونو کې ګڼه ګونه ښکاري او ځینې کوچنی ډلې په دې تمه دي چې خپل پخواني رقیبان ښکاره او د هغو کسانو کورونه لوټ کړي چې کینه ورسره لري . یو څو ورځې وروسته همفریس په خواشینۍ سره راپور ورکړ چې ... محمد زایي سرداران پر اتومات ډول سره نیول کیږي ، لکه څنګه چې په تیرو دوو ورځو کې تر شپیته کسو زیات نیول شوي دي . په نیول شویو کسانو کې حیات الله او کبیر خان د امان الله خان ورونه ، دوه یې کاکاګان (امین الله او محمد عمر ) او هم پرته د ښوونې او روزنې له وزیر ( فیض محمد ) څخه چې ځای یې معلوم نه دی د کابینې نور ټول پخواني وزیران شامل دي . د دوی له کورونو څخه ټول قیمتي شیان ضبط شوه او داهدایت ورته شوی چې د هغو پیسو حساب ورکړي چې د دوی د وظیفې په وخت کې له دولتي خزانې څخه ایستل شوي دي ، د دوی داحالت خورا ډزره سوي دی او پرته له دوو - دریو کسانو نور ټول یې په اختلاس تورن شوي او ګومان نه کیږي چې له داسې یو حکومت څخه ځانونه خلاص کړي چې هغه په خپله لوټمار دی . نن ماسپښین د مالیې پخواني وزیر په کوڅو او بازارونو کې

تیر کړای شو . ورځ په ورځ سره وه لیکن هغه صرف نخي جامې اغوستې وې . له پخواني نایب السلطنه محمد ولي خان سره هم ډیر ناوړه سلوک کېږي . ددغه سړي کور چور او ورته وویل شول چې کـه غواړي هر څو ورځې ژوندی پاتې شي نو دهرې ورځې پر سـر به سل پونډه تادیه کـوي . کـه څه هم چې عـوام داوحشیـانه غچ اخیستنه ستـایې ، مگر ډیر ویر یږي چې هسې نه ددوی پر کورنواو دوکانونو هم دغه رنگه بلا نازله شي . » ( ۱ )

که څه هم چې حبیب الله دڅه وخت لپاره دسخت سرې مسلمانۍ پر وجه او هم د کـوهسـتـان ولایت دیو اوسیـدونکي پر توگـه تر یوې اندازې دعـوامـو دخوښۍ وړ وگرځید ، لیکن له همـاغه پېل څخه په تیره بیا سوداگر او تجار دده داقتصـادي دریځ له امله ورسره په پټه مـخالف وو. بچهٔ سقاو په کابل کې دعادي حالت دراوستو پر خاطر له زور او جبر څخه کار اخیست ، داسې فرمان یې صـادر کـړ چې ټول دوکـانونه کـه ډک دي یا تش بـاید خـلاص وي او دااخطاریې ورکړ چې که هر څوک دغه امرونه مني نو شتمني به یې غصب او په دار به وځړول شي . دخپل واک په وروستیو کې کله چې بچهٔ سقاو پیسو ته اړشـو نو همـدغـه سوداگـرو او کـاروبار والاو مـرستـه ورکـړه . دمخلوع رژیم پلویان لکه اداره چیـان ،دځوانو افغـانانو غړي، دنوو او عـصري ښوونځیو زده کـوونکي او فـارغـان دبـچـهٔ سـقـا و له رژیم څـخـه چې دوی یې له کـارونو او مقامونو څخه ایسته کړي کـرکجن وو او ځینې خو یې په خپل دغې دښمنۍ ښودلو کې دهیڅ شي څخه هم نه ډاریدل . سـردار احمد علي خان (دنادرخان وراره ) داسې وایي : « دښوونځي یو زده کـونکي تـه یو بم په لاس ورغلی چې دده له قـوله خیـال یې دی چې بچهٔ سقـاو پر هغـه سره ووژني ،دا ځکه چې هغه دمکتبونو پر ترلو سره دټولو افـغـاني هلکانو ژوند ورتباه کړی دی . دغـه زده

کونکی دنورو متعلمینو پر گډون نو موږی بم وچاوه ، سردار حیات الله خان داماناالله خان خان وروږ په دې موضوع کې دلاس لرلو پر تور ونیول شو . ده له دې جرم څخه انکار وکړ خو دا عمل یې جداً وستایه . » (۲)

دحبیب الله پر وړاندې تر ټولو مهم او جدي گواښ دپښتنو سدوزي او بارکزي قومونه وو چې د (۱۷٤۷) راهیسې یې افغانستان اداره او پرنوروا قلیتونو یې واکمني کړې . هغوی نه غوښتل چې هیوادد تاجکو تر ادرا ې لاندې وي ، گډوډې راوړونکو قبایلو دخپلو مذهبي لارښوونکو پر تحریک او دلوتماری پر اسره غوښتې چې هر هغه افغاني واکمن راوپرزوي چې ددوی پر روایتي قوانینو یې تیری کړی ، لاکن دافغانستان دپاچا پر حیث د بچهٔ سقاو پیژندنه یوه بیخي جلا مسئله وه . له پیښور څخه یو برتانوي مامور رپوټ ورکړ چې :« دبچهٔ سقاو امارت دډیورند دخط ددواړو خواوو پر قبایلو تینگه ضربه وارده کړې ده . مسودو قوم وایي چې دوی دهر بنیادي مسلمان ملاتړ کوي خو دحبیب الله سره ټول مخالفت لرو . مسودو دموسی خان تر مشری لاندې یو ولس سوه سړي د یو نا څرگند هدف پر خاطر کابل ته لیږلي دي . وزیر به دحبیب الله ملاتړ ونه کړي خو له دراني تیر څخه به دهر بنسټ پال مسلمان څخه ننگه وکړي . دجنوبي ولایت قبایل خو به هیڅ حبیب الله په پام کې ونه لري، مگر دنادر خان پر ملاتړ زیاتې خبرې کوي. اپریدي او مومند د حبیب الله دامارت پر خبرسره متا ثره شوه او حتی داماناالله خان پر پلوی یې غبرگون ښکاره کړی دی. . . شینواري او دمشرقي ولایت نور قبایل به هیڅ داماناالله خان ملاتړ ونه کړي، لاکن په همدې ډول به دحبیب الله ملاتړ هم ونه کړي .

په هندوستان کې هم غبرگون دحبیب الله پر ضد و . لکه څنگه چې

مسلمانانو او هندوانو پریوه غږ داماناالله خان خواخوږي لر له ، ځکه چې هغه له برتانیې سره دبریالیوډغرو په نتیجه کې خپل هیواد آزاد کړی و . دهند دافغاني تېرونو په منځ کې هم چې دافغانستان له کورني جګړې څخه ګوښه و « دیو غیر پښتون امیر پرضد سخته کرکه » خپره وه ، ځکه نو دهندحکومت په دې ویریده چې داماناالله خان پر پلوی سره داسې یوه مبارزه چې دبرتانیې ضد ځانګړنه ولري راپیل نشي . ( ٤ )

له دې حقیقت سره سره چې حبیب الله پر قدرت ناست و او طرفداري یې تر اماناالله خان زیاته نه کیده خو بیا هم دافغاني تخت دنیولو لپاره مبارزه که څه هم چې بچه سقاو یې راچپه کولای نشو جاري وه . ده تولې هغه قواوې چې دده پرضد به ورتلې یو پر بل پسې ماتولې ، یوازې سرحدي او دمشرقي ولایت قبایلو اطاعت ته غاړه نه ایښودله خو له دې سره سره چې نوموړی تاجک امیر یو غلیم نسکوراوه هلته به یو بل دده پر ضد راپورته کیده .

دکابل لومړنیو پیښو دا آوازه نوره هم زیاته کړه چې ویل یې برتانیې تر یو حده داماناالله خان په نسکورولو کې لاس درلود او ګواکې هدف یې داو چې پر افغاني تخت یو بل نرم سری کښینوي . دبرتانیې حکومت هم دناپېیلتوب او مداخلې نه کولو اعلان وکړ ، لاکن داماناالله خان دکهول له ژر خوشې کولو سره سره داشک لیرې نشو . دافغانســـــتان دپیژندل شویو پاچاهانو لکه اماناالله خان یا عنایت الله خان او هم هغوی دواړو ته د ګوابښ ورکونکي تاجک تر منځ دبرتانیې ناپېیلتوب په خپله دبچه سقاو په ګټه تمامیده . که څه هم چې په کوم انګلیسي یا هندي آرشیف کې داسې کوم سندنه دی لیدل شوی چې داماناالله خان په قضیه کې دې دبرتانیې دښمني ثابته کړي خو پر تیره بیا په هند کې استوګن برتانویان چتې داماناالله خان پر دغه بده ورځ غمجن

نشول.

ددې حقیقت په نظر کې نیولو سره سره چې یوازې څو میاشتې وړاندې امان الله خان دبرتانوي تبوالو اکمن معزز میلمه وو، داچې دهغه لپاره ورکول شوې وسلې هند ته رارسیدونکې وې نو پر دغسې یو مهال چې امان الله خان داسې یوې مرستې ته اړو، دناپېیلتوب نوموړې محدودې پالیسۍ هغه دخپل تخت له ژغورنې څخه بې برخې کړ. دبرتانیې په تګ لاره کې چې په لندن کې دخارجه وزارت لخوا تاکل شوې، ویل شوي چې یوازې باید یو« غښتلي حکومت » ته مرسته ورکړای شي، لندن همفریس ته داسې خبرورکړ: « د اعلیحضرت حکومت په افغانستان کې دځواک په اوسنۍ سیالۍ کې هیڅ یوې ډلې ته دمرستې یا ملاتړ پر ورکولو سره ددې هېواد په کورنیو چارو کې دمداخلې اراده نه لري، هغه دیو ټینګ مرکزي حکومت دټینګښت جدي پلوي دی او ددغسې یو حکومت دټینګښت په صورت کې به هغه ته داسې مرسته ورکړي چې دهغې له مخې افغان اولس په دې وتوانیږي چې هیواد یو ځل بیا ودان کړي او همدارنګه پر مخ یې بوځي. » (٥)

دافغانستان په کورنۍ جګړه کې دبیطرفۍ او لاسوهنې اعلان یوه خبره ده، مګر دهغې پلي کول بله خبره ده، دبرتانیې ددې کړنلارې دفورمولبندۍ ډېره مهمه پاملرنه هغه غبرګون و چې له دوو ځایو یې تمه کیده: لومړی، په آزادو قبایلي سیمو کې دبیلابیلو قبایلو او همداراز په هند کې دمسلمانانو له خوا او دوهم، دشوروي اتحاد له خوا چې دبرتانیې پرلاسوهنه او په دې جګړه کې دهغوی دخورافعال رول پر لوبولو باندې شکمن و. برتانوي مامورانو منل چې شوروي اتحاد او په هند کې افغاني قبایلو دواړو په دې جنګ کې کومه ونډه نه ده اخیستې او دبرتانیې تګ لاره داوه چې نور هم په

هغې کې دورګډېدو څخه راوګرځوي . دهندي حکومت خورا بېړني ګامونه پر لاندې ټکو مشتمل وو :

۱ - هند ته له افغانستان څخه دوسلو الو کهوالو پر ورتګ بندیز .

۲ - دهند له لارې دجګړه ییز و څیزونو د ترانزیت بندښت .

۳ - په هند کې د تبلیغاتو ممانعت .

٤ - هند یا افغانستان ته دافغانانو تګ راتګ تم کول .

٥ - په سرحد کې دقبایلو یا مقتدره کسانو دخوځېدو مخنیوی .

هند ته دوسلو الو کهوالو د ورتیریدو اړونده مادې غوښتنه کوله چې سرتیري دې « یوازې هغه وخت ومنل شي کله چې خپلې وسلې تحویل کړي .

او وروسته له دې چې هر ځای وغواړي دتګ ځاني اجازه دې ورکړل شي خو دهغوی وسلې به هله بیرته ورکول کیږي ،کله چې پر ډله اییزه توګه افغانستان ته له حکومتي ځواکونو سره دبیا یو ځای کیدو پر عرض ستنیږي. »

دبې نظمه پوځي کسانو پرهکله دصوبه سرحد مشر وزیر ته واک ورکړل شو .

دحبیب الله له ځواکونو سره په مخکنیو جګړو کې چې کوم افغاني منظم پوځیان په بیلابیلو سرحدي سیمو کې آخوا او ښتي وو ، بیرته حبیب الله ته ورنه کړای شول . هغوی ته دا حق ورکړل شو ، که غواړي چې بیرته ډیرژر ستانه شي نو باید له خپلو وسلو سره پر هغه خواولاړ شي، له کومو خواو چې راغلي وو مګر که غواړي هغه سیمو ته ورځو ځي چې دامان الله خان قومانده په کې تردې وخته لاچلیده نو بایدپرته له وسلې څخه ورشي خو په وروسته کې چې کله محمد هاشم خان دحبیب الله پرضد جګړې ته ورګډشو ، دا کړنه دومره جدي نه مراعات کیده .

دهند له لارې دجګړه ییزو څیزونو پر ترانزیټ بندیز لګول ( داچې امان الله خان تردې وخته لا دافغانستان پر ځینو سیمو مسلط و ) دبچه سقاو پر نسبت امان الله خان ته ډیر خطرناک تمام شو . امان الله خان په اروپا کې دخپل سفر په ترڅ کې پر زیاته اندازه وسلې پیریدلې وې او هم یې دسوغاتونو پر ډول دزیاتو پوځي شیانو ژمنې تر لاسه کړې وې چې یوه برخه یې مخکې لا هند ته رسیدلې وه او دامان الله خان حکومت یې په ډیره ناامیدۍ سره پر تمه و خو برتانیې له هغې ورځې څخه چې امان الله خان له تخته ایسته شو » کوم افغاني حکومت پر رسمیت ونه پیژاند ، برتانیې هم دنورو دولتونو غوندې په کابل کې له قدرته داګوښه کیدنه او پر تخت دعنایت الله خان کښېناستنه ومنل ، برتانیې او نورو قدرتونو په کابل کې خپل خپل استازي لرل او دهغوی ساتنه او ژغورنه دحبیب الله په ښه نیت پورې تړلې وه ، ځکه نو برتانیې یوازې دپخواني رژیم پر رسیمت پیژندلو سره نشو کولای دنوي واکمن په وړاندې ضدیت ښکاره کړي . همداوجه وه چې دامان الله خان له خوا رانیول شوې وسلې په کراچۍ کې همداسې پاتې شوې او افغان حکومت ته یې د ورسپارلو څخه ډډه وشوه . ( برتانیې همدارنګه دهغو تیلو پر ورکولو هم بندیز ولګاوه چې دامان الله خان هوایي ځواک او پوځي وسایطو ضرورت ورته لاره ، ) داډیرې حیرانتیا ځای دی چې حبیب الله له هندي حکومت څخه وغوښتل، تولې هغه وسلې او مهمات چې دامان الله خان حکومت ته په ترانزیټ رارسیدلي همداسې باید وساتل شي ، مګر داسې کوم سند نشته چې وښیي دبرتانیې له خوا دوسلو دنه ورکولو اراده دنوموړې غوښتنې پر ځواب کې شوې ده .

په هند کې پر تبلیغاتو بندیز تر هغه ځایه چې مسئله دپولې پردواړو خواوو دافغانانو دپاملرنې وړوه ، کوم مشکلات نه لرل خو دهندي خپرونو کنترول

ډیر مشکل ؤ چې د افغانستان په پیښو کې یې د برتانیې د ذمه واریو ګنګوسې خپرولې . لکه څنګه چې پر افغاني پوله دډ ګروال لارنس د کړنو ورکول شوي خبرونه لومړی د لندن ورځپاڼو خپاره کړل چې وروسته د ټولې نړۍ ورځپاڼو ترې نقل کړل . د لندن « ډیلي نیوز » د (۱۹۲۸) د دسمبر پر پنځمه ولیکل چې لارنس په هند کې په ټینګه لګیادی پښتو ژبه زده کوي او « نتیجتاً هغه افغانستان ته دورننوتو اراده لري .* » د لندن ډیلي هیرالډ د ۱۹۲۹ د جنوري پر پنځمه رپوټ ورکړ چې : « افغاني مقاماتو دډ ګروال لارنس د نیولو امر ورکړی دی. » ،او یوازې دوې ورځې وروسته همدې ورځپاڼې له کابل څخه د « امان افغان » پر حواله د دغه نړیوال شراچونکي درول پر هکله نو موړي اروپایي راپورونه خوراېد وګڼل ، دا موضوع د برتانیې په پارلمان کې راپورته شوه خو برتانوي حکومت له دې ټولو تورونو او څرګندونو څخه انکار وکړ . دغې مسئلې ته د لارنس نه رسیدو جدي پټ ساتنې « د لارنس د پیښې » ګنګو

*لارنس اصلاً د (۱۹۲۷) د جون پر (۱۰مه) ادوار د مارش ته په یو لیک کې داسې راپور ورکړی و: « ایا پوهیږې چې زه فقط په همدې تېره اونۍ کې هلته (کابل ته) تللی وم ؟ په کابل کې برهانوي اتشه دهوایي ځواک دیو مامور داستخدام په لټه کې و خو که زما ان بیخي تاپیسي هم زده وای نو ډیپو ته به مې سمدستي نوم ورکړای وای . » ده په همدې خط کې څرګنده کړه چې ما ته هغه لارې چارې اوس هم معلومې دي چې د هغوی له مخې برتانیه باید د شوروي اتحاد سره د ټکر په صورت کې چې پېښیدونکې یې بولم . څنګه ور مخته شي او لازم اقدام وکړي ، زیاتوي : « ایا په دې پوهیږې چې که ما د برتانوي حکومت په هکله په (۱۹۱۷) کې دومره معلومات لاندې لکه څنګه چې نن یې لرم نو کولای مې شو چې د هغو له مخې د اسیا نقشه بالکل بدله کړې وای ؟ لارنس په هند کې اتلس میاشتې تېرې کړې چې زیات په کراچۍ او په میرانشاه او یوه اونۍ هم په پیښور کې پاتې شو دی په اخر کې د همفریس د ټټکې غوښتنې له مخې ، ځکه بیرته هندوستان ته ولیږل شو چې هغه وویرید مبادا د لارنس پا تېر کیدنه په افغانستان حتی هندوستان کې هم کوم جدي لمسون رامنځته نه کړي.

سو ته نور رنګ او ابعاد هم پسې ورکړل ، داروپا په وچه کې چې هلته دشاه امان الله خان دسفر په ترځ کې افغانستان ښه شهرت موندلی و ، روانې کورنۍ جګړې او هغه ګیچ کونکو رپوټونو ته چې دامان الله خان را پرزول یې دبرتانیې دسیسې بللې خاصه پاملرنه واوښته ، دبیلګې پر توګه ایټالوي خپرونو ګڼ شمیر رپوټونه ورکړل چې دګروال لارنس د « استخباراتي څانګې » پر هدایت کوچي قبایل دخپل عصري پلوه پاچا پر ضد روپارول . له هند څخه انګلستان ته دده ستنیدل فقط « دخپلې حق الزحمي داخیستلو » پر توګه وپتییل شول . (۷) دجرمني « دویچ الجمین زیر تنګ » نومې ورځپاڼې د (۱۹۲۹) دجنورۍ پر دوولسمه « په افغانستان کې ددې خپریدونکې ګومان » دتفسیر په ترځ کې چې ویل یې (دبچۀ سقاو له یاغیانو سره دبرتانیې ننګه وه) ولیکل چې دانه یوازې په سرحد کې دلارنس دشته والي په ډول بلکې دهغو « خبرو اترو » په نتیجه کې هم و چې دبرتانیې دسیاسي نمایندګۍ او یاغي مشرانو تر منځ شوې وې ، ورځپاڼې پسې زیاته کړه چې دبرتانیې او افغانستان دنویو اړیکو له امله چې دمسکو سره مناسبات ساړه شوې وو ، نومړي یو ځل بیا له افغانستان څخه دشوروي ملاتړ خواته ورکوړ شوی دی . دبرتانوي هند خپرونې په خپلو رپوټونو کې خورا دقیقې او صریحې وې : دبیلګې پر توګه دکلکتې د (۱۹۲۸) دجون د ( ۲۷مه) نیټې د « فارورډ » نومې ورځپاڼې خبریال راپور ورکړ چې : « دبرتانیې له خوا ګمارل شوي ایجنټان دملایانو له لارې تبلیغات کوي او په دې خاطر دهغو تصویرونو په خپر یدو سره چې ملکې دخوب په اروپا یې جامو کې اخیستي ، ناوړه متعصبین را پاروي . » (۸) ( په افغانستان کې عام ذهنیت هم کټ مټ په همدې عقیده دی . )

ورځپاڼې دامان الله خان له رژیم سره دبرتانیې مخالفت « دشوروي روسیې ، افغانستان ، ترکیې او ایران تر منځ دسره تړلي ګډ ژوند » پر وړاندې یو غبرګون ګڼلو . دلاهور « سیاست » ، « زمیندار » ، « پرتاپ » او نورو هندي

ورځپاڼو د (۱۹۲۹) دفبرورۍ پر لسمه د امان الله خان پر خلاف په هند کې دشوربازار دحضرت صاحب دخپلوانو له خوا دکړنو راپور ورکړ. (۹)

برتانوي حکومت وغوښتل چې دبرتانوي او هندي ورځپاڼو پر خلاف ګام پورته کړي. خو دبنګال دلوی مدافع وکیل « بي ایل میتر » قانوني انګیرنې په دې هکله هر ډول قانوني اقدامات دحکومت له خوا « د تهمت داړونده مسئلې داعادې دناتوانۍ » پر وجه خنثی کړل. دهندي حکومت داستخباراتو افسران د امان الله خان ضد پر و پاګند چیانو پر کړنو له هغه وخته خبر وو چې هغوی غوښتل اروپا ته دپاچا له رسیدو سره سم یې عملي کړي. په کوئټه کې افغاني تجارتي نماینده تولې هغه عکس لرونکې ورځپاڼې رانیولې او سمدستي یې افغانستان ته ولیږلې چې د ملکې ثریا عکسونه دخوب په لباس کې په کې چاپ شوي وو. غلجي کوچیانو هم دملکې دغسې عکسونه خورازیات افغانستان ته یووړل. ددې تصویرونو لاس پرلاس کیدل پرته له شکه دسرحدي قبایلو دراپورته کیدو او بلوا یو غټ علت شو.

دهندي حکومت لپاره له افغانستان څخه دراوتونکو یاورتلونکو کسانو مخنیوی ډیر ګران او خورالویې ستونزي یې ورته جوړې کړې. افغان حکومت د قبایلي ښورښونو له پیل کیدو سره سم له هند څخه وغوښتل چې په هند کې دې ټول سیاسي کډوال تر کلکې څارنې لاندې ونیول شي، دهند حکومت هغه وخت ډیر خړ، شو کله چې دسردار عمرخان په مراقبت کې ټنبلې څنې وشوه او هغه دجنورۍ پر دوهمه دخپل (الله آباد) له کوره وخوځید اوافغانستان ته ننوت، هندي حکومت دده دنیولو لپاره دنقدي انعام اعلان وکړ، او د (۱۹۲۹) دجون پر دیرشمه شینوارو مشرانو ژمنه وکړه چې هغه به دهند حکومت ته دلاندنیو شرطونو تر مخې ورته تسلیم کړي: (۱) په هند کې دې دده مدد معاش نه کمیږي. (۲) هغه ته دې دتښتیدو پر جرم سزا نه ورکول کیږي. (۳) که شینوارو وغوښتل چې هغه دپاچا پر توګه اعلان کړي نو برتانیه به یې ورایله کوي. (٤) برتانیه دې شینوارو ته پنځلس زره روپۍ

ورکړي. (۱۰)

عمر وروسته پر ته له قید او شرطه د (۱۹۲۹) په جون کې برتانیې ته تسلیم کړای شو، دعمرخان تښتیدو او په افغانستان کې دهغه داړونده پیښو ویرجن داستان دهند د آرشیف په سیاسي دوسیو کې خوندي دی، البته داسې کوم سند نشته چې دده په تښتیدو کې دبرتانیې لاس لرنه په ډاګه کړي، لاکن دا باید په پام کې ولرو چې ځینې داسې مخفي سیاسي دوسیې چې دبرتانوي استخباراتي اداراې پر لاس لرلو یې دافغانانو شک او تردید تصدیق کاوه، له منځه یو وړل شوي. (هندي حکومت وروسته پریکړه وکړه چې ټول هغه کډوال چې افغانستان ته د تښتیدو ګومان پرې کیده، برماته واستوي چې هلته دوی له خپل ټاټوبي لیرې وي او ځارنه یې هم آسانه کیدای شوه.) هندي حکومت وړاندې لا د (۱۹۲۹) په مارچ کې دځان دناپېیلي ښودلو پر توګه یو لړ مقررې راوایستې چې ویل یې: «مونږ نه پریږدو چې سرحدي سیمې مو دافغانستان په کورنۍ جګړه کې دکومې رقیبې ډلې له خوا استعمال کړای شي.» دا اصول په لاندې ډول وو:

۱- هیڅ کوم برتانوي تبعه ته به اجازه نه وي چې له سرحد څخه افغانستان ته ننوځي.

۲- افغاني ژوبله ورکه پوځي وي یانا پوځي، که په هند کې لنډ مهاله پناه وغواړي نو دراواښتو په هماغه ځای کې به وسله تسلیموي او په لازم وخت کې باید بیر ته افغانستان ته له هرې لارې چې یې زړه وغواړي ستون شي. ددوي وسلې به په افغانستان کې دیو ټینګ حکومت تر جوړیدو پورې چې دوی به بیا ورځي، همدلته پاتې وي.

۳- دعادي افغاني سوداګرو او قبایلي افرادو پر تګ راتګ کوم بندیز نشته، همدارنګه هند ته دلوړو شخصیتونو راتګ چې په هند کې دسیاسي مهاجرو پر توګه پاتې کیدل غواړي، لازم نه دي خو بهر ته دمستقیم سفر کولو ترانزیټ به آزادوي. دهغه بیلابیلو حکومتونو لوړ رتبه مامورانو ته چې

وغواړي دخپلې خوښې سره سم دافغانستان له يوې سيمې څخه بلې ته سفر وکړي ، په صوبه سرحد کې يوازې د يو ځل ترانزيټ اجازه ورکول کيږي. (لاکن برتانويانو بيا هم په تيره د علي احمد او محمد هاشم په اړه استثنا راوړه. ) له هند څخه ليدنه په دې شرط سره آزاده وه چې مسافر به تراټک آخوا پر ته له دې چې دصوبه سرحد په کومه سيمه کې تم تېرېږي او په هند کې به داوسېدو پر مهال له هر رنګه برتانوي ضد اونورو اعتراض وړ کړنو څخه ډډه کوي . (١١)

ددې مقررو له مخې هندي حکومت د ( ١٩٢٩ ) په جنورۍ کې عنايت الله خان ته اجازه وکړه چې پيښور ته لاړشي او له هغه ځايه د کوټيتې له لارې کندهار ته وخوځي . په همدې توګه علي احمد له ختيځ ولايت څخه پيښور او له دې ځايه د تخت نيولو پر خاطر کندهار ته ولاړ چې هلته مړ شو . شاه امان الله خان هم دمۍ د مياشتې پر (٢٣ مه) له هند څخه تير او بمبيي ته ولاړ چې د (١٩٢٩ ) دجون پر (٢٢مه) دجلاوطنۍ په نيت داروپا پر لور په سمندري سفر روان شو .

دهندي حکومت لخوا ديوې بلې بيلګې پر توګه عنايت الله خان ته دافغانستان څخه تر تښتيدو وروسته په هند کې پناه ورنه کړای شوه او هغه يې دې ته اړ يوست چې ايران ته مخه کړي . دلندن حکومت او هم په کابل کې برتانوي استازي وړانديز وکړ چې هند ي حکومت دې عنايت الله خان ته پناه او مدد معاش ورکړي . خو هند له دې کار څخه ډډه وکړه . (١٢)

امان الله خان لا په کند هار کې و چې هلته نادر خان او ورونه يې شاه ولي خان او هاشم خان دفبرورۍ پر ( ٢٢مه ) بمبيي ته راغلل ؛ هغوی درې ورځې وروسته پيښور ته راورسيدل او دمارچ پر اوومه د کورمې له لارې افغانستان ته ننوتل او دحبيب الله دړژيم پر ضد يې خپل جنګي عمليات راپيل کړل .

# د تېنګښت پړاو

امیر حبیب الله غازي « خادم رسول الله (ص) » په کابل کې له راڅرګندېدو سره سم د خپل قدرت د ټينګښت پر خاطر ګامونه پورته کړل چې لومړنی، موخه يې د پخواني، واکمنې کورنۍ بې باوره کول وه او د افغاني تخت لپاره د ځان د مستحق ګڼلو تبليغونه وو . حبیب الله چې کله د (۱۹۲۹) د جنورۍ پر (۱۸مه) ارګ ته ننوت نو يې يوه اعلاميه خپره کړه چې په هغې کې ويل کېدل : « د افغانستان خلکو د امير امان الله خان سره په دې اړه د بيعت ژمنه کړې وه چې هغه به د شريعت کړنلاره پر مخ بيايي او شرعي احکام به تر پښو نه لاندې کوي . » اعلاميې وروسته اتلس ځايه د اسلامي قانون نفې کول ذکر کړي وو او په نتيجه کې يې امان الله خان « د خدای دښمن » بللی و . د حبيب الله دغې اعلاميې هم د شينوارو د اعلاميې غوندې چې دوې اوونۍ مخکې خپره شوې (۱۳) پر امان الله خان خصوصاً د هغه تعليمي او ټولنيزو سمونتياو په برخه کې (چې بالغې مسلماني ښځې يې اروپا ته د تحصيل لپاره ليږلې) ګوزارونه کول او ادعا يې لرله چې : « موږ مسلمانان د ټولو اسلامي او نااسلامي هيوادو له خوا سپک سپاند شوي يو . » سند

نوموړی عمل دیو ډیر بدظلم پر توګه چې کله هم پر مسلمانانو شوی په کلکه غندي . ( ١٤ )

اعلاميې په ډاګه کوله چې « دنبي مبارک » ددين ساتندوی يو الله (ج) دی نو هغه ذات په همدې خاطر دوه ځوان غيرتي او توريالي کسان ددين دخدمت لپاره پيدا کړي دي .

دادوه کسه يوازې او يوازې « امير حبيب الله خادم دين دکابل دکوهدامن او سيدونکي او شيد حسين خان دچاريکار يو سيد »و . داوروستی يې دجنګ دنوي وزير پر توګه ټاکل شوی و . دغه سند نوي امير ته داخلاص پاڼې يا « بيعت نامې » حيثيت لاره اودحبيب الله امارت يې ( دنبي مبارک دپاک دين او دحضرت صاحب اوعلماوو دنظريو دپلي کونکي پر توګه چې خورا متقي ،زړه ور ، محترم او زړه سواندی شخصيت دی ) پر رسميت پيژاند . دغه سند دامان الله خان دخپلوانو او مخکنيو حکومتي لوړ رتبه ماموراتو پر ګډون چې دنوي امير پر لاس ورغلي وو ،اتيا لاسليکونه لرل . امير حبيب الله ورپسې دا لاندې ګام اخيستنې اعلان کړې :

١ - دتيرو کلونو باقي ماليه نوره وبخښل شوه .

٢ - جلبي عسکري سيستم له منځه ولاړ ، هيڅوک په زوره عسکري خدمت ته نه بيول کيږي خو که څوک په خپله خوښه دا کار کوي نو دمياشتې په شل روپۍ او ( ٢٩ ) کيلو غنم ورکول کيږي .

٣ - ټولې هغه ماليې چې غير شرعي دي له منځه ولاړې .

٤ - ځمکنۍ لاسته راوړنې چې « دخدای په کتاب کې دور کړه شوو او امروسره برابر » وي ټاکل کيږي .

٥ - ټول هغه ښوونځي چې دمخکيني پاچا له خوا جوړ شوي ، تړل کيږي.

حبيب الله د ماليو له کمښت او پوځ ته د زياتو پيسو پر ورکړه سره هڅه کوله چې د عوامو ننګه تر لاسه کړي او په دې ډول خپل قدرت ټينګ کړي . مګر حبيب الله د خپل قدرت د پايښت پر خاطر ډير ژر د زياتو ماليو وضع کولو ته اړوت او پر زوره يې د خپلو دښمنانو او د هغوی له کورنيو او هم يې د ښمنو او سوداګرو څخه پر غير اسلامي طريقو سره د پيسو اخيستو ته لاس واچاوه .

حبيب الله همدا راز ځانته د يو ښه نوم د ګټلو يا د خپلې مشکوکې سابقې د ايسته کولو پر هکله هم فکر جن و نو ځکه يوه ځاني ورځپاڼه يې د « حبيب الاسلام » پر نوم روا يسته چې د ده د رژيم د رسمي اخبار حيثيت يې غوره کړ . د دې ورځپاڼې يوې ګڼې د نيکۍ او بدۍ پراړيکو رڼا اچولې او زياته کړې يې ده چې دود او عنعناتو د تقوی او فساد په تعريفولو کې زياته ونډه اخيستې ده : « يو قوم د درناوي وړ ځکه ګرځي چې د هغه ځينې کسان ډير غټ خلک تير شوي وي خو علی ( رض ) ( څلورم خليفه ) بيا وايي چې لوړ والی او سترتوب فقط پر زحمت سره حاصليږي نه په ارثي توګه . تر اوسه لا هم خلک توارث ته پر هغه څه ترجيح ورکوي چې پر سختۍ سره ګټل کيږي . » مقاله وروسته د ځينو نامتو واکمنانو بېلګې راوړي ، لکه : عثماني سلطان ( بايزيد ) چې د خپل وروړ د وژلو فرمان يې صادر کړ خو د يو قاتل پر توګه ياد نشو . يا مغولي واکمن ( اورنګزيب ) هم د قاتل پر نوم ونه پيژندل شو « ځکه چې هغه د شاهي کهول څخه ؤ او تر ده د مخه له دې کاله څخه پنځه نور پاچا يان هم تير شوي وو » شاه زی هنري « يو جوارګر او د لويو لاروغل و . » څنګه چې د برتانيې په شاهي کهول پورې تړلی ؤ نو ځکه له سزا څخه خلاص او وروسته « د انګلستان د ټولو پاچايانو څخه ډير نامتو پاچا » وبلل شو . ( ١٦ ) بنا پردې ، د حبيب الله غنر او بخښنه داسې طرح شوې وه ، څو سرلوړي پښتانه په دې راضي کړي چې داوبه چلونکي زوی چې په کومې نامتو کورنۍ پورې

ترلې نه دی او په حقیقت کې دانګلستان د هندي پاچا غونډې یو غل دی، دخپل واکمن پر توګه ومني . په داسې حال کې چې دا په خپله یو کوچنی کار نه و ، مګر حبیب الله نور زیار هم ویوس چې په کابل کې بهرني استازي په دې قانع کړي چې دی به په کابل کې وي او باید چې دافغانستان دیو مستقل واکمن پر توګه ومنل شي .

له بهرنیو نمایندګیو څخه یوه یې لاهم دحبیب الله له رژیم سره خوا خوږې ته زړه نه ښه کاوه ، مګر هغوی په کابل کې دخپلو سیاسي استازیو او نورو بهرنیانو پر وړاندې د ده د نه غوسه کېدو او هغوی ته دکوم زیان د نه رسیدو پر خاطر دکابل واکمن پر ضمني توګه پر رسمیت وپیژند . شوروي اتحاد له امان الله خان سره ګډه مرسته لرله او شوروي پر سونل یې دحکومتي هوایي ځواک په الوتنو کې افغان هوایي قوا ته ورکړې وو . ( داسې ویل کیده چې امان الله خان خپل سلاکاران ، کله چې هغوی د کوهستان پر کلیو له بم ورې څخه انکار وکړ ، له کاره ایستلي وو . ) ترکیه او جرمني دامان الله خان پلویان وو ، ځکه دنوموړي سمونپال پاچا له سمونو څخه یې افغانستان ته دخپلو ګڼ شمیر هیواد والو پر ورلیږلو سره دتهیه کونکو په حیث هم زیاتې ګټې لرلې او هم یې ښه اغیزه ښندلاي شوه نور اروپایي دولتونه هم عیناً دمخلوع پاچا پر خواوو چې ددوی پر نظر دخپل وخت او خپل هیواد دغوښتنو څخه وړاندې لا عصري پلوه و . برتانیه که څه هم چې یو وخت له امان الله خان څخه له دوی نه دخپلواکۍ اخستنې او شوروي پلوۍ پر وجه دخلاصون په لټه کې و ، لاکن برتانوي حکومت بیاهم په دې هیله نه ؤ چې په افغانستان کې اړدوړ یا کوم داسې واکمن ووینې چې دافغانستان زیات ولس ته دمنلو وړ نه وي ، په هند کې هم دحبیب الله دامارت پر وړاندې دناوړه غبرګون را څرګندیدو داجوتوله چې دبچۀ سقاو پر رسمیت پیژندنه به سخت اوجدي

غبرگونونه رامنځته کړي.

په کابل کې دقدرت دانتقال بهرنیان له کومې پېښې یا خطرې سره مخامخ نه کړل . داسې نه ښکاریده چې دحبیب الله پوځیان دې په مرکز کې له استوګنو بهرنیانو سره دښمنیزه رویه راواخلي . حبیب الله ګارډ ته امرو کړ چې دبهرنیو سیاسي نماینده ګیو له دروازو بهردې ځای پر ځای شي چې دبهرنیانو لوټول یا پرهغوی دیرغل مخه ونیول شي . حبیب الله دسیاسي نماینده ګیو له مشرانو سره وکتل او ورته ویې ویل چې : « دی به پرحالاتو قابو پیدا کړي او هیله من دی چې عادي سیاسي اړیکې به ډیرژر ټینګې شي » . حبیب الله په همدغه حال کې ، په کابل کې داستوګنو بهرنیانو ښځو او کوچنیانو ته دوتلو اجازه ورکړه اوویې پټیله چې هغه خارجي کارپوهان چې نورېې نو په افغانستان کې پاتې کېدنه ضروري نه ده ، که چیرې دافغان حکومت پرروړي نه وي هم کولای شي چې ولاړشي ، برتانیې له همدې کبله د ( ۱۹۲۸ ) ددسمبر پر ( ۲۳ مه ) له کابل څخه پیښور ته دبهرنیانو دلیږنې کار پیل کړ او ورپسې دوو میاشتو کې یې ( ۵۸۶ ) تنه د ( ۸۲ ) الوتکو په یو ځانګړي هوایي پررګرام کې انتقال کړل . شورویانو هم په خپل وار دروسیې او نورو اتباعو لکه جرمنیان او ترکانو پر ایستلو لاس پورې کړ .

حبیب الله ته دافغانستان پلازمینه په لاس ورغله ، ځکه نو دشان او دولت وارث شو . کله چې یې ارګ ونیونو زیات افغاني بانکنوټونه او خورا زیاتې وسلې او مهمات پرلاس ورغله . ده پردې توګه یو ډیر ستراتیژیک ځای ونیوه او داچې په کابل کې پراستوګنو شپږ سوه تنو اروپایانو یې څارنه درلوده ، هیله من و چې دهغوی پر وسیله به دخارج پر رسمیت پیژندنه تر لاسه کړي .

دحبیب الله حکومت پردې نه پوهیده چې له یوې خوا برتانیه نه یوازې خپل کسان بلکې نورسیاسي پرسونل هم باسي او له بلې خوا سر فرانسیس

همفریس تینګار وکړ چې نور د پلوماتیک استازي دې هم له وخت څخه ګټه واخلي او په افغانستان کې دې خپلې نماینده ګۍ وتړي ، د برتانوي سیاسي استازي د فبرورۍ د شلمې نیټې دا اعلان چې ویل یې : «برتانیه له افغانستان څخه خپل سیاسي د پلوماتان باسي . » پر خارجه وزیر عطاالحق یو ډیر کلک ګوزار و ګڼل شو . ( لندن وپتییله له کندهار څخه هم خپل کونسل وباسي چې داسې ګومان ونشي چې ګوا کې برتانیه له امان الله خان سره خپلو سیاسي اړیکو ته دوام ورکوي . ) د حبیب الله حکومت بالاخره اجازه ورکړه او د فبرورۍ پر ( ۲۵ مه ) د نوموړو کسانو وتنه بشپړه شوه . ( ۱۷ )

له کابل څخه د د پلوماتانو پر ګډون د بهرنیانو وتنې نه یوازې پر افغانانو بلکې پر کابل کې د استوګنو خارجیانو پر وړاندې هم شک او شبهې راپورته کړې . په کابل کې ډیرو د پلوماتانو فکر کاوه چې سرهمفریس له حده زیات دې خبرې ته هوا ورکوي چې ګویا په دې هیواد کې اقلا د دوو نورو کلونو لپاره کورنۍ جګړه پیل کیدونکې ده ګویادا چې د کابل په سربه راتلونکې جګړه د یوې لویې عام وژنې سبب وګرځي . همفریس هڅه کوله چې په کابل کې د سیاسي نماینده ګیو مشران په دې باوري کړي چې ټول بهرنیان ، باید له دې ځایه ووځي او خپلې نماینده ګۍ دې د اکثریت افغانانو له خوا د منلو وړ کوم حکومت د ټینګیدو تر وخته تړلې وساتي . د همفریس له دې هڅو څخه د برتانیې خارجه وزارت ملاتړ وکړ او اړونده نماینده ګیو ته یې معلومات ورکړل چې وضع اصلاً ډیره جدي ده ، هغوی باید په کابل کې د خپلو کسانو یو لیست همفریس ته ورکړي چې د هغوی د ایستلو لپاره عملي ګامونه واخیستل شي . همفریس ته لاربښونه وشوه چې د تخلیې د اکارونه دې سمبال کړي او په خپله دې پر وروستۍ برتانوي الوتنه کې هند ته روان شي .

دځینو اروپایي ځواکونو دبهرنیو چارو وزارتونه پردې ویریدل چې هسې نه دا دبرتانیې یو چال وي یانې داسې چې هغه شاید په دې ډول له کابل څخه ټولې بهرنۍ نمایندګۍ وباسي او وروسته ښایي دانګلیس - افغان دوه ډیزه اوضاع بیا رامنځته کړي ،ددې له مخې به یوازې برتانیه په کابل کې سیاسي استازی ولري او پر دې ډول به دافغانستان بهرنۍ اړیکې یوځل بیا تر خپل کنترول لاندې راولي. دفرانسې حکومت دخپلو سیاسي پرسونلو ایستل پر دې شرط قبول کړه چې برتانیه به هم کټ مټ عمل کوي ، په داسې حال کې چې دترکیې حکومت بیا پریکړه وکړه چې په کابل کې به یې نمایندګي هماغسې پرانیستې پاتې وي. شوروي حکومت هم وټینګه چې همدغسې پاتې وي او په افغانستان کې خپل لس کلن مورچل پسې ټینګ کړي . په کابل کې ترکي سفیر دجرمني شارژدافیر « ون پلیسن » ته وویل چې:« دی به په کابل کې ترڅو چې شوروي سفیر موجود وي همدغسې پاتې وي ». ( ۱۸ ) ایټالویانو اعلان وکړ چې دوی به یوازې هغه وخت وځي چې دغربي اروپانور ځواکونه هم کابل پرېږدي . ( ۱۹ ) په پای کې ایټالویانو ومنل چې دوی به کله چې دنورو نمایندګیو مشران په وروستي پړاوکې وځي بو ځای ورسره روان شي . ( ۲۰ ) په کابل کې دبهرنیو سیاسي نمایندګیو دمشرانو په منځ کې دزړه نازړه توب داوضعیت ،ټول دبرتانیې له خوا دوتلو پر مفکورې باندې دشک او شبهې ښکارندوی و . دا مشکوکتوب پر تیره بیا کله چې تروتلو وروسته نو موږو بهرنیانو درک کړه چې هند حکومت زیار باسي چې دوی ژر ترژره خپلو هیوادونو ته واستوي ، نور هم ډیر شو .

یوې جرمنۍ میرمنې ته دا بیخي نوې خبره وه کله چې میرمن همفریس ددې ګروپ ته چې تازه پیښور ته راستانه شوي وویل :« ستاسې اورګاډی

ببيي ته ډېر ژر روانيدونکي دی ». جرمنيو ميرمنو پرله پسې سفر ته تياري نه لرله ، مگر ميرمن همفريس ورته وويل : « ستاسې تکتونه له مخکې څخه لا اخستل شوي او ذاچې په پيښور کې ستاسې داوسيدو لپاره خاصې آسانتياوې نشته نوژر بايد حرکت وکړی ». دغو راستنوشويو کسانو ته وويل شول چې په پيښور کې د ټولو هو ټلونو کوټې دافسرانو څخه ډکې دي او څنگه چې پيښور يو پوځي ډوله ښاردی ، نو بهرنيانو ته داوسيدو لپاره دومره ځای نه لري ، همداو جه وه چې نوموړي بهرنيان ببيي ته وخوځيدل او له هغه ځايه يې داروپا پر نيت سفر ته دوام ورکړ . ( ۲۱ )

دحبيب الله حکومت ډير ژر پوه شو چې د ټولو بهرنيانو کډه کول به هغه هڅې بې نتيجې کړي چې دځان د پر رسميت پيژندلو پر خاطر يې کولې ، په کابل کې دهغوی داتباعو شته والی دبهرنيو نمايندگيو له خوا دحبيب الله له حکومت سره داړيکو او ددغه نوي افغان واکمن دضمني پررسميت پيژندلو مانا لرله . عطاالحق موجوده نړيوال تړونونه مني او په کابل کې يې دنوموړو نمايندگيو پر پاتې کېدو باندې ټينگار وکړ . مگر برتانيې دډپلوماتيکو استازو دايستلو ټينگ تکل کړی و او افغان حکومت په پای کې هغه ته غاړه کښيښوله . دفبروری پر ( ۲٤ مه ) دريو برتانوي الوتکو دفرانسې ، ايتاليې او جرمني ټول سياسي پرسونل پيښور ته انتقال کړاو په ورپسې ورځ دسرفرانسيس همفريس پر شمول نهه ديرش برتانوي دپلوماتان هم له افغانستان څخه ووتل . خو له دی سره سره ، يو شمير بهرنيان بيا هم پاتې شول چې په دې لړ کې شپږ ويشت کسه جرمنيان وو چې دوی دافغان حکومت پور وړي وو نو ځکه يې دتگ اجازه نه لرله يا دا چې دځاني گټې پر خاطر يې نه غوښتل چې له افغانستان څخه ووځي . ( ۲۲ ) په افغانستان کې دهمدې

جرمنیانو د پرله پسې شته والي له کبله ؤ چې جرمن حکومت له کابل څخه دخپل هیئت پرا یستلو خوښ نه و ، څنګه چې جرمني سفیر ډاکتر فیګل ناروغ و نو ووت او « یارون وان پلیسن » چې په هند کې یې کار کاوه دده پرځای وټاکل شو چې تراګست پورې په کابل کې پاتې شو . شوروي سفارت که څه هم چې سفیر یې د « سلامشورو » لپاره ماسکو ته تللی و ، د کورنۍ جګړې په دې ټوله موده کې خلاص و . د ترکیې سفارت هم د جګړې په دې نهه میاشتنۍ ټوله موده کې پرانیستی پاتې و .

# دبچهٔ سقاو ماتې

هغه مهال رارسید چې دحبیب الله ناامني ، ډیره نېږدې راپرزیدنه یې نا ممکنه بلله او پر تیره بیا دهغو کسانو وړاند پینه سمه وخته چې پر کابل یې دداسې یو بد سابقه شخص پاتې کېدنه آن په هغه لومړنیو ورځو کې لاهم زړه ته نه لویده . په لومړي سرکې داسې معلومیده چې دنوي واکمن پر وړاندې هیڅ ستونزه نشته او هغه پر ټول افغانستان باندې دخپل کنترول لپاره ښه چانسونه لري .

هغو کسانو چې دامان الله خان یا دده دکهول لپاره یې دافغانستان تخت غوښت ، دبچهٔ سقاو د له منځه وړلو وروستۍ هلې ځلې راپیل کړې . غلام نبي څرخي چې د ( ۱۹۲۸ ) دنوامبر راهیسې په ماسکو کې افغاني سفیر و په شمالي ولایتونو کې دامان الله خان دمرستې لپاره راوړاندې شو . دی د پولي څخه پر راتیریدو سره مزار شریف ته داخل شو او هغه ښار یې د ( ۱۹۲۹ ) داپریل پر دیرشمه ونیو ، غلام نبي دناتایید شویو برتانوي استخباراتي رپوټونو له مخې په دې وتوانید چې په شوروي اتحاد کې زرکسه

افغانان سره راټول کړي چې په هغوی کې یو شمیر قرغیزي عسکر هم وو چې پر افغاني هزاره ګانو باندې تیریدای شول . دوی ټول تقریباً دشلو تنو افغانانو له خوا چې د غلام نبي سره یوځای له اروپا څخه راغلي وو قومانده کیدل . دیو بل رپوټ له مخې دده ورور غلام جیلاني له یو کوچني پوځ او یو شمیر وسلو سره کندهار ته وخوځید ، په داسې حال کې چې دریم ورور یې غلام صدیق د (۱۹۲۹) په مارچ کې له کندهاره ماسکو ته ولاړ چې د پوځې ټوکو درسېد و بندوبست وکړي . (۲۳) شجاع الدوله چې د (۱۹۲۵) راهیسې پر تانیه کې افغاني سفیر و دبرتانیې دبهرنیو چارو له وزارت سره وکتل او دټوپکو او مهماتو غوښتنه یې ځنې وکړه چې په پام کې وه ، د جرمني او شوروي اتحاد له لارې افغانستان ته یوړل شي . دبرتانیې حکومت داغوښتنه رد کړه . (۲٤) شجاع لدوله له لندن څخه دشوروي اتحاد له لارې هماغه وخت مخ پر افغانستان رهي شو چې هلته نادر خان او ورونه یې هم له هند څخه افغانستان ته ستانه شوي وو . برتانوي حکومت په دې وویرید چې شوروي اتحاد دافغانستان په کورنۍ جګړه کې ورښکیل نشي او داهغه څه وو چې دبچهٔ سقاو حکومت هم کټ مټ ورڅخه په ډار کې و . برتانیې دامان الله خان له رژیم سره دپاچا تر مرقتي استعفا وروسته خپلې اړیکې وشلولې . په داسې حال کې چې شوروي اتحاد نه غوښتل له داسې یو شخص سره خپله معامله پای ته ورسوي چې زیاته موده یې ملاتړ ورڅخه کړی و خو له دې ټولو سره سره ، شوروي حکومت هم دبرتانیې غوندې نه غوښتل چې په دې جګړه کې کومه خاصه ونډه واخلي .

په کابل کې برتانوي سفیر همفریس په دې فکر و چې شوروي اتحاد باید په دې جګړه کې له هر رنګه لاس لرلو څخه را وګرځول شي ، دبرتانیې حکومت هم ومنله ، لاکن مشکل په دې کې و چې دا کار پر کومې طریقې سره

باید عملي کړای شي . دبرتانیې حکومت باور لاره چې :

« دده ( همفریس ) وړاندیز چې داعلیحضرت حکومت دې روسیې ته دجنګي توکو او پوځیانو دلیږلو پر هکله کوټخنډنه وکړي ، دیو لې جدي لېدو وړ دی . موږ خپله هم دا احساسو چې دغسې یو اخطار لازمي دی ، مګر اوسني او راتلونکي شرایط داسې پټ دي ،که موږ اخطار ورکړو او هغه کېدای شي هیڅ په باک رانه وړه شي نو په هغه صورت کې به څه کوو ، دا ډیره خطرناکه خبره ده ... دغسې فرضي اخطار په خپله ددې مانا لري چې موږ دافغانستان په کورنۍ جګړه کې نه لاس وهنه کوو او نه هم طرف واقع کېږو (چې له هره پلوه دعوامو دسوکالۍ وړیو کارهم دی ) او نور به هم کټ مټ چلند کوي . په هغه صورت کې به دلندن خپرونې دغه انګیرنې ته پرته له شکه ډیر اهمیت هم ورکړي »

لندن فکر کاوه چې« له شوروي اتحاد څخه دسوغاتونو او پېرېدلو په شکل دجنګي موادو دلیږلو مخه به چنداني راونه ګرځي ، دهغه څه کولو ته چې موږ یې پر ټمه یو ، داده چې روسیه باید دپوځیانو پر وسلوال کولو سره لاس وهنه ونه کړي او زموږ اړونده وسواس رفع کړای شي . » ( ۲۵ )

دبرتانیې دجنګ دوزارت دتایید شویو معلوماتو له مخې شوروي حکومت پریکړه کړې چې افغانستان ته دخپلو مرکزي آسیا له جمهوریتونو څخه دخپلې خوښې کسان ورکړي او زیارباسي چې د ایران او ترکیې حکومتونه هم په دې باور کړي چې دامان الله خان ګوښه کول دنوموړو اسلامي دولتونو ګټې هم له خطر سره مخامخ کوي . شوروي حکومت ښکاره امان الله خان ته ترپایه دجنګېدو مشوره ورکړه . په هر حال ، برتانیې شوروي اتحاد ته دځان راتولولو اړوند ګوتخنډنه له منځه یوړله ، له دغسې ګوتخنډې سره دبې پروایې په صورت کې برتانیې نشو کولای چې له ځواک څخه کار

واخلي . ( ۲٦ )

دبرتانيې حکومت نشو کولای یا یې نه غوښتل چې عمل وکړي خو دحبیب الله دحکومت مخه په هیڅ ډول نشوه راګرځیدای . دحبیب الله په یوه اعلامیه کې (چې دټولو دښمنو ځواکونو د خورا نږدې برید آوازه یې بې اهمیته بلله ) ویل کیدل چې « کافران پرخپلو عصري سمونتیاو سره درواغجن تبلیغات کوي او دمسلمانانو په منځ کې ډار او ګډوډي اچوي . »

اعلامیې څرګندول چې دحبیب الله ملاتړ او س دشینوارو ، خوګیانیو ، غلجیانو ، او آن دامان الله خان دخپل دراني قومونو پرګډون دافغانستان دټولو قوتونو له خوا کیږي او زیاتوله یې : « زما ګرانو ورونو ! زه یو وار بیا تاسې ته یادونه او معلومات درکوم چې پرامان الله خان باندې دخدای او رسول لعنت شوی دی . هغه په دې دنیا او عقبی دواړو کې بایللې ده . هغه به په خپل ټول ژوند او تر مرګ وروسته هم هیڅ ښه ونه مني ، له دې خوا بالکل ډاډه اوسی او زیار وباسی چې غلام نبي پر شرابو مست کافر لاس تړلی راولی . زه له خدایه غواړم چې هغه به ستاسې له خوا ونیول شي او ماته به دیو بندي پر توګه راوستل شي . » ( ۲۸ )

حبیب الله له دې بدور دواو تورونو څخه راضي نه و . دشوروي په خاوره کې ددوو نامتو با سمچي مشرانو فیض الله او ابراهیم بیګ دحملو پر له پسې بریالیتوبونه اصلاً دحبیب الله دحکومت دغبرګون پر توګه تلقي کیدل . د « سویت سکایا سیبر » د ( ۱۹۲۹ ) د می اتمې ګڼې له « نوو سیبر سک » څخه رپوړټ ورکړ چې دغو بریدونو دسیمې اقتصاد ته سخت ګواښونه متوجه کړي او په دې ګومان و چې داحملې دبرتانوي او افغاني ګډو توطیو په نتیجه کې شوې دي . (۲۹)

غلام نبي ته چې کله دامان الله خان له خوا دخپلې وروستی استعفا تلګرام

ورسيد نو د (۱۹۲۹) په جون کې شوروي خاورې ته وخوځيد . په دې ډول عبدارحيم کوهدامني تاجک ته لاره پاکه شوه چې چارې کنترول کړي .
عبدالرحيم چې دامان الله خان په وخت کې غونډمشر ؤ ، له خپل کوهستاني ورور - بچۀ سقاو سره يو ځای او دهغه لپاره دافغانستان دشمالي او لويديځو ولايتونو په نېولوسره گټور واقع شو .

عبدالرحيم مزار شريف ته وخوځيد او هلته يې عبدالعزيز چې هغه هم دځرخي له کهوله و ، له قدرته گوښه کړای شو. وروسته يې ميمنه ونيوله او دهرات پر خواروان شو هلته يې دمحمد غوث ځواکونه مات کړه او شجاع الدوله يې تېښتې ته اړکړ ، عبدالرحيم دمې پر ځلورمه پرته له کومې ستونزې هرات ته ننوت او ډېرې مودې لپاره ( له ۱۹۲۵ څخه دظاهرشاه تروخته ) يې هلته واک چلاوه ..برتانوي کتونکو ويل چې :« عبدالرحيم ديو لايق او مناسب واکمن پر توگه خپلې چارې د شورا له لارې (چې دروسيې له شورا گانو څخه يې تو پير لاره ) مخته بيولې . » مگر ځينو افغانانو عبدالرحيم ديو مرجع مسلمان پر توگه پيژنده چې دسلطنت خوب يې ليده او شورا يې دشوروي غوندې نه وه ، بلکې معمولي شورا ياجرگې ته ورته وه .

دده پر وفاداری باندې حبيب الله او نه هم ورپسې واکمنان پوره باوري و. دبيلگې پر توگه د (۱۹۲۹ ) په اگست کې چې کله حبيب الله ته دنادرخان او دهغه دورونو له خوا خطر پيښ شو نو دعبدالرحيم له امر سره سم « خطبه » د « اسلام دپاچا » پرنوم وويل شوه او دحبيب الله نوم په کښې ياد نشو ، ده زياته کړه چې امان الله خان په خپل پرېکړه کې ډېره غلطي کړې، مگربيا هم يو ستر افغان هيواد پال و . ځکه چې دزياتو وينو دنه تويدو پر وجه له افغانستانه ووت . ( ۳۰ ) کله چې حبيب الله ماتې وکړه ، عبدالرحيم له نوي رژيم څخه ځو کاله ماليې تروښولې خو کله چې دهغه پر تينگښت باوري شو

نو دسولي پر ډول ورته راوړاندې شو .

هرات ته دعبدالرحیم ترننو تو وړاندې داما ن الله خان والي محمد ابراهیم خان دیو لړ عجیبو - غریبو پیښو په لړ کې له صحنې څخه گوښه کړای شو . دبرتانوي سر چینو له مخې ، محمد ابراهیم خان بارکزی دعلیا حضرتې ورور او داما ن الله خان تره دهرات دخلکو دکرکې وړگرځیدلي و نو کله چې هغه ولیدل چې نور په دې ښار کې نشي پاتې کېدای په مارچ کې یې لاخپل وراره او زوم عبدالرحمن پر خپل ځای ټاکلي و . ده لومړی دملایانو او هراتي مخورو (چې دده هم نظره معلومیدل) یوه غیر رسمي جرگه راوبلله ، ددې غونډې پریکړه تر سبا پورې وځنډیده ، په دې صحنه کې تقریباً اتیا کسیزه یوه عسکري ډله هم موجوده وه چې له اما ن الله خان سره یې مخالفت نه لاره ، مگر پر قدرت یې دمحمد ابراهیم خان دکوم خپل راوستنه نه خوښوله . هغوی عبدالرحمن وینو او غوښتل یې چې خپلو بارکونو ته یې بوځي . یو ډگروال عبدالرحما ن وژغوره خو کله چې یو عسکر هغه ته ښکنځل وکړه نو عبدالرحمان غوښتل چې هغه وولي ، مگر په غلطۍ کې دده ژغورونکی ځنې وویشتل شو . ځکه نو عسکرو هم پرعبدالرحمن او هغه ملاباندې ډزې وکړې چې دبخښنې لپاره راغلیي وه . محمد ابراهیم ډیر ژر راورسید او په دې امید چې دشاه اما ن الله خان سره خپلوي لري له صلاحیت څخه یې کار واخیست ،عسکر چې په ډار کې شول نو هغه یې هم وویشت او ویې واژه . دپولیسو قوماندان ډگروال ابراهیم خان په دې وتوانید چې وضع آرامه او تر کنترول لاندې راولي . ( ۳۱ )

یو افغاني تاریخ پوه په هرات کې ددې ناکامۍ علت بل څه بولي ، اما ن الله خان وغوښتل چې دچونۍ نیمایي سرتیري دې کندهار ته واستول شي چې ورته اړتیا ده ، لاکن محمد ابراهیم یو څه دردونکې پریکړې وکړې .

په پام کې وه چې قشله نیمايي شي او دهغې قوماندان جنرال محمد غوث ته امروشو چې له خپل نیمايي پوځ سره کندهار ته وخوځي په داسې حال کې چې دوالي زوم به په هرات کې دپاتې لښکرو قومانده پر غاړه اخلي . محمد غوث په ښکاره دپوځ په دې کمښت چې دخپل حیثیت سپکاوی یې باله ، راضي نه و ، سربېره پردې ، ده او دده ځواکونو نه غوښتل چې دیوې داسې لانجې لپاره وجنګېږي چې بایلونکې معلومیده ، پوځ ته ددوو میاشتو راهیسې معاشونه هم نه وو ورکول شوي چې دادسرتیرو او افسرانو دنه وردانګلویو بل علت هم بلل کیدای شي . *

داسې معلومیده چې حبیب الله داوبه چلوونکې زوی د (۱۹۲۹) تردوبي پورې نژدې پرټول افغانستان باندې واکمن و او ددې امکان و چې هغه به دافغاني تخت دګټلو په مبارزه کې بریالی وي ، دافغانستان دجنوبي او ختیځو پولو ځنې قبایل ایل نه وه ، بلکې له خپل موقتي استقلال څخه ګټمن وو . په داسې حال کې چې دهیواد نورې سیمې آرامې معلومیدې ، هزاره ګان چې د بچۀ سقاو ځواکونو ته یې اغیزمنه خطره جوړه کړې وه ، که یې له نوي واکمن سره بشپړه سوله نشوه کولای ، لږ تر لږه په دې راضي وو چې اوربند او یوضمني انطباق ورسره وکړي .

افغان حکومت د « جمهوري » روحیې پر لرلو سره یوې واقعي بشپړتیا ته رسیدلی و او په کابل کې نظم او قانون حاکم شوی و . جرمني شارژدافیر « ون پلیسن » راپور ورکړ چې ده په کابل کې پر علي احمد باندې داعدام پر توګه له ډزو څخه پرته بل هیڅ کوم تک نه دی اوریدلی ، دحبیب الله حکومت له هماغه پیل څخه پر دوو ډلو ویشل شوی و : یوې ته یې د جنګ وزیر سید حسین

---

* - دسید قاسم رښتیا افغاني تاریخ پوه اوډپلومات دغه تعبیر غوره بولي .

لاربښوونه کوله چې پر حالاتو باندې د کنترول پر خاطر د ظالمانه کوښښونو پلوی و ، د دویمې مشرې یې خورا منځلارې عطاالحق ( د بهرنیو چارو وزیر ) او دده ورور شیرجان (چې د دربار وزیر و ) کوله . (۳۲) سید حسین تقریباً پنځه دیرش کلن ځوان و او د چار یکار د یو لوی ځمکه وال زوی و . دده په هکله ویل شوي چې ورته پاتې ټول شته یې برباد ول او د یو « نه ویرېدونکي بې رحمه او ظالم سړي پر توګه چې ټول خویونه یې کټ مټ د حبیب الله غوندې وو . پیژندل شوی و او پر ته د لویو لارو له نیولو څخه یې بل کوم کار نه لاره . » (۳۳)

د دېرو راپورونو له مخې حبیب الله ته د یو خروړي او وینې څښونکي انسان اړونده ځانګړنې د سید حسین او حمیدالله د کړنو له امله چې د بچۀ سقاو وروړ و ، نسبت ورکول شوی او دا به په زړه پورې وي چې معلومه شي ، د دې لارې شکونکې واکمن د تاریخي څېرې په ناوړه پېژندګلو کې خوبه زیاد ښت نه وي شوی . دا حقیقت چې حبیب الله د لویو لارو غل و . دده پر ضد د یو عامل پر توګه باید له حده زیات ونه ښودل شي ، ځکه له افغاني لوړې کورنۍ څخه ډېر و کسانو پرته له دې چې د خپلو همدریځو په منځ کې بد نام شي ، کټ مټ او صاف درلودلي دي. څنګه چې د کوهستان یو بزګر ځوان ته په خپل فیوډالي محیط د ټولنیزې پرمختیا لپاره چنداني وخت میسر نه و ، نو هغه باید په خپل کلي کې یا خو په بزګرۍ شپې ورځې تیرولای او یا یې په مرکز کې دو چې ډوډۍ لپاره غریبي کړې وای ، یا باید د بېوزلۍ په حال کې عسکرۍ کې شامل شوي وای یا دا چې باید هند ته تللی وای . هو کې ، حبیب الله دا ټول کارونه په یو وخت کې یا یو پر بل پسې وکړل . د غلاو لوټماری زیاتې پیسې بې دژوندانه په بیلابیلو برخو کې ولګولې ، مګر نتیجه یې ورنه کړه نو هماغه و چې د امان الله خان په وروستنۍ بې نظمه

دوره کې یې دیو « بې ثباته ، تعصب له مخې قطاع الطریقي خپل مسلک وګرځاوه او له دې لارې د خورازیاتو پیسو خاوند شو او په دې ډول بچۀ سقاو په بیوزلو کې دیو اتل په شان ( درابن هوډ غوندې ) مشهور شو یانې داسې چې له شتمنو څخه یې پیسې په زوره اخیستې او غریبوته یې وربخښلې . ځکه نو ، واقعي حبیب الله اوس څوک دی ؟ پر دې هکله ډیرو څیړنو ته اړتیا شته او په افغاني تاریخ کې ددېرو نورو څیرو غوندې دده قصه هم باید را برسیره کړای شي ، یو شی چې ډیر واضح دی هغه دا چې (دده بې نوم او نښانه منشا او هم تاجک والی) هغه عمده دلایل دي چې دهغو له مخې افغاني قبایلو ته چې داوږدې مودې راهیسې یې افغانستان اداره کړی ، دمنلو وړنه وو .

حبیب الله په خپله په دې کمې باندې ډیر ښه پوهیده ، مګر غوښتل یې چې خپل دریغ داسلامي بنسټ پالنې او پوځي سوبې پر زور ټینګ کړي . په همدې خاطر و چې د « حبیب الاسلام » ورځپانه یې سنګر بندي کړه چې په دې ډول دده رنګ ښه شي او ځان دیو ټینګ اسلام پوه پر توګه وښیي ، دده پوځي بریالیتوبونو دښمنان یو پر بل پسې له منځه یوړل . شینوارو چې دامان الله خان داوښتون پرضد یې ماشه راکش کړې وه ، په مشرقي کې یې دده ستونزه ورر فع کړه اوورسته غلام صدیق ناکامه شو ، علي احمد هم لومړی دامان الله خان لپاره او وروسته دخپل ځان دپاچا کیدو پر خاطر هلې ځلې وکړې . خو د فبروري تر اتمې پورې چې کله دخوګیانیو ملک هغه مجبور کړ چې جلال آباد ترک کړي او « لښکرو » ته یې پر یږدي چې دې لښکرو بیا ښار لوټ کړ . نو هغه هم پسې وتښتید . علي احمد هم د ورستي ځل لپاره له بچه سقاو سره تر ډغرو وروسته په جګ دلک کې ماتې وکړه او هند ته وتښتید چې وروسته له هغه ځایه کندهار ته دځان لپاره دتخت دګټلو پر خاطر ستون شو ، ځینې

رپوټونه وايي چې دزياتو شرابو څښل دعلي احمد دماتې اصلي علت و . دده داکمزوري هر چاته معلومه وه او کله چې يې د امارت لپاره ځان وټاکه نو د دې « لعنتي بوتلونو د ماتولو » امر يې وکړ ، لاکن کله چې يې په جګدلک کې ځای پې شتمني لوټ شوه څه ناڅه شل نور بوتلونه هم د ده په بستر کې وموندل شول . دامان الله خان تر تللو وروسته دده دويمي هڅې د ده ځانمني هم پای ته ورسوله او د مرګ پر بيه ورته پريوته .

امان الله خان هغه وخت ماتې وکړه او له هيواده ووت ، کله چې پرغزني ديرغل په ترڅ کې دسليمانخيلو دلښکرو له خوا له شا څخه پرې حمله وشوه ، دی دمې پر ( ۲۳ مه ) دهندوستان چمن ته ورسېد . غلام نبي له هېواد څخه د پاچا تروتللو وروسته شمالي ولايتونه خوشې کړل ، ځکه نو حبيب الله هم پر دې وتوانيد چې په کابل کې پر آرامه کښيني ، نادر خان او ورونه يې دافغاني تخت دمخکنيو غوښتونکو په پرتله دومره پاتې نه معلوميدل ، دنادر خان لښکر ماتې وکړه او ګرديز دجون پر (۲٦ مه) دحبيب الله پر ګټه ځنې ونيول شو . شاه محمود خان دجولای پر ( ۱٦ مه ) ماتې وکړه او دلوګر له درې څخه پسې واخېستل شو ، په داسې حال کې چې دهاشم خان ځواکونو هم په مشرقي کې ځای پر ينښود او ميدان يې حبيب الله ته ورايله کړ .

دحبيب الله حکومت پر دغو برياو سره غښتلې شو او په کابل کې يې داروپايي ځواکونو له خوا د رسميت پيژندلو هڅه پيل کړه . افغان بهرني وزير دشوروي اتحاد او برتانيې دانډول ساتنې ددو ديزې لوبې پرکارونې سره شوروي اتحاد يو ريب وباله او په کابل کې يې برتانوي نماينده ته وويل چې: « هر افغان پر دوو شيانو ډير معتقددی ، لومړی داچې لويه برتانيه به هيڅکله پرې نږدي چې شمالي افغانستان له روسيې سره وتړل شي او دويم داچې ددوی خوښې او نيکمرغی يا ددوی پايښت اصلاً دانګلستان پر بې الايشه

لاربنوونه او هدایت پورې تړلې دی . » (٣٤)

حبیب الله هم د تخت د ټولونو روسیا لانو غوندې د برتانیې ملاتړ وغوښت. بچۀ سقاو د نورو برخلاف ، د برتانیې هرڅه ته اړ نه و ؛ ده له هغوی څخه افغانستان ته د خپلو دښمنانو په ننوتلو کې ناپېیلتوب ، د پخواني رژیم دیپلوماتیکي پیژندنې پای او د بهرنیو نمایندګیو تر تخلیې وروسته یې له هند څخه د ده د دښمنانو د اکمالاتي ادو تړنه غوښتله ، حبیب الله په کابل کې د برتانیې د سفارت ساتونکي رحمت خان وغوښت او ورته ویې ویل :

« زه د برتانیې له حکومت څخه خوښ یم ، ځکه هغوی خپله جدي ناپېیلتوب څرګند کړی او د روسانو پرخلاف چې امان الله خان ته یې مرسته ورکړه ، برتانوي حکومت د افغانستان په کورنیو ستونزو کې هیڅ لاسوهنه ونه کړه ، برتانویانو نه زما سره کومه مرسته وکړه او نه یې هم له امان الله خان سره ، کله چې ما پر کابل خپل لومړنی برید وکړ او باغ بالامې ونیوو نو د کابل په ښار کې د دروا غو ګنګوسې خپرې شوې چې ګواکې برتانوي سفارت زما سره طبي مرسته کړې ده ، دا هیڅ حقیقت نه لري د برتانیې ملګرتوب د افغانستان په ګټه دی ، لاکن د جرمنیانو ، فرانسویانو او روسانو ملګرتیا د افغانستان پر ګټه نه ده . »

حبیب الله له خپلو بریالیتوبونو سره سره د دې پیښو له امله یو څه ګنګس او پردې ډاډه نه و چې پر قدرت به پسې پاتې شي ، داویره یې هله څرګنده شوه ، کله چې نادر خان افغانستان ته را روان شو او په صوبه سرحد کې ترېو څه ځند وروسته دې ته چمتو شو چې بچۀ سقاو به د کوم سیال او یا په خپله د تخت د یو دعوه ګر پر توګه بې حیثیته او را نسکور کړي . دا د حیرانتیا ځای نه و چې امان الله خان او بچۀ سقاو هر یو کوښښ کاوه چې نادر خان خپلې خوا ته را وهڅوي ، امان الله خان د یو لیک په ترڅ کې ترې وغوښتل چې هغه له

خپلو ورونو سره کندهار ته راشي ، په داسې حال کې چې حبيب الله تماس ورسره ونيو او بلنه يې ورکړه چې په الوتکه کې کابل ته راشي خو نادر خان ديو په خوله هم ونه کړه . ( ۳٦ ) بچۀ سقاؤ قدرت ته له رسيدو سره سم احمد شاه او عبدالعزيز فرانسې ته وليږل چې نادر خان کابل ته روالي ، آن دا چې وروسته يې دنادر خان وروړشاه محمود هم ور واستاوه ، لاکن دا ټول استازي بريالي نشول . نادر خان ودانګل مګر يوازې په خپله ګټمه ، دحبيب الله حکومت دشيرپور په هوايي ډګر کې دنادرخان دهرکلي پر وياړ يو پرتمين ننوتوځي ودراوه ، مګر کله چې دا خبر راورسيد چې نادر خان برعکس په جنوبي کې قبايلي سيمې ته ولاړ نو حبيب الله هم په کابل کې دده کور او هر څه ضبط کړل . (۳۷)

داوخت حبيب الله يوه ډيره تهديدي لهجه پسې راواخيسته ، ده په کابل کې دنادر خان دکهول غړو ته په يو ليک کې وويل چې ماد نادر خان او دهغه له کورنۍ سره دامان الله خان دبې انصافيو له امله خواخوږي لرله ، ده ګيله وکړه چې : « زه ډير افسوس ښکاره کوم چې نادر خان او دهغه وروړ شاه محمود زما دخبرتيا او تمې خلاف زما دشاهي احسانونو پروړاندې خيانت کوي . تاسې او ستاسې خپلوان به دنادر خان دغدارۍ داړونده عام اعلان تروختنه په کابل کې تر ممکنه حده وساتل شی ، تر دغسې اعلامیې وروسته که پر تاسې کومه بلاتازله شي نو هغه به دنادر خان له لاسه وي . دخپل ژوند دخوندي ساتلو پر غرض چې څنګه يې تاسې لازمه بولی ، هغسې وکړی !(۳۸)

نادر خان شينوارو او نورو افغاني قبايلو ته دخپلو ليکونو په ترڅ کې هيله څرګنده کړه چې : « دافغانستان سرلوړي قبايل دې دظالم لوټمار تر نسکورولو وروسته (چې دکابل تخت يې غصب کړی) په خپل منځ کې يوالی او پيوستون وساتي » . نادر خان همدارنګه بچۀ سقاو ته د « زما ګران وروړ

حبیب الله خان » پر خطاب سره یو لیک واستاوه چې د هغه زړه ور توب یې ستایلی او زیاته کړې یې وه داچې دی ( نادر او کورنۍ ) یې په دې خوښ دي چې داسلام پر خاطر سربښندنه کوي نو حبیب الله هم باید کټ مټ خپل هیواد ته همداسې خدمت وکړي ، نادر خان دوام پسې ورکړ چې بچۀ سقاو کولای شي دغه کار له قدرت څخه پر گوښه کیدو سره تر سره کړي ، چې دهغې په نتیجه کې نادر خان دحبیب الله « دبشپړې عفوی او درنښت » او همدارنگه دکوهستاني ولس د ساتنې ژمنه کړې وه . ( ۳۹ )

لاکن دنادرخان لپاره دخپلو دغو شرطونو دعملي کولو وخت لا نه و رارسیدلی . حبیب الله چې تر دې وخته یې له تخت څخه دراپرزولو ټول سیالان مات کړي وو . دنادر ددې گواښ پر وړاندې سخت غبرگون ښکاره کړ او دجنوبي او مشرقي خلکو ته یې یوه اعلامیه خپره کړه چې په هغې کې یې په ( ۱۹۱۹ ) کې دامیر حبیب الله په وژلو کې دمصاحبانو کورنۍ پر لاس لرلو تورنه کړې وه . ده څرگنده کړه چې نادر خان ته یې په حکومت کې دیو مقام دورکولو پر خاطر شاه محمود ته پیسې ورکړې وې چې هغه افغانستان ته راولي ، مگر : « نادر ددې پرځای چې داسلام لاره وڅاري پر اروپاکې یې دخوک دغوښو پر چړه پولو او دکفارو پر پښو ( تقلید ) سره هر څه فاسد شوي ( ماغزه او هډونه یې تورشوي دي ) . دخیانت له مخې په خپله جنوبي ته ولاړ او وروړ یې مشرقي ته واستاوه چې هلته درواغ سره جوړ کړي .» ( ٤٠ )

حبیب الله وروسته هر هغه چاته چې نادر خان به یې ژوندی لاس نیولای ده نه ته راوست څلویښت زره روپۍ او هر هغه چاته چې دهغه سر ورته راوړي دیرش زره روپۍ او یو توپک له گولیو سره انعام ورکړي . دده دوروڼو دهریوه دژوندي تسلیمولو د پاره یې لس لس زره روپۍ او یو توپک او دسرپه راوړلو سره یې صرف لس زره روپۍ انعام کنبښود . ( ٤١ )

د (۱۹۲۹) په جولای کې د حبیب الله دریغ نورهم پیاوړی شوی او هغه وخت راورسید چې رژیم یې د بهرنیانو له خوا پر رسمیت وپیژندل شي . تر فبروري پورې چې کله بهرني نمایندګان له کابله وتل ، هغوی داسې انګیرله چې پر رسمیت پیژندنه به یوازې هغه وخت ممکنه وي چې د افغانستان د یو منلي واکمن تر اداري لاندې سره یو موټی شي ، بهرنیو ځواکونو په همدغه وخت کې د دې لپاره چې په افغانستان کې یې خپلې ګټې خوندي وې ، د حبیب الله له حکومت سره تماس لاره . برتانیه په دې فکر وه چې په افغانستان کې د برتانویانو شته والی ښايي د کورني جنګ په کومه پیښه کې هغوی ښکیل نه کړي نو له همدې کبله یې په کابل کې د خپلې نمایندګۍ همداسې غیابت ته ترجیح ورکړه . فرانسې او ایتالیې په کابل کې د پاتې کېدو لپاره کوم دلیل او مجبوریت نه لاره . خو شوروي اتحاد ، ایران ، ترکیې او جرمني په بیلابیلو شرطونو کې قرار درلود ، ایران د شیعه ضد کومې عام وژنې له کبله نیت نه لاره چې د افغانستان له بالقوه واکمن سره ضدیت ښکاره کړي . د هزاره ګانو اکثریت چې د حبیب الله مخالفان ګڼل کېدل شیعه ګان وو او حبیب الله د زیاتو سني مذهبو د راجلبولو لپاره د افغانستان په بیلابیلو سیمو کې ممکن د شیعه ګانو پر ضد له سختۍ څخه کار اخیستی وای .

دا یوه طبیعي خبره ده چې د امان الله خان خورا ملاتړو ځواکونو د خپلو دیپلوماتانو په ایسته کې نه خو د برتانیې سپارښتنې عملي کړې او نه یې هم له نوي رژیم سره اړیکې ورانې کړې . د دې کار څو وجې دي : تر ټولو مهمه دا چې د برتانیې پر هڅو دونو بې باوري او له انقلاب ضد سره د برتانیې پر لاس لرلو شک او شبهه موجوده وه ، سربیره پردې ، شوروي اتحاد او ترکیه او تر یوې اندازې هم جرمني د خپلو سیاسي یا اقتصادي اغېزو پر بایللو وېرېدل . شوروي اتحاد چې د دیپلوماتیکو هڅو تر اوږدې مودې وروسته په دې بریالی

شوی و چې په منځنۍ آسیا کې له خپل جنوبي ګاونډي سره اړیکې ټینګې کړي، دې ته چمتو نه و چې هغه داسې ژر له کوم افغان واکمن سره غوټې کړي . په افغانستان او هند کې له سیاسي هدفونو څخه پرته ، دشورویانو یو شی ډیر څرګندو : هغه داچې ماسکو نه غوښتل تر امان الله خان مخکني هغسې شرایط چې شوروي به یې له افغانستان سره د سیاسي اړیکو پر ټینګولو منع کاوه ، بیا وویني چې په نتیجه کې به افغانستان یو ځل بیا دبرتانیې په مریتوب کې راشي ، له همدې کبله داسې ګنګوسي ول چې دحبیب الله او شوروي حکومت تر منځ د دپلوماتیکو اړیکو دبیا ټینګښت یا دافغانستان له خوا په افغاني ترکستان کې شوروي حکومت ته دکانو را ایستلو په برخه کې دامتیازونو ورکړه باالکل په نظر کې وه . شوروي حکومت له دې څخه انکار وکړ چې هغه له حبیب الله ضد ځواکونو سره مرسته کوی او حبیب الاسلام د (۱۹۲۹) دمۍ پر دیرشمه په دې هکله یوه اعلامیه نقل کړه چې په هغې کې دشوروي اتحاد جمهور رئیس په افغان کورني جنګ کې خپل پښیلتوب او نه لاس وهنه په ډاګه کړې وه . (٤٢)

شوروي اتحاد له افغانستان سره د لس کلن سیاسي تعاون او دپوځي او تخنیکي مرستې له ورکړې سره سره دخپل نوم پر ښه کولو بریالی نشو او ټولو افغانانو هغه له دوو هغسې ښکېلاکي ګاونډیو څخه یو باله چې دافغانستان دسیمې لاندې کولو ته یې سترګې نیولې وې ، بالاخره دامان الله خان د حکومت پر ګټه دېونو دا ینبودلو ګنګوسو پر افغان عام ذهنیت دومره ناوړه اغیزه وکړه چې له افغانستان سره یې دهغه هرنګه مرستې له مغزو ووتې .

دترکیې په اړه هم ورته شرایط موجود وو ، دلومړۍ نړۍ والې جګړې په ترڅ کې دهندوستان دننو توځي تر خوا دیو اسلامي اتحاد پرهکله عثماني اسرې آن دهغوی ترماتې وروسته لاهم کمې شوې نه وې ، د کوموله مخې چې

ترکیه ، ایران او افغانستان داروپایي پراختیا غوښتنې پر وړاندې یو خپل منځني پیوستون ته اړ معلومیدل . ترکیه دافغانستان یو لوی ملګری هیواد و چې کارپوهان او هغسې عصري مفکورې،چې پر امان الله خان یې هم زیات اثر کاوه ، په واک کې ورکولې ، ترکیې ته دامان الله خان دسفر په نتیجه کې دجنرال کاظم بای په مشرۍ یو ترکي پوځي هیئت د ( ۱۹۲۹ ) په جنورۍ کې دامان الله خان ترګوښه کیدو لږ څه مخکې کابل ته ورسید . ( ۴۳ ) دامان الله خان له منځه تلل په ترکیه کې د یو ناورین پر څیر ګڼل کیده . ځکه نه یوازې دا چې پردې توګه یو آزاد خیاله مسلمان واکمن له منځه ولاړ ، بلکې امان الله خان داتا ترک غوندې یو کلک سمونپال هم و چې نسکوریدو سره یې په ټول اسلامي نړۍ کې دارتجاعي مخالفانو دسیک اخیستو امکانات موجود وو . افغانستان ته له سفر څخه دامان الله خان تر تښتیدو وروسته د ترکیې او همدارنګه دایران او شوروي اتحاد سیاسي نمایندګۍ سفارتونو ته لوړې کړای شوې او د ( ۱۹۲۸ ) کال د ترک - افغان تړون که څه هم چې د یو ګام پر شاکیدو مانایې لرله ، مګر دواړه هیوادونه پرښکاره دخپلو ګډو مرستو پر پراختیا باندې خوښ معلومیدل . له دې سره ځینو افغانانو ترکان قطعاً نه خوښول . دوسلو الو ځواکونو ځینې لوړ افسران د ترکي سلاکارانو له نفوذ څخه په عذاب وو . دجمال پاشا دسمونتیا وو او له نوي جلبي سیستم څخه هم ډیر وکسانو بدوړل . ځینو ترکان کبرجن او مغرور ه ګڼل په داسې حال کې چې نورو بیا هغوی دلویدیځ پالو لارو چارو دخپلو لو او هم دامان الله خان دسمونتیا وو دمسئولینو پر توګه « کافران » بلل . د ترکیې لویدیځ پالنې ، دسلطنت او خلافت استنساخ او داتا ترک دحکومت غیر مذهبي کړنلارو ډیر پوه او منور افغانان راپارولي وو خو دافغان ولس په منځ کې د ترکانو له دې ناوړتیا سره سره هغوی غوښتل چې همدغسې پاتې وي ، د ترکیې سفیر یو

سف حکمت بای ته هم دروسیې سفیر لیونید ستهارک غونډې واک ورکول شوی و چې دهر یو افغان حکومت سره اړیکې وساتي ( باید وویل شي چې ستهارک خپله دنده خوشې کړه او دحبیب الله دواکمنۍ په وروستیو کې شوروي اتحاد ته ستون شو او پر ځای یې لومړنی سکرتر ډگروال ریکس داچارې په لاس کې واخیستې ) . دحبیب الله حکومت په خپل وار دبهرنیو ځواکونو پر رسمیت پیژندنې ته سخت اړو او په دې هیله وچې په کابل کې به دځینو دپلو ماتانو پرله پسې شته والی بنایي نورهم وهڅوي .

دجرمني پر له پسې شته والي ترډیره ځایه پر اقتصادي عواملو پورې تړلی و . دویمر حکومت پر دې هیله و چې له داسې یو هیواد سره چې شپږ ملیونه مارکه یې پوروړی دی ، خپلو اړیکو ته پایښت ورکړي ، سربیره پردې په کابل کې دجرمنیانو زیات وگړي هم اوسیدل چې غوښته یې همدلته خپلې ځاني گټې وساتي یا داچې له افغانستان څخه دوتلو اجازه نه ورکول کیده ځکه چې په نوي حکومت کې یې حسابونه تصفیه شوي نه و . همدا وجه وه چې دجرمني استازي « فیگل » باید پاتې شوی وای ، خو کله چې ناروغ شونو پر ځای یې پلیسن چې په کلکته کې جرمني کونسل راغی .

په پای کې گن شمیر جرمنیان پر دې وتوانیدل چې له افغانستان څخه ووځي . ځینې په پټه هغه وخت وتښتیدل چې دوتلو اجازه نه ورکول کیده خو کله چې په اگست کې شرایط یوځل بیا څپانده غونډې شول او ددې امکان و چې د کابل پر سر به دنادر خان او حبیب الله دځواکونو ډغرو په نتیجه کې دمرکز گڼ شمیر او سېدونکي اودهغوی شته ضایع شي ، نو « ون پلیسن » هم ددریو نورو جرمنیانو پر گډون له افغانستان نه ووت . ډاکتر پاشرت دساتونکي پر توگه پر ینبودل شو ، په داسې حال کې چې شوروي اتحاد رسماً په کابل کې دجرمني گټې پرمخ بیولې ، شوروي اتحاد دهغو دتخلیې لپاره

هوايي خدمتونه او دسرک آسانتياوي برابري ځري ، په دې سربيره يو شمير جرمنيانو او نورو وګړو هم له دې وخت نه ګټه واخيسته .

دجولای او اګست مياشتې آرامې وې ، سره له دې چې ځينې په دې ډار کې وو چې دتوپان له رارسيدو څخه مخکې آرامي ده ، په هرحال ، دحبيب الله حکومت په دې فکرو چې هغه وخت رارسيدلی چې داروپايي ځواکونو له خوا پر رسميت باندې د پيژندلو هڅې بيا راپيل کړي . دجون پر نهمه دکابل دبهرنيو چارو وزارت همفريس ته چې دافغانستانه تر وتلو وروسته دپرمختيا وو دڅارلو پر غرض په پيښور کې ناست و ، يو پيغام ولېږه چې په هغه کې دحبيب الله حکومت دبرتانيې دفبرورۍ دشلم تاريخ دياداښت پر حواله چې ديومنلي واکمن ترڅارنې لاندې يې دافغانستان تر استحکام وروسته ددوارو هيوادو تر منځ پراړيکو دبيا ټينګښت ژمنه کړې . وليکل چې دهغه دعملي کيدو وخت رارسيدلی دی . په پيغام کې راغلي وو چې : « زياتو ولايتونو او دافغانستان اکثريت ولس اوسنی حکومت منلی او پر رسميت پيژندلی او تريو خورامنسجم او منظم حکومت لاندې سره راټول شوي دي . . . . »

افغان لوري ادعا وکړه چې دبهرنيو دولتونو زيات استازي له مخکې څخه لا په کابل کې شته او پر همفريس يې ټينګار وکړ چې « ځکه نو ستاسې عالي جناب تشريف راوړنه هم زموږ تمنا ده . » ( ٤٤ ) لاکن حبيب الله له دې ټولو څرګندونو سره سره بيا هم ژغورلی نه و . ده سربيره پر دې چې پر ارګ کې ډيرې پيسې ( ٧٥٠٠٠٠ پونډه ) پرلاس ورغلې وې ، مګر بيا هم مجبور و چې هغه ټولې دخپلو عسکرو لپاره ولګوي. افغانان په تيره دمشرقي خلک نور په دې خوښ نه وو چې يو تاجک دې پر هيواد واکمن وي . دمالي سرچينو دتدريجي کمښت پر وجه حبيب الله دې ته اړ وت چې دماليو د وضعه کولو په برخه کې جدي ګامونه واخلي ، آن داچې دجولای او اګست دمياشتو معاشونه يې هم خپلو عسکرو ته ورنه کړای شول . اقتصادي کمزوري په افغانستان کې کومه نوې پديده نه وه ، خو هغه په ولايتونو کې دواليانو له خوا دپر له

پسې نازغمې ګډوډۍ سره مل او د حبیب الله رژیم یې خپلو وګړو ته ورځ تروږمې دنه منلو وړ وګرځاوه . د کندهار والي عبدالقدیر « هشت نفري » جلبي سیستم بیا رواج کړ او په دې یې دسیمې دزیاتو قومونو اختلاف را وپاراوه . د حبیب الله کوښښونه د ( ۱۹۱۹ ) راهیسې د پاتې مالیو دراغونډولو پر وجه نور دعوامو د ناخوښۍ وړ وګرځیدل .

دمۍ پر (۲٦ مه) چې کله حبیب الله د تیرندوو ( رسم ګذشت ) پر ډګر خپل پوځونه لیدل، نو یو ښخ کړل شوی بم وچاودید او یو سړی یې وواژه . څو نور بمونه هم ومیندل شول . او دبچهٔ سقاو ورور حمیدالله پس له ډیرو ستونزو پر ننداړچیانو دډزوکولو څخه راوګرځول شو . بچهٔ سقاو وروسته دیوې وینا په ترڅ کې دخپلو دښمنانو داکړنې وغندلې او خپلو کوهستاني پله ورو (پیروانو ) ته یې خبرتیا ورکړه چې له نادر سره وجنګیږي او ددې پرځای چې ځانونه او خپلې کورنۍ پو پناه ووینې باید دسر تیرو غوندې مړه شي. (٤٥) مګر کوهستانیان نور تاک له تاکه شوي وو ، ځکه هغوی دبچهٔ سقاو اصلي ملاتړي او دهرې جګړې فـــیر ونه ګرځیدلي وو . هغوی دحبیب الله دخپلوانو غوندې دده لپاره وجنګیدل او دخپل مشر لپاره مړه شول، کلي یې له غښتلو ځوانانو څخه تش شوه او باندو ته یې چې یو وخت په کې همیشني جنګونه کیده او وینې په کې بهیدې ، پرته له کوم عوض څخه هیڅ پاملرنه ونشوه .

دامان الله خان پرضد دبچهٔ سقاو ځینې پلویان نور د کوهستاني واکمن څخه دتښتیدو پر حال کې وو . دشوربازار حضرت شیر آغا چې دامان الله خان پر ضد دښورښ له اصلي مشرانو څخه ګڼل کیده ، دجون پر څوارلسمه دیوې « فتوی » په ترڅ کې حبیب الله دوینې تویدو دپیل کیدو مسئول وباله . ده وروسته دنادر خان پر ګټه دغلجیانو ملاتړ راوباله .

دجولای پر اوومه دکابل ، کوهدامن اوکوهستان ملکانو او ملایانو

دحالاتودخیرلو پر خاطر په کابل کې یوه غونډه جوړه کړه . هغوی حبیب الله ته مشوره ورکړه ، څنګه چې خلک دجګړې اووینې تونیدو څخه ستړي شوي نو له نادر خان سره باید خپل مخالفتونه حل کړي . حبیب الله فکر کاوه چې نور د پخلاینې وخت پای ته رسیدلی ، ځکه چې قدرت یې له لاسه وتونکی ښکاریده او داچې د پناه وړلو هیڅ ځای یې هم نه لاره نو مجبور شو چې تر پایه وجنګیږي . ده دا مشورې رد کړې او د ترور یوه شپه یې راپیل کړه ، دواکمنو کورنیو ډېرو غړیوته یې هم درانه تلفات واړول . ( ٦٤ )

دحبیب الله ځواکونو دشاه محمود او هاشم خان پر بولی هغه حملې چې دجولای په نیمایي کې وشوې پر شاوتمبولې . داګست په لومړنیو کې یو واربیا هم دبچۀ سقاو ځواکونو دهاشم خان قواوې پر شاکړې . نادر خان او ورونه یې دې ته اړوتل چې ځواکونه یې دهرې جاب سیمې ته پر شاشي ، په دې توګه دحبیب الله حکومت له خطره محفوظ شو او پر دې وتوانیدچې دپخوا غوندې داګست له ( ۱۹ څخه تر ۲۳ مې ) پورې دخپلواکۍ مراسم پرځای کړي . شینواري او مومند په مشرقي کې دهغه کاروانونو څخه دجچې اخیستلو پر سر چې دهند او افغانستان تر منځ تله راتله ، په وارو وارو پر جنګ اخته وو ، دې وضعې حبیب الله پردې قادر کړ چې دسپتامبر په لومړیو کې جلال آباد ونیسي او هاشم خان ته ماتې ورکړي اوهند ته یې پسې واخلي .

دحبیب الله یو څه ځواکونه لا په جلال آباد کې وو چې هلته په کندهار کې داځکزو له خوا دده دځواکونو دکلابندۍ خبر ورته راورسید . ده په بیړه نور ځواکونه سره غونډکړل چې دقندهار قشلې دملاتړ لپاره یې واستوي . داکتوبر په سر کې چې څنګه کابل له پوځي ژغورنې څخه تش شوی و ، شاه ولي خان دوزیري قبایلو پر ملاتړ دښار پر څنډو راښکاره شو . شاه ولي د ( ۱۹۲۹ ) د اکتوبر پر ( ۱۳ مه ) ارګ ونیو او دوې ورځې وروسته نادر خان دافغانستان دنوي پاچا پر توګه تخت ونیوه .

# {شپږم څپرکی}

## نادر شاه دملي پیوستون دتېنګښت په حال کې دقدرت قبلونه

محمد نادر خان دخپلو نورو ورونو پر مرسته دافغانستان دنوي پاچا پر توګه راغی. ده له « کابلي سردارانو » څخه « پېښوري سردارانو »* ته دقدرت په ورانتقال سره دبارکزايي کام د محمدزايي ښاخ دواک تېنګښت ته له منځه يوړ. نادر خان دبچۀ سقاو دوخت پر ختمېدو سره ديو داسې نوي دولت جوړولو ته ملا وتړله چې دامان الله خان له مفکورې سره يې سمون لار. خو نادر خان دتاکيد او تاکتيک دواړو په برخه کې هغه ته بدلون ورکړ. نادر شاه چې کله قدرت ته ورسېد بنځوس کلن و. هغه له نرم او زړ زړي دوله

*- دادواړه ښاخونه دسردار پاينده خان له لړۍ څخه دی، چې څلويښت زامن يې لرل، پېښوري سرداران دده ددريمې ښځې، کابلي سرداران يې دڅلورمې ښځې او کندهاري سرداران يې دپنځمې ښځې اولاد دي.

امان الله خان سره په ځانګړنو کې توپیر لاره . نادر خان یوه پوځي روښانه سابقه لرله او داسې معلومیده چې کولای شي دافغان ولس خصوصاً دسرحد دناایل شویو قبایلو سره په ژبه پوه شي . ددې دواړو سترو شخصیتونو ترمنځ دځینو مسئلو لکه قبایلي تګ لارې او دسمونتیا وو په پروژو کې دلومړیتوب یا وروستي توب پر سراختلاف موجود و ، پردې سربیره دهغوی دځواکمنو شخصیتونو تکر یو بل علت هم ګڼل کیدای شي ، نادر شاه دامان الله خان برعکس ډیر کلونه په بهر کې تیر کړي وو . دبیلګې پر توګه کله چې دده کهول دجلاوطنۍ په حال کې و نو د هند په دهرارون کې راښکاره شواو بیا پنځه کاله په پاریس کې دافغاني استازي پر حیث او وروسته دفرانسې دجنوب په ګراس کې په خپله خوښه اوسیدلی دی . نادر خان په عام محضر کې دیو سنجیده او دروند شخص پر حیث راڅرګند یده خو د بهرنیو دپلوماتانو سره خصوصي خبرو اترو پر وخت ډیر په بې پروا لهجه غږیده او خوراتوکي خویه و . هغه دعامه ذهنیتونو پر وړاندې ډیر حساس او افغانستان ته تر راستنیدو مخکې یو څه ناروغ و خو دوضعې اهمیت او په افغانستان کې دمحمد زايي کورنۍ امارت او دسولې راغبرګیدو دنادر شاه پر صحت ښه تاثیر وکړ . (دځینو سرچینو له مخې دنادرشاه روغتیایي حالت بیخې ښه و ، مګر بیا هم په تخیلي رنځ اخته و ) له ده سره بخت پرته له شکه یاري وکړه ، ځکه دورونو ملاتړیې ورسره و چې هر یو په افغان حکومت کې پر مهمو او حساسو څوکیو دندې اجرا کړې وې . نادرشاه ځکه ډیر حیثیت لاره چې یو خو دسردار پاینده خان له نسله و او بل دا چې دیو پوځي مشر پر توګه یې او څار مسلک لاره . په (۱۹۲۶ ) کې چې کله شپږ و یشت کلن و ده ګروال پر رتبه مقررو او په هند کې یې له امیر حبیب الله سره ملګرتیا وکړه او ترهغه یو کال وروسته له پاچا سره دافغانستان په داخلي سفر ووت ، په( ۱۹۱۲ ) کې منګلو دپاڅون پر غلي

کولو سره نایب سالارۍ ( جنرالۍ ) ته پورته و او دوه کاله وروسته پسې سپه سالار (مارشال ) شو . دخپلواکۍ په جګړه کې ده هغه وخت توره وکړه چې دشمال لویدیځ سرحد په وزیرستان کې دده دیرغل په نتیجه کې دسیمې افغاني قبایل هم دانګریزانو سره لاس پر جګړه شول . نادر خان په (۱۹۱۹ او ۱۹۲۲ ) کې دجنګ وزیر و . او تر (۱۹۲٤ ) پورې یې پر لویو څوکیو کار کړی و چې وروسته په پاریس کې افغان سیاسي استازی شو او په لویدیځه اروپا کې دافغاني سیاسي نمایندګیو څارونکی یا مباشر وټاکل شو . نادر خان په ( ۱۹۲٦ ) کې په ښکاره دناروغۍ پر نامه خو په اصل کې دامان الله خان له کورنیو تګ لارو سره دمخالفت پر دلیل استعفا وکړه . محمد هاشم او شاه ولي دوه ورونه یې چې د ( ۱۹۲۹ ) دفبرورۍ تر اتمې پورې په جنوبي فرانسه کې اوسیدل هم سمدلاسه ورسره مله شوه او له ماسیلې څخه د « قیصر هند » په بیړۍ کې ښبیي ته سره وخوځیدل چې له بچۀ سقاو څخه افغان حکومت واخلي .

دنادر خان ګام اخیستنه داسې اسانه هم نه وه ، هغه او ورونه یې وروسته له ډیرو پوځې ماتو څخه په دې وتانیدل چې دافغاني تخت تاجک غاصب له منځه یوسي .

دبرتانیې دحکومت رویه له هماغه پیل څخه دوه مخې وه ، دنادر خان یې ډیر درناوی کاوه او هغه یې دافغانستان دراتلونکي واکمن پر توګه مانه ، خو په دې وېرېدو چې دغه احساسات دافغان ولس له خوا دده په منلو کې خطر ناک ثابت نشي . نادرخان هرکله دبرتانیې مخالف و ، په تیره بیا داچې ده دپولي پر دواړو خواوو له افغاني قبایلو سره زیاتې اړیکې لرلې . دخپلواکۍ په جګړه کې هم هغه تربل هر چا دبرتاني سخت مخالف او غلیم ګرځیدلی و . نادر خان پر هیواد مین او په دې ټمه وچې هیواد خپلواک وي ، دهمدې علت

له مخې لندن او دهلي داسې انګیرله چې نادر خان دخپلو دوو ګاونډیو سره هغه کړنه رواڼانه خلي چې دعبدالرحمن خان له وختهٔ افغاني واکمنانو پر مخ بیولې وه .

برتانویان له هماغې لومړۍ ورځې څخه چې بچهٔ سقاو په کابل کې قدرت غصب کړ ، په دې اندیښمن وو چې نادر خان او دهغه ورونه به په دې هڅه وکړي . او د (۱۹۲۸) د دسمبر پر (۱٦ مه) په کابل کې برتانوي استازي سر فرانسیس همفریس لندن ته خبرورکړ چې نه دې نادر خان او نه دې دهغه دوو ورونو ته دهند له لارې څخه ترانزیټ ویزه ورکول کیږي خو یوه او ونۍ وروسته همفریس نور هغوی ته د ویزې پرورکړه هیڅ ټینګار ونه کړ . هندي حکومت وروسته درک کړه ، څنګه چې نادر خان او ورونه یې دلته کډوال نه دي او برتانیه هم په دې باب کوم مسئولیت نه لري نو ځکه افغانستان ته دهغوی دور تیریدو ویزې هلته دکومې لاس وهنې مانا نه ورکوي ، که نه هغوی دریو واړو ورونو کولای شول چې دشوروي اتحاد له لارې ورشي . همدا علت وچې دحبیب الله دحکومت له نیکو سره سره هغوی ته ویزې ورکړل شوې . په یوه اعلامیه کې چې په جرمن خپرونو کې هم راغله ، په برلین کې افغان سیاسي نمایندګۍ وویل چې نادر خان دامان الله خپلوان پر غوښتنه له فرانسې څخه دافغانستان په نیت کندهار ته روان شو چې دهغه له حکومت څخه ننګه وکړي. (۲)

کله چې نادر خان او ورونه یې دفبرورۍ پر (۲۱ مه) بمبیي ته ورسیدل ، هندي لوړ رتبه ماموران دقیصر هند کښتۍ ته ورواستول شول چې نادر خان خبر کړي چې: « دهند حکومت په دې ډیر غمجن دی چې په افغان مسئله کې دلاس نه وهنې دتګ لارې په وجه ... یو لړ هغه آسانتیاوې او التفات چې باید ستاسي غوندې درانه میلمه ته دهند حکومت کړي واې ، ونه کړای

شول. » (۳) نادرخان له بمبیي څخه دفبروری پر (۲۳مه) پیښور ته روان شو، لاکن مخکې تردې یې دبرتانوي استازو او ګڼ شمیر مسلمانو ملاتړو او نورو خواخوږو سره خبرې اترې ونه کړای شوې. ده په پیښور کې له اګوسټ ـ فیګل سره چې په کابل کې جرمني نماینده و او دبرتانوي الوتنې پرواسطه له کابله راغلی و، وکتل، همفریس هم له دې افغان سردار سره دکتلو هیله من و، خو هغه په سرخوږی سره فکر وکړ چې « په دې کې هیڅ شک نشته چې نصیب زه او نادر خان په عین محل کې سره راوستو، که زه له هغوی سره له لیدو څخه ډډه وکړم نو دا به دده او ورونو لپاره چې په افغانستان کې زما پخواني او بیخې نژدې دوستان دي یوغټ سپکاوې وګڼل شي، » همفریس وغوښتل چې نادر خان ته دبرتانوي تګ لارې ناپېیلتوب پر سالمه توګه تشریح کړي. دبرتانوي استازي غوښتنه ومنل شوه او هغه دفبروری پر (۲۷ مه) نادرخان دخپلې یوې اوږدې مرکې په ترڅ کې دقدرت نیولو داړونده افغان مسئلې پر هکله دبرتانیې له دریځ څخه خبر کړ. نادر خان په خپلو پلانونو کې مبهم معلومیده خو دواړو (دی او همفریس) په دې راضي وو چې افغانستان ته باید سوله او نظم بیرته راوګرځول شي. همفریس دافغان سردارپام دبرتانیې دبهرنیو چارو دوزیر هغې اعلامیې ته ورواړاوه چې په ولسي جرګه کې یې کړې وه « لویه برتانیه به خوشاله وي چې له افغان حکومت او نوي پاچا سره - که په خپله دی هم وي - د هغه دواک په ډیر ستونزور وخت کې هم مرسته وکړي. » دیوې جرمني سرچینې له مخې، همفریس کوښښ کاوه چې نادر خان افغانستان ته له ننو تلو څخه چې دبچۀ سقاو سره یې دخونړي جنګ عزم درلود، راوګرځوي.

نادرخان او ورونو یې له نورو هغو اروپایي استازیو سره هم وکتل چې له کابل څخه پیښور ته راغلي وو. او دمارچ پر شپږمه بالاخره له افغان سرحده

تیر او دخپل ورور شاه محمود له ځواکونو سره چې په پاړه چنار کې یې ددوی انتظار کاوه یو ځای شول .

نادر خان لېږې پیسې لرلې خو وسلې یې هیڅ نه لرلې په داسې حال کې چې یوازې او یوازې دخپلو ورونو له وفادارۍ څخه برخه من و چې هغه هم دجنوبي قبایلو پر ملاتړ باندې تکیه وه . هاشم خان مشرقي ته وخوځید په داسې حال کې چې نادر خان او نور ورونه یې په جنوبي کې پاتې شول چې پر کابل باندې دیرغل پر خاطر ځواکونه راغونډ کړي . مګر دحبیب الله قواوو دنادر خان ځواکونو ته داپریل پر ( ۲۸ مه ) دلوګر په وادي کې « شمه زر » ته نژدې ماتې ورکړه او له دې سره سم جنوبي قبایلو هم دجګړې شوق له لاسه ورکړ . ( ٤ ) ګردیز دنادر خان لپاره نیول شوی و خو په جون کې بیرته له لاسه ووت او نادر خان دخپلو ورونو سره آریوب ته پرشاشو . دشاه محمود لښکر په مشرقي کې دجولای پر (۱٦مه) مات شو او هغه په خپله دلوګر له درې څخه وشړل شو . دنادرخان دمبارزې ډیر جدي پړاو په اګست کې پیل شو . دده ځواکونه یو ځل بیا مات او نور نو دا څرګنده شوه چې دافغانستان تاجک واکمن ماتول له پولې آخواد غلبتلو وزیري قبایلو له ننګې څخه پرته دومره شوني نه ښکاري ، نادر په داسې حال کې چې دنومړو قومونو دملاتړ په لټه کې و ، هلته یې دحبیب الله پر ضد جدي تبلیغات پسې را واخیستل ، ده دنصرالله په مدیریت د « اصلاح » په نوم یوه اوونیزه جریده راویسته او نادرخان دهغې په لومړۍ ګڼه کې چې د (۱۹۲۹ ) داګست پر اوومه خپره شوه خپلې مفکورې او غوښتنې داسې بیان کړې : « ... دا اخبار غواړي چې په هیواد کې دانقلاب داختلال او تباهۍ مخه راوګرځوي او په دې هکله ممد واقع شي او دکوم خاص شخص طرف یې نه دی نیولی . داخبار تګ لاره دملت خدمت او داسلام او حقیقت پلویتوب دی . » ( ٥ )

نادر خان « انقلاب » وستا یه دا ځکه چې هغه دحکومت د کړنلارو پر خلاف خلکو را پیل کړی و خو ده افسوس په دې وکړ چې انقلاب په کابل کې دبچهٔ سقاو په واکمنتوب کې مرستندوی وګرځید . نادر خان وروسته دپیښیدونکې وینې توئیدو ، تشدد او دپاچا پر حیث دیو قطاع الطریق سړي پر ضد دنافرمانۍ خطرناک اثرات پسې تشریح کړل . نادر افغان ولس ته نصیحت وکړ چې ځانونه دبچهٔ سقاو له شره خلاص کړي ، ده پسې وویل : «ای افغان ملته ! اې مسلمانو ورونو ! لطفاً واورئ او له درانه خوبه را پاڅئ. زموږ هیواد او اولس ورځ پر ورځ د تباهۍ پر خوا روان دی . تاسې ولې خپل ژوند او شته دخپل کور او شرف د دښمن له ګټو قربانوئ او ولې موځانونه دغلو او بې شرفانو په منګلو کې ورکړي دي ؟ » ( ٦ )

دحبیب الله ورځپاڼې حبیب الاسلام دبچهٔ سقاو تیټ نسب دخوا ریجو له* لړۍ سره وتاړه او څرګنده یې کړه چې قرآن آیات او درسول الله (ص) ویناوې مسلمانانو ته ارشاد کوي چې : « باید دخپل پاچا اطاعت وکړئ . دامهمه نه ده چې هغه هرڅه وي حتی که یو حبشي مریی هم وي . » (۷) خو دنادر خان اخبار په ځواب کې هغه ځانګړتیاوې بیان کړې چې دامیر کیدو لپاره لازمې وې : یو امام یا یو پاچا ته لازمه ده چې دښو اخلاقو او عالي او صافو درلودونکی وي ، هغه باید پوه او یو مجرب شخص وي . هغه باید مذهبي ، متقي او یو هیواد پال او دحکومتي سیاست سره روږدی وي هغه باید له خپل اولس سره خواخوږی او همیشه دملت ګټو ته دځان تر ګټو ترجیح ورکړي . » دا اوصاف وروسته دبچهٔ سقاو د ځانګړتیا ووسره پرتله او څرګندول یې چې هغه کوږ دیو اسلامي دولت دواکمن کیدو لیاقت نه

---

* - خوارج هغه لومړنۍ اسلامي ډله ده چې مسلطو سیاسي واکمنانو پر ضد یې دمساوات غوښتنې یو اعتراضي غورځنګ راخیستی و .

لري. (۸)

قبايلي جرگې راوبلل شوې چې د هغو په ترڅ کې بېلابېل اقوام د جگړې پر ذمه واريو او د هغې د توقع وړ نعمتونو پر ويش سره جوړ شول. (۹) خو د نادرخان لپاره مشکل دا و چې هغه قبايلو ته په دې خونړۍ جگړو کې د گډون پر عوض داسې څه نه لرل چې ژمنه يې وکړي او د هغو په گټلو کې هم کوم خاص مالي عايد نه معلوميده. نو همدا وجه وه چې د «اصلاح» د اگست د (۲۸ مې) په گڼه کې نادرخان يو مکتوب وليکه او په هغه کې يې له هندي مسلمانانو څخه د بيړنۍ «مالي مرستې غوښتنه وکړه» چې د ترکانو سره يې هم د بالکان تر يېولي او يونان په جگړو کې او وروسته يې په کندهار کې له امان الله خان سره د غسې مرستې کړې وې. » (۱۰) خو له دې ټولو سره سره کوم خاص کارونشو ځو دا چې نادرخان په دې وتوانيد چې تر پولې آخوادوزير و او نورو قبايلو ملاتړ حاصل کړي او د حبيب الله پر ضد د جنگيدو لپاره يو «لښکر» برابر کړي. (۱۱)

نادرخان چې کله کابل ته ننوت نو سمدستي د «سلامخانې» مانۍ ته ولاړ او هلته يې ديوې وينا په ترڅ کې وويل چې زه خپل پلرني ټاټوبي ته يوازې د غلو او داړه مارانو څخه د هغه د خلاصون پر خاطر حتى که زما د ژوند په بيه هم تمام شي راستون شوم، ده څرگنده کړه چې ما د پاچا کيدو کومه اسره نه لرله او د لويې جرگې تر جوړيدو پورې به يوازې ديو پالندوى واکمن پر توگه کاروکړم خو د اصلاح (دلومړۍ گڼې مطابق چې په کابل کې راڅرگنده شوه) له حاضرينو څخه يو هم په دې سلا او مشوره نه و. د غې گڼې د استازيو ويناوې اقتباس او زياتوله يې چې: « موږ په افغانستان کې داسې کوم څوک چې د استر مسئوليت قبول کړي، نه وينو ... په دې غونډه کې د افغانستان د ټول ولس استازي له گوټ گوټ څخه راټول شوي وه او په دې عقيده ول چې

پرته له تاسې بل کوم ورشخص وجود نه لري . » دوضعې په نظر کې نیولو له مخې دنادرخان څخه ټینګه غوښتنه وشوه چې د کورنۍ جګړې او وینې توئیدو دختمولو پر خاطر دې ژر دا کار وکړي . نادر خان دغونډې دګڼ شمیر علماوو ، قبایلي مشرانو او نورو مخورو دپر له پسې ټینګار په نتیجه کې بالاخره ددې مقام اخیستلو ته حاضر شو . ( ۱۲ )

نادرشاه په کابل کې تر خپل لنډ امارت وروسته دیو لړ ډ غرو {چې با لاخره د ۱۹۳۳ دنوامبر پر اتمه دده په مرګ سره تمامه شوه } مخامخ و . په افغانستان کې وروستي برتانوي استازي سر ریچار دمکوناشي د ( ۱۹۳۰ کال) په خپل کالني رپوټ کې څرګنده کړه چې : « په افغانستان کې ډیر داسې واکمنان تیرشوي چې پرته له کومو هلو ځلو پر دې بریالي شوي چې تخت ته ورسیږي یا هغه بې له کومو ستونزو څخه وساتي ، خو یوه یې هم تر نادر خان چې د (۱۹۲۹ ) په اکتوبر کې یې کابل ونیو سخت حالت نه دی تیر کړی . » (۱۳)

خزانه تشه وه او قبایلو له پاچاسره دخپلو مرستو بدله غوښته ، دمشرقي قومونو د ( ۱۹۲۸ ) په نوامبر کې دشینوارو تر ښورښ پورې دخپلې آزادۍ او دافغانستان – هند تر منځ له سوداګرۍ څخه د مالیې اخیستنه غنیمت ګڼله.

هغوی دیوې څرګندنا پېیلتوب له مخې دامان الله خان ، علي احمد او بچهٔ سقاو پر ضد جنګیدلي وو ، دمحمد هاشم سره هم وجنګیدل او اوس هم داسې نه معلومیدل ، چې دنادر خان واکمنۍ ته به غاړه ږدي .

دجنوبي قبایل له پولي آخوا دوازیرو په ګډون دکابل دفتحې په خاطر دنادر خان ټینګ ملاتړي ول خو هغوی هم نتیجتاً ډیر ژر دنوي پاچا لپاره دسرخوږوګرځیدل ، ستونزه په دې کې وه چې قبایلو ته باید دهغوی دملاتړ په بدل کې څه ورکړه شي او څنګه خپلو کلیو ته دورګرځیدو لپاره وهڅول شي .

قبایل دژمي درارسیدو پر خاطر وروروړ له کابله تلل خو تر دې مخکې یې

دکوهستاني دښمنانو کلي اود نادر خان پلاز مینه دارګ او دښار دعام المنفعه ودانیو په شمول هیڅ شی لوټ نه کړ .

جرمن سوداګر او ټوا ایبرټ چې دقدرت په دې ټوله تشه کې په کابل کې اوسیده دښار ترنیولو وروسته یې دهغه بې نظمي داسې بیان کړه : « داوحشي خلک هیڅ دسپلین نه لري او له یو مخې یې ښځې او کوچنیان لوټ کړل . زه یې پرېښوولم خو دفرانسې سفارت یې ټول چور کړ ، روسانو او ترکانو دپیسو دورکړې په بدله کې ځانونه خلاص کړل . . . یوازې دجرمني سفارت ته هیڅ مزاحمت پیښ نشو . »

ایبرټ وویل چې قبایل په داسې حال کې چې خنجرونه یې راایستلي وو ثوځلي سفارت ته راغلل خوجرمنیانو هغوی ته وویل چې موږ جرمنیان یو ، نو ځکه هغوی هم پرېښوول ، دوی اصلاً په کوهستانیانو پسې ګرځیدل ځکه یې پر مونږ هیڅ غرض ونکړ . » ایبرټ څرګنده کړه چې ما دمنګلو او ځدرانو قبایل ولیدل چې خپلو قوماندانانو ( شاه ولي خان او شاه محمود خان ) ته یې هغه وخت اخطارونه ورکړل ، کله چې یې دوی دخزانې له لوټولو څخه منع کول . قبایل چې له ارګ څخه راوتل په یو لاس به یې دبانکنوټونو ګونی په شا کړې وه او په بل لاس کې به یې ټوپک و ، په داسې حال کې چې په غاښونو کې یې چاړې نیولې او دې ته چمتو وو پر هر هغه چا حمله وکړي چې ددوی دغنیمت پر وړاندې به واقع کیدل . یوازیني کسان چې پر دوی یې کنترول لاره ددوی خپل مشران وو چې دغنیمت ویش ته یې سترګې نیولې وې .

کله چې نادر خان ښار ته ننوت نو ترفتحې یوه ورځ وروسته دکابل ښاریانو یې تود هرکلی وکړاو په دې تمه وو چې هغه به اوس دوی له قبایلو څخه هم وژغوري ، لکه څنګه چې یې دبچۀ سقاو له ظلمه خلاص کړل . ( ١٤ )

دهیواد دنورو برخو پراړوند باید وویل شي چې هرات لا دعبدالرحیم په

ولکه کې و چې د بچهٔ سقاو لپاره یې هغه ښار نیولی و خو په شمال کې لاوضع ښه معلومه نه وه . دا یو حقیقت دی چې اکثریت افغانان له کورنۍ جګړې او وینې توئیدو څخه ستړي شوي او ټول دداسې یو واکمن پر راتګ خوښ وو چې وکولای شي سوله ټینګه کړي او هیواد بیا سره یو موټی کړي .

دافغانستان دګاونډیو پر اړوند باید وویل شي چې هغوی هم دغسې یو عام احساس درلود . په بهرنیو چارو کې دشوروي کمیّسار ماکسیم لت وینوف په ماسکو کې دجرمني استازي ته هغه وخت چې امان الله لا په کندهار کې و وویل چې افغاني تخت ته درسیدو لپاره نادر خان یو ښه انتخاب دی سره له دې چې پر هغه یې دبرتانیې پلوه شک هم کاوه . شوروي اتحاد د خپل پخوانۍ تګ لارې سره سم ، دافغانستان غوښتنې ته د یر ژر سر وښوراوه او نوی رژیم یې په رسمیت وپیژاند ، کراخان دشوروي دبهرني وزیر پر ځای افغان حکومت ته ډاډ ورکړ چې :« هغه دګاونډیتوب پر هغو ټینګو اړیکو حساب کولای شي چې شوروي حکومت یې دافغانستان دخپلواکۍ او دهغه داقتصادي او کلتوري ترقۍ دلاټینګښت په هیله دی . » ( ١٥ ) یوه میاشت لانه وه تیره شوې چې برتانیې دنادر شاه حکومت د ( ١٩٢٩ ) دنوامبر پر ( ١٤ مه ) پر رسمیت وپیژاند . ١٦٠ )

نادر خان دخپل لومړني اداري ګام اخیستنې پر توګه وزارتونو ته یو فرمان خپور کړاو هغوی ته یې خبر تیا ورکړه چې ده تصمیم نیولی چې دفساد ریښې وکاږي او هر هغه چاته به سخته سزا ورکړي ، که یې رشوت واخیست یا یې له دفتر څخه ناوړه ګټه واخیسته . ده امرو کړچې تر نن پورې چې څومره شته او مال په شاهي کورنۍ پورې اړه درلوده نور ددولت مالکیت دی . ١٧٠ )

دانیس ورځپاڼې یو لړ حکومتي ټاکنې اعلان کړې او دښوونې او روزنې وزارت پر هکله یې ولیکل چې :« داسې وړاندیز شوی چې منځني ښوونځي ،

ليسې ، عادي مکتبونه ، دحبيبې (انګليسي ) ، اماني ( جرمني ) ، غازي (انګليسي ) او استقلال ( فرانسوي ) ليسې هم پسې جوړې شي ، همدارنګه د تلګراف ، کرنې او ښکلي هنرونو دزده کړې ښوونځي به هم جوړشي. (۱۸)

له همدې کبله دښوونې او روزنې يوه روښانه تګ لاره لکه څنګه چې پخوا حتى دبچۀ سقاو په تياره موده کې هم موجوده وه تر لاس لاندې ونيول شوه . ددې دريو رژيمونو دتعليمي پاليسيو تو پير يوازې په دې کې و چې امان الله خان ښځينه تعليم په خپلو ټولنيزو سمونتياوو کې ورګډ کړ چې بې نتيجې شو. حبيب الله چې د غبرګونونو په يوه څپه کې يې قدرت چلاوه ، دښوونې او روزنې ضدنه و يوازې هغه څانګې يې وتړلې چې ده او سلاکارانو يې مطلوبې نه ګڼلې - ده بالاخره ښوونځي ديوې پاليسۍ له مخې نه بلکې پر دې خاطر وتړل چې ويل يې لازمه پانګه نشته او که وي هغه بايد په نورو برخو کې ولګوله شي . دنادر حکومت چمتو شو چې عصري ښوونه او روزنه له سره مګر په احتياط سره پيل کړي چې دامان الله خان دسمونتياوو غوندې له عام مخالفت او ضديت سره مخامخ نشي .

دنادر حکومت له يوې ټول تال خالي خزانې سره لاس وګريوانو او ددې قدرت يې نه لاره چې زياتې ماليې راغونډې کړي . دنوي رژيم په لومړيو شپو ورځو کې ددولت دتنګسنت پر خاطر هغه مجبور و چې دافغان اولس دځينو ډلو له ګټو سره په ټکر کې راشي ، همداوجه وه چې خصوصي تشبثات لکه « دملي بسپنې کوميټه » چې له نوي حکومت سره د مرستې پر غرض دکابل ځوانانو راويسته ، وهڅول شوه . افغاني ورځپاڼو په ليستونو کې دنومونو پر ذکر کولو سرهغه افراد وستايل چې بيړنۍ بسپنې يې کولې .

پاچا خپل ورور محمد هاشم خان دداسې يو حکومت پر جوړولو وګوماره چې دصدراعظمۍ تر څنګ دکورنيو چارو وزارت يې هم بايد چلولای وای .

داصلاح دورځېپانې يوې ځانګړې ګڼې لاندينی شاهي فرمان خپور کړ :
«عالي جناب محمد هاشم خانه ! دا چې خدای افغانستان دکورني انقلاب له اوره وژغوره او داچې ملت زه دخپل پاچا په توګه غوره کړم ، نو هيله من يم چې افغانستان به وروسته له دې پر اسلامي اصولو ټينګ يو مترقي دولت وي او تربل هروخت بايد ښه اداره شي او دهرې اداري مشران بايد ملت ته مسئوليت ولري او سمونتياوې بايد په آسانۍ او بې له مزاحمته داجرا وړ وي . نو ما داسلامي لارښونو او هغو اصولوله مخې چې نورو پرمختلليو هيوادو کې هم نافذې دي ، هوډ کړی چې يو صدراعظم وټاکم چې هغه خپله کابينه جوړه کړي . زه له همدې کبله تا دصدراعظم په توګه ګمارم ، ځکه چې ته دصداقت ، اخلاقو او کار کړنې له مخې دزيات شهرت خاوندېې . ته پر خدای توکل ولره او خپله کابينه دې جوړه کړه . » ( ۱۹ )

نوی حکومت په ډير ډاډ سره دواکمنې کورنۍ پر لاس کې و او دنادر خان وروڼو دمحمد هاشم په دې کابينه کې حساس پوستونه په خپل کنترول کې راوستل . سردار شاه ولي دکابل فاتح دمرستيال په توګه وټاکل شو ( خو دنوي حکومت تر تشکيل ځواوونۍ وروسته په لندن کې افغاني سفير شو ) ، همدارنګه سردار شاه محمود دجنګ دوزير په توګه وټاکل شو ، سردار محمد عزيز خان چې ددوې مشر ورور و او په اروپا کې پاتې و ځو اونۍ وروسته په ماسکو کې افغاني سفير مقرر شو ، دنوي افغاني حکومت نور غړي په واکمنه کورنۍ پورې تړلي وو ، دبيلګې پر توګه : نوي خارجه وزير فيض محمد خان دامان الله خان په وخت کې پر يو شمير مهمو حکومتي ځوکيو کار کړی و چې په هغه کې دښوونې او روزنې دوزارت مقام هم شامل و ، همدارنګه دی دبچه سقاو له خوا « دنظم او قانون ساتنې شورا » دغړي پر توګه هم پاتې شوی و ، دشوربازار حضرت شير آغا (دامان الله ضد ښورښ

مشر ) دعدلیې دوزیر پر توګه وټاکل شو . دکابینې دغه امتزاج ښودله چې دپخوانیو رژیمونو ګڼ شمیر غړي له قدرتي څوکیو څخه بې برخې کړای شوي وو . برتانوي حکومت ددې نوي حکوت له ترکیب څخه راضي معلومیده خو په دې ښه پوهیده چې هر څه خاص بدلون نه دی کړی او دنادر خان او ورونو تګ لاره به هماغه پخوانۍ لاره وي ، « چې روسان یې ډارول او برتانویان یې په وهم کې اچول . » ( ۲۰ )

په مختلفو ځانګو کې دځینو هندي مهاجرو ګومارل په هند کې چارواکي ناراضه کړل . په تیره بیا ددربار دوزیر پر توګه دیو پخواني انقلابي هندي اله نواز خان ټاکنه دزیاتې بې خوندۍ موجب شوه . هغه دپنجاب په ملتان کې زیږیدلی او په ( ۱۹۲۰ ) افغانستان ته تر تښتیدو مخکې یې په لاهور کې زده کړه کوله او هلته دهند دانقلاب په ګوند کې خورا فعال و ، اله نواز دیو برتانوي رسمي مامور له خوا داسې توصیف کړای شوی دی : هغه « یو ډیر ناوړه هندي مهاجر دی . . . چې برتانوي ضد او روسي ضد مفکوره لري . . . ( مګر ) له نادر خان سره خورازیات صمیمي دی . » ( ۲۱ ) اله نواز یو څه وخت د جلال آباد د اتحاد مشرقي ورځپاڼې مرستیال وُ،مګر وروسته دجرمن- افغان د DACOM دکمپنۍ ژباړی شو . داسې هم ویل شوي چې له هغه څخه دنادر خان لپاره دوزیر و دملاتړ حاصلولو لپاره کار اخیستل شوی دی .

دافغان حکومت پر وړاندې ترټولو جدي دنده دکورني امنیت ټینګښت او دهغو بهرنیو ځواکونو له خوا پر رسمیت پیژندنه وه چې مخکې یې په کابل کې نمایندګۍ لرلې ، دقدرت په ټینګښت او هیواد ته دسولې دراستنولو په هلو ځلو کې دبچۀ سقاو درژیم دورستیو پاتې شونو له منځه وړنه دنوي رژیم لومړنی مهم کار بلل کیدای شي ، بچه سقاو او څو تنه نژدې ملګري یې دکابل پر سقوط سره په دې وتوانیدل چې له کلابند شوي محل څخه وتښتي .

حبیب الله شمال ته وخوځید چې په خپلو کوهستاني غرو کې ځان وساتې او داهغه ځای و چې ده له نژدې ترین پوځي قوماندان سید حسن سره وکتل چې له شمال څخه د نادرخان ځواکونو ته د ماتې ورکولو په هدف راغلي و . لاکن کله چې دده پوځونه په کابل کې له پیښو څخه خبر شول نو ورسره سم بې زړه او بې روحیې شول او په دې تلوسه کې وو چې له نوي افغان واکمن سره دیو ځای کیدو په نتیجه کې ځانونه وژغوري . خبرې اترې ډیر ژر پیل شوې او پر قرآن مجید پر لوړې کولو سره یو تړون وشو چې دهغه له مخې کوهستاني مشران د محمد نادر خان په تابعیت کې راغلل او دخپلو کړنو په بدل کې ویخښل شول.

بچهٔ سقاو او سید حسین تسلیم شواو په کابل کې بندیان شول . نورو کوهستاني مشرانو هم دغه کاروکړ . هغوی په خپله خوښه راغلل یا دا چې خپلو قومیانو او کلیوالو دې ته مجبور کړل چې دخپلو اعمالو عواقبو ته هغوی په خپله ځانونه تېنګ کړي ، نه داچې دټول اولس ژوند په خطر کې واچوي . له دې عناصرو څخه دقوم ملاتړ ممکن دغچ اخیستنې یوعام غبرګون لرلای وای ، همدا وجه وه چې خلکو له دوی څخه چې پر اولس یې دا بده ورځ راوستلې وه ځانونه ګوښه کړه او هغوی یې یوازې دخپلو اعمالو نتیجې ته پریښودل . دبخښلو له ژمنې سره سره بچه سقاو ، دهغه ورور حمیدالله ، سید حسین او دحبیب الله درژیم نهه کسه نور چارواکي د ( ۱۹۲۹ ) دنوامبر پر او له دمازیګر پر پنځه نیمو بجو دارګ مخې ته تیر او برج ته نژدې دلویدیځ دیوال تر خوا یې ودرول او وروسته اعدام کړای شول .

دتسلیمیدو له ژمنې څخه دا څرګندتیری وروسته دافغاني ورځپاڼو له خوا حق په جانبه وښودل شو . دانیس ځانګړې ګڼې رپوټ ورکړ چې نادر شاه بچه سقاو او دهغه باندصرف دده په مقابل کې له مرتکب شو یو اعمالو څخه

معاف کړي دي ، » خو کله چې داعفوې خلکو ته ډاګیزه کړای شوې ، نو د بیلابیلو قومونو داستازیو له خوا لاسلیک شوې غوښتنې لیکونه راورسیدل چې ویل یې: « نادرخان کولای شي دهغوی هغه ګناهونه او تیري معاف کړي چې یوازې دده او کورنۍ پر وړاندې یې مرتکب شوي خو دنورو له خوا یې نشي بخښلای ، » له همدې کبله نادرشاه لاندنۍ فرمان صادر کړ :

« زما ګران او وفادار ملته !

زه ستاسې دهیواد پالنې او مذهبي تلوسې تر اغیزې لاندې راغلم . تاسې غواړۍ له هغو کسانو څخه غچ واخلی چې ستاسې خلک یې تباه کړي دي . نو زه له همدې کبله دوولس تنه هغه خاینان چې اوس ستاسې له حکومت سره بندیان دي ستاسې دغوښتنې له مخې په خپله تاسې ته در سپارم . زه دغیور ملت دنیکمرغۍ او پرمختګ په هیله یم . » ( ۲۲ )

# دبهرنیو اړیکو بیا پیل

دهیواد دبیا جوړښت او دبهرنیو اړیکو له سره پیل دنوي رژیم له لومړنیو دندو څخه ګڼل کیده . نادر شاه تر قدرت نیولو یوه میاشت وروسته یوه لس ماده ییزه تګ لاره ښکاره کړه چې دنوي حکومت کړنه یې انځوروله . په دې تقریباً نا منظم سند کې لاندیني ټکي شامل وو :

۱ - حکومت داسلامي قانون دحنیفي تعبیر له هدایاتو سره سم عمل کوي. دملي شورا ریاست او دعدلیې وزارت دقانون دپلي کولو مسئولیت لري . د « احتساب » اړوند دینیاتو او اخلاقو یوه اداره جوړیدونکې ده . ټول افغانان په یوه اسلامي ورورولۍ کې مساوي . اعلانیږي او هیڅوک به دکوم خاص امتیاز برخمن نه وي . له ښځو څخه غوښتل کیږي چې مخ پټې او مستورې وي .

۲ - ټول لوړ رتبه مامورین باید قرآن په پام کې ونیسي یانې هیڅ بدې او تحفې دې نه مني او د وجدان او صداقت له م ـ ـ ـ ې باید دافغان اولس خدمت ته ملاوتړي . هیڅ افغان اجازه نه لري چې الکهولي مشروبات وڅښي .

۴ - دافغانستان دخپلواکۍ دژغورنې لپاره به يو عصري پوځ جوړ او هغه به په بيخي نوو وسلو سره سمبال کړای شي . دتکړه افسرانو ديوې لويې کتلې دښوونې او روزنـــــــې پر خاطر به پوځي ښوونځي جوړ شي افغانستان به دامان الله خان بهرنۍ تګ لاره هماغسې ځاري او دنړۍ له بيلا بيلو ځواکونو سره به خپلواړيکو ته پايبنت ورکوي.

۵ - باکفايته شخصيتونه به دواليانو او اولسوالانو پر توګه وټاکل شي او هررنګه مواصلات او مخابرات به اصلاح او پراخ کړای شي .

۶ - دماليې وزرات دې يوازې دومره ماليې او دلويو لارو حق العبور حصول کړي چې له مخکنيو څخه زيات نشي .هغه پاتې ماليې چې پخوانيو رژيمونو بخښلي هماغسې به دوام ولري .

۷ - له بهرنيو ځواکونو سره به سودا ګري او راکړه ورکړه پراخه او داويو لګولو ، کانونو ، اورګاډي دپټليو دجوړښت اړونده پروژې به جوړې او کرنه به پراخه کړای شي .

۸ - په افغانستان کې پوهه او تکنالوجي دمذهب او مادي شتمنيو د پرمختګ لپاره لازمي شرط ګڼل کيږي او له هغې څخه دافغانستان په دفاع کې بايد کار واخيستل شي .

۹ - داولس داستازيو له خوا به يوه ملي شورا منځته راځي .

۱۰ - دپاچا له خوا به صدر اعظم وټاکل کيږي ، هغه به په خپل وار کابينه جوړوي چې پاچا ته به مسئوليت ولري . (۲۳)

له داخلي زياتيدونکي تينګښت سره جوخت په بهرني سياست کې هم په رسميت د پيژندلو پر خاطر فعاليت جريان لاره . دکابل تر فتحې يوازې يوه ورځ وروسته افغان خارجه وزارت ټولو هغو دولتونو ته يوشان تلګرامونه وليږل چې مخکې يې له افغانستان سره اړيکې لرلې . پيغام په افغان حکومت

کې بدلون او مرکز ته د نادر خان د بر ژر رارسیدنه پر ډاګه کوله ، زیاتول یې چې هغه به په دې ښار کې د نوي پاچا د ټاکلو لپاره د افغانستان له ګوټ ګوټ استازیو سره له نژدې وګوري، دوې ورځې وروسته یو بل تلګرام هم واستول شو او په هغه کې ویل کیده چې : « مارشال محمد نادر خان د ټولو په رایه قبول او د افغانستان د پاچا پر توګه اعلان شو . » تلګرام همداشان زیاتول چې افغان حکومت هیله من دی « چې د اړونده حکومتونو تر منځ چې له پخوا کومې اړیکې موجودې وې باید پر ممکنه ښه ډول او خورا ټینګښت سره دوام ورکړي . » ( ۲٤ )

لومړنی هیواد چې غبر ګون یې ښکاره کړ ، شوروي اتحاد و ، کاراخان د شوروي د بهرني کومیسار پر نوم ځواب ورکړ چې : « افغانستان د هغو ټینګو ګاونډیزو اړیکو پر تمه دی چې د هغو له مخې شوروي حکومت غواړي د افغانستان خپلواکي او د هغه اقتصادي او کلتوري پر مختګ نور ټینګښت ومومي . » ( ۲٥ ) البته شوروي حکومت نادر شاه پر څرګنده د افغانستان د پاچا په توګه ونه پیژاند او یوازې د دواړو هیوادو اړیکې یې یادې کړې ، خو له دې سره سره د شوروي دغه پیغام د افغانستان د نوي رژیم چې په راس کې یې محمد نادر شاه و ، د رسمي پیژندنې مانا ورکوله . شوروي اتحاد د کورنې جنګ په دې ټوله موده کې خپل سفارت په کابل کې همداسې پرانیستی و ، که څه هم چې سفیر لیونیدستارک څه وخت غایب و خو بیا هم نور پرسونل موجود و او سفارت خپل کار پر مخ بیوه . ستارک بیرته کابل ته راستون او د نادرخان حکومت هغه پر کور ودانۍ سره ومانه او دیو څلویښت توپونو د ډزو سلامي یې هم ورته وړاندې کړه . ( ۲٦ )

ولې د برتانیې او افغانستان تر منځ د سیاسي اړیکو بیا ټینګښت د ومره

آسانه کارنه و . په کابل کې برتانوي استازي سر فرانسیس همفریس له افغانستان څخه پخوا لا وتلی و او د پېښور یو پښتون رحمت خان یې دودانۍ دساتونکي پر توګه پرې ایښی و . رحمت خان کوم دپلوماتیک فعالیت نه کاوه ، خو ځینې نارسمي دندې لکه داطلاعاتو راغونډول او په پېښور کې له لوړرتبه برتانوي ماموراتو سره تماس یې ساته . افغانستان له برتانیې څخه وغوښتل چې دشوروي اتحاد پرېل باندې پل کښېږدي او کابل ته خپل استازی راولېږي ، لاکن برتانوي حکومت په دې اړوند له تلوار څخه ډډه کوله، ځکه هغه په دې فکرو چې ځینې مسایل لا پاتې دي چې باید حل شي او په هیواد کې دامنیت ټینګښت تر هر څه ضروري دی . له همدې کبله و چې دبرتانیې ددولت وزیر افغاني مخابراتونه دتیرایستنې یو ګونګ ځواب راواستاوه. ده ویل چې« دده حکومت دتیرو څو ورځو پیښې له نژدې څارلې او په ډېره مینه سره باور لري چې په یو متحد ، ملګري ، غښتلي او خپلواک افغانستان کې دسولې پر هغو امیدونو چې اوس مخ پر غوړېدو دي ، ژر تر ژره پوه شي او ددواړو هیوادو تر منځ د ملګرتوب پخوانۍ اړیکې پاینښت ومومي. » ( ۲۷ )

برتانوي حکومت له افغان حکومت سره دپیغامونو دغه تبادله دسیاسي اړیکو د ټینګښت پر مانا نه ګڼله خو لندن په دې پوه و چې دنوي حکومت په پیژندلو کې ځنډ بنايي په کابل کې غلط فهمي را پیدا کړي او ناوړه پایلې به رامنځته کړي . مسئله اصلاً په کابل کې دپوره امن ټینګښت او په دې هکله وه چې آیا په کابل کې به سفارت او پر نور ځایونو کې به کونسلګرۍ وکولای شي چې پر آزاده خپل کارونه پر مخ بوځي، که څنګه ؟ په کابل کې خو دسفارت ودانۍ دبچه سقاو او امان اله دځواکونو تر منځ په جګړه کې یو څه

نړیدلې وه خو افغان حکومت ادعا وکړه چې دا تاوان جزي دی او برتانوي پرسونل کولای شي پر ډیرې آرامۍ سره په سفارت کې ځای پر ځای شي. یوازې په جلال آباد کې باید نوې ودانۍ جوړه شوې وای، ځکه هلته کونسلګرۍ سوځیدلې او له منځه تللې وه.

ددې بهیر پر تعقیب سره دنوامبر پر اوومه دبهرنیو چارو نوي وزیر فیض محمد خان برتانوي حکومت دخپل حکومت پر دې پریکړه خبر کړ چې شاه ولي خان په لندن کې د سفیر پر توګه ټاکل شوی او له برتانوي حکومت څخه یې دهغه د تصویب غوښتنه وکړه. داګام اخیستنه اصلاً یوه انګیرنه وه چې برتانیه یې عمل کولو ته اړ یسته او دنوامبر پر خوارلسمه دبرتانیې ددولت وزیر «آرتور هنډرمن» فیض محمد خان ته خبرورکړ چې برتانیه «هغه حکومت چې داعلیحضرت محمد نادر شاه له خوا ټینګ شوی، دافغانستان دحکومت په توګه مني» او هیله یې څرګنده کړه چې «له نوي حکومت سره پخوانۍ دوستانه اړیکې به دوام ومومي.» (۲۸) سردار شاه ولي ددسمبر په سر کې له افغانستان څخه روان شو، په هند کې له برتانوي چارواکو سره تر لنډو خبرواترو وروسته مخ پر انګلستان روان او د (۱۹۳۰) دجنورۍ پر (۱۲ مه) لندن ته ورسید. په افغانستان کې دبرتانیې نوی سفیر سرر یچارډ مکوناشي او پرسونل یې څو میاشتې وروسته د (۱۹۳۰) دمۍ پر (۱۱ مه) کابل ته راغلل.

دافغان حکومت په رسمیت پیژندلو پر اړه یوه لویه ستونزه داوه چې برتانیه نوي افغان واکمن ته دښه نیت او ملګرتوب لپاره څه باید وروړاندې کړي. برتانیې تر دریم افغان جنګ (۱۹۱۹) پورې افغانستان ته منظمه کالنۍ بسپنه ورکوله خو کله چې امان الله خان دافغانستان خپلواکي اعلان

کړه نو نه بیا کومه بسپنه ورکول شوې او نه هم چامنلې ده ، همدا علت و چې په افغانستان کې ویره موجوده وه چې د برتانیې د غسې نغدي مرستې هیواد د پخواپه شان بیا پر برتانوي هند پورې ونه تړي . برتانوي حکومت نه غوښتل چې کومه نغدي مرسته دې پرته له ښکاره گټو څخه ورکړي او داهم ورته معلومه وه چې هیڅ کوم افغان حکومت به دهغه په بدل کې امتیازات ورته کړي . ( ۲۹ ) لاکن برتانیې دامان الله خان له حکومت سره پرځانگړې توگه دوسلو او الوتکو د پیریدلو او سرکونو او اورگاډي د پټلیو د جوړښت اړوندو پررژو سروې لپاره پورونه ورکړل . ځینې وخت د سوغاتونو فرمایش ورکول کیده یا داسې پورونه ورکول کیده چې اشارتاً یې ورکړه ژر لازمه نه وه . برتانوي حکومت دې ته لیوال و چې نوي افغان حکومت ته پور ورکړي خو ستونزه په دې کې وه چې مقدار یې باید څو وي او کوم ځانگړي شرطونه په منځ کې وي که نه .

دافغانستان لپاره « د مادي مرستې » اړونده تگ لاره چې د کال اووه لکه روپیو ته رسیده ، آن په ( ۱۹۲۵ ) کې منظور شوې وه خو دا پالیسي ځکه بریالۍ نشوه چې دهغې پر موجودیت دافغانانو سر نه خلاصیده او په دې نه پوهیدل چې دا پانگه اصلاً د مالي مرستې بنه لري . افغانان همدارنگه د برتانیې پر کړنو شکمن وو او پرته له هغو یوازې څو زره روپیو څخه چې د کابل - پیښور دلویې لارې پر سروې باندې ولگیدې چې دیوې جرمنۍ سرچینې له مخې افغانانو بیرته ورانه کړه . او اروپاته دامان الله خان له سفر څخه پر ته نورې پیسې اصلاً هیڅ مصرف نشوې . ( ۳۰ ) برتانیه نوي واکمن ته د پور له ورکړې سره سلاشوه او دا مبلغونه چې دهمفریس دغوښتنې له مخې دلس او اووه ملیونو روپیو تر منځ وو ، دهندي حکومت داکثریت غړیو له خوا منظور

شول . افغانستان ته دمرستي دورکړي په مسئلې کې دهند حکومت ځکه تر مرکزي حکومت زيات اهميت لاره چې زياتره دغه مرستې هغه برابرولې .

هندي حکومت ددې لپاره چې افغان حکومت يې دبرتانيې له خوا د ترلاسه کيدونکې مرستې پر زياتولو کې له چانې وهلو څخه را گرځولی وي داسې وپتييله چې افغانان په خپله بايد دکومک برغ وکړي . دا په خوله آسانه مگر په عمل کې گرانه وه او دبرتانيې نقشې يې بيا له گوابن سره مخامخ کړې ، ځکه دافغانانو له هڅو لو سره سره بيا هم افغاني سفير دغسې غوښتنه نه کوله ، کله چې شاه ولي په لندن کې تر ټاکنې وروسته په لار کې هند ته راورسېد نو داسې تر غوږو ورتيريد له چې کولای شي مرسته وغواړي خو دبرتانوي لوړرتبه مامورانو دا هيلې له خاورو سره برابرې شوې ، ځکه هغه هيڅ دغسې غوښتنه ونه کړه . ( ۳۱ ) برتانويانو ته په غير رسمي توگه وويل شول چې شاه ولي خان له هغوی سره « دپيسو په مسئله » کې دخبرو اترو صلاحيت نه لري ، بنايي دغه افغان سفير به نه غوښتل چې له هند سره معامله وکړي او هغه به يې دنورو مسئلو په شمول لندن ته ساتلې وه چې هلته يې وڅيړي . افغان حکومتونو تر دريم افغان جنگ وروسته له هندي حکومت سره د تماس نه ټينگولو پر سبب ډير زيانونه گاللي ، که نه هغه به ځانگړو اړيکو ته وده کړې وای . افغان حکومت بايد پر دې حقيقت پوه شوی وای چې په کابل کې دلندن دحکومت استازي عموماً هغه کسان ول چې په هندي ملکي اداره کې يې خدمت کاوه ، خو داسې نه معلوميدل چې ترې انديښمن دې وي . ژيچارډ مکوناشي چې په کابل کې دبرتانوي استازي پر توگه وټاکل شو ، پخوا په کرمه کې سياسي استازی و چې هلته يې له نادر شاه او دهغه له دوو ورونو سره مخکې له دې چې هغوی د بچۀ سقاو درانسکورولو پر غرض

افغانستان ته ننوځي ، خبرې اترې کړې وې . دلته نومو ړې تړا کنه اصلاً په دې دليل وه چې هغوی دواړو په خوا سره ليدلي وو ،ځکه يې نو داسې انګيرو چې هغه بې له کوم ترددو منل شوه .

برتانوي حکومت له افغانستان سره له خپل کړي تړون څخه راضي و ، که څه هم چې په هغه کې يې « ليږنه » سمون غوره ګڼلې . برتانيې ته دې ټکي خاص اهميت لاره چې له افغانستان څخه د « ګاونډيتوب » داړيکو لند تعريف وغواړي يانې يوازينی هغه تعريف چې دهغې له مخې افغان او برتانوي حکومتونو توانيدل چې په ( ۱۹۲۱ ) کې د کابل تړون لاسليک کړي. ( ۳۲ ) په اصل کې دا په دې مانا وه چې « ګاونډي » افغانستان بايد له خپلو افغاني پولو سره ټينګه چلند کړي .

نادر شاه د قبايلو پر ملاتړ اصلاً دډيورند کرښې له هندي خوا څخه قدرت ته ورسيد . دا سرحد هيڅکله هم په بشپړه توګه پر نښه شوی نه و . له همدې کبله برتانوي حکومت هغه « فرضي لاين » وباله چې مطلب يې له يو څه شک او شبهې ښودلو څخه و ( ۳۳ ) . دصوبه سرحد پښتنو ځانونه دبرتانيې اوافغانستان دواړو څخه آزاد ګڼل ، مګر دکلتور اومذهب پر اساس يې ځانونه له افغانستان سره يو ملت بلل ، افغاني واکمنانو حتی کله چې برتانيې پر عبدالرحمن خان باندې دافغانستان دپولې پر توګه دډيورنډ خط د منلو په برخه کې فشار راوړ ، هم خپل تماسونه ټينګ ساتلي چې هر کله دافغانستان او برتانوي هند تر منځ دشخړې اصلي سرچينه ګرځيدلې ده .

هندي چارواکو دنادرشاه د آرمان له خواخوږۍ سره سره دا اندېښنه لرله چې دافغانستان نوی واکمن دپولې دبرتانوي خوا پښتني قبايلو څخه دننګې او ملاتړ په برخه کې رښتونې هلې ځلې کوي . قبايلو بيا په خپل وار د خپلې

مرستې بدل غوښت او په دې برخه کې دهغوی اصلي طمع له وسلو او جګړییزو څیزو ( مهماتو ) لاسته راوړنه وه چې په هغو سره به یې دبرتانوي ننوتو پر وړاندې په جګړه کې دوی غښتلي کولای ، تردې وړاندې دامان الله خان پر ضد دبلوا په ترڅ کې مکوناشي چې وروسته په کورمه کې سیاسي نماینده شو ، په دې ویریده چې ښایي قبایل دپیسو او وسلو تر حصول وروسته دصوبه سرحد په « ناایلو » سیمو کې د برتانویانو پرضد را پاڅېږي ، ده څرګنده کړه چې دځاځیو ، منګلو او ځمکنیو کامونو دځینو افغاني پوستو تر تسلیمیدو وروسته زیاتې پیسې او وسلې یرغمل کړي دي او په دې فکر و چې « اوس خو دهغوی کړنه خورا وروګلویزه ده ، مګر که په خپلو سیمو کې ډیر چور او لوټ ورونه رسیږي نو له بیکارۍ به لاسونه سره یو او ځانو ته به قطار وزني واچوي چې بیا یې نو شیطان هم په پیښه شي نو ممکن پر کرمه یرغل وکړي .... » ( ٣٤ )

داوړاندیینه ( پیش ګویي ) تریوې اندازې ربښتیا هم وخته ، داسې چې منګلو ، مقبلو او ځمکنیو چې په ( ١٩٣٠ ) کې دکوهستاني ښورښ دځپلو پر خاطر دکابل به فتحه کې ترې ښه کار اخیستل شوی و ، دهمدې کال په اګست او سپتامبر کې خپل پام سرحد ته واړاوه او دکورمې پر درې یې بریدوکړ ، برتانویانو دا عمل دهندي « خلافت پالو » قصور باله چې ددوی پر ګومان یې قبایلو ته ویلي وو چې « برتانوي چارواکو دیو پیښیدونکي برید دپیریدلو پر خاطر پیسې ښندلي او لا به یې هم وښندي . » ( ٣٥ )

نو برتانویانو له نوي افغان رژیم څخه داډ غوښت چې اړیکې باید وروګلویزه او قبایل باید بې وسلې شي چې په دې توګه سرحد ته سوله بیرته راوګرځي . نادر شاه هم دمځکنیو افغاني واکمنانو غوندې یوه ګونګه ژمنه

وکړه ،داسې چې دی به قبایل څاري (کنترول) او په هند یا افغانستان کې به دافغاني قومونو دبرتانوي ضدکړنو ملاتړ نه کوي خو کله چې ده دغسې کارته لاس وانچاوه نو وی نشو کړای چې پر هغوی فشاو راوړي، ځکه دهغوی ملاتړ او ښه نیتي ته یې اړتیا لرله.

شا ولي خان د (۱۹۳۰) دجنورۍ پر دوولسمه په لندن کې له مکوناشي سره خبرې اترې وکړې او په دغو خبرو کې یې دافغانستان داهیله ثرګنده کړه چې له برتانیې سره به ښې دوه اړ خیزه اړیکې ولري. ده دې حقیقت ته پام وکړ چې دی « دکابل فاتح » او په عین حال کې دنادر شاه ورور په لندن کې دافغاني استازي پر توګه ټاکل شوی دی چې له برتانیې سره دافغان حکومت اړیکو پر اهمیت باندې ټینګار وکړي ،شاه ولي وویل چې:« افغانستان غواړي له ټولو ځواکونو سره په سوله کې ژوندوکړي او له روسیې سره دجګړې کوم خیال ځکه نه لري چې په وس یې نه ده پوره..» (۳٦) وروسته یې برتانیه تر فشار لاندې راوسته چې له ده سره مناسب چلند وکړي او ویې ویل چې په ماسکو کې له افغاني استازي سره « خورا زیات احترام او تشریفات کیږي » او په رمازه یې پوه کړل چې په کابل کې دبرتانوي نماینده سره سلوک به کټ مټ په لندن کې له افغاني استازي سره په سلوک پورې تړلی وي. شاه ولي خان پر برتانوي حکومت همدارنګه ټینګار وکړ چې خپل استازي دټولو پر سونلو او دهغوی دمیرمنو پر شمول کابل ته پرته له کومه نا حقه ځنډه راولیږي. (۳۷) خودده ددې ټینګارونو سره سره مکوناشي بالاخره د (۱۹۳۰) دمۍ پر یوولسمه کابل ته راورسید.

له نورو ځواکونو سره اړیکې پر لړ یا ډیرې اسانۍ سره بیرته ټینګې شوې، ترکیې (دامان الله خان د رژیم پخوانۍ ملګرې) دنوي واکمن پر رسمیت

پیژندنه کې هیڅ ځنډونه کړ . کمال اتاترک د (۱۹۲۹) د نوامبر پر لومړۍ نیټه دیو تلګرام په ترڅ کې نوی رژیم په څرګنده ومانه او « دافغانستان پاچا اعلیحضرت محمد نادر خان » ته یې دزړه له کومې مبارکې واستوله . (۳۸) خو د (۱۹۳۰) دجون تر (۲٤ مې) پورې حکمت بای په افغانستان کې دترکیې سفیر [ چې د (۱۹۲۸) داګست راهیسې په کابل کې و ] نوي پاچا ته خپل باور لیک ورانه دې نه کړای شو . له دې نه ښکاري چې دغه ځنډ ترکیې له خوا دافغان وسلوالو ځواکونو دبیا سمبالښت او دسمونتیا وو د بیلابیلو پروژو او بشپړ تیاوو داړونده بهیر پر سر ددواړو حکومتونو تر منځ داختلافو نو له امله و ، دترک - افغان د (۱۹۲۱) او (۱۹۲۸) تړونونو او هم ځینې نو رو پټ تړونونو دیوې پوځي ډلې دلیږلو پر شمول دافغانستان په پرمختیا کې دترکیې فعاله ونډه په ډاګه کوله ؛ مګر اوس داسې انګیرل کیده چې ترکانو دامان الله خان له سمونتیاوو سره کار کاوه نور هغوی دافغان حکومت په خدمت کې دي او نادر شاه نور دهغوی شته والی په پخواني دریځ کې نه مانه . (۳۹)

له ایران سره اړیکي سره له دې چې غزیزاله خان د (۱۹۲۹) په نوامبر کې په تهران کې دافغاني سفیر پر توګه ټاکل شوی و ، دومره صمیمي نه وي ، ایران او افغانستان دیوې زړې سرحدي لانجې پر سر مخالفت سره لاره [ چې هغه په سیستان کې دهلمند دسیند د بهیدنګ دبدلولو پر وجه پیدا شوی و . ] دایران - افغان پولې پراوږدو کله ناکله متقابله حملو هم دګیلې او شکایت بازار تود ساتلی و . داسې معلومیده چې له ایران څخه دامان الله خان کتنې دایراني واکمن په زړه کې هغه دیر ګران نه کړ او دکورنی جګړې پر وخت دافغانستان په دننه او دباندې کې داویره موجوده وه چې ایران څه ځمکې ته

سترګې نیولي ، داسې چې آیا په نوموړې جګړه کې دامان الله خان له ملاتړ څخه لاس واخلي او یا داچې نېغه حمله وکړي، لکه څنګه چې دبیلګې پر ډول دشوروي « ایزوستیا » ورځپاڼې دشیکاګو د « ټرې بیون » او ایراني ورځپاڼو پر حواله ولیکل چې پر ایرانی پوله دافغاني بریدونو پر پلمه به ایران پر هرات باندې یرغل وکړي . ایزوستیا دټري بیون داانګیرنه رد کړه چې شوروي اتحاد به په دې حمله کې له ایران سره مرسته وکړي اوویې لیکل چې : « موږ هیله من یو چې ایراني حکومت به ډیر ژر له برتانوي ارتجاعي حلقو څخه ( چې پر زوره دافغانستان دخاورې دنیولو په لټه کې دي ) ځان راټول کړي ، »( ٤٠ ) د « تهران پیغام » نومې ورځپاڼې دایران دبهرني وزارت یوه اعلامیه خپره کړه چې په هغې کې دشوروي له خوا نوموړي توروونه بې بنسټه ښودل شوي و . ( ٤١ )

له جرمني سره دافغانستان اړیکې د ( ۱۹۲۹ ) داګست پر شلورمه هغه وخت وران شول چې جرمن سفیر پر بارون ون پلیسن له افغانستان نه ووت ، شوروي اتحاد رسماً په کابل کې دجرمني له ګټو څخه نمایندګي کوله او دجرمني سفارت ډاکتر « پوشرټ » یې دسا تونکي پر توګه پرینبی و . هغه سربیره پردې چې په کابل کې یې رسمیت نه درلود ، مګر داستوګنو جرمنیانو دویندوی پر توګه له افغاني چارواکو سره په نوموړي چوکاټ کې په تماس کې و . هغه دجرمني له بهرني وزارت سره هم په پرله پسې توګه تماس لاره او په کابل کې دکورنۍ جګړې پر وخت دده له راپورونو څخه په زړه پورې معلومات ترلاسته کیدل ، کله چې نادرشاه په کابل کې بالاخره پر قدرت ورسېد ، ویې غوښتل چې له جرمني سره بیا اړیکې ټینګې کړي نو دپوشرټ او نورو چینلونو له لارې دجرمني له خارجه وزارت سره په تماس کې شو چې په دې ډول

ددواړو هیوادو تر منځ دپلوماتیک استازي سره تبادله شي ، نادر شاه د (۱۹۲۹) په دسمبر کې عبدالهادي په برلین کې دافغاني سفیر پر توګه وټاکه . له دې ټولو وړاندیزونو سره سره څه ډیره موده وروسته د (۱۹۳۱) دمې په میاشت کې هربرت شووربل دجرمني دسفیر پر توګه کابل ته راورسید . (٤٢)

نادر شاه هم دګڼ شمیر افغانانو په څیر احساس لاره چې دمختلفو دلیلونو له مخې یې دجرمنیانو درناوی کاوه . ده دلومړۍ نړیوالې جګړې په ترڅ کې په اصطلاح د « جنګي ډلې » له غړیو سره چې دیو څه برتانوي ضد عمل پلویان وو ، تماس لاره ،نادر شاه چې کله د (۱۹۲٤) په اکتوبر کې په پاریس کې دامان الله خان له خوا دسفیر پر توګه وټاکل شو نو په پاریس کې یې جرمني سفیر ته خپلې خواخوږۍ څرګندې او په افغانستان کې یې دجرمني هڅې وستایلې او هم یې له افغانستان څخه دهنتګ او نیدرمایر پر کتنه باندې دوستانه غبرګون ښکاره کړی و . (٤٣) آن تردې مخکې یې لاهم په کابل کې دګروپا په هکله کټ مټ احساس درلود ، خوده هر کله ټینګار کړی چې افغانستان نشي کولای له شوروي اتحاد او برتانیې سره ډغرې ووهي او څرګندول یې چې که جرمني او افغانستان دواړه غواړي چې دافغانستان په پرمختیا کې مرستندوی شي نو تر ماسکو را تیریدونکې لار باید پرانیستې وساتې ، نادرشاه همدارنګه د « برلیزلو کلنیزر » له استازي سره هم دیوې مرکې په ترخ کې دجرمني پر هکله خپلې انګیرنې څرګندې کړي . ده د (۱۹۲۵) دمې پر (۲۳ مه) پرډاګه کړه چې : « افغانستان ته بل هیڅ اروپایي ځواک دجرمني غوندې ګټور لاس نه دی ورکړی . » ده دسوداګریزې (تجارتي) پرمختیا لپاره جرمنی اسانتیاوې را ویللې او جرمنیانو ته یې بلنه

ورکړه چې افغانستان ته دزیاتو منابعو دراایستلو پر خاطر راشي ، ده په ډیره مینه سره وویل چې جرمني په نړۍ کې له ټولو څخه ښه ډاکتران ، انجینیران ، سرتیري او سرلوړی پوځ لري خو په تا سف سره یې خپله « هیله څرګنده کړه چې جرمني همدارنګه له ټولو څخه غوره سیاست پوهان هم لري . » (٤٤)

کله چې نادر شاه دافغانستان دواکمن پر توګه راغی نو له جرمني سره یې اړیکې تردې اغیزې لاندې راغلې چې جرمني دامان الله خان او دهغه ګڼ شمیر سمونتیاوو ډیرښه ملګری هیواد و چې په هغو کې جرمنیانو او جرمن سوداګرۍ ته په صنعتي او تجارتي پانګه اچونو کې زیاته ونډه ورکول شوې وه خو دپاڅون او رژیم پر اوښتو سره ډیرې ستونزې رامنځته شوې ، له افغانستان سره دګټورې سوداګرۍ د ټینګښت پر هیله په (۱۹۲۳) کې دبرلین په ښار کې سوداګري څانګو یوه ټولنه د « اوري ینټ هینډلزاې جي » په نوم راوایسته او کابل ته یې دنارینه وو یوه ډله دکورت واګنر په مشرۍ د هنټګ نیدر مایر په هئیت کې راولیږله . جرمن سوداګرو هلته ډیر ژر ګټورو کړنو ته لاس واچاوه چې زیا ترویې مثلاً ؛ ددارالامان دماڼۍ جوړښت دامان الله خان دبیلابیلو پروژو داړتیاوو په بشپړتیا کې خورا اهمیت پیدا کړ . کله چې دغه جرمنۍ سوداګري ټولنه په (۱۹۲۵) کې د « الماان - افغان دتجارتي کمپنۍ - ډاکوم » په نوم درج او ومنل شوه نو پخوانیو غړیو یې له ځینو نامتو افغانانو سره په ګډه مستقلې سوداګرځۍ (تجار تخانې) جوړې کړې او دګټې لپاره سیالۍ پیل او یو لړ ژمنلیکونه وشول . په داسې حال کې چې په کابل کې ددې سوداګر نمایندګان مخ پر کامیابۍ روان وو ، هلته په بریمن کې دډاکوم مرکزي دفتر ادعا وکړه چې مونږ کومه خاصه ګټه نه ده لیدلې او پر (۱۹۳٤) کې دډیوالیتوب سره پسې مخامخ شول . ددې کاریو

علت دا وچې افغان حکومت په سوداګرۍ کې له یو ناوړه بیلانس څخه دویرې پر وجه په (۱۹۲۷) کې ټینګار وکړ چې ډاکوم په څومره پیسو چې افغاني اجناس صادروي په هغو مره انډول بیرته له بهر څخه واردات کوي . (٤٥)

ولې بیا هم ددې امکان وچې ډاکوم یا نورو جرمني کمیټو که پر افغانستان کې کورنۍ جګړه نه وای شوې ، ښه نتیجه تر لاسه کړې وای . کله چې حبیب الله د کابل تخت ونیو نو له بهرنیانو سره ژمنلیکونه ځکه پای ته ورسیدل چې ډیریې له افغانستانه وتښتیدل ، ځینو خپلې هغه پانګې وایستې چې بیا یې پر مشکل ښایي خپلې کړې وای . یا داچې دخپلو پورونو او ذمه واریو له تصفیې څخه مخکې وغورځیدل . د حبیب الله حکومت دامان الله خان درژیم دهغو غړیو نیول پیل کړل چې درابط پر توګه دژمنلیکونو په پیریدلو کې د ګټمن کیدو ګومان ورباندې شوی و . ځینې له دغو کسانو څخه چې د جرمنیانو سره شریک وو . پر ګټمن کیدو باندې معترف شول او دحبیب الله حکومت له جرمنیانو څخه وغوښتل چې هماغه پیسې دې بیرته تادیه کړي خو کله چې نادر شاه قدرت ته ورسید ورسره جوخت یوه بې خوندي هم رامنځته شوه ، ځکه دژمن لیک دعملي کیدو پر خاطر دافغانانو ټینګار د جرمنیانو له مخالفت سره مخامخ شو . داخرګنده شوه چې ددې اختلافونو لیرې کول تر څو چې سفیران نه وای تبادله شوي ، امکان نه درلو ، همداوجه وه چې جرمني ، هربرت شو وربل د (۱۹۳۱) په مۍ کې کابل ته په دې هیله و لیږه چې دیو تړون په رسیدو سره به مرستندوی شي خو بالاخره په (۱۹۳۵) کې دغسې یو پخلاکونکی حل رامنځته شو . (٤٦)

یوه بله ستونزه چې دحلیدو تمه یې کیده ، افغانستان ته دشپږو ملیونو مارکو د پور دورکړې مسئله وه ، له دې څخه څلور ملیونه یې په (۱۹۲۸)

کې تهیه شول چې مخکې لا له جرمني څخه دبیلابیلو شیزونو پر راوړلو باندې لګیدلي وو، خو په کابل کې درژیم پر اوښتون سره ددواړو دولتونو داړونده ذمه واریو په سر اختلافونه ایجاد شول او ترڅو چې جرمني دسیاسي اړیکو دټینګښت اراده نه وه کړې نو دحل کومه لاره هم ورته پیدا نشوه، خبرې اترې دڅو میاشتو لپاره جاري وې څو چې د ( ۱۹۳۰ ) په پای کې جرمني په دې سلاشو چې دپور ادایني موده له شپږو کالو څخه اته کالو ته اوږده کړي. (٤٧)

داقتصادي مسئلو پر سرله کړکیچ څخه یو لړ نورې پیښې خوراجدي وې، هغه دا چې دافغانستان واکمنه کورنۍ پر دې شکمنه وه چې هغوی دهغې یوې مبارزې هدف ګرځول شوي چې په جرمني کې د امان الله خان دپلویانو له خوا راپیل شوې چې له دې لارې نوي افغان واکمنان را وپرځوي.

# دقـــــدرت لپاره هلې ځلې سياسي غچ اخيستنه

دامـان الله خـان دپلومـاتانو په اروپا کـې دندې سرته رسولې او دده ګڼ شمير چارواکي تر دې وخته مطيع وو ، لاکن په افغانستـان کې يې ديو مهم مخـالف ځـواک حيثيت لاره . ملي شوراچې د ( ۱۹۳۰ ) په سپتـامبر کې نادرشاه راوبلله ، په خپله امـان الله خان تاسيس کړې وه ، نوي واکمنان په دې تلوسه وو چې دمخکښو مخورو او په اصطلاح د « ځوانو افغانانو » په شمول دهر چا له خوا بيعت ورته وشي خو ډير ژر ځرګنده شوه چې دقدرت سوله ييزه ليږدناشونې دی . امان الله خان په ايټاليا کې دجلاوطنۍ په حال کې و او له هغه ځايه يې دهيراد دننه اود باندې له افغانانو سره تماس ساته .

داډيرژر په ډاګه شوه چې د مصاحبانو دواکمنې کورنۍ لپاره تر ټولو غټ ګواښ ديوې بلې مهمې افغاني کورنۍ له خوا را ښکاره شو ، ياني ديو سفزيو

دځرخي کهول ، ددې کورنۍ غړیو په افغانستان او هم په ماسکو ، انقره ، برلین او پاریس کې دسفارتونو په شمول غټ غټ دریځونه لرل، ددې کهول تر ټولو غوره کسان درې ورونه یانې غلام صدیق ، غلام نبي او غلام جیلاني او ځینې نور ورونه او نژدې خپلوان وو چې په افغانستان کې یې له مهمو کورنیو سره تړاو لاره . دځرخي ورونو پلار غلام حیدر نومیده چې یو او ځار جنرال او عمومي قوماندان و ، په ( ۱۸۸۰ او ۱۸۹۰ ) لسیزو کې یې پر افغانستان باندې دعبدالرحمن خان دواک او کنترول ساتلو په برخه کې زیاته مرسته کړې وه .

له همدې وخته دځرخي کهول دخورا نفوذ ښبتنان شول او دافغانستان په کورنیو او بهرنیو چارو کې د یو مهم عنصر پر توګه راغلل ، غلام صدیق مخکې دپلوماتیک مسلک غوره کړی و ، تردریم افغان جنګ وروسته یې په انګلیس - افغان خبرو اترو کې ګډون وکړ ، وروسته په برلین کې دافغاني سفیر او بالاخره د بهرنیو چارو دوزیر پر توګه پاتې شوی دی . دده ورونه لوړې پوځي قوماندانان او دولایتونو والیان وو خو په مختلفو وختونو کې یې په بهر کې دافغاني استازیو په توګه هم دندې اجرا کړي دي ، ځرخي کورنۍ دشلمې پیړۍ دلومړنیو بلوایې کلونو په ترڅ کې خوړې او ترخې شپې تیرې کړي دي . غلام نبي خان او ورور یې غلام جیلاني د ( ۱۹۱۳ څخه تر ۱۹۱۸ ) پورې دامیر حبیب الله له خوا دخپلو پوځي منصبونو څخه بې برخې شوه او مخکې له دې چې دافغانستان شمال ته تبعید کړای شي په کور کې تر ځارنې لاندې راوستل شول . دوی دې ګروال عبدالاحمد خان پر وژلو سره تورن کړای شوي وو . امیر حبیب الله بالاخره په (۱۹۱۸ ) کې دوی معاف کړه او په (۱۹۱۹ ) کې امان الله خان د مهمو څوکیو پر ورسپارلو سره بیا رامخته

کړل. له همدې کبله ؤ چې څرخي کهول دشاه امان الله خان خورا ملاتړ ي او ساتندويان شول .

دا هم ممکنه ده چې دڅرخي او مصاحبانو دکورنيو تر منځ په دښمنۍ کې چې په افغانستان کې يې د لوړو څوکيو په ترلاسه کولو کې سيالي لرله ، شخصي علتونه هم موجود وي ، غلام نبي د ( ۱۹۲۶ ) په اکتوبر کې په پاريس کې دنادر خان پر ځاى وټاکل شو ، دى همدارنګه په ماسکو کې هم مخکې له دې چې محمد هاشم خان په ( ۱۹۲٤ ) کې پر دغه څوکۍ وټاکل شي دافغاني سفير پر توګه کار وکړ . غلام صديق اوورونه يې د ترکانو دوستان و او همدارنګه دسمونتيا وو ملاتړي وو او ځينو دښمنانو يې هغوى په دې دليل تورن کول چې شاه امان الله خان ته ناوړه سلامشورې ورکوي او ګواکې داچې دامان الله خان دعصري کولو دپروژو په لړ کې يې له مالي معاملو څخه زياتې مادي ګټې تر لاسه کړ ي دي .

نادر خان چې کله واک ته ورسيد نو دومره قوي نه و چې سملاسي له څرخي او نورو امان الله خان پلوه وګړو سره مخامخ دغرې ووهي . افغان حکومت دهماغه ( ۱۹۲۹ ) په دسمبر کې عبدالهادي داوي دغلام صديق پر ځاى وټاکه خو دغلام صديق او ورونو پر ضد دا يو دښمنانه دريځ ونه ګڼل شو ، ځکه عبدالهادي په خپله د « ځوانو افغانانو » دعصري کونکي غورځنګ غړى و ، داسې معلوميده چې پاچا او دهغه ورو هاشم خان چې ډير ژر دتخت تر شا داصلي مهرې پر توګه راڅلل ، په دې تکل کې شول چې له کابل څخه دنوموړي مهم شخص ليرې کول هم دومره ضروري وو ، څومره چې دڅرخي کهول بايد له خپلو مهمو څوکيو څخه بې برخې کړاى شوي واى . په دې وخت کې ترټولو غوره تګ لاره داوه چې تروسه وسه بايد دڅرخي کهول له کابله

ليرې وساتل شي . همداوجه وه چې غلام نبي خان د ( ۱۹۲۹ ) په دسمبر کې په انقره کې دافغاني سفير پر توگه غوره شواو تريو کال پورې پر دغه ځوکۍ پاتې شو . غلام جيلاني کابل ته راوغوښتل شو او په توکيو کې دافغاني سياسي نمايندگۍ دمشر پر توگه وټاکل شو . خو هغه دامقام ونه مانه او په کابل کې همدغسې وزگار کښيناست غلام صديق يو ځل د (۱۹۲۹) په دسمبر او بيا د ( ۱۹۳۱ ) په مارچ کې کابل ته راغۍ خو هدايت ورته وشو چې په برلين کې بايد پر خپله دنده حاضر شي ، بنأ د ( ۱۹۳۱ ) په جولای کې جرمنې ته وخوځيد . د افغانستان نوي واکمنان په دې تمه وو چې د پخلاتوب پر کړنلارې سره به پايښت وکړي ، لاکن بالاخره هغوی ښايي درک کړې وي چې ژرخي ورونه به دنکل داصلي اتلانو غوندې ،واک د پاڅون لپاره چمتو کسانو ا انقلابي عناصرو ته آسانه کړي .

غلام نبي چې لږ څه مخکې يې په انقره کې له امان الله خان سره کتلي وه ، د ( ۱۹۳۰ ) په اکتوبر کې نادر شاه ته يو سر خلاصي ليک واستاوه چې په هغه کې يې نوموړی د درغلوا نتخاباتو پر کولو سره وغانده او اعلان يې وکړ چې خپله رښتيانۍ هيواد پالنه دې دولس دمنځگړې او عامې رايې په تله کې وتلي ، داسې ويل کيږي چې غلام نبي تردې وروسته خپله ځوکۍ خوشې کړه او د څه مودې لپاره ناڅرگند شو . دده پر غيابت سره به په افغانستان کې کومه ناآرامي پيښيده نو په کابل کې به يې دغسې گنگوسې نور هم پسې زياتول . ځينو ويل چې هغه دباسمچي ابراهيم بيگ تر شاو لاړ دی ، ځينو نورو د ( ۱۹۳۰ ) په جولای کې د کوهدامن په شورش کې دده لاس باله او ځينو نورو بيا د هند - افغان پولې پر اوږدو په قبايلي شورشونو کې دده پر لاس لرلو شک درلود . ( ۴۸ )

ځينو انګيرنو د ځرخي د کهول او نورو مخالفانو لپاره د پروپاګنډې بهتر ينه زمينه برابره کړه . ډير و افغانانو ګومان کاوه چې برتانوي حکومت له نادر شاه سره تخت ته دهغه د رسيدو پر خاطر په جګړه کې مرسته کړې او دې ته هک پک وو چې افغاني پاچا خويه هندي حکومت ته په صوبه سرحد کې د « راوړاندينې د پاليسۍ » دبيا پيل کيدو قيمت نه ورکوي . برتانوي حکومت لکه څنګه چې له امان الله خان سره يې د سولې د تړون تر لاسليک سملاسي وروسته کړې وه د نوي افغاني پاچاتر رسميت پيژندلو وروسته هم کټ مټ په صوبه سرحد کې د نفوذ او غلي کولو خپله تګ لاره بيا را واخيسته .

همدا علت و چې د نادر شان رژيم د سرحد د هغو پښتني قبايلو د غصب او له هغوى سره د خيانت کولو پر خاطر وغندل شو چې د خپلې آزادۍ لپاره جنګيدل او د هند په د ننه کې يې حملې کولې ، آن دا چې د ځه وخت لپاره يې د پيښور ښار هم کلابند کړى و .

دا هم په کابل کې پټه پاتې نشوه چې کاروانونه د غه ښار ته را رسيدل او برتانوي وسلې او هم يې پيسې راوړې . په بازارونو کې پټ تبليغات کيدل چې نادر خان د برتانويانو نوکر دى . هندي خپرونو له حکومت سره د نادر د رژيم د ګډې مرستې پر رسوا کولو سره د حکومت مخالفانو ته ښه وسله پر لاس ور کوله يوې مقالې « له کابل څخه د پيغام » تر سرليک لاندې وليکل چې : « نادر په هندي خاوره کې خپلو ورونو قبايلو پر واسطه له هرډول جدي لاسوهنو څخه پر برياليتوب سره مخنيوى کوي . افغاني اذهان په هندي خاوره کې د سور کميسو ( سرخپو شانو ) او هند وسياست پوهانو تر منځ يو الې چې د کانګريس د ګوند لاسبر کسان دې نه خوښوي . په حقيقت کې کابل د نوي پاچا پر واکمن کيدو سره د هندي سرحد په سياست کې د يو

زیاتیدونکي جدي عامل پر توگه راغلی دی . »

په اروپا او هند کې برتانوي سیاست پوهانو داوخت دنوو افغاني واکمنانو له دې سلوک څخه خوښي څرگندوله ، یانې « زمونږ پر گډو پولو دقبایلي ستونزې پر سر دافغان حکومت ددې ورورگلویزه مرستې څخه » خوښي او راضي یو . ( ٤٩ ) دانگریزانو له خوا کوروداني دنادرشاه تر ضرورت خورالږو . او ده دخپلو غلیمانو له تورونو څخه ددفاع پر خاطر د ( ۱۹۳۱ ) دجولای پر شپږمه پارلمان پرانیست .

نادرشاه استازیو ته دوینا په ترڅ کې پر خپلو انتقادکونکو حمله وکړه او پر دې مسئله یې رڼا واچوله چې څنگه یې یوازې دافغاني قبایلو پر ملاتړ او دبرتانیې پر نه مرسته سره قدرت ونیو . ده ومنله چې قدرت ته تررسیدو وروسته یې دبرتانیې په شمول له هرې سرچینې څخه مالي مرسته اخیستې خودا په دې مانا نه چې کومې سیاسي ژمنې یا شرطونه یې منلي دي . نادرشاه په ډاکه کړه چې جنوبي قبایلو دبچه سقاو پر ضد دده ملاتړ ځکه ونه کړ چې هغوی گومان کاوه چې دی به یو ځل بیا دامان الله خان رژیم راستون کړي نو همدا وجه وه چې هغه مجبور شو چې دپولې له برتانوی خوا څخه دپښتني قبایلو دملاتړ په لټه کې شي ، دده استازي حاجي محمد اکبر خان له برتانویانو څخه وغوښتل چې دپولې آخوا افغانانو ته اجازه ورکړي چې د نادرخان له ځواکونو سره مل شي ، مگر هیڅ دغسې اجازه ورنه کړای شوه . ( ٥٠ ) اخر داچې ، دځاځیو ، احمد زیو او منگلو دکامونو جرگې پریکړه وکړه چې له برتانوي ممانعت سره سره دې پر وزیرو دمرستې بړغ وشي .

نادر شاه همدارنگه دهغو مالي او پوځي مرستو جزئیات او ارقام هم ورکړل چې دبرتانیې له خوایې ترلاسه کړي ول ، مگر دایې هم زیاته کړه چې نوموړې

مرستې ځکه دملامتۍ وړ نه دي چې دا پخوا امان الله خان ته هم ورکړل شوي او په دې لړ کې دفرانسې او جرمني په ګډون دګڼو هیوادو مرستې شاملې وې. (۵۱) نادرخان ټینګار وکړ چې دابهرني پورونه به دده پر بهرنۍ تګ لاره اغیزه ونه کړي او ثرګنده یې کړه چې: «افغانستان به تل دخپلو اروپایي ګاونډیو تر منځ انډول وساتي،» نادرشاه دقبایلي ستونزي پر هکله ډاګیزه کړه چې د پولې پر دواړو خواوو افغانان «دخپل ملیت او اسلامیت له مخې اصلاً یو اولس دی (له یو نژاد او مذهب څخه دي). » (۵۲)

دنادر حکومت سره له دې چې پر څرخي ورونو شکمن و چې هغوی دافغانستان په دننه او دباندې کې د یو لړ ښورښونو او پټو فعالیتونو تر شا ولاړ دي او هغوی یې دامان الله خان پلوه ځواکونو مخکښې لاربښوونکي ګڼل خو بیا یې هم له چټکې لاس اچونې څخه کار وانه خیست، څرخي ورونه باید د پخلاینې له مخې نوی رژیم منلی وای یا داچې په کابل کې یې باید له نوي رژیم سره تر سولې وروسته خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړی وای. غلام جیلاني ته (چې د ۱۹۳۰ داګست راهیسې په کابل کې اوسیده) په توکیو کې دافغاني سفیر څوکۍ ورکړه. مګر هغه ونه منله. نوموړي له دې سره سره، په (۱۹۳۲) کې په ښکاره دپخلاتوب پر غرض دافغاني واکمن دپیغام پر وړلو سره برلین ته ولاړ. داصلاح ورځپاڼې د (۱۹۳۲) دجولای پر (۲۱ مه) دغلام صدیق او نادر شاه تر منځ دلیکونو دراکړې جریان خپور کړ، غلام صدیق څرګنده کړه چې غلام جیلاني برلین ته راغی او له افغان اولس سره یې دنادر شاه دمینې او دڅرخي کهول سره یې دهغه له ښه نیت څخه خبر کړم. غلام صدیق دپاچا ددې خواخوږۍ څخه دمننې په څرګندولو سره دخپلې کورنۍ دبیعت او هیواد ته دخدمت کولو ژمنه وکړه. ده له نادر شاه څخه

وغوښتل چې دڅرخي کورنۍ کوم غړی وټاکي چې کابل ته وخوځي او هلته «خپل صداقت او وفاداري ثابته کړي » او ددې ژمنه وکړي چې « ترڅو موږ ژوندي یو اوساه را په کښې چلیږي دملت او حکومت لپاره به له هیڅ رنګه سربښندنې څخه ونه غورځو . » نادرشاه مثبت ځواب ورکړ او غلام نبي خان یې راوباله چې له شاه ولي خان سره پرګډه کابل ته راشي . (٥٣)

غلام نبي د (١٩٣٢)داکتوبر پر (١٣ مه) کابل ته راورسید او دځینو سرچینو له مخې نورنو هغه وخت رارسیدلی وچې دغه دواړه ځواکمنې کورنۍ سره پخلاشي ، یوه له دې حل لارو څخه چې وړاندې شوه په خپلو کې له ودونو سره ورکول وه . دځینو نورو سرچینو له مخې ، غلام نبي ته وړاندیز وشو چې ده ته به « تنخواه مقرره او ورونو ته به یې ښې لوړې څوکۍ ورکول شي په دې شرط چې دی به استانبول ته ځان باسي او په راتلونکې کښې به له هر رنګه سیاسي فعالیتونو څخه ډډه کوي . » (٥٤) غلام نبي مهلت وغوښت چې پر دغه وړاندیزباندې غوروکړي .

باید وویل شي چې (١٩٣٢) کال له پیښو څخه ډک یو کال و ، له هماغه پیل څخه یې داراپوروونه ووچې « دسور کمیسو ( تبلیغاتو دمنګلو او ځدرانو منځ کې لسونې را منځته کړې » او هم داچې دځینو ګومارلو مثلاً له بنو څخه ددوران نومي له خوا چـــې د (١٩٣٢) په اګست کې نیولی شوی هم و . دامان الله خان پلوه تبلیغات دخپریدو په حال کې دي ، دجنګ وزیر شاه محمو د له څه ناڅه یو لوی پوځ سره داکتوبر پر (٢١ مه)ګردیز ته وخوځید چې هلته سیاسي اوضاع وڅیړي خو کله چې له دوو اوونیو څخه وروسته کابل ته راستون شو نو دیوې پټې توطئې دکشف خبریې راوړ چې څرخي ورونو طرح کړې وه ، نادرشاه هم غلام نبي ارګ ته وغوښت او دحکومتي سرچینو پر

اساس یې اړونده مدارک او شواهد وربښکاره کړل. نادرشاه تر استدلال او مناقشې وروسته دهغه دسملاسي غرغره کولو امر وکړ. یوې حکومتي اعلامیې دا د یو خاین له منځه وړل « وبلل او څرخي ورونه یې پر خیانت او لوزماتولو سره وتړل او هم یې د غلام نبي اعدام کول او د غلام جیلاني او دهغوی دګڼ شمیر خپلوانو نیول پر ډاګه کړل ». (٥٥)

البته (۱۹۳۳) کال د نادر شاه او غلام نبي د کورنیو تر منځ د نورې وینې بهولو کال و، د (۱۹۳۳) د جون پر شپږمه سید کمال په برلین کې أفغاني سفارت ته ننوت او د نادر شاه مشر ورور سردار عبدالعزیز یې وواژه. دغه قتل سیاسي انګیرنه لرله. سید کمال پر ډاګه کړه چې دا کارمې په افغانستان کې د زیاتیدونکې برتانوي اغیزې دغندنې پر خاطر وکړ. دا چې د دې عمل تر شا د څرخي د کهول هیڅ لاس لرنه ثابته نشوه نو وژونکی پرته له شکه د امان الله خان یو پلوي وخوت، سید کمال دهغې لومړنۍ ډلې یو افغان زده کونکی و چې په (۱۹۲۲) کې جرمني ته استول شوی او هلته د انجینیرۍ او سمنتو په صنعت کې دعملي زده کړې لپاره نور پنځه کاله هم پاتې شوی و. دی په (۱۹۲۸) کې کابل ته راستون شو خو د کورنۍ جګړې پر وخت بیرته جرمني ته د استوګنې لپاره ولاړ شو چې وروسته یې دغه قتل وکړ. (٥٦)

دې پېښې دوه مهمې نتیجې لرلې: یو دا چې د نوي رژیم او دهغه د مخالفانو تر منځ یې دښمني نوره هم زیاته کړه او بل دا چې د جرمني او افغانستان تر منځ یې اړیکو ته سخت تاوان ورساوه، ځکه کابل فکر کاوه چې جرمني د افغان استازیو دساتنې پر اړه په خپلو ذمه واریو کې پاتې راغلی دی.

کله چې عبدالعزیز دافغان سیاسي نماینده ګۍ دلاربښوونې پر غرض برلین

ته ولیږل شو نو افغان حکومت څرګنده کړه چې نوموړي تاکنه دغه اهمیت پر بنا شوي چې افغانستان یې جرمني ته ورکوي . ( خو بیا هم ښایي اصلي علت یې داوي چې هم شاه ولي خان چې پر لندن کې سفیر تاکل شوی و او هم عبدالعزیز دواړو نه غوښتل چې دصدراعظم هاشم خان تر لاس لاندي کار وکړي . ) محمد هاشم ادعا وکړه چې دجرمني حکومت منلې وه چې دافغاني سفیر دساتنې پر خاطر به ځانګړي احتیاطي ګامونه اوچت کړي چې په جرمني کې دجلا وطنه استوګنو افغاني مخالفانو له خطر څخه ژغورلي وي. ( ۵۷ )

جرمني حکومت څرګنده کړه چې داناشونې ده چې یوه تول تال ګرانتي دې شوې وای ، ځکه داد « خدای له خوا دپیښیدونکې ارادې » مانا لري ، مګر بیا هم ټول ممکنه انساني ګامونه اخیستل شوي وو . خو له دې سره سره نو موړی جرم په افغان سفارت کې ( چې دجرمني له قضائیه دایرې څخه بهر و ) . پیښ شو . ( ۵۸ )

دجرمني بهرنیو چارو وزارت چارواکو ځانونه په یو ناوړه حالت کې محسوس کړل . داچې جرمني په دې مسئله قانوني واک نه لاره ، دزیات اصرار وړنه وه ، که نه افغانستان به ترې غوښتي واې چې مجرم دې سفارت ته ورتسلیم کړی شي چې دخپل عمل پر سزاورسیږي . ( ۵۹ ) خپل هیواد ته دکوم مجرم یا مقصر ورسپارنه پر سیاسي جرم دلالت نه کاوه او که یې احیاناً کولای هم نو افغانستان بیا دلویدیځو هیوادو سره هیڅ دغسې ژمنلیک نه لاره . له دې سره سره بیا هم جرمني په دې خوښ و چې سّید کمال افغانستان ته ورتسلیم کړي لاکن مشکل په دې کې وه چې دغه کار څنګه وکړي ، یوه لار داوه چې نوموړی بندي به د « آزاد سمندر » له لارې افغاني چارواکو ته

ورسپاري خو بيا به هم وروسته له دې دځمکنۍ لارې څخه که باالغرض نبغ په نبغه دشوروي اتحاد له لارې نه وي نو دايران يا هند په خاوره کې خو حتماً بايد تيرشي او بيا افغانستان ته ورکړل شي . مگر له جرمني او افغانستان څخه پر ته په کوم بل هيواد کې سيد کمال ددريم هيواد دقانون له مخې په هيڅ کوم جرم متهم نه گڼل کيده . دا هم څرگنده شوه چې ديو مجرم دانتقال لپاره دترانزيټ حق هم ناشونی دی . ځينې لارې چارې مثلاً دکومې بيړۍ دربست نيونه دجرمني له کوم بندر څخه دبندي دانتقال پر خاطر يا په سمندر کې دهغه اعدامول هم ناشونی کارو نو جرمني پر همدې وجه تريوه اته مياستني ځنډوروسته ، په داسې حال کې چې افغاني مقامات هم خورا خوابدي وو ، دورسپارلو له مفکورې څخه تير او فيصله يې وکړه چې سيد کمال په يوه جرمنۍ محکمه کې محاکمه کړي ، اخر داچې سيد کمال د ( ١٩٣٤ )دجولای پر شپږم دعبدالعزيز تر وژنې څه باندې يو کال وروسته ، ديو مخکني سنجول شوي قتل په تور پر مرگ محکوم او شپږ مياشتې وروسته د ( ١٩٣٥ ) دجنورۍ پر څوارلسمه اعدام کړای شو ، جرمن حکومت دهماغه پيل څخه په دې پوهيده چې دغه ځنډنی بهير دافغان حکومت له هيلو سره سم درومي. ( ٦٠ )

دواکمنې کورنۍ او دهغې دمخالفانو ترمنځ دمبارزې دادرامه په دې ډول پای ته ونه رسيده . د ( ١٩٣٣ ) د سپتمبر پر شپږمه دبرلين له دې پيښې څخه پوره درې مياشتې وروسته محمد عظيم په کابل کې دبرتانيې سفارت ته دبرتانوي سفير مکوناشي دوژلو پر نيت ورننوت خو کله چې پوه شو چې سفير نشته نو درې هغه کسان چې مخې ته يې ورغلل وويشتل يانې يو انگريز ميخانيک ، يو هندي او دريم دسفارت يو افغان کارکونکی و . ده

وروسته ځان پولیسو ته تسلیم کړ . ددې عمل انګیرنه یو ځل بیا سیاسي وه . محمد عظیم ادعا وکړه چې ده غوښتل په افغانستان کې پر برتانوي اغیزې باندې اعتراض وکړي او هیله من وچې دده پر دې عمل سره شاید افغاني واکمنان له برتانوي هند سره پر جګړه اخته شي ، دمکوناشي له خولې محمد عظیم خان دسید کمال دیو ملګري او پیرو پر توګه وښودل شو او ویې ویل چې غوښتل یې :« دبرتانیې او ځوانوافغانانو دسازمان تر منځ جوړښت متا ثر کړي ، ځکه داسې عامې ګنګوسې وې چې برتانیې افغانستان پر پټه خوله دځان کړی دی . . . . » ( ٦٠ ) محمد عظیم په اماني لیسه کې د الماني ژبې ښوونکی او په عین وخت کې دځوانو افغانانو دسازمان د جرمن پلوه ډلې او هندي هیواد پالو سره په نږدې تماس کې و چې یو وخت په جرمني کې واو په ځینو مواردو کې یې دیو هندي انقلابي په کافي کښې له نږدې سره کتل چې په دې ډول دکابل دشرایطو په باره کې خپل نارضائیت ښکاره کړي او پر هغه سره ورغبرګ شي . ( ٦٢ )

دکابل حکومت پر بیړه عمل وکړ . محمد عظیم دسپتامبر پر (۱۳مه) نیټه اعدام شو خو ورسره شپږکسه نور مشهور بندیان هم غرغره شول . په دې ډله کې محمد ولي چې دامان الله خان خارجه وزیر او نائب السلطنه هم وُ دغلام جیلاني څرخي په شمول اعدام کړای شول . ( ٦٣ ) ګڼ شمیر ونیول شول او واکمنې کورنۍ فکر وکړ چې پر دې پریکړې سره نورنو وضع تر کنترول لاندې راغله ، په حقیقت کې یو شورښ په خوست کې وځپل شو او تر هغه وروسته لیونی فقیر د ( ۱۹۳۳ ) په اکتوبر کې افغاني حکومت ته تسلیم شو . صدراعظم محمد هاشم خان دوضعې دڅیړلو پر غرض دهیواد شمالي سیمو ته پر یو سفر وخوځید چې له ځان سره یې دمالیې او بهرنیو چارو وزیران هم

بو تلل، مگر سره له دې چې کابل آرام معلومیده خو بیا هم په هماغه کال د کابل دفتحه کیدو ورځ ونه لمانځل شوه .

دنوو واکمنانو او مخالفانو ترمنځ دښمني د ( ۱۹۳۳ ) دنوامبر داتمې نیټې دماسپښین پر پاوکم دریو بجو د نادر شاه پر وژلو سره خپل اوج ته ورسیده . (٦٤) دا وژنه دارگ په چمن کې هغه وخت پېښه شوه چې نادر شاه دفرانسوي او جرمني ژبو لېسو څخه فارغ شو یو زده کوونکو ته انعامونه ورکول . له دې زده کوونکو څخه یو چې عبدالخالق نومیده پر نادر شاه فیرو کړ او هغه یې وواژه . عبدالخالق او ګن شمیر زده کونکي او هم د دواړو لیسو مدیران سمدلاسه ونیول شول ، دجرمن او فرانسوي پروفېسورانو دانګیرنې له مخې شاهي ګارډ پر خورا ستونزې سره ددې هلکانو له ډله بیزه وژلو څخه راوګرځول شو . (٦٥)

که څه هم چې نادر شاه له دې برید سره سم یا یوازې څو دقیقې وروسته مړ شو ، لاکن حکومت داحتیاط پر خاطر اعلان وکړ چې پاچا یوازې زخمي شوی دی . له بهرنۍ نړۍ سره ټول تلګرافي او پوستي اړیکې غوڅې کړل شوې او شاه محمود خان دکابل ملکي او پوځي لوړرتبه شخصیتونه ارګ ته راوبلل . ( دیوې منبع له مخې دپوستې عمومي رئیس په خپل سر تلګرافي لین بند کړ . ) (٦٦) شاه محمود وروسته دمخورو او لوړو کسانو غونډې ته دپاچا مړینه اعلان کړه او دنادر یو وېشت کلن زوی محمد ظاهر ته یې بیعت ورکړ او په عین حال کې یې له ټولو څخه هم کټ مټ غوښتنه وکړه . دمازیګر پر شپږ بجو ( له وژنې څخه صرف پاو باندې درې ساعته وروسته ) شاهي سلامي دنوي پاچا تاکنه اعلان کړه . (٦٧)

دعبدالخالق دا عمل پر څرګنده دقتل غچ اخیسته وه . ځکه دا پیښه دغلام

نبي دمړينې دکاليزې پر وخت منځته راغله ، نوموړي غلام نبي دقاتل پلار پر کار درولی و . (٦٨) دې پوښتنې ته ځواب خورا مشکل ښکاري چې آيا داعمل خو به ديوې لويې توطيې کومه برخه نه وي چې مقصد به يې دواکمنې کورنۍ راپرزول و و . دافغانستان په دننه او دباندې کې يو لړ پيښو ته ديوې لويې توطيې پر توګه (چې پر خورا ناوړه ډول سره طرح شوې وه )کتل کيدل خو بيا هم داسې مدارک رامنځته نشول چې پر غوڅه دغسې انګيرنه ترې راووځي ، زياتره دغه پيښې ( چې نتيجه يې هم نه لرله) دامان الله خان پلوه کسانو له خوا دهغه رژيم پر وړاندې رامنځته کيدې چې دوی يې له قدرته غورځولي وو . دپاچا وژنه هم چاروا کو او هم مخالفانو ته دخورا حيرانتيا سبب شوه ،ځکه حکومت دګارډ له خوا ساتل کېده په داسې حال کې چې مخالفانو نشو کولای چې درژيم درانسکور ولو لپاره اوضاع په خپله ګټه واړوي . (٦٩)

کسات اخيستنه پرته له ځنډه پيل او په سلګونو شکمن کسان بنديان او وځړول شول چې په هغوی کې دڅرخي کورنۍ خپلوان او دامان الله خان دپلويانو شمير خورازيات و (٧٠) دا اصلاً دمخالفانو او د نويو افغاني واکمنانو ترمنځ دډ غروتر ټولو خونړۍ پړاو و ، ځکه زياتې وينې خصوصاً له لوړو کسانو څخه وبهيدې چې په دې لړ کې واکمنانو او مخالفانو دوروروژنې پر جګړه کې په يو نه پخلاکيدونکي ډول سره جدي برخه واخيسته . داچې له دواړو خواوو څخه ډير ښه کسان ووژل شول نو مير ځمنويوازې خپل تلفات ترلاسه کړل او بس او فقط په دغه اسلامي اصل سره يې ځانونه ډا دورکړچې :

انا لله وانا اليه راجعون !

نادر شاه او دهغه وروڼو دامان الله خان او دهغه دلويو ملاتړو غوندې

روحيه لرله ،دوى تولو ترقي او عصري کيدنه غوښتله آن داچې دافغانستان دعصري کولو لپاره ددوى تولو هيله اساساً سره ورته وه خو بيا هم نادر شاه دامان الله خان پر پرتله د تولنې واقعيتونه زيات په نظر کې لرل او په دې پوه وٸ چې پر دغو تولو سر بيره افغانستان يو عصري او ښه مجهز پوځ ته اړتيا لري چې حکومت ته ددې توان ورکړي چې پر افغاني قبايلو تکيه او وکولای شي چې دقبايلي ځواک ماتيدونکې اغيزه محدوده کړي . دغه دواړه افغاني پاچايان پر هيواد له حده زيات مين وو او ددوى مخالفتونه ددې مسئلې پر سر وو چې ديو هدف لپاره اساساً کومې لارې چارې بايد خپلې کړای شي .

# بهرنی سیاسي ستونزې

دنادرشاه رژیم پر عمومي توګه له دریو بهرنیو سیاسي ذمه واریو سره مخامخ و : ( لومړی ) له جرمني سره دافغانستان په اړیکو کښې داقتصادي او سیاسي کړکیچ حل (. دویم ) په افغانستان کې د شوروي اغیزې له منځه وړل (دریم ) په هندي سرحد کې دبرتانیې دراوړاندینې دتګ لارې پر وړاندې کلک والی . داټولې ستونزمنې دندې وې او یوازې لومړنی یې د ( ۱۹۳۰ ) لسیزې په اوږدو کې پر بریالیتوب سره بشپړه شوه .

جرمني ، افغانستان ته یوازینی پور ورکونکی او دامان الله خان په پرمختیایي پروګرام کې عمده شریک هیواد و . دغه تړاو دکورنۍ جګړې پر وجه وشکیداو په افغان حکومت کې بدلون دجرمن - افغان تجارتي تړونو نه ګډوډ کړل خو بیا هم دواړه هیوادونه په دې وتوانیدل چې دامان الله خان رژیم ته دجرمني له خوا دورکړي پور د ادا کولو مسئله پرته له کومو ستونزو سره حل کړي . دډاکوم له ډیوالي کیدو څخه را منځته شوي مسایل خورا جدي وو

لاکن بیا هم دا مشکل تر (۱۹۳۵) پورې حل شو . مګر په جرمن - افغان اړیکو کښې خورا جدي او ګواښمنه ستونزه له هغه سیاسي کړکیچ څخه عبارت وچې ددواړو هیوادو پر وړاندې پروت و.

دجرمن - افغان اړیکې پرته له شکه ددریو هغو وژنو له امله اغیزمنې شوې چې مجرمانو یې ګډه وجه سره لرله : هغه دا چې ټول دجرمني زده کړو ماضي لرونکي وو ، وژونکي دامان الله خان ملاتړي وه او افغاني واکمنان په دې شکمن وو چې دهغوی داکړنې دهغسو پراخو مبارزو یوه برخه ده چې غلام صدیق یې له برلین څخه لارښوونه کوله او هدف یې دنوې واکمنې کورنۍ تباه کول وو.

افغان حکومت په دې فکر نه و چې جرمني دتیروڅوکالو په بهیر کې کوم لاس لاره خو کابل داهم له پامه ونه ایستله چې جرمنیان دامان الله خان دسمونتیا وو غړي او اصلي ګټندویان ګڼل کیږي ، جرمنیانو دانفلاسیون او لوی اقتصادي بحران پر وخت په افغانستان کې نسبتاً ښه ګټمن دریځ خپل کړاو جرمني صنایعو دصادراتو لپاره هلته پر وخت په افغانستان کې جرمني ښوونځي ، دجرمني کار پوهانو شته والی ، له افغاني اشخاصو سره دجرمنیانو شراکتونه دا ټول عوامل په افغانستان کې دجرمني دسودا ګرۍ ، صنعت او کرنې په برخه کې ډیر اغیزمن شول ، جرمنیانو په افغانستان کې دنورو بهرنیانو غوندې ، دافغاني دولت دعصري کولو په بهیر کې کلتوري اغیزه وښندله ، څکه نو دیو سیاسي عامل بر توګه واوښت ، پر جرمنیانو باندې چې دامان الله خان خورا نژدې ملګري وو ، دهغه درژیم دملاتړو شک او ګومان کیده . نوموړې انګیرنه ټول تال بیځایه او نامعقوله نه ده او کیدای شي له هغه حقیقت څخه یې اندازه ولګول شي چې دهټلر دجرمني دبهرنیو

چارو وزارت ددويمې نړيوالې جګړې په پيل کې پر هغو امکاناتو فکر کاوه چې څنګه امان الله خان بيرته قدرت ته ورسول شي . ( راتلونکو څپرکو ته دې کتنه وشي . )

نادر شاه او ورونه يې کټ مټ دامان الله خان غوندې له جرمني سره د ګډې مرستې پلويان وو . هغوی د پرله پسې مرستې آن داچې جرمن - افغان اړيکو د لاتېنګښت غوښتونکي وو . ځکه چې جرمني په برلين کې د عبدالعزيز دوژنې تلافي کړې وه . دادراتلونکي صميميت پر وړاندې يو ګواښ و او دجرمن - افغان اړيکې دقاتل تر محاکمې پورې ځنډيدلې وې . دجرمنيانو ترونونه ختم شوي يا پر ختميدو وو ، لاکن افغان حکومت په برلين کې ددې مسئلې تر اوارۍ پورې نه غوښتل چې هغه له سره نوي کړای شي . دافغان حکومت چاروا کو په بيلو بيلو وختونو کې داسې انګېرله چې په برلين کې به دقاتل دمحاکمې ناکامه کيدل دجرمن - افغان اړيکې ناځواکه او آن دسياسي اړيکو دبشپړ بندښت سبب به شي . ( ۷۱ )

په پای کې جرمن او افغان حکومتونو دواړو نه غوښتل چې دغسې دې وشي . دجرمن دبهرنيو چارو وزارت مامورانو روغه وکړه چې دوی په کابل کې دحکومت له بدليدو سره کومه مينه نه لري او دنادر له رژيم سره به هم خپل هغسې ښه کارته دوام ورکړي ، لکه څنګه چې له مخکني رژيم سره يې کاوه . ( ۷۲ ) پردې مهال دجرمني ګټو اصلاً اقتصادي جنبه لرله او نادر دجرمني اغيزوته دومره ليوال و ، څومره چې امان الله خان و ، په کابل کې جرمني سفير هربرت شووريل د ( ۱۹۳۳ ) پداګست کې له افغانستان څخه ووت او درې مياشتې وروسته يې پر ځای کورت زيمک وټاکل شو . شوربل په کابل کې خپل اغيزمن توب خصوصاً په دې خاطر بايللی وچې افغان حکومت ويل ده

ډاډ ورکړی دی چې د عبدالغزیز دساتنې لپاره به ځانګړي کوښښونه کوي . ( ۷۳ ) زیمک دا خپل خاص مسئولیت وباله چې داړیکو دنوي سنبالښت لپاره به لار اواروي .

نادر شاه او وزور یې محمد هاشم خان دافغاني واکمنانو هغه مفکوره رواخیسته چې روسیه او برتانیه به یې یو له بله لیرې سره ساتل او دامیر عبدالرحمن خان څخه را پیل شوې وه . امان الله خان دافغانستان له ګاونډیو څخه جرمني دسیاسي اغیزمن داندول ساتلو او دافغانستان پر مختګ لپاره دکار پوهانو او پانګې دبرابرولو پر خاطر ددریم ځواک پر توګه غوره کړ . اقتصادي نفوذ کوم تکړه غیرښکېلاکي ځواک ته ددې توان ورکولای شو چې هغسې کار وکړي چې افغانستان یې له خپلو ګاونډیو څخه تمه نه لرله نو ځکه دا ددومره دحیرانتیا وړ خبره نه ده چې جرمني په افغانستان کې خپل دریځ همداسې ساتي .

کله چې شوورېل د (۱۹۳۳ ) په اګست کې له افغانستان څخه ووت نو پر ډاګه یې کړه چې: « په (۱۹۳۱ ) کې دجرمني فعالیتونو بشپړ رالویدنه او س جبران شوې ، جرمن کارپوهان دافغاني ادارې په هره برخه او هم دصنعت دپرمختیا په هره څانګه، لکه نساجي ، غوړو ، سمنتو ، چاپ ، ترکانۍ ، رنګونې او دماشین توکونو په ترمیم کې شته دی . » (۷٤)

که څه هم چې جرمني څه امتیازات له لاسه ورکړل خو اوضاع دنوي پیل لپاره سمه ښکاریده او یوازې په برلین کې منځته راغلو وژنو نژدې کیدونکې اړیکې څه وځنډولې . افغانستان ددې ستونزې تر اوارۍ وروسته دې ته چمتو شو چې خپل اقتصاد ته بیرته لوری ورکړي چې له جرمني سره خپل اقتصادي شرکت که ونه نښلولای شي ، نو ورنژدې خوېې کړي .

دنادر شاه دامارت پر وخت دشوروي اتحاد اوبرتانيې پر وړاندي افغان بهرنۍ تګ لاره په کابل کېد برتانوي سفير « سر ريچارډ مکوناشي » له خوا ډيره ښه رالنډه کړای شوې ده : « دنادرشاه بهرنۍ تګ لاره چې په خپله ده او صدراعظم يې څرګنده کړې ، اصلاً يوه غلې کوونکې جنبه لري ، تر هغه ځايه چې دهيواد دبيا جوړښت لپاره دحکومت منابع بايد ډېر وکلونو لپاره ولګول شي نو داورته لازمه ده چې له ټولو بهرنيو ځواکونو سره وروږګلويزه اړيکې خصوصاً دکوم تيري دمخنيوی پر خاطر ټينګ کړي . دافغاني پولې آخواسيمو کې بايد لاس وهنه ونشي او دروسيې ترکستان او هند پراړوند بايد دامان الله خان « الحاق کوونکې » تګ لاره پر زغرده تم کړای شي ، دغسې يوه تګ لاره به دسليم عقل سره برابره او په هيڅ ډول به دبې احترامۍ وړنه وي . » ( ۷۵ )

مکوناشي پر ډير ه سمه توګه يولړ هغه ستونزې چې دشوروي - افغان اړيکې يې ترجدي اغيزې لاندي راوستې وې ، په ګوته کړي دي . عام افغاني ذهنيت شوروي اتحاد تر ډيرې اندازې دامان الله خان دوست باله ، کټ مټ هغسې لکه څنګه چې ځينو کسانو نو برتانيه دنادرخان درژيم ملګرې بلله . غلام نبي دبچه سقاو له ځواکونو سره په شمال کې و جنګيداو هيواد ته دشوروي اتحاد له خوا ننووت ، په داسې حال کې چې نادر خان عيناً دهندله لارې افغانستان ته داخل شو . لکه څنګه چې ځينو افغان واکمنانو پر شوروي اتحادباندې دغلام نبي سره دخوا خوږۍ پر اړه شک لاره ، کټ مټ دامان الله خان پلويان او ملاتړي بيا دنادر له رژيم سره دبرتانيې پر خواخوږۍ باندې شکمن وو .

له عبدالرحمن خان څخه را په دېخوا هر افغان واکمن دخپلو دوو اروپايي

گاونډ یو نفوذ ته انــــډول ورکوونکې تګ لاره پر ښه ډول پلې کړې ده .

د امان الله خان دا خوښه وه چې شوروي اتحاد ته وروښکېږي په داسې حال کې چې نوي افغان واکمن بیا وېتیېله چې د دې مهال رارسیدلی چې هغې بلې خوا ته خپله اشاره ولګوي . د مکوناشي له خولې : « د چکه پاو دانې د برتانیې پرګټه ولوې دې او هر څوک او په دې لږ کې شوروي حکومت هم په دې باوري شو چې لوبه یې په زیان روانه ده او د ضرورت په وخت کې خو د لارنس طرح چې هماغه نهایې ښکر پر ښکر کېدنه ده ، له مخکې څخه لا تیاره پرته ده . » ( ۷٦ )

شوروي اتحاد که څه هم چې یو ځل بیا دلومړني هیواد پر توګه د نادر خان حکومت پر رسمیت وپېژاند خو ژر معلومه شوه چې متقابل او بد ګومانیو د دواړو حکومتونو ترمنځ په اړیکو کې رښتیا نی اخلاص پر تپه ودراوه . شوروي اغیزه په تیره بیا دالوتنې په برخه کې چې اکثره پیلوټان او تخنیک کاران شوروي اتحاد ورکول ، د امان الله خان په زمانه کې ترلمر سپینه وه . هوایي چلن د ( ۱۹۲۷ ) راهیسې د شوروي له ترمز څخه تر کابل پورې منظماً فعالیت کاوه . د شوروي - افغان اړیکې پر هغه تړون باندې تکیه وې چې افغانستان ته یې د هغه هیواد له خوا د مالي امتیازونو او له شوروي څخه اوره اعاده کوله . د امان اله په عصر کې د مالي مرسته پر نامنظمو ځنډونو سره ورکړل شوې خو د تړون د پلي کولو په برخه کې اختلافات جوړوه او داړونده سرحدي سیمو نېغه ورسپارنه یې په دې دلیل له ځنډونو سره مخامخ کړه چې : « د انصاف معیارونه او د هغې سیمې د خلکو خپله ځاني اراده هم باید په پام کې ونیول شي . » ( ۷۷ ) د شوروي د منځنۍ آسیا د مسلمانو سیمو په اړه د امان الله خان ګونګې تګ لارې او له باسمچې یاغیانو څخه د ده پټ ملاتړ

شوروي اتحاد دي ته اړيوست چې ددغه تړون له عملي کولو څخه ځان وکاږي .

نادر خان په داسې يوه وضع کې راغی چې دهغې له مخې افغانستان د ( ۱۹۲۱ ) دملگرتوب او هم د ( ۱۹۲٦ ) کال ناپېيلتوب او نه تيري او همدارازد ( ۱۹۲۷ ) کال دالوتنو تړونونه لاسليک کړي وو. ( ۷۸ ) اصلي ستونزه په دې کې وه چې افغانستان له شوروي اتحاد سره څنگه خپلې اړيکې عادي کړي او په همدغه وخت کې دشوروي دسياسي نفوذ بندښت که مشکل وي نو اقتصادي نفوذ خويې اقلاً بايد تم کړي .

هغه عمده ستونزې چې له منځه وړل يې لازمي وه په دې ډول وې : ( ۱ ) د ( ۱۹۲٦ ) کال دناپېيلتوب په تړون له سره خبرې اترې کول.( ۲ ) ديو تجارتي تړون لپاره تيتهوالی . ( ۳ ) دسوروي دهوايي امتيازاتو پراختيا.( ٤ ) ديو سرحدي کميسيو ن جوړول.( ٥ ) ديو پوستي تړون تر تيبول.( ٦ ) دکډوالو مسئلې ته دحل ميندل.( ۷ ) دملخانو دله منځه وړلو لپاره دوه اړخيزه هلې ځلې. ( ۷۹ ) دنادر حکومت خپله تگ لاره پر داسې لارو چارو ودروله چې دهغې له مخې به نوموړې ستونزې له منځه تللې .

له شوروي روسيې سره د ( ۱۹۲٦ ) کال دتاپېيلتوب پر تړون له سره خبرې اترې پيل شوې او نوی تړون د ( ۱۹۳۱ ) دجون پر ( ۲٤ مه )لاسليک شو ، پربنېکاره دشوروي پر نوښت دوه مادې پرې زياتې کړای شوې چې هردولت يې په خپله خاوره کې له داسې هلوځلو څخه منع کاوه چې دهغو له مخې دبل لورې « دپوځي يا سياسي زيان باعث گرځي » سر بيره پردې ، دواړ وځواکونو له گاونډيو سره دپټو تړونونو له لاسليک څخه هم ډډه وکړه . ( ۸۰ ) ددغو مادو څرگند هدف داو چې دامان الله خان او باسمچې مشر ابراهيم بيگ دپلويانو دمبارزې مخه به نيسي چې غوښتل يې دنادر خان له رژيم سره

هغسې ډغرې ووهې ، لکه له بلشویکانو سره چې یې وهلې وې ، افغان حکومت په دې شکمن و چې ابراهیم بیګ د حکومتي ځواکونو له خواله افغانستان څخه شړل شوی و ، د ناپیلتوب د دې ترون ترلاسلیک یوازې یوه ورځ مخکې په شوروي اتحاد کې نیول شوی و . ( ۸۱ ) له دې ویریم یاګاونډي ځواک سره د کوم پټ ترون له نه کولو څخه موخه د شوروي پر هغه شک باندې ولاړه وه چې ویل یې افغانستان له برتانیې څخه د مرستې په بدل کې د شوروي ضد ژمنو په کوم ترون کې ورګډ شوی دی ( ځینو جرمني چارواکو داسې انګیرل چې له شوروي اتحاد سره له دغه ترون څخه هدف قبایلو ته داسې ورپامول وو چې ګواکې د نادر خان رژیم یو برتانوي پلوه حکومت نه دی . )

د یو تجارتي ترون لپاره خبرې اترې د ( ۱۹۳۶ ) ترمې پورې پر نوبتیزه توګه جاري وې یانې څو چې د سهامي شرکت ( چې وروسته په ملي بانک سره ونومول شو ) رئیس عبدالمجید د شوروي د سوو افګاتورګ سره یو ترون لاسلیک کړ . ( ۸۲ ) د مسئلې اصلي مشکل په دې کې وچې شوروي اتحاد یو داسې ترون غوښت چې د هغې له مخې به « د رسمي نمایندګیو له لارې د شیانو راکړه ورکړه ترسره کیږي » او هیله من و چې « د غسې نمایندګۍ به د افغانستان په ټولو مهمو ښارونو کې خلاصیږي او د هغوی د تجارتي مامورانو او شتولپاره به ځانګړې ځمکني حقوق خوندي کیږي . » ( ۸۳ )

افغان حکومت نه یوازې شوروي اتحاد بلکې هر بهرني ځواک ته د دغسې امتیازونو پرنه ورکولو ډیر کلک ولاړ و ، دا ځکه چې د دغسې تجارتي نفوذ د سیاسي پایلې له ورایه څرګندې وې ، افغانستان د ( ۱۹۳۰ ) لسیزې په لومړیو کې د خپل اقتصادي کړکیچ پر وخت د نړۍ په بیلابیلو برخو کې بازار میندنې ته تر خپله توانه لاس واچاوه ، د بیلګې پر توګه په ( ۱۹۳۲ ) کې

شوروي اتحاد دکندهار دوړیو فابریکې تول محصولات وروسته له هغه چې افغانستان په هند کې دبازار لټونې په ناکامه هڅوبوخت و ، وپیرېدل. (۸٤)

دشوروي الوتنې امتیاز چې دامان اله رژیم له تاشکند څخه ترکابل پورې دالوتنې پر خاطر ورکړی و ، یوه بله ستونزه ګڼل کیده چې پر آسانۍ سره نشو حل کیدای ، نوي افغان حکومت نه غوښتل چې دا امتیاز دې نور پاینبت ومومي ، ځکه هیله من و چې دجرمني « جنکر هوایي شرکت » به له ایران څخه افغانستان ته خپلې الوتنې پراخې کړي . داخبرې اترې د (۱۹۳۲) تر مارچ پورې روانې وې ، مګر دجرمنۍ کمپنۍ سره کوم تړون تر لاسه نشو . (۸۵) همداوجه وه چې شوروي حکومت دکوم تړون له شته والي څخه پرته خپلو الوتنو ته دوام ورکړ ، لاکن دا چلن یوازې دکابل او تاشکند تر منځ دشوروي سفارتکارانو پر لیږدولو باندې محدود پاتې و . ماسکو عقیده لرله چې دا کار ځکه کیږي چې دمزار شریف او کابل تر منځ په هر موسم کې ځمکنۍ باوري لارنشته چې دموټر له لارې وړل راوړل پرې تر سره شي . (۸٦) خو دیو لسونکي عمل پر توګه دمهند ،راپرتاپ په ګډون ځینو هندي انقلابیانو له دې الوتنو څخه ښه استفاده وکړه ، نوموړي په کابل کې دنابلل شویو میلمنو غوندې کله ناکله ښکاره کیدل ، هیڅ کوم شوروي وګړي له افغانستان څخه دوتلو پر وخت نشو کولای چې له دې هوایي لارې څخه شوروي ته دتیریدو اجازه تر لاسه کړي ، لاکن الوتنې نامنظمې وې ، ځکه نو دغه هوایي شرکت هم خپله نړیواله ځانګړتیا له لاسه ورکړه ، شوروي پیلوټان او دالوتکو انجینیران دنادر خان درژیم په لومړیو میاشتو کې په افغانستان کې پاتې وو ، مګر وروسته له افغان سرویس څخه بې برخې کړای شول . له همدې کبله دشوروي اغیزه په افغان هوایي څانګه کې ورو ورو کمیده او افغاني پیلوټانو

چې په شوروي اتحاد ، ایتالیا ، او فرانسه کې روزل شوي وو ، د نوي افغان هوایي ځواک مرکزي هسته جوړه کړه .

د افغانستان او شوروي اتحاد ترمنځ د پوستې او ډاک تړون د ( ۱۹۳۲ ) په اپریل کې لاسلیک شو . د دې تړون د منځته راوړو اصلي نوښت د افغاني پوست او تلګراف په اداره کې د جرمن سلاکار ( یوګې بوناتز ) لخوا شو ، د پوست او ډاک نوموړی جرمني کار پوه هله سپک سپاند کړای شو چې افغانستان سربیره پر دې چې په ( ۱۹۲۸ ) کې د نړیوالې پوستې غړی و او وروسته یې د پارسل او تلګرافي مخابرو د راکړې ورکړې تړونونه هم لاسلیک کړي وو ، مګر هندي حکومت بیا هم ټینګار کاوه چې تلګرامونه او هرډول لیږنې باید یوازې پېښور ته واستول شي او له هغه ځایه به د هندي پوستې له خوا لیږل کیږي ، بوناتز نورهم مخته ولاړ او هیله یې وکړه چې افغان حکومت دې نړیوالې پوستې اتحادیې څخه وغواړي چې هند د نړیوال پوستي تړون د ترپښو لاندې کولو پر وجه له دې اتحادیې څخه وباسي . (۸۷) افغان حکومت دا کارونه کړ ، لاکن په ډیر حساس ډول دې ته ځیر و چې نوموړې تګ لاره له هغه وخته چې افغانستان د برتانیې تر سیاسي واک لاندې و ، همداشان راروان دی .

له شوروي اتحاد سره پوستي تړون برتانیه خورا خپه کړه ځکه نوموړي هیواد درې میاشتې وروسته افغانستان ته پوستي کمیسیون ولیږه چې معلوم کړي ، افغانستان د خپلو پوستي سمونتیا وو ترپلې کولو مخکې کومې کړنې په پام کې لري . (۸۸) د شوروي - افغان د غه پوستي تړون هغسې آساني چې تمه یې کیده ، رامنځته نه کړه ، ځکه لومړی داچې د شوروي تګ لاره ډیره ګرانه تمامیده او بل داچې افغانستان نه غوښتل چې ځان تړول تړال په

خپل کوم گاونډي پورې وتړي، که څه هم چې تړون برتانیه دې ته راکښله چې یو ډاډمن تړون ته غاړه کښیږدي .

نورې هغه ستونزې چې باید خبرې پرې شوې وای، ډېر اهمیت ورنه وې، د (۱۹۳۲) په سپتمبر کې د سرحدي لانجو داوارولو له پاره دکمیسارانو دتیاکلو اړونده ژمنه لاسلیک شوه، مګر کوم داسې مهم کړکیچ نه وچې دهغه پر خاطر د دواړو دولتونو کمیساران په منظم ډول حضور ولري . د (۱۹۳۰) په لومړیو کې له شوروي اتحاد څخه افغانستان ته ګڼ شمیر کډوال راغلل او دغې وضعې افغانستان له زیاتو ستونزو سره مخامخ کړ، دکډوالو هغه برخه چې مسلمانان وو په افغانستان کې میشته کړای شول خو اروپایان چې ډیره برخه یې یهودیان وو هندوستان ته ولیږل شول . هندي حکومت هغو یهودو ته چې غوښتل یې فلسطین ته وکوچیږي، دویزوله ورکړې څخه ډډه وکړه نو افغانستان له همدې کبله هغوی دواخان د تراړې له لارې چین ته واستول، افغان حکومت د (۱۹۳۲) په وروستیو کې د شوروي متخصصانو یوه ډله ومنله چې د شوروي - افغان سرحدي سیمو ته څېرمه د ملخانو په له منځه وړلو کې مرسته وکړي . (۸۹)

پر عمومي توګه د شوروي - افغان اړیکې مناسبې وې، لاکن په زړه پورې نه وې، دنادر خان حکومت وغوښتل د شوروي اغیزه کمه کړي او همدغه تګ لاره وه چې دنظر یو اختلاف یې منځته راوړ . دنظر یو دغه توپیر زیات اثر وکړ او دیو برتانوي کتونکي دانګیرنې له مخې « که د شوروي حکومت بدنصیبه لاس ته آن ښه چانس هم ورشي، لکه څنګه چې اوس دادی ورغلی هم دی خو بیا هم خپلې ورقې یا پتې سمې نشي جنګولای . » (۹۰)

دبرتانیې - افغان اړیکې دنادر درژیم پر وخت له جرمني او شوروي اتحاد

سره دافغانستان تر اړیکو زیاتې متناقضې اوستونزمنې وې ، په لندن او ډیلي دواړو کې برتانوي چارواکي په افغانستان کې د پر مختیاوو پر هکله خوښ وه اوداسې یې احساسوله چې یو لړ انګیرنې به افغانستان له برتانیې سره د نژدې او رښتینو اړیکو ټینګولو ته وهڅوي . له شوروي اتحاد او ترکیې سره دامان الله خان نژدې اړیکو د تخت لپاره دده په مبارزه کې هیڅ مرسته ورونه رسوله . په افغانستان او نورو کې د غه شک او شبهه چې برتانیه دامان الله خان د راپرزولو وسیله ګرځیدلې ، هغه هیواد نور هم ځواکمن او د تورد یب غوندې یې اغیزمن وګرځاوه ، برتانیې دا هم احساس کړه چې محمد هاشم خان « له هر ډول روسي شیانو سره حساسیت پیدا کړی دی . » ( ۹۱ )

که څه هم چې برتانیې دا وخت کومه مرسته ونه کړه ، خو د بهرنیو چارو وزیر آستین چمبرلین د مرستې لپاره خپله خوښې داسې څرګنده کړه : « د اعلیحضرت حکومت په افغانستان کې جداً د یو غښتلي مرکزي حکومت د ټینګښت غوښتونکی دی او د دغسې یو حکومت تر جوړیدو وروسته به افغان اولس ته د خپل هیواد د بیا جوړښت او پر مختګ په لارکې د مرستې په غرض خپل ملګرتوب ثابت کړي . » ( ۹۲ )

هنداو انګلستان هیله من وو چې داوینا او هغه څرګندې اشارې چې څو څو واره ورکول شوي ، بسنه کوي چې افغانستان مرسته وغواړي . ځکه نو لومړی باید افغان لوري د مرستې ډول او مبلغ مشخص کړای وای . مګر افغان حکومت بیا هم ژر ځواب ورنه کړ ، یو دلیل یې ښایي د هغه څرک ایسته کول وي چې وایې برتانیه د نادر خان ملاتړ کوي ، همدا وجه وه ، مخکې له دې چې د ( ۱۹۳۰ ) په جون کې افغان خارجه وزیر فیض محمد خان له برتانیې څخه لومړی د مادي مرستې غوښتنه وکړي ، څو میاشتې همداسې تیرې شوې ،

ده ومنله چې دافغانستان له خوا لومړی شوروي اتحاد چې د ( ۱۹۲۱ ) کال دتړون له مخې یې باید یو ملیون طلایې روبله مادي مرسته کړې وای پرغ وشو خو ده ثرګنده کړه چې شوروي حکومت دنوي رژیم له تګ لارو څخه خوښ نه و او دمرستې لپاره پرخپلو ژمنو هم زړه نازړه و . (۹۳) فیض محمد له برتانیې څخه دشل زره ټوپکو او دهر میل لپاره دزرمر میو او همدارنګه دڅلور سوه زرو نغدو سټرلنګ پونډو غوښتنه وکړه . برتانوي حکومت دافغاني لوري ددې غوښتني سم نیما یي ومنل ، داسې وپتییل شوه چې له نغدي پور څخه به ترغوښتنې وروسته سمدلاسه سل زره پونډه ورکول شي او ترڅلور میاشتو وروسته به دافغانستان له خوا دښه ګاونډیتوب دثابتولو په صورت کې پنځه او یا زره پونډه نور هم ورکول شي ، پاتې پنځه ویشت زره پونډه په کابل کې دبرتانوي استازي په وړاندیز پورې وتړل شول چې افغان حکومت ته نه مشخص کیده او برتانیې به دلزوم په وخت کې تادیه کولای . ( ۹٤ )

برتانیې غوښتل چې افغانستان ته خپل ملګر توب دنغدي سوغاتونو ، سامان آلاتو او خدماتو پر ورکړه سره ثرګنده کړي ، مګر څنګه چې افغانستان له شوروي اتحاد څخه نغدي مرسته اخیسته نو دهند حکومت چې برتانوي پانګه به یې برابر وله ، داسې وپتییله چې نغدي مرسته نشي ورکولای او ثرګنده یې کړه چې زموږ ورکړه به د ماسکو له ورکړې سره دپر تلې په صورت کې داجرا وړ وي . برتانیې ددې لپاره چې افغانستان دشوروي اتحاد له « منګلو » څخه خلاص او « افغان حکومت ته لاره اواره کړي » نو پریکړه یې وکړه چې خپله « مالي مرسته به داجناسو » په شکل ورکوي . ( ۹٥ ) « ای بي هاویل » دهند حکومت ته په یو نوټ کې په ډراماتیکه توګه له شمال سره ددوستانه ګاونډیتوب پر اهمیت باندې ټینګار وکړ یانې :

«دبرتانوي هند د دوو سترو بحرانونو په تاريخ کې له هغوی ( افغانستان ) سره زمونږ داړیکو ددي نسبتاً لنډي مودې په ترڅ کې د دویم وار لپاره ښایې دازیاته مبالغه نه وي ، که وواېو چې په هند کې زمونږ تقدیر او بخت دافغاني واکمنانو پر رښتونولي پورې تړلی دی . . . » (۹۶) (هاویل د دوست محمد عصر او په ۱۸۵۷ کې دهند ستر پاڅون ته او همدارازپه لومړۍ نړیواله جګړه کې دحبیب الله خان زمانې ته اشاره کوي . )

داړیکړه دبرتانیې دملي ګټو دیوې مسئلې په توګه وه چې یو کوچني دولت ته دملګرتوب داسې علایم ښیي کټ مټ لکه تر دویمې نړیوالې جګړې وروسته چې سترو ځواکونو پر مځکه پر تو کو چنیو دولتونو ته خپلې مرستې پسې پراخه کړې ، افغانستان ته نویتیزې مرستې دورکړې تګ لاره آن د ( ۱۹۲۰ ) لسیزې په ترڅ کې لا طرح شوې وه خو افغان واکمن امان-الله خان هغه وخت له داسې مرستو څخه پوره خبر نه و ، برتانوي حکومت پريکړه وکړه چې هر کال به پنځوس زره پونډه (چې لږاووسوه زرو روپیو سره معادل وو ) تخصیص ورکوي خو هیله یې څرګنده کړه چې داپیسې به له هند سره دافغانستان دمخابراتو په سمولو کې لګیږي ، داتګلاره ځکه بې اغیزې وه چې امان الله خان دهغې له شته والي څخه پوره خبر نه وو ، سربیره پردې ، دی له هند سره دمخابراتو پرمختیایې دیوې مهمې پروژې پر توګه نشوه درک کولای ، افغان حکومت اصلاً د جرمني سرچینو له مخې له کابل څخه ترخیبره دیوې خوراعصري لویې لارې دجوړښت پیلیز کار چې دبرتانوي انجینرانو له خوا پر مخ بیول کیده په ټپه ودراوه . همداوجه وه چې دپیسو خورازیاته برخه همداسې ځای پر ځای ولاړه پاتې شوه او څه زیات له یو کال تخصیصه د ( ۱۹۲۵ او ۱۹۳۰ ) ترمنځ موده کې مصرف شوه . دپیسو زیاته

برخه دوسلو پر رانيولو او دامان الله خان دسفر په ترڅ کې په داسې حال کې چې هغه دبرتانوي حکومت ميلمه و ، ولګيده . (۹۷)

دنادرخان رژيم ته هم مرسته په کټ مټ همداسې ملاحظاتو سره ورکول کيده ، لاکن افغانان په دې ويريدل چې دبرتانيې دامرسته هسې نه دباندنی مرستې هغسې يو ناوړه او شوم اقدام نه وي چې بيا به هيڅ هم نشي ښکاره کېدای (۹۸) افغان حکومت همدارنګه په دې هم ډاريده چې قبايل به چې له نادرخان سره د تخت په ګټلو کې يې مرسته کړې ، داسې وانګيري چې ګواکې په کابل کې زياتې پيسې شته او دهغوی ګڼ شمير به مرکز ته راشي او له افغاني واکمن څخه به دخپلو خدمتونو مجراينه وغواړي ، له همدې کبله افغاني واکمن دډيرو پيسو دنشتوالي له کبله ګڼ شمير قبايلي مخور په افتخاري پوځي منصبونو سره ستايلي وو .

دا چې افغانستان او برتانيې ګډې ګټې لرلې نو لازمه وه چې وروړګلويزه ګاونډيتوب يې غوره کړی وای ، برتانيې يو داسې آزاد افغانستان غوښت چې دشوروي اتحاد په وړاندې ډال او دهندوستان ددفاع يو ژغورندوی وي ، افغانستان سپرکيدوته په دې شرط راضي وچې خپلواکي به يې نه اغيزمنه کيږي . ددواړو دولتونو ترمنځ په وروړګلويزو اړيکو کې پټ خوځښت دسرحدي قبايلو له ستونزې سره سره چې دبرتانوي ننوتوب په وړاندې يې کلک مخالفت ښوده او د ( ۱۹۲۰ ) په لومړيو کې يې نور سيک هم پسې واخسيت ، پرخپل حال هماغسې پاتې و ، د( ۱۹۳۰ ) لسيزې په لومړيو کې دهند لپاره دخپلواکۍ هلې ځلې يو نوي پړاوته ورسيدې چې دسرحد افغانانو غټ رول په کې ولوباوه ، دعبدالغفار خان اونور افغان سرحدي مشرانو د« سور کميسو » او هم په هند کې دګڼ شمير مسلمانانو غورځنګ افغانستان

ته دلاسنيوي او فعالانه ملاتړ ستر ګې نيولې وې. ( ۹۹ ) سرحدي افغانان په همدغه وخت کې د هند د کانګريس ګوند او د هند لپاره داستقلال او خپلواکۍ غوښتلو په بهير کې دهغه ګوند له هند واکثريت سره داتحاد په لته کې شول ، دبيلګې په توګه ، د آزادۍ تيرا د کانګريس جرګه ګۍ مهاتي ګاندي ته د يو پيغام په ترڅ کې د هندوستان مشر له برتانيې سره د ګاندي - اروينګ په تړون کې د سازش په موجه داسې تورن کړ :

« اه ، زموږ ګران ملنګه ، ته بايد د درګملکه کسيز يو وسلوال پوځ سره سوله وکړې ډير ښه ، دراتلونکي ګردي مېز د غونډې په ترڅ کې دې دلاندينو شرايطو له مخې په يو لاس کې د ( ۳٦ ) کروړو سوله غوښتونکو خلکو ځواک او په بل کې د ځلور لکه جګړه مارو ( آزادو قبايلو ) غوښتنه ونيسه :

۱ - د ( ۱۹۲۹ ) کال د کانګريس د پريکړې له مخې په بيړه د هند بشپړه خپلواکي .

۲ - دبګت سنګ ، هريش کيشن ، سوک ديو ، راج ګرو ، ګړواليانو او نورو سياسي بنديانو خوشې کول .

۳ - دبې ګناه غازي حبيب نور داعدام په بدل کې دحکومت له خوا د پنځوس لکه روپيو تاديه کول . ( ۱۰۰ )

٤ - دهغو هند يانو کونډو او يتيمانو ته مناسب تاوان ورکول چې د توپکو ، نيزو ماشين ګڼو ، زغره والو ګاډو ، برقي ډنډو او هوايي بم وريو قرباني شوي او همدارنګه هغو کسانو ته چې په چټلو اوبو ننه ايستل شوي او يا چپه ځړول شوي وو .

۵ - له کجورې شخه دبرتانوي ځواکونو ايستل او اپريديو ته د پنځوس لکه روپيو تاوان ورکول . »

پیغام په دې خبرتیا سره پای ته ورسید چې : « که حکومت د پورتنیو هرې یوې مادې په منلو کې ځنډ پیښ کړي ، نو موږ به د هند د خپلواکۍ لپاره ټول وس انشاالله په کار واچوو . » (۱۰۱)

د هند حکومت په داسې حال کې چې د آزادۍ تیرا د کانګریس د جرګې له تهدید پانې څخه یې دومره اندیښنه نه لرله خو دا خطرې منځته راوړ چې که د افغان قبایلو او هندي هیوادپالو یووالی ، وسله او ځواک تر لاسه کړي او له یوې سمې مشرۍ څخه برخه من شي نو په هغه صورت کې به د هند پر نیمه وچه خپل واک هم ټینګ کړي ، په داسې حال کې چې د برتانوي الوتکو په واسطه د « پولیسو د بمبورۍ » اړونده غوښتنې تریوې اندازې د قبایلو ځواک ورلیږکړ خو په هند کې د وضعې د نورې ورانۍ سبب شوه ، آزادو قبایلو ، افغانستان او هند دواړو ته خطر لاره ، داځکه چې هغوی کولای شول د ښورښونو په کولو سره د دواړو دولتونو ټینګتیا له ګواښ سره مخامخ کړي .

د (۱۹۳۳) د جولای پر درېیمه د مرستیالو واکمنانو د جرګې د غونډې په ترڅ کې نوموړې مسئله راپور ته کړای شوه یانې داچې د هند حکومت به څنګه وکړای شي د قبایلو ځواک د تل لپاره پای ته ورسوي ، غونډې د حل یوه داسې لاره ومیندله چې د هغې له مخې به د آزاد و قبایلو په سیمو کې ورو ورو ننو توب کیږي او وروسته به هغوی بې وسلې کیږي خو د جرګې کار ځکه له ځنډ سره مخامخ شو چې قبایلو په (۱۹۱۳) کې اتیا زره میله وسلې لرلې ، په داسې حال کې چې د غه شمیر په (۱۹۳۳) کې دوه لکه شل زره میلونو ته جګ شو ، د صوبه سرحد په پراخو غرونو کې هر کور یو مورچل او هر سړی یو عسکرو ، هلته هیڅوک پر ته له ټوپکه نه ګرځیده ، داچې په صوبه سرحد کې ورننوتنه باید د سړکونو د جوړښت او د اورګاډي د پټلیو د پراختیا په ډول وای ،

نودقبايلو بې وسلې کول هم کټ مټ د يوې جګړې مانا لرله ، د مرستيالو واکمنانو جرګه ګۍ له دې مسئلې سره مخ شوه چې « موږ ولې بايد يو ټينګ ګام پورته نه کړو ، آن که دجګړې له ګواښ سره هم مخامخ شو ؟ » دجګړې په برخه کې نبوکې داوې چې « جنګ خو جنګ دی او دا بنايي يو لمسون وي » او جنګ په پيسو سره کيږي - خو که پيسې « عمداً د پانګې لګښت وګڼل شي چې تخصيصيه ورته ورکول کيږي . نو په هغه صورت کې بيا جګړه هم عملاً ارزانه تماميدای شي . هغه احتمالي ګټې چې د جنګ په نتيجه کې ترلاسه کيدای شوی ، داوې چې « دنوي اساسي قانون له مخې دزياتې بودجې دنشتوالې پر وجه دا ټک له خط څخه زموږ د پرشا کيدو مخه ونيول شي. »(۱۰۲)

مرستيال واکمن داسې وانګيرله چې :« دورننوتنې په وړاندې مقاومت به دومره اغيزمن نه وي » خو دصوبه سرحد والي ځواب ورکړ چې :« داسې کار تر څو چې يوه هميشنی نيونه ونشي ، ناشونې بريښي . » والي وړتيله چې دهند حکومت خو هغه دی دا پريديو پر غاړه اقتصادي منګولې کنبيکنبلې دي، ځکه هغوی اوس له افغانستان څخه دنغدي مرستې دبې برخې په وجه له يو ناوړه حالت سره مخامخ شوي دي ، لوی قوماندان د دې مسئلې په هکله چې قبايل څنګه بې وسلې کړای شي وړانديز وکړ چې :« موږ بايد هغوی ته داسې ووايو چې موږ دوسلو راټولول غواړو ( که هغوی ډډه وکړه نو طبعاً جنګ يې لاره ده . ) دده په نظر يوازينی چاره داوه چې دنوتوب بهير دې ورو ورو پلی شي ، کله چې مرستيال واکمن :ملتونو دشورا له خوا ددغسې سوله ننوتوب پر سر دهند د تګ لارې احتمالي غندنه ياده کړه نو مشکل هله له منځه لاړ چې ويل يې قبايل خو اصلاً د هند وګړي دي ، ځکه نو پر همدې تګ

لاره باید کومه نیوکه هم ونشي . (۱۰۳) دقبایلو دځپنې یوه لاره دا هم وه چې مهم شیان بند او صوبه سرحد ته دې داومو موادو لیږ دتم کړای شي چې په قبایلې جوړ نځیو کې وسلې ورڅخه جوړې نشي . هند افغانستان ته هم دکوچنیو وسلو دلیږد په تګ لارې دبدلون په فکر کې شو ، ځکه داسې انګیرل کیده چې « تراوسه چې موږ افغانانو ته څه وسلې ورکړي دي قبایلو هغه چور کړي دي ، نو آیا دابه یې سمه لار نه وي که موږ خپل سوغاتونه په مشین ګنو ، الوتکو او هغه وسلو پورې محدود کړو چې قبایل یې نشي استعمالولای ؟ » (۱۰٤)

دبرتانیې قبایلي تګ لاره اصلاً دآزادې قبایلي سیمې د ښارنه ، پر مخ وړنه او ورننوتنه ، وه . خو ستونزه په دې کې وه چې هند له زیاتو قبایلي کامونو سره تړونونه لرل او تر هغه ځایه چې قبایل په خپله پړدې معامله ټینګ ولاړ وو نو برتانیې ته دا خورا ګرانه وه چې نوموړی حالت برعکس کړي. هغه یو مکتوب چې په (۱۹۳۵) کې دهندې حکومت دسیاسي څانګې دیو لوړ رتبه مامور له خوا طرح او لیکل شوی، داسې څرګندوي چې : « ورننوتنه لومړی باید پر سوله ییزډول دقبایلو د پخلاینې له مخې ترسره شي او که هغوی راضي نشول نو بیا یوازې له پوځي لارې باید پرمخته شو ، ځکه دهغوی دغسې بې ادبي به موږ ته بنه پلمه راجوړه کړي او دقبایلو په وړاندې به زموږ ګام اخیستنه حق په جانبه هم وښيي ، که نه نو موږ باید هغسې مقاومت او د خواخوږیو نه دکو پاڅونونو ته سرتېټ کړو چې زموږ دتګ لارې په تمثیت سره به پای ته ورسیږي . » (۱۰۵)

په بله ژبه برتانیه دافغان قبایلو دهمیشنۍ سولې په خاطر دهر ممکنه حق په جانب ښوونې په لټه کې وه ، دننوتنې له لارو چارو څخه یوه هم دلویو لارو

جوړول وو ، سرکونو تر هر څه زیات ستراتیژیکي اهمیت لاره ، مګر هغو قبایلو ته یې د پام وړ کومه اقتصادي ښیګنه نه لرله چې له سیمو څخه یې تیر-یدل ، برتانیې د دې لپاره چې قبایلو ته نوموړې پروژې مطلوبې او د منلو وړو ګرځوي نو هغوی یې په خپلو سیمو کې د جوړښتي کار ګرانو او دراتلونکو ساتندویاتو په توګه وګومارل ، د هند حکومت د ( ۱۹۳۰ ) لسیزې په لومړیو کې د بود جې په ړکسر مبتلا شو چې د هغه په نتیجه کې د نوموړي کار ځندولو او د قبایلو بیکاره کولو ته اړوت ، خو له دې سره سره د صوبه سرحد پښتنو درک کړه چې د غو سړکونو د دوی د آزادۍ لپاره یو ځرګند ګواښ رامنځته کړی دی .

(۱۰۶) هغوی فکر کاوه چې د برتانیې پر ژمنو باور نشي کیدای نو کله چې دیوې قبیلې غړیو خصوصاً ځوانو عناصرو د دې ډول ننوتنې په وړاندې مقاومت وکړ ، هلته برتانیې د هغوی پر ضد له جګړې څخه ډډه وکړه خو هغوی یې د خپلو تړونونو پرنه مراعات باندې وترټل ، دورننوتنې بله لاره په غړنیو سیمو کې له اقتصادي بې وسیو سره لاس او ګریوان قبایلو ته د نغدي مرستې ورکول یا د خاصه دار ( قبایلیي ملیشې ) په توګه د هغوی ګومارل وو چې د برتانوي انګیرنې له مخې « د نظم او قانون ساتنې په برخه کې څه ګټه وړورسیږي . » د غه کار قبایل له اقتصادي پلوه تر ډیره حده په برتانیې پورې وتړل او د هند حکومت ته یې د دې توان ورکاوه چې له مقرراتو او قوانینو څخه د سرغړونې په صورت کې پر قبایلو نغدي مرسته بنده یا یې جریمه کاندي .

جګړې د نړۍ په دې ګوټ کې خوراستونزمنې وې ، برتانیې د هند او نیپال له بیلابیلو سیمو څخه « جګړه ماراقوام » او هم هغه افغاني قبایل راغونډول چې د خپلو نورو پښتنو ګاونډو سره به یې دښمنې لرله ، د جنګ هغه نړۍ وال قوانین چې په برتانیه کې داجرا وړوو او هدف داوچې جنګ د عسکر

یوه ځانګړتیا او دنده ده ، په افغاني سرحدونو کې صدق نه دی کړی . دافغانانو بې پړ وازړورتوب او په چریکي جګړو کې دهغوی پوهې د برتانیې ښه سمبال او منظم ځواکونه نا امیده کړه او برتانوي پوځي قوماندان یې دې ته اړیوست چې پر افغانانو هر چیرې چې وو ، یرغلونه وکړي . څنګه چې داګرانه ده چې یو قبایلي ژوبله ور ډاګیز یا مات کړ شي نو برتانیې د ډله ییزه ګوت ـ نیونې لاره خپله کړه او دغچ په توګه یې هغه قبایلي سیمې تریم وری لاندې راوستې چې په محاذ کې یې نه شوې فتح کولای . « امنیت » چې افغان قبایلو ته د ټوپکو ، او ښانو او سامانونو پرورکړه مشتمل وو د « ښه سلوک » ذاعادي په خاطر بیرته ځنې واخیستل شو . « امنیت » همدارنګه دهغو کسانو یر غمل کیدل هم وو چې د قبایلو تر ایل کیدو پورې په هند کې کښینوول شوي وو . دقبایلو ځینو نومړو یا دبرتانوي افسرانو له خولې « رسوا » کسانو ته په آزادو سیمو کې پناه ورکول شوې وه . دمیلمه پالنې قبایلي دود هر هغه قبایلي فرد ته دامشکل ول چې کوم شخص ته - په تیره کوم برتانوي ضد کس ته دپناه ورکول ونه مني ، آن که هغه دقبایلي شرافت له مخې دکوربه په سخت زیان هم تمامه شي ، لکه څنګه چې دبیلګې په توګه ، دشمالي وزیرستان مده خیل تردې اشتباه لاندې وو چې یو داسې نا پیژندل شوي سړي ته چې په سرپک و او وروسته دعبدالرحمان په نوم سره وپیژندل شو ، پناه ورکړې وه ، دبرتانوي هند مامورینو دنومړي کس دورتسلیمۍ په بدل کې دمده خیلو ځینې کسان په هند کې یرغمل کښینولې وو ، خو داڅرګنده ده چې دبرتانوي هند دمحبسونو شرایط دافغانستان ترجیلونو لاهم ناوړه وو ، ځکه چې هلته ګڼ شمیر انسانان حتی څاروي هم مړه کیدل . دمده خیلو دکامي مشرانو جرګې پردې ټینګار وکړ چې هغوی تروسه وسه

خپل زیار ایستلیٰ و چې یک له خپلې سیمې څخه وباسي او په راتلونکې کې به هم دغسې وکړي خو هغوی « دخپلو هغو یرغملو د خلاصون په هکله ډیر اندیښمن دي چې دمارچ ( څلورو میاشتو ) راهیسې د تودوخې په دې سختو او نه ګالونکو شرایطو کې بندیان کړل شوي او له هغوی څخه څلور کسه یې مړه شوي هم دي او څلور یې مختلا یله شوي دي . » ( ۱۰۷ )

دمرستیال واکمن شورا لاربښوونه وکړه چې یرغمل دې ( له اګست څخه مخکې ) خوشې شي ، ځکه « نور بندښت به د نوموړي کام ځوانان تر دې حده راوپاروي چې جرګه به ( چې په همدې خاطر په مارچ کې جوړیدونکې ده ) ونشي کړای چې هغوی له څرګندې دښمنۍ څخه راوګرځوي . . . . » داګست تر مخه د هغوی دخلاصون بل علت داو چې « دبند دهرې ورځې په تیریدو سره د یرغملو روغتیایې وضع همداسې خرابیږي او داښایې له مده خیلو سره زموږ د نورو ستونزو سبب شي ، » ( ۱۰۸ )

په هند کې برتانوي چارواکو ته دا یو قانوني او روا کار و چې « برمته یانې دکوم متخالف دقبایلي پله ورو ډله ییزه نیونه دصوبه سرحد دجنایي لایحې تر ( ۲۱ مې ) مادې لاندې دافغانانو په مورد کې هم په قانوني ډول داجرا وړ ده ، لکه څنګه چې د کابل د ( ۱۹۲۱ ) دنوامبر تر تړون مخکې هم کټ مټ عملي کیدل . » برتانوي ماموراتو « برمته » داسې ښودله چې هغه « دیو پښتني دود په توګه پیژندل شوې او دامتل تکرار وي چې وایي ( تربور و هلای شي ) . » ( ۱۰۹ ) ددې قانون یوه دوسیه دسلیمانخیلو پر ضد هم ترتیب شوه چې ددې کام ځینې غړي په کلکته او نورو ځایونو کې نیول شوي وو ، په دیره اسمعیل خان کې له دې نیول شویو کسانو څخه دبند په وخت کې دیارلس تنه یې دسکاروي دناروغۍ په وجه مړه شول . دهند حکومت ددې قانون ماتونې

او ثرګندي بې انصافۍ دبندښت پهخاطر پر یکړه وکړه چې د « برمته » اړونده هرې قضیې ته قانوني بڼه ورکړي . داچې له ډیرې زمانې راهیسې پښتانه چې اصلاً دافغانستان دي ، په دې غچ اخیستونکو نیونو کې شامل وو نو هلته له افغاني واکمن سره هم ستونزې پیښېږي شوې . په هند کې دا نظر ورو ورو عوام شموله شو چې: « ... دنړیوال معمول له مخې دا دشک وړ خبره ده چې دبرمته مسئله ددوو پر مختللیو دولتونو تر منځ شخړه پاتې کېدای شي . او دا په دې مانا چې دنېغ محلي اقدام له لارې به دقبایلي بریدونو مخه نیول بالاخره نړیوالو ګام اخیستنو ته لاره خلاصه کړي . » دقبایلو په ایل کولو کې ددې میتود ګټه خورازیاته وه ، خو بیا هم په ( ۱۹۲٤ ) کې او تردې وروسته ډېر و کلونو لپاره رسمي تګ لاره داوه چې : « دهند حکومت دانشي منلی چې د افغاني وګړو دبرمتې په اړه دې دخپل عمل آزادي له خوښې نه پرته محدوده کړي . » ( ۱۱۰ )

دجګړه ییزې او پوځي تکنالوژۍ دهنر له مخې دافغانستان او هنددواړو منظمو پوځونو کولای شول په ډیرې اسانۍ سره قبایلي لښکرو ته ماتې ورکړې وای ، هوایي برید ، مشین ګڼو ، غنبتلوتوپونو ، شدیدو چاودیدونکو ، بمونو او ناپالم داخوراناشونې کړې ده چې دهسکو سیمو قبایل یا نااستوګن یر غلګردې فتح او دهغوی سیمې دې تر واک لاندې راوستل شي ، ددویمې نړیوالې جګړې په پای ته رسېدو سره چې کله برتانویانو خپله داخورا مهمه مستعمره خوشې کړه نو په هند کې پوځي کارپوهانو هم دقبایلو ستونزه نوره له منځه تللې وبلله . « دافغانستان بنسټیز کتاب » دیو پټ پوځي سند پهتوګه چې په ( ۱۹٤۸ ) کې دهند دجنرالانو جرګه ګۍ له خوا خپور شوی داسې وایي : « په عامه ژبه دافغانستان پولې له

شمال یا لویدیځ څخه کوم یرغلګر ته زیاتې ستونزې نه لري بلکې مشکل یوازې له ختیځ څخه وړپېښ دی. پخوا به ویل کېدل چې د جنوبي افغانستان دښتې اصلاً یو طبیعي دفاعي ډال ګڼل کیږي ، مګر د هغو تجربو له مخې چې په دې جنګ کې ( په دویمه نړیواله جګړه کې ) تر لاسه شوې ، څرګندوي چې جنوبي افغانستان هم کټ مټ د لویدیځ او شمال په څیر تر خطر لاندې راتلای شي . . . په جنوب کې پوله له بلوچستان سره غزیدلې چې په وچ ډاګ کې د هلمند د سیند ناوه یې سره بیلوي ، پخوا به ویل کېدل چې له دې لویې دښتې څخه هیڅ نشي تیریدای خود صحرایي جنګونو اوسني زیاتوالي ( خصوصاً په شمالي افریقا کې ) ثابته کړه چې دا خبره نور بې ځایه ده . » ( ۱۱۱ )

د قبایلو بیخ او ریښه ونه کښل شوه ، لاکن خورا سره ایسار او د آزادې قبایلي سیمې زیاته برخه د هندي حکومت تر څارنې لاندې راغله ، د پیغور په ډول باید وویل شي چې هندي حکومت په صوبه سرحد کې خپلې مخ پر وړاندې تګ لارې ته آن کله چې دا جوته شوه چې هند خوشې کیدونکی دی ،لاهماغسې دوام ورکاوه ، له همدې کبله د هند د ژغورنې لارې چارې – یا دیوې « عملي او ثابتې » پولې د ټینګښت وسیلې په خپله پای ته ورسیدې ، او دغې تګ لارې خپل ټول پخوانی اهمیت له لاسه ورکړ .

د آزادې قبایلي سیمې په اړه د برتانیې مخکښنه تګ لاره په کابل کې په ډیر حساسیت سره انګیرل کیده . افغاني واکمنانو چې خپل دولت د شوروي اتحاد او هند ترمنځ د یو ډال په توګه ولید ، نو آزاد سرحدیې هم ورسره جوخت د افغانستان او هند تر منځ یو ډال وګانه . د دې دوو ډالونو په له منځه تلو سره افغاني واکمنانو فکر وکړ چې افغانستان نور خپل استقلال نشي ژغورلای . سربیره پر دې ، د ډیورنډ کرښې پر دواړو خواوو پښتو ژبي افغانان اصلاً له یو

تیر شخه دي ، هغوی ځانونه خورا غیرتي او کلک سرتیري ګڼلي او افغاني واکمن یې خپل یو اسلامي پاچا ګڼلی دی . دسرحد افغانانو که څه هم چې ځانونه آزاد بلل ، مګر په دې کې شک نه و چې دبرتانیې اوافغانستان تر منځ دجنګ پر وخت به هغوی بې تفاوته نه پاتې کېدل، کله چې به هغوی تر برتانوي برید و نو لاندې راتلل نو له افغاني واکمن څخه به یې دمرستې غوښتنه کوله اوهمدا علت و چې دبرتانیې « مخ پر وړاندې تګ لاره » دافغاني واکمنانو لپاره یو حتمي سرخوږ ګرځیدلی و چې دخپلو هغو ورونو مرسته یې نشوای کولای چې په تیرو وختو کې یې دافغانستان ملاور تړلې وه .

افغان واکمن دډیرې دښمنانه نیوکې دمخنیوي پهٔ خاطر اوپر برتانیه باندې دافغاني قبایلو خرڅلاو ته مجبوراً غاړه کښیښودله . ( ۱۱۲ ) افغان واکمنانو له همدې کبله دسرحد پر برتانوي خوا استوګن قبایلو ته دپیسو ورکړه ومنله ، په کابل کې یې قبایلي جرګې جوړې او خورازیات اهمیت یې ورکاوه ، هغوی ته یې مالي او ځینې وختونه پوځي مرستې ورکولې ، یا داچې افغانانو قبایل د « خاصه دار » » پهٔ توګه تاکل هغوی دبرتانوي ننوتوب پهٔ وړاندې له قبایلو سره مرسته کوله اوځکه نو دافغان - برتانیې اړیکې له سرسري ګرانښت سره سره تقریباً هر وخت چړپیدلي دي ، داځکه چې بنسټیز تناقضات له منځه تللي نشول .

# {اووم څپرکی}

## ددويمې نړيوالې جګړې پيل

## بهرنۍ سياسي صحنه

د (۱۹۳۰) لسيزې له نيمايې څخه نړيوالې صحنې يو ځل بيا له خپل تل څخه بدلون وموند او افغان حکومت له خوراشوم سياسي چاپيريال سره مخامخ شو. جرمني، ايټاليا او جاپان پر وضع باندې مسلطو ځواکونو يانې انګلستان او فرانسې ته ديو لوی ګواښ په توګه راغلل او شوروي اتحاد چې له دې ټولو سره دايډيالوژۍ له مخې بيل و، په ډير احتياط سره ددواړو کيمپونو ترمنځ خپلې مانورې کولې.

جرمني په (۱۹۲۰) لسيزه کې داقتصادي او سياسي ستونزو له امله په کورني لحاظ ټوټه ټوټه او تحديد شو چې کيدای شي علت يې په لومړۍ لويه

جګړه کې دهغه هیواد ماتې اوورسلای تړون وبولو . دجنګي تاوان پرله پسې غوښتنې نشوې تادیه کیدای چې له همدې امله دجرمني څه خاوره فرانسې لاندې کړه اوجرمني ونه کړای شول چې پر خپل اقتصاد غیړرا وګرځوي . دغه څپاند حالت سمدلاسه انفلاسیون او کښیکښنه را منځته کړه او جرمنیانو د خپلو دغو ستونزو له منځه وړلو پوخاطر یو بنسټیز حل ته مخه کړه . جرمني او شوروي یانې له دوستانو څخه بې برخه شویو دولتونو ، ددې لپاره چې له نړیوال یوازیتوب څخه ځانونه وژغوري اوهم دآزاد بهرني سیاسي اقدام وخت تر لاسه کړي ، نو په ( ۱۹۲۲ ) کې یې دراپل ( Rapa110 ) تړون سره لاسلیک کړ . جرمني د ( ۱۳۲ ) بلیونو طلایي مارکو دتاوان پوروړی وه ، په داسې حال کې چې شوروي اتحاد دهغه ملي کړای شوي جایداد دغو ښتنې پر وجه تر کښیکښنې لاندې و چې په نړیوالو ګټو پورې یې اړه لرله نودواړو ځواکونو یوازې کولای شول چې دبرابرۍ پراساس خپل منځی ګټورې سوداګرۍ اړیکې دیوې غټې سر لوحې پودرولو سره پیل کړي . پوځي تړون چې د جرمن پوځي افسرانو او شوروي حکومت تر منځ په غیر رسمي ډول ترتیب شوی او دراپل دتړون مربوط نه و ، دجرمني پوځي حلقوته چې جنرال هنس فون سیک یې مشر او ډګروال او سکارفون نیلرمایر ( په لومړۍ لویه جګړه کې دافغانستان لپاره دهنتیګ دهیئت غړی هم یکې شامل و ) داامکان برابر کړ چې جرمنیان دورسلای دتړون پر بند یزونو دستر ګو پټولو له مخې په شوروي اتحاد کې افسران او کار پوهان ولري چې شوروي پوځ ښه وروزي او هغه تجهیز ښه سنبال کړي چې جرمني یې له لرلو څخه منع کړای شوی و . (۱) ددوو ځواکونو تر منځ دا « غیرطبیعي » ملګرتیا همدغسې پاینبت لاره څو چې هټلر په (۱۹۳۳ ) کې هغه پای ته ورسوله .

دشوروي اتحاد لپاره د (۱۹۲۰) لسيزه دځان تېنګښت پړاو ګڼل کيږي . چې په کورنۍ جګړه او بهرنۍ لاسوهنې سره پيل او په نوې اقتصادي تګ لارې سره چې دشوروي سپما ييزې کلادنړيدو له کبله مو قتاً له سوسياليستي پلانونو څخه ځان ساتي ، دوام مومي . له لويديځ سره بهرنيو اړيکو داقتصادي او عقيدوي اختلافونو په وجه يو داسې ناوړه حالت غوره کړ چې له برتانيې سره دسياسي اړيکو ټينګښت او بيرته غوځولو تر سرحده ورسيد .

جاپان په (۱۹۳۱) کې په منچوريا کې خپله پراختيايزه تګ لاره پيل کړه او ايتاليې د (۱۹۳۵) په اکتوبر کې پر حبشې يرغل وکړ . د (۱۹۳٦) په جولاى کې داسپانيې کورنۍ جګړه هم پيل شوه .

افغاني واکمنانو دانړيواله وضع په ګډوډو جذباتو سره څارله هغوى د (۱۹۳۰) په لومړيو کې د شوروي اتحاد له خوا له يرغل څخه په انديښنه کې وو او له برتانوي حکومت څخه يې په پر له پسې ډول دشوروي - افغان دکوم احتمالي جنګ په صورت کې د هغه هيواد دريځ پوښته . فيض محمد وايي چې : « داوسني افغان حکومت تګ لاره دټولو بهرنيو ځواکونو حصوصاً له لويې برتانيې او روسيې سره دوروګلويزه اړيکو د ټينګښت په خاطر دهغه پر صميمانه هيلې باندې ولاړه ده . ددغسې کار د تحقق لپاره هغوى خپل ټول هاند کړى چې شوروي حکومت خوښ او وهڅوى او هغوى دکوم بيلتون د پيښيدو دمخنيوي په خاطر خپل ټول وس پکار اچولى ، مګر دشورويانو رويه داسې نه ده چې په راتلونکې کې دې باور پرې وشي . » (۲)

په انګلستان او هند کې اړونده احساس خورا محتاطانه و ، وجه يې داوه چې « ... که مونږ دافغانستان بهرنۍ تګ لاره کنټرول نه کړو او څنګه چې په اوسنۍ وضع کې دهغې خپلول هم له عملي سياست څخه لرې ښکاري ،

نومو ي به د هغه هیواد دشمال پولو ضمانت هم ونشو کړای او د روسیې سره دهغو داړیکو دهرډول بحران پر وخت باید موږ یوازې او یوازې دخپلو گټو له زاویې څخه عمل وکړو . » ( ۳ )

په دې انگیرنه کې دهندي حکومت دپوځي څانگې نظر خورا مهم وچې مشوره یې ورکړه ، لومړی دا چې هند په خپل سر او یوازې ډول دهندوکش په شمال کې هیڅ هم نشي کولای او دویم دا چې له شمال څخه دروسي یرغل پر وراندې دافغانستان د جنوبي ولایتونو نیونه (آن که په خپله دافغانانو پر غوښتنه هم تر سره شي) له خطره ډک یو عمل به وي . ( ٤ )

په کابل کې برتانوي استازي ته په پای کې وا ک ورکړل شو چې یوناژمنی ځواب ورکړي یانې داسې چې برتانیه « به دافغانستان یا کومې بلې سیمې پر اړه د خپلو گټو په نظر کې نیولو له مخې چې دملتونو دشورا د پریکړه لیک او هر نړیوال لوزسره سم وي ، گام اخلي ، دغه گټې چې څوواره ذکر شوي هم دي دیو غښتلي ، خپلوا ک او وروړ افغانستان پر شته والي باندې هم مشتملې دي ، همداوجه ده چې پر فطري ډول به هغوی پردوست افغانستان باندې دکوم بهرني ځوا ک دبیځایه تیري پر وخت بې توپیره پاتې نشي خو په دې اړه اصلي گام اخیستنې باید دوخت غوښتنو ته پریږدو . » ( ٥ )

دا، قناعت وړ یو ځواب نه و ، ځکه په هیڅ ډول یې افغانان نشول ډاډه کولای .

یو کال وروسته سریچارد مکوناشي ته دبرتانیې دکابینې له خوا وا ک ورکړل شو چې افغان حکومت په دې ډاډه کړي چې : ( ۱ ) دشوروي دیرغل پر وخت به افغانستان ته هیڅ خطره نه وي ( ۲ ) دافغانستان دریځ به خورا پیاوړی شي که چیرې هغه دملتونو دشورا غړیتوب تر لاسه کړي و ( ۳ ) پر

افغانستان باندې به شوروي يرغل عيناً پر برتانوي او هندي گټو يرغل وګڼل شي او په هغه صورت کې به برتانيه د شوروي اتحاد پر وړاندې له ډپلوماتيکې مداخلې او اقتصادي کښيکښنې څخه کار واخلي . (٦)

دا تر ډېره روښانه ده چې د افغانستان حکومت د برتانيې په دې ډاډمنيو سره دومره اغېزمن نشو . افغان حکومت د شوروي د هغه ډېرېغ پر وجه چې جاپان پر منچور يا باندې د بريد تکل وکړ ، يو ځل بيا ډاډه شو ، ځکه په دې ډول شوروي اتحاد په يو دفاعي حالت کې راغی . په کابل کې جرمني سفير شوروييل راسن راپور ورکړ چې : « د افغان حکومت چارواکي په منچوريا کې د چين او جاپان شخړې په انديښنه کې اچولي دي ، ځکه هغوی ډاريږي چې افغانستان هم يوه ورځ د کوم لوی ځواک له خوا ډکټ مټ بر خليک سره مخامخ نشي » . افغان صدراعظم راته وويل چې : « که جاپان د منچور- يانيو لو ته آزاد پريښودل شي ، مانا به يې داوي چې د ملتونو شورا اصلاً خپل اهداف پرې ايښي دي . » محمد هاشم وويل چې ده جاپان د « کيلاگ تړون » ته متوجه کړ او هم يې توکيو ته ديو درې مياشتني مودې لپاره يو افغان ډپلوماتيک هيئت ليږلی دی . (٧) په (١٩٣٥) کې افغاني صدراعظم جرمني سفير ته چې باور يې ورباندې درلود داسې وويل : « له جاپان سره زموږ د سياسي اړيکو ټينګښت د شوروي لهجه خورا نرمه کړې ده ، د جاپاني سفير له رارسيدو سره سم ، ناپايه ستونزې ، سرحدي لانجې او غندنې ځای پر ځای ودريدې . » (٨)

جاپان بې له شکه د افغانستان لپاره په بالقوه ډول خورا گټور تمام شو هغه نه يوازې د سياسي ټينګښت جوګه شو ، بلکې کولای يې شول چې د يو سوداګريزانډيوال پر توګه هم رول ولوبوي ، افغاني واکمنان په ( ١٩٠٤٥ -

۱۹۰۵) کې دروسيې – جاپان په جګړه کې د دې آسيايي دولت دبريالیتوب تر اغيزې لاندې راغلل چې ديو لوی ځواک په توګه يې ډاروپايي ستر و ځواکونو سره له برابر دريغ څخه ډغرې وهلای شوې . له همدې کبله په کابل کې جاپانيانو ته هرکلی وويل شو او افغاني واکمنان ښايي په دې اسره هم وو چې له جاپان او نورو ناګاونډيو دولتونو سره به اړيکې له سيما ييز پلوه ګټور او په نړيوالو اړيکو کې افغانستان ته نوره خپلواکي هم وربه برخه کړي . دافغانستان او جاپان اړيکې آن د امان الله خان دواکمنۍ پر مهال لا ټينګ شوي وو ، مګر په دې ټوله موده کې هيڅ کوم جاپاني سفير دلته نه وراغلی .(۹)

جاپاني مالونه چې هر چا دبازاري شيانو په نوم سره بلل ، هر افغاني بازار ته لاره وميندله ، لاکن په سوداګرۍ کې دپام وړ کوم زياتوالی ځکه پېښ نشو چې دغه جاپاني اقلامو يوازې دهغو مالونو ځای ونيو چې مخکې به له هنده راتلل ، له جاپان سره دغه تجارت آن دافغانستان په زيان هم تمام شو داځکه چې هغه يوازې يو اړخيزه و ، جاپان په دې خوښ و چې خپل توليدات وپلوري ، مګر په بدل کې يې افغاني اجناسو له پيريدلو سره مينه نه لرله ، که څه هم چې جاپان په آسانه شرطونو سره دپور ورکړه ومنله خو افغانستان ته ددې نالنډوله تجارت اورد مهاله زغم ګران و .

بل هغه څه چې افغاني چارواکي يې عصباني کول ، دجاپان څرګند سياسي هدفونه وو ، داسې ريوټونه ورکول شول چې په افغانستان کې جاپاني استازي د منځنۍ آسيا له چارو سره زښته زياته مينه لري ، دا مينه له چين او شوروي اتحاد سره دګاونډيو په توګه يوازې په ادبي چوکاټ کې نه وه ، فريز فايتلر چې دمکوناشي پر ځای په کابل کې دبرتانيې دسفير په توګه دنده

ترسره کوله ، راپور ورکړ چې : « په اپریل (۱۹۳۸) کې دجاپان یو سوداګر دتجارت دوزیر او نورو سوداګریزو واکوالو په مخ کې دیوې وینا په ترڅ کې هیله څرګنده کړه چې جاپان به ډیر ژر په واخانٔ کې له افغانستان سره ګاونډی شي . » برتانوي سفیر پسې زیاته کړه چې : « دغه وړاندې ینې افغانان دومره سره ولړزول چې دجاپان مرستیال سفیر یې ورو باله او ګوتڅنډنه یې ورته وکړه چې خپل سوداګریز استازي له دغسې سیاسي وینا ګانو څخه راوګرځوي. » (۱۰)

دامنیت دتینګیدو لپاره په نړیوالو جوړښتونو کې دغړیتوب له لارې افغانستان ته پر ته له شکه بلنه ورکول کیده . خو لوی خنډ داو چې برتانیې د « ملتونو دشورا » غړیتوب درلود ، په داسې حال کې چې شوروي اتحاد له هغه نه بې برخې و ، نو داچې له دې دوو ځواکونو څخه یوازې یوه یې دغسې غړیتوب لاره ، هغه بل به هرومرو دافغانستان له غړیتوب څخه د یو دښمنیزه تکل مانا اخیسته . په کابل کې جرمني سفیر آن وړاندې لا د (۱۹۳۱) په اکتوبر کې راپور ورکړی و چې: « نادر شاه به په ډیرې خوښۍ سره د هغه غړی شوی وای، خو دانه ورمعلومیږي چې همدایې سم وخت دی که نه ، سربیره پردې هغه غواړي چې له هرڅه مخکې په دې پوه شي چې دملتونو شورا دچین - جاپان په شخړه کې څه کولای شي او آیا په واقعیت کې یوه عمومي بې وسلې کیدنه را منځته کولای شي که څنګه . » (۱۱) همداوجه ده کله چې شوروي اتحاد د (۱۹۳٤) په سپتمبر کې دملتونو دشورا غړی شو نو افغانستان یې هم دځو میاشتو په ترڅ کې غړیتوب ومانه . (۱۲) خو داوخت یو بل ډیر ګواښمن ځپاندراښکاره شو ، هغه دا چې ایتالیا پر حبشې باندې دیرغل لپاره وزرونه وخوځول . ایتالیا او حبشه دواړه دملتونو دشورا غړي وو او افغان حکومت هم

له دې کوچني افريقايي دولت سره څه زيات توپيرنه لاره ، ريپځن چې په کابل کې د پخواني جرمني سفير زيمک ځای نيولی و ، داسې راپورولیږه چې «افغان حکومت په دې ډير خواشيني دی چې اتوپيا ټول ټال پر بهرنيو وسلو باندې تکيه ده او دلويو ځواکونو له خوا هلته دوسلو پرليږلو بنديز ايټاليا ددې جوګه کړه چې وسلې او جګړييز څيزونه راغونډ کړي او خپل ګاونډی هيواد ورباندې وځپې . » حبشې هم دافغانستان غوندې سمندر ته خپلواکه لار نه لرله ، بلکې د خپلو ګاونډيو خوښې ته ناسته وه چې دهغوی له لارې يې داړتيا وړ وسلې ورسيدای شوې ، دراپورنو له مخې فيض محمد وويل چې : « که دملتونو شورا دلويو ځواکونو ښکيلاکي تلوسو ته تسليم شي چې مانا به يې ددې شورا انحلال وي نو په هغه صورت کې به ترکيه ، ايران يا افغانستان چې کټ مټ د ښکيلاک له خوا ګواښيږي ، دژغورنې او نړۍ ته دورستنيدو يوازې يوه لاره په مخ کې ولري چې هغه به دشوروي اتحاد ګريوان ته لاس اچول وي . » خو افغان حکومت پرته له شکه په دې عقيده و چې دخپل هيواد دژغورنې ترټولو غوره لار هماغه دهيواد په پياوړتيا او ديو ځواکمن پوځ په جوړښت کې نغښتې ده . (١٣)

دا چې د (١٩٣٠) لسيزې په لومړيو کې هغه کوچنيو هيوادونو چې له بهرنيو څخه دوسلو پر پيريدلو تکيه وو ، دځانونو وسلوال کيدو ته زيات ته ليوالتيا ښودله نو له اروپايي هدفونو سره په ټکر کې راغلل . دلويديځې نړۍ لويو ځواکونو نه دوسلو په زياتيدونکي يوه لګښتيزه سيالۍ کې ايسار وليدل چې هرو مرو يوې پبنبندونکې جګړې ته يې دور ښکيل کيدو يره رامنځته کړې وه . له همدې کبله دوسلو دليږد په اړه دکوم نړيوال تړون لپاره ټينګې هلې ځلې راپيل کړای شوې . په (١٩٣٢) کال کې په جنيوا کې دبې

وسلې کولو يوه غونډه جوړه شوه ، مګر دحل کومه لاره يې ونه موندله . دهمدې بې اغيزې غونډې پر مهال فيض محمد خان پړداګه کړه چې غونډې افغاني هيئت ته يوه استثنايي موقع ورکړې چې دهغې له مخې به په خورا تيتمې بيې سره پوځي سامان آلات رانيسي . ( ١٤ ) کوچني دولتونه ، لکه: افغانستان ، ښايي له دې هم ډاريدل چې داروپايي ځواکونو له خوا دوسلو لېوالي به ددوی په بشپړ بې وسلې کولو سره تمام شي چې دهغې په نتيجه کې په بيا دوی هم دحبشې غوندې دنوموړو ځواکونو لاس ته ګوري . په دې ډول دبې وسلې کولو هلې ځلې دملتونو دشورا دهڅو غوندې ناکامه شوې ، کله چې شوروي اتحاد دهغې غړی شو نو جرمني او نور ځواکونه له دې شورا نه ووتل او دلوړو دريځونو افغانانو وپتييله چې دهيواد ساتنه يوازې او يوازې له کوم لوی ځواک سره پړ ګډه مرسته کې نغښتې ده .

# له جرمني سره ګډه مرسته

دنړيوالې وضعې ورانيدو په افغانستان کې له کوم لويديځ ځواک سره د ځانګړو اړيکو دپرانيستو هيلې پيدا کړې چې په دې توګه سياسي ټينګښت او دهيواد دعصري کولواو پرمخ بيولولارې چارې وميندل شي . په افغانستان کې دحکومتونو له اوښتونونو سره سره ، جرمني بيا هم په دې اړوندتر ټولو غوره ځواک انګيرل کيده. جرمني آن دلومړۍ نړيوالې جګړې پرمهال په افغانستان کې دخپل څرګنديدو راهيسې دومره ګرانښت موندلې و چې هيڅ کوم بل غير اسلامي هيواد نه لاره . جرمني اصلاً دشوروي اتحاد او برتانيې دښمن اودعثماني سلطان ملګرى وچې سني افغانانو هغه دخليفه اوداسلامي نړۍ دروحاني مشر په توګه مانه . تر هغې جګړې وروسته جرمني بې مستعمرو کړاى شواوجرمنيان ، چې پرهيڅ کوم آسيايي ولس يې واک نه وچلولى ، له افغانانو سره د برابرۍ له مخې راوړاندې شول .يوه مهمه انګيرنه داهم وه چې جرمني دډير لرې والي په وجه افغانستان ته کوم سياسي ګواښ نه لاره.[ ۱۵ ]

جرمنيان چې افغانستان ته د ( ۱۹۲۰ ) لسيزې په لومړيو کې راغلي وو ، په رښتيا هم ډير خواريکښ خلک وو . هغوی په داسې شرايطو کې کارکاوه چې انگريزي او فرانسوي کسانو هغه دځانونو لپاره سپک اوبې گټې بلل . سر ريچارډ مکوناشي پر ( ۱۹۳۱ ) کال کې داسې نظر ورکړ : « جرمنيان چې په دې هيواد کې په يو شمېر کم اجوره کارونو لگيا او په عادي استوگنځايونو کې اوسيږي نو دا د هغوی د خپل هېواد ستونزمن حالت ثابتوي . » ( ۱٦ ) داچې جرمني د مستعمرونه لرلو په وجه له داسې بازارونو او سيمو څخه چې خپل صادرات يې ورلېږلای ، بې برخې و نو مجبوراً يې خپل شيان هر ځای په لږه گټه پلورل او مسلکي کار پوهانو يې په خپل هېواد کې د بيکارۍ له امله په لږ امتياز سره هم هر ځای کار ته زړه ښه کاوه .

دافغانستان نوو واکمنانو هم د امان الله خان غوندې ، جرمن حکومت ته د خپلو خواخوږيو ډاډ ورکړ او هيله يې ښکاره کړه چې جرمني دې د هېواد په پرمختيا او عصري کيدو کې د افغانستان داصلي شريک په توگه راشي . محمد هاشم خان پر ( ۱۹۳۱ ) کال د افغاني واکمنانو انديښنه هله ډاگيزه کړه چې په يوې ډيپلوماتيکي لهجې سره يې وويل چې : « زه او پاچا پخوا تل په دې گومان وو چې د امان الله خان په بيا پاچا کيدو سره خوشحاليږي ، » خو ده زياته کړه چې مونږ اوس پوه شوو چې د غسې نه وه . {۱۷} د ( ۱۹۳۳ ) کال په فبرورۍ کې د جرمن او افغانستان دنوي پور ژمنپانې ته د رسيدو دا ړونده خبرواترو پر مهال افغاني صدراعظم ديو بشپړ جرمن شراکت هيله من شو ، خو ورسره جوخت يې دا انديښنه هم ښکاره کړه چې د جرمني صدراعظم په توگه د ( ادلف هټلر ) په ټاکنې سره ښايي جرمني يوه تيري پاله بهرنۍ تگ لاره پسې را واخلي . خو ( شووربيل ) په خوبنۍ سره محمد هاشم ته وويل چې :

« ددغسې يوې انديښنې لپاره هيڅ کوم دليل نشته . (۱۸)

افغان حکومت دهټلري جرمني را څرګنديدو ته له بيلابيلو ګوټونو څخه کتل . افغاني واکمنان له يوې خوا پرآرامه شول ، ځکه چې په دې ډول نور نو دجرمني او شوروي اتحاد نژدې ملګرتوب پای ته رسيده . لکه څنګه چې په کابل کې ددې ملګرتوب «ځانګړتيا» له چانه پټه هم نه وه غلام صديق مخکې له دې چې نور څوک پرې پوه شي ، دنوموړيو دوو ځواکونو تر منځ ددې پټ پوځي تړون له شته والي څخه خبر و . مګر له بلې خوا ، کابل په دې ويريد چې جرمني اوشوروي اتحاد دواړه بنايي امان الله خان بېرته پاچهۍ ته ورسوي ، يا دا چې دبرتانيې ضد يوه پاليسي بنايي افغانستان له هند سره دښمنۍ ته ودروي . خو دنازي جرمني اوشوروي اتحاد تر منځ زياتيدونکی عداوت اودجاپان عروج دافغاني واکمنو ويره ترڅه حده سپکه کړه . په (۱۹۳۲) کال کې چې کله ولسي تولنپال غورځنګ هلته ځواک اخيستو ته په تړپوو . نومحمد هاشم خان شوور بيل ته څرګنده کړه چې نازيان به قدرت ته ونه رسيږي ځکه چې :« دا به په نړۍ کې دسولې دپای ته رسيدو په مانا وي . » او ده په خپګان سره ورته وويل چې جرمنيانو په افغانستان کې يو نازي کلب جوړ کړی دی . ده په افغانستان کې د دارنګه سياسي خوځښت دځپنې لپاره دمناسب کوم اقدام حق هم ځانته ورکړ . {۱۹} لاکن جرمني اغيزه دجرمن - افغان اړيکو له دې پور ته کښته والي سره سره پر غوړيدو وه اوجرمني يو ځل بيا په افغانستان کې د خورا مهم دريم ځواک په توګه واوښته . شوور بيل د (۱۹۳۳) په اپريل کې په ډانګ پيلې توګه وويل چې :« په دې ټول هيواد کې آن يو انګريز يا کوم شوروي سوداګر يا کار پوهاند هم نشته . جرمني دښوونې روزنې په برخه کې زيات ګسان لري اوپه تخنيکي ساحه ، جوړښتنه او کرکيله

کې هم پر هر چا بر دی . ( او ده هیله وکړه چې ) که په افغانستان کې د پاچا اړوند پلانونه لکه :له بهر سره د جرمن الوتنې پرانیستل او هم د یوې جرمنۍ نړیوالې راډیو استقرار په عمل کې پلی شي نو جرمنۍ اغیزه به د منځنۍ آسیا په زړه کې منګولې ټینګې کړي . » ( ۲۰ )

د شوروي بیل هیلې هغه وخت څه رښتیانې غوندې شوې چې افغان حکومت د نړیوالې وضعې د بدلون په وجه په ( ۱۹۳۵ ) کال کې دې ته اړ وت چې پر خپله بهرنۍ تګ لاره له سره غور وکړي . اصلي مسئله خو داوه چې افغانستان باید له جرمني ، برتانیې او شوروي اتحاد سره څنګه رامخته شي او له دوی نه له کوم یوه سره باید نژدې ملګرتوب پرانیزي .

جورج رېکین چې د زیمک د رخصتۍ له امله په کابل کې د جرمن سفارت چارې پرمخ بیولې ، د ( ۱۹۳۵ ) د جولای پر لسمه او نهه ویشتمه د « یو خورا مخفي » راپور په ترځ کې د افغانستان په کورنۍ او بهرنۍ تګ لارو کې د پېښېدونکي بدلون خبر ورکړ . رېکین څرګنده کړه چې په افغانستان کې اغېزمن کسان په دې لټه کې دي چې له ګاونډ څخه اکونو څخه بشپړ سپمایز او سیاسي خلاصون ومومي او په دې اړوندې د کومې تګ لارې د جوړښت لپاره غونډې هم کړې دي . » ظاهر شاه د حکومت وزیران ، ګڼ شمیر قومي مشران ، دولسي جرګې غړي ، د ملي بانک رئیس او په ماسکو ، تهران ، انقره او لندن کې خپل سیاسي استازي هم رابللي دي . افغانستان د ماسکو او لندن له څخوا وړاندې کړای شوې پوځي او سپمایزه مرستې ونه منلې ، اړونده سفیرانو ته داهم وویل شول چې د جرمني په وړاندې د دغه دوو هیوادو سیاسي انګیرنې هم راولیږل شي .

رېکین د یو لړ هغو سیاسي جریانونو خبر هم ورکړ چې د افغانستان

دراتلونکې بهرنۍ تګ لارې په تاکلوکې يو تر بله سيال معلوميدل . دا هغه ډلې وې چې دافغاني اغيزمنو کسانو په منځ کې په اصطلاح جرمن پلوه ، انګريز پلوه ، شوروي پلوه ، اوپه هيڅ پورې دناتړلو کسانو څخه جوړې شوې وې . خو دغو ټولو ديوې داسې « خپلواکې » افغان ملي تګ لارې پلوي وکړه چې هيواد به له بهرني تيري څخه په بشپړه توګه ژغوري اوافغانستان ته به ګړندی پر مختګ ور په برخه کوي .

له دې ډلو نه يو تن په کابينه کې ميرزا محمد خان دتجارت اوماليې وزير و چې له کومې بهرنۍ مرستې څخه پرته ديوې خپلواکې تګ لارې دجوړيدو ليوال و . دې ډلې غوښتل چې پخوانۍ پاليسي څه ناڅه بايدهماغسې روانه وي ځکه ، دريکين دانګرنې له مخې دا ډله له لويو پانګه والوڅخه جوړه وه چې له روان حالت نه يې دزياتې مادي ګټې تمه لرله ، ريکين دغه ډله په پارلمان ، ځينو قبايلي مشرانو اودحکومت په متوسطالحال مامورانو کې دزياتو پلويانولرونکې بلله . په رپورټ کې ويل کيده چې دويمه ډله دبهرنيو چارو ، جنګ ، کلتور ، روغتيا او فوايد عامې *له وزيرانو څخه جوړه وه چې ټولو يوه خپلواکه بهرنۍ تګ لاره غوښته مګر په دې باور وو چې دغه کاردافغانستان ديو اروپايي ګاونډي دملاتړ په نتيجه کې ميسر کيدای شي . ددې ډلې ځينو غړو لکه دبهرنيو چارو او فوايد عامې وزيرانو دشوروي اتحاد لا سنيوي ته لومړيتوب ورکاوه ، په داسې حال کې چې (نور ولي) بر تانيې ته تر

---

* - ريکين وايي: « Arbeitsminter » ياني دکاروزير ، ښايي مطلب يې هماغه دفوايد عامې وزير عبدالرحيم خان وي . دهماغه وخت دوزيرانو نومونه دې په ملپانه کې ولوستل شي .

جيح ور كوله . خو د رېيمه ډله له برتانيې او شوروي اتحاد څخه پرته د كوم بل لوى ځواك په لټه كې وه چې دهغه په مرسته يوه بشپړه سياسي او سيمه ييزه تګ لاره پر مخ بو تلل شي . دغې ډلې ديو داسې باالكل نوي پروګرام غوښتنه كوله چې دهغه له مخې به افغانستان تر خپله وسه پر مخ بيوول كيده . دا پر ټولو بره ډله وه ځكه چې ظاهرشاه ، د دربار وزير د پاچا د تره زامنو لكه : محمد نعيم خان او محمد داؤد خان ، د افغان ملي بانک رئيس ، ديو شمير ځوانو دولتي چارواكو او دوزارتونو مرستيالانو يې ملاتړ كاوه . داسې ويل كيدل چې صدراعظم هم دغه ډلې ته ميلان درلود . ددې ائتلاف استازيو جرمن شار ژدافر ته ځرګنده كړه چې دوى يوازې او يوازې له جرمني سره د ګډې مرستې پلوي كوي او د افغانستان په عصري كولو كې يې د جرمني د داسې يو انحصاري مسئوليت اړونده غبرګون وپوښت چې ديوشمير لويو پورونو وركړه به په كې وي . ددې ډلې غړيو په عين حال كې ، هڅه كوله چې دنورو ډلو غړي له جرمني سره دنژدې ګډې مرستې پوګتو وپوهوي ، خو داسې يو پلان يې هم درلود : هغه افغانان چې دجرمن پلوه تګ لارې خنډ ګرځي ، تبديل او يا هم تجريد كړي.

دغه ډله چې ريكين خپلواكه ډله بلله ، ديوې داسې مركزي پلانيزه څانګې درا ايستلو په تكل كې وه چې دافغانستان دټولو پرمختيايي پروژو پيينه او څارنه به يې كوله ، ددې څانګې په كارونو كې دا هم وه چې دصادراتو او وارداتو دحجم په څارنې سره به ملي بانګه انډول كوي او هم به دلو مړيتوب وركولو او كيدو يانه كيدو عصري پلوه سمونياله ډله چې په سياسي نارسيو كې يې دامان اله خان پل اخيستی و ، دافغانستان دپر مخ بيونې په بشپړتيا كې وګومارل شي . (۲۱)

ریکین د ( ۱۹۳۵ ) دسپتمبر پر ( ۲٤ مه ) راپور ورکړ، چې دافغاني تګ لارې دجوړیدو اړونده خبرې اترې سمې وختې . له جرمني سره په یوازې توګه د کارکولو وړاندیز داصولو له مخې پاچا او کابینې منظور کړ. نور ګامونه ځکه وانه خیستل شول چې افغانانو له هر څه مخکې له جرمني سره یوې ژمنپانې ته د رسیدو ډاډ ته کتل .

ریکین ولیکل چې له کابینې څخه په یوه خوله، منل تر لاسه کول دومره آسانه کار هم نه دی ،دبهرنیو چارو وزیر څه شرایط لرل په داسې حال کې چې سوداګرۍ وزیر د هر دول لند مهالې بهرنۍ مرستې پر بنسټ دې تینګه خپلواکې ولرو . له جرمني سره دګډې مرستې پلوې داصولو له مخې له ظاهر شاه څخه پرته ، صدراعظم ، دخپلواکې ډلې غړیو ، په ماسکو کې افغاني سفیر عبدالحسین عزیز اوپه لندن کې افغاني سفیر علي محمد هم کاوه . په پای کې دجنګ اوکلتور وزیران هم په دې ډله کې ورګډ شول . ددې شخصیتونو له خوا د منظورۍ اهمیت په دې حقیقت کې نغښتی وُ چې جرمن حکومت دیو لړ شرایطو په وړاندې کُولو سره موافقه وکړه . په ماسکو کې افغاني سفیر دشوروي له خوا دافغان پوځ د ټانک او پلي ځواک لپاره دوسلو دورکړې فرمایش او هم یې دسوداګرۍ په برخه کې دکوم تړون دکولو وړاندیز راوړ . ریکین څرګندکړه چې افغان لورۍ چمتو و دغه وسلې وپیرې چې داسې وښیي هغوی له شوروي اتحاد سره هم د سیاسي او اقتصادي اړیکو دټینګښت مینه لري اود یو تاکتیکي ګام په توګه به خبرې اترې پر مخ بوځي . دلندن له خوا په ډیر انتظار سره څه ځانګړې سپارښتنه را ونه رسیده په داسې حال کې چې دانتظار خلاف ترکي حکومت دسپمایزې اوپوځي مرستې وړاندیزوکړ . [ ۲۲ ] که څه هم چې په پوځي برخه کې د ترکیې دانحصاري رول

پر خلاف له جرمني سره پیلیدونکې مرسته په خپله یوه مناسبه پلمه گڼل کیده خو افغانستان بیا هم دیو تاکتیکي مانور په توگه وړاندیز وکړچې دوه ترکي سلاکار افسران دې کابل ته راوبلل شي . آزاد گروپ دجرمن - افغان پروگرام دلاغیزمن کیدو په خاطر دهغه پر جزیاتو قصداً غور و نه کړ . بل دا چې دکابیني مطروحه بدلونونه هم د لازموتبدیلیو دنه تر سره کیدو په وجه پر خپل حال پاتې شول . ( ۲۳ )

رېکین یوه اوونۍ وروسته برلین ته ولیکل چې له ده سره دخبرو اترو لوری اوس دسپمایزه پر ځای پوځي برخې ته اړول شوی ، داځکه چې افغانان دایتالیا ، اتوپیا دشخړې زیاتیدو سخت اندیښمن کړي او له همدې کبله وسلوالۍ ته له هر څه نه اوس لومړیتوب ورکوي . رېکین وپوښتل شوچې آیا جرمني به په پور دپوځي مرستې ورکړه ومني ؟ او آیا دروزونکو او سلاکارانو په توگه به خپل پوځي افسران ولیږي ؟ خو صدراعظم ددې پر امکان باندې شک وښود او دبیلگې په توگه یې په ( ۱۹۲۰ ) کال کې دجرمني هغه بیړنیوپوځي توکو ته گوته ونیوله چې د « انتنت کمیسیون » په دې دلیل ضبط کړي وو چې ویل یې : جرمني د « ورسلز » دتړون له مخې دوسلو لېږاکړې ورکړې څخه منع شوی دی . {۲٤} مگر رېکین صدراعظم محمد هاشم خان په دې وپوهاوه چې هټلر د ( ۱۹۳۵ ) دمۍ دیوویشتمي نېټې په وینا کې څرگنده کړې ده چې جرمني نور دې بندیزونو ته پام نه نیسي او ژر به دپوره برابرۍ له مخې دپوځي توکو صادرول اووارد ول پیل کړي .

افغان حکومت دیوې جگړه ییزې فرقې بشپړ وسلوال کیدو ته اړتیا لرله ، اوداکار یې له یوه بیلگه ییزه غونډ څخه را پیل کړ چې ( ۵۸۰ ) افسران ، ( ۲۳۳۰ ) بریدمنان او ( ۸۸۹۰ ) سرتیري یې لرل . کله چې دغسې یو غونډ

جوړشو نو دنورو ځانګړو واحدونو رایستنه هم چې دلویو توپونو ، ټانکونو ، او لازمو پوځي الوتکو لرونکي به وو ، تر لاس لاندې ونیول شوه . دیو راپور له مخې محمد هاشم خان وویل چې افغانستان کولای شي دخپل مالي توان ترحده په خپله ځان وسلوال کړي او هیله یې وکړه چې جرمني دې اتلس میلیونه مارکه پور ورکړي چې په لس – دوولس کالوکې به بیرته ور ادا کړای شي . لس کسو جرمني سلاکارانو ته اړتیا وه او جګړن شینک او تورن شمیت دوو پوځي سلاکارانو ته چې له مخکې ( یې دلته کارکاوه ) دنده ورکړل شوه چې دافغاني پوځ دبیا سمبالېدو اړونده طرحه دې جوړه کړي.

له جرمني څخه سربېره پر دې داتمه هم کېده چې دبارودو اووسله توکو دجوړښت په برخه کې دې دجوړنځیو دودانیدو اړونده ماشین پرزې هم برابرې کړي . دا چې افغانستان نشو کولای دغسې پروژې په خپله تمویل کړي، نو جرمن صنعت کارانو ته یې بلنه ورکړه چې دجرمن کار پوهانو له خوا ددغسې جوړنځیو د پرمخ بیونې او چالانونې په شمول دې دغه ټول کارونه په لاس کې واخلي . افغانستان په خپله برخه کې هر کال له جرمني څخه دښو ډیرو پیسو پوځي توکي هم رانیسي . اسبیستوس ( اورنه اخیستونکی دمالوچ غوندې ماده چې معدني ده ) او نورو طبیعي منابعو په راکښنه کې یو جرمن – افغان ګډګروپ ته هم امتیاز ورکړي . [ ۲۵ ]

د ( ۱۹۳۵ ) په ډسمبر کې ،کورت زیمک چې له خپلې رخصتۍ څخه بیرته کابل ته راستون شو . دجرمن – افغان اړونده خبرې اترې یې پر مخ بوتلې او راپور یې ورکړ چې دبهرنیو چارو وزیر فیض محمد خان او دجنګ وزیر شاه محمود خان په بشپړه توګه دخپلواکې ډلې په خواکې ودریدل .نور نو یوازې په اصطلاح هند پلوه ډلې چې په برلین کې افغاني استازی الله نوازیې هم غړی

شوی و ، له جرمني سره انحصاري ګډې مرستې ته زړه نه ښه کاوه . ( ۲٦ )

زیمک په یو بل لیک کې ټینګار وکړچې دجرمن - افغان سپما یزه اوپوځي پروګرامونو ته دې سیاسي کړه وړه ورکړل شي . ده راپور ورکړچې فیض محمد دخبرو اترو دپیلیدواو دلازمو ژمنپانو دلاسلیکولو په خاطر برلین ته دسفر خیال لري چې عبدالمجید به یې هم ملګری وي . دجرمن دحکومت اوصنعتي کمپنیو راوړاندې کید نه به هغوی په دې پروګرام کې مقابل لوري پر برخه اخیستو باندې نور هم ډاډمن کړي.خبرې اترې دجرمن - افغان کمپنیو درایستو دځرنګوالي په هکله وې چې په کړنوکې به یې لاندیني ټکي شامل وو: ( ۱ ) دجنګي توکو دجوړنځیو رایستل ( ۲ ) دبورې اونساجۍ جوړنځیو را ایستل ( ۳ ) دځینو افغاني منابعو لکه مس ،ابرک او اسبستوس راکښل او د هغوی په کار اچول . [۲۷]

جرمني اوافغانستان د ( ۱۹۳٦ ) کال په اوږدو کې ددغه جرمن - افغان پروګرام پر پلي کیدو باندې لګیا و . دشاهي کهول اوافغان حکومت غړیو دبیلابیلو دلیلونو په وجه برلین ته سفر ونه وکړل .لکه څنګه چې شاه محمود دغوند وربوزي ( جاغور ) داپریشن کولو او دالمپیک دلوبوننداري ته په مارچ کې راغی اومحمد هاشم هم دبدن دکوم عملیات لپاره په اکتوبر کې دلته راغی مګر دغه دواړو پرته له شکه غوښتل چې له جرمن مشرانو سره وګوري اودا معلومه کړي چې دجرمن - افغان اړونده پروژه شونې ده که نه . فیض محمد خان او عبدالمجید دلازمو خبرو اترو په مقصد په پسرلي کې برلین ته راغلل . له دې ټولو افغانانو څخه په جرمني کې تود هرکلی وشو او په ښو مراسمو سره وستایل شول چې صدراعظم هغه خورا عالي وبلل . فیض محمد دخبرو اترو له پیل څخه مخکې د ( ۱۹۳٦ ) دمارچ پر دویمه هټلر ور وغوښت

، نازي مشر د دواړو هيوادو ترمنځ دسپما يزه او پوځي اړيکو د لاټينګښت اوپراخيدو لپاره د جرمني تلوسه څرګنده او هم يې داد ورکړ چې دجرمني لپاره افغانستان ته دجوړښتي او پوځي توکو په ورکړه کې څه خنډ او ستونزه نشته ، فيض محمد په ځواب کې وويلي چې : « افغانستان هيله من دی چې له جرمني څخه ديو مشر او پر مخ تللي آرين نژاده ورور په توګه مرسته تر لاسه کړي . » {۲۹} پای دا چې افغان خارجه وزير دګنو جرمن لوړ چارو او په دې لړ کې د بهرني سياسي دفتر له مشر الفرد روزنبرګ سره وکتل ، دغه څانګه د جرمن له خارجه وزارت سره همغاړې او دهغه په شان دندې يې لرلې . دخبرو اترو په اصلي موضوع کې دسپما يزه ،پوځي پروګرام تر څنګ د دير شو پا يو غرنيو توپونو پيريدنه هم شامله کړای شوه ،{۳۰} دا ژمنپانه داصولو له مخې ومنل شوه ، اوفيض محمد دشوروي اتحاد له لارې افغانستان ته روان شو . افغاني خارجه وزير په ماسکو کې دوې او ونۍ تم شوچې له وخت نه په ګټه دشوروي افغان د ناپيليتوب او نه تيري لس کلن اوږد تړون لاسليک کړي. {۳۱} فيض محمد خپل دا « غيابت » نور هم پسې اوږد کړ او له ترکيې ، عراق او ايران سره يې دافغانستان دنه تيري دتړون په لومړنيو خبرواترو کې چې په ( ۱۹۳۷ ) کې دسعد آباد په تړون سره وپيژندل شو ، برخه واخيسته .

عبدالمجيد خپلو خبرو اترو ته دوام ورکړ چې د ( ۱۹۳٦ ) په اکتوبر کې افغان خارجه وزير بيا ورسره ملګری شو ، خود دې جرمن تړون مطلب او چې برلين به دافغاني مامورانو او جرمن صنعتي ډلو تر منځ دمنځګړتوب څخه اضافه نوره پښه نه غزوي . افغانستان له وړاندې څخه هم دوسلو پېرېدلو لپاره لهبيلا بيلو دولتونو لکه : شوروي اتحاد ، برتانيې او چکواسلواکيې سره

خبرې اترې پر مخ بيولې وې چې په دې لړکې د «چک سکودا» کمپنۍ دجرمنۍ دهپرو ( HAPRO يانې دوسلو دګنو صنعت کارانو لپاره د لال)* په پرتله په خورا ټيټه بيه غوښتنليک ورکړی هم و او افغاني حکومت پتيېلې وه چې دخپلې اړتيا څه شيان ور څخه وپيري . خو د پيغور په ډول ، د (۱۹۳۸) په منې کې پر چکوسلواکيا باندې دجرمني يرغل او په ځان کې دهغه هيواد ورګډيدو دچک داسيالي دړې وړې کړه .

دجرمن - افغان دا خبرې اترې په ګڼو ژمنپانو او څه پټو غونډې پروتوکولونو سره پای ته ورسيدې . دبيلګې په ډول د ( ۱۹۳۶ ) د اکتوبر د (۲۳ مې ) نېټې پټ غونډې پروتوکول د يادونې وړ دی چې دوسلو اوجګړه توکو اودجرمني له خوا د پنځلس مليونه مارکو د پور ورکړه يې په خپلو پانوکې رانغاړله چې په اوو کالو کې به بيرته ادا کيدله. دا تړون اصلاً دنورو سوداګريزه اړيکو د پراختيا لومړنی ګام بلل کيږي [ ۳۲ ] . يوه مياشت وروسته يانې د ( ۱۹۳۶ ) دنومبر پر اولسمه يو داسې تړون لاسليک شو چې له افغانستان څخه يې دمالونو په هکله د پيسو دورکړې څومره والی اوڅرنګوالی ټاکه . دا تړون د ( ۱۹۳۸ ) په جنوري کې اصلاح کړای شو[۳۳]. د (۱۹۳۷) په جنوري کې جرمني ته دلوړو زده کړو لپاره دنجات دليسې له شلو څخه ديرشو فارغانو دليږلو پروتوکول لاسليک شو [ ۳٤ ]. دهمدې کال په اکتوبراونومبر کې دجرمن هوايي لارښوونکو اودروزنې لپاره دالوتکو درانيولو د پور څه پټ غونډې پروتوکول لاسليک شو[ ۳۵ ] . د «تاند » نوموړي تړون د ( ۱۹۳۷ ) داکتوبر پر ( ۱۸ مه) لاسليک شو چې د

*Handelsgesellschaft fur Industrielle Produt (HAPRO)

(۱۹۳۹) دجولای پر (۲۷مه) اصلاح او تصویب شو. ددې تړون له مخې یو جرمن لوی څارن وټاکل شو چې په افغانستان کې دجرمنیانو کار وڅاري او په ټول افغانستان کې دودانتیا او پیوستیا (ساختمان او ارتباطاتو) په برخه کې دافغان حکومت دیو سلاکار په توګه خدمت وکړي، دغه لوی څارن کولای شول په افغانستان کې تکړه کسان په کار و ګوماري اودلزوم په صورت کې کوم انجینیر له کاره وباسي، دغه صلاحیت هغه ته ددې توان ورکاوه چې په افغانستان کې پر جرمن کار کوونکو باندې ښه کنټرول ولري. که څه هم چې افغان حکومت داتړون لاسلیک کړ. مګر له هماغه پیله دا ښکاره وه چې کابل دهغه پر ځینو مادو باندې پوره رضائیت نه لاره. له همدې امله دغه تړون د (۱۹۳۸) په نوومبر کې بیرته ترمیم شو چې دهغه له مخې دلوی څارن واک پر هغه ودانیزه کارونو باندې چې افغانستان به جرمنیانو ته ټاکل محدود کړای شو[۳۶]. په همدې لړکې د (۱۹۳۹) کال په اګست کې دپیسو سپارلو خورا او څارتړون هم دیادونې وړ دی چې دجرمني له خوا په کابل کې نوي جرمن سفیر هنس پیلګر او جورج ریکین اودافغانستان له خوا عبدالمجید اومحمد اکرم په کابل کې لاسلیک کړ[۳۷]. دغه تړون دجرمن -افغان دسوداګرۍ د پرمختیا لپاره یو ښه خیال پلوګڼل کیده ځکه په اروپا کې دجګړې نښتو نښانو داومو موادو دیوې ښې سرچینې په توګه دافغانستان ارزښت نور هم لوړ اوه.

دغو تولو دیپلوماتیکو څوځښتونو او په افغانستان کې دجرمنیانو د شمیر زیاتوالي ته شوروي اتحاد او برتانیې په ګډوډه توګه کتل. برتانیه تر (۱۹۳۸) پورې په افغانستان کې دجرمني اغیزې نه وه اندیښمنه کړې. په کابل کې جرمن استازیو څوځله راپور ورکړی وچې برتانوي دیپلوماتانو

دلته دوی ته ډاډ ورکړی چې هغوی په افغانستان کې دجرمني له زیاتیدونکي اغیزي څخه ځکه خوښ دي چې په دې توګه به دشوروي اتحاد دنفوذ عوامل راکم کړای شي {۳۸} .

دهندي څانګې دزیر متون په یو پیښلیک کې هم کټ مټ اخیستنې راغلې دي ،لکه څنګه چې په افغانستان کې جرمن خوځښتونه په تمامه مانا داسې انګیرل کیدل . چې « جرمني اوموموادو او بهرنی تبادلې ته اړتیا لري . » که جرمني کومې سیاسي موخې هم لرلې ،خوکیدای شو دجګړې پر وخت افغانستان ته دلاس رسیدو څخه بې برخې کړای شوی وای . چې په هغه صورت کې به جرمن پلوه افغان حکومت « دښمنانه دریغ نشو خپلو لای ځکه چې دجرمن پوځي رشد څخه بې برخې کیده او ( په زیات ګومان سره ) نور به نو له لوېې برتانیې اوشوروي اتحاد سره مخامخ کیده . »{۳۹} خو برتانیه له دې نه سره په دې ډاریده چې په منځني ختیځ کې دایران په پرتله په افغانستان کې دجرمني راغزیدنه بنایي شوروي کوم متقابل عمل ته وهڅوي ،{۴۰} .

دبرتانیې او شوروي اتحاد دحکومتونه تر ډیره حده له دې حقیقت نه بې خبره وو چې په افغانستان کې دجرمني اغیزه اونفوتنه اصلاً دجرمن او افغان حکومتونو په بشپړ رضائیت سره روانه وه خو له دې سره سره دجرمن – افغان دګډې مرستې یو بل اړخ د افغانستان ددوو اروپایي ګاونډیونه تر زیاتې مودې پورې پټ پاتې نشو چې هغه دمصر ،عراق ،ایران ،افغانستان او چین له لارې ترجاپانه دجرمن الوتنې دپراخیدو ځانګنه پروژه وه . جرمن حکومت د ( ۱۹۳۷ ) په پسرلي کې وپتیله چې له برلین څخه تر لرې ختیځ پورې دهوایي چلن کرښه راوباسي اوله افغانستان او نورو اړونده هیوادونو څخه یې وغوښتل چې په خپله فضا کې الوتنې ته اجازه ورکړي . دځینو

راپورونو له مخې ، افغان کابینه په دې اړوند پر دوو برخو وویشل شوه: ځوانو کسانو دغې پروژې ته له ډېرې سره د ترڼې په سترګه کتل او هغه یې دافغانستان د ګوښه توب پای وباله په داسې حال کې چې زاړه کسان (چې خورا زوړپاله وو ) وویریدل چې اروپایي ځواکونه به له دې لارې په افغانستان کې خپله اغیزه وښندي ، فیض محمد خان فریز ټایتلر ته وویل چې :ددې حکومت خپله خوښه دې ته ځنډولې چې وګوري دنړدې ختیځ نور حکومتونه اړونده اجازې ورکوي که نه ». په کابل کې برتانوي استازي دافغان صدراعظم تر غوږ تیره کړه چې شوروي سفیر :« په افغانستان کې د دې جرمن اغیزې په هکله زیاته اندیښنه او شک څرګندوي » او هغه وراندیز کړې چې دا کار دافغانستان پر خپلواکه حق باندې تیرې دی چې نن مقتضي ګڼل کیږي او شوروي اتحاد هم بنایي د کټ مټ حقوقو غوښتنه وکړي {٤١} . دجرمن هوایي الوتنې داپروژه څه نوې خبره نه وه . لکه څنګه چې جنکرز په ایران کې آن د (١٩٢٥) کال راهیسې خپلې الوتنې ایستلې وې چې دوه کاله وروسته یې دکورنۍ ډاګ ورل راورل هم په خپل انحصار کې واخیستل . جنکرز په (١٩٢٩) کې له تهران څخه بغداد او مشهد ته الوتنې لرلې او افغانستان ته دهغه دالوتو پراخیدنه منطقي معلومیدله ، دامان اله خان حکومت په (١٩٢٨) کال کې له هوګوجنکرز سره دکورنۍ الوتنې دفعالولو تړون وکړ {٤٢} . خو د (١٩٣٠) کال په لومړیو لسیزو کې دکورنۍ جګړې او دجرمن - افغان اړیکو دخرابیدو په وجه دلیدو ور څه تر لاسه نشول څو چې دا امتیاز هم ختم شو . په (١٩٣٦) کال کې دا پروژه یوځل بیا تر لاس لاندې ونیول شوه او په جولای کې دجرمن جنکرز یوې شپږ څوکسیزه الوتکې دواخان د تړې بر اوږدو باندې دچین تر پولې یوه اکتشافي الوتنه وکړه {٤٣} . تر دې لږ څه

وروسته دوو جرمنيانو دهندوكش له پاسه دهوا پيژندنې يو ستيشن ودراوه . د (۱۹۳۷) په اگست کې دوې الوتکې له کابله والوتې او په بري سره دچين دسن کيانگ ولايت ته ورتيرې شوې چې هلته يوې تکر وکړ او بله دماشين دورانيدو په وجه کښيناستو ته اړوته . يو پيلوټ تر نيولو وروسته څلور اووني بندي شو چې بيا په سبتمبر کې کابل ته دبيرته الوتنې اجازه ورکړل شوه . په چين کې ناوړه سياسي حالاتو او ددې پروژې تخنيکي ستونزو د «لفت هانزا» چلوونکي دې ته اړ ايستل چې په کابل کې خپلې الوتنې پای ته ورسوي او لرې ختيځ ته کوم بل مناسب هوايي لوری ولټوي . خوداسوچ په خپله ډير ستونزمن ځکه برتانيه او شوروي اتحاد دواړه په دې سيمه کې دجرمن په راوړاندې کيدوسره ناخوښه وو .

په لندن کې شوروي سفير ددې موضوع په اړه دنومبر پر دريمه دبرتانيې دبهرني وزارت له لوړ چارو سره ورغيد او څرگنده يې کړه چې : «بايد په ډاگه درته ووايم چې زما حکومت ( دغه هوايي شرکت ) په هيڅ توگه نه خوښوي . » دا څرگنده وه چې دبرتانيې هم له نوموړي پروژې څخه بد راتلل . په کابل کې برتانوي واکمن وزير داسې وگڼله چې جرمني ددريو علتونو له کبله له کابل سره هوايي تړاو غوښت : (۱) په لرې ختيځ کې دپيليدونکي ځای په توگه همدا کابل و چې کولای يې شو ، له جاپان او شمالي چين سره ونښلول شي (۲) دشوروي پر تولو جنوبي پولو دجرمن اغيزه خپريدای شوه (۳) له شوروي اتحاد يا برتانيې سره دجگړې پرمهال به په افغانستان کې ديوخوځنده هوايي جوړښتون څخه برخمن کيده . افغان حکومت په پای کې خپله اجازه ورکړه او هغه يې داسې حق په جانبه وښوده چې : « افغان حکومت دسعد آباد دتړون په لاسليک کولو سره مجبور دی چې خپله بهرنۍ تگ لاره دنورو امضاء کوونکو له هغې سره برابره مخته بوځي . »

خو دې څرګندونې په زغرده له هغه مخالفت نه سترګې پټې کړې چې ترکيې دنه تيري د ترون ديو غړي په توګه له دې هوايي شرکت سره لاره . نوموړي برتانوي سفير د ( ۱۹۳۸ ) دمي په پای کې له کابله راپور ورکړ چې : « دجرمن دغه هوايي شرکت په اوونۍ کې په يوې الوتنې سره فعال شوی دی ... چې تر برلين پورې د يوتن کرايه ( ۱۰۵ ) پونډه ده . » [ ٤٤ ] .

فريزر ټايټلر د ( ۱۹۳۸ ) ترجون پورې خپله ويسا دلاسه ورکړې وه او په يو اوږد ليک کې يې د دې جرمن پروژې او په نړيوالو اړيکو کې دهغې دمطلب په هکله خپل نظر څرګند کړ . هغه په دې ليک کې روښانه کړه چې ده په تيرو دريو کالو کې خپله زياته پاملرنه « په افغانستان کې دجرمن ګرندۍ سپمايزه ننوتنې ته » اړولې وه ، او زياته يې کړه چې : « په افغانستان کې دناسپمايزه جرمن الوتنې داوروستۍ رايستنې زما دمودې مودې شک او ګومان نور هم پسې رښتيا نی کړ . يانې دا چې په افغانستان کې جرمن خوځښتونه ښايي ورپسې راتلونکې انګيرنې ولرې چې هغه به يووخت دبرتانيې واکمنۍ ته غوڅ ګواښونه پېښ کړي ( ده په زياتې خواشينۍ سره وېټيېله چې ) که دبرتانيې هماغه وخت يانې په (۱۹۳۵) کال کې دافغانستان لېسوداګريزه ودې سره مرسته کړې وای نو جرمني به دلته کوم تکيه ځای نه مينده لکه څنګه چې يې نن ددې هېواد په سپمايزه ژوند کې لري . خو په ( ۱۹۳۵ ) کې نړيوال سياسي حالت داسې نه و لکه نن چې دی ، او جرمني دارنګه سوداګريزه ګواښونه پر ځای منل چې نن يې پر مخ تللي هيوادونه سم نه بولي . » [ ٤٥ ] .

فريزر ټايټلر په افغانستان کې جرمنۍ اغيزه له دې دريو انګيرنو څخه بللې : (۱) جرمني دپورونو ورکړې او دهغه يوڅه ادا يني ته داومو موادو داخيستو له لارې چمتووالی لاره . (۲) په بيلابيلو څانګو کې يې په لږ معاش او دستونزمن ژوند په قبلو لو سره خپل تکړه کار پوهان ګومارل ، (۳)

عبدالمجيد په طبيعي توګه دې کار ته ليچې بد وهلې وې ځکه چې ميرمن يې جرمنۍ وه [ ٤٦ ] . فريزر تايتلر زيات کړه چې جرمني له يو څخه تر دوه مليونه پونډه پور ورکړی دی اوبل دا چې څه نا څه اتيا کسه جرمنيان په پنځه ويشت يا تر ديرش بيلابيلو پروژو کې پکار ګومارل شوي دي ، دغه برتانوي سفير له تولنيز او کلتوري اړخه داسې انګيرل چې په جرمني کې دالمپيک روانو لوبو افغاني ځوانان دجرمن انتظام او تکړه والي تراغيزې لاندې راوستي دي [ ٤٧ ] . نوموړي « دجرمن دبې حده توکم پالنې او زوورتوب » ترڅيرلو وروسته چې دهغه هيواد ګټمن کيدو راز يې باله ، داسې خبر داری ورکړ چې « موږ خپل انحصاري دريځ او يوبې وزلي هيواد ته هر کال دنغدو روپيو دتاديې کلي په خپله له لاسه ورکړه . جرمني دوسلو او ماشين بابو په ورکړه کې ، او ايتاليې له هوايې ځواک سره په خپله مرسته کې زموږ څخه ميدان وګاټه ، دبرتانيې عام حيثيت را پريوت . . . . » دحل په مقصد يو وړانديز چې دغه برتانوي سفير وکړ داو : « دهند دڅغورنې دعمومي دليل په وجه دې لدې هيواد ( افغانستان ) سره په هره برخه کې څومره چې شونې وي مرسته وشي . »

پای دا چې برتانيې په کابل کې دخپل هوايي چلند دپرانيستو غوښتنه له دې ويرې ونه کړه چې ښايي شورويان به هم کټ مټ امتياز وغواړي . پرته له دې ، دهند حکومت د ( ۱۹۳۹ ) په مارچ کې څرګنده کړه چې : « موږ په تيره بيا دروانو مالي ستونزو له کبله په دې سلايو چې اوس اوس ددې مسئلې نورې پرمخ بيونې ته اړتيا نشته . » [ ٤٨ ] ، برتانيې له افغانستان څخه دجرمني دمخ اړونې لپاره ديو هڅوونکي ګام په توګه « لوفت هانزا » ته اجازه ورکړه چې لرې ختيځ ته خپلې الوتنې دپارس خليج او هندوستان له لارې وکړي .

# پر سرحد باندې شورش

افغان حکومت د ( ۱۹۳۰ ) لسیزې په وروستیو کې له یو لړ قبایلې ستونزو سره مخامخ و چې په عمده ډول وجه یې له برتانیې سره هم اړیکي وچړیدلې. په دې لړ کې د کتواز د سلیمانخیلو شورش تر ټولو مهم دی چې د (۱۹۳۷) په جولای کې پیل شو. دغه پاڅون د نورو قبیلې د مشرانو په تیره دایپي د فقیر او محمد سعدي الګیلاني د فعالیتونو په وجه چې په هند کې یې شامي یانې د سوریې پیر باله ، نور هم پسې زور شو . د سلیمانخیلو بلوا له اداري نه آخوا د کټ مټ هغې ویرې له کبله پیښه شوه چې پخوا به هم د هندي پولې پر دواړو خواوو استوګنو پښتنو لاس وراچاوه . پرخپلواکۍ مینتوب د غلجیو په هغه پخه خبره کې خورا ښه انځور شوی دی چې وایي :

« مور په نفاق خوشحاله یو ، په ګوابنونو بندنه یو ، په وینه تویدو راضی یو ، خو کوم بادار ته به هیڅکله هم سر ټیټ نه کړو . » [ ٤٩ ]

دا شورش پوځه ځمکې دځبښتنولی پر سر ددوو غلجیو تیرونو تر منځ پیښ شو. افغان حکومت دسولې دټینګښت لپاره دیوګام په توګه په کتواز کې یوه همیشنی لیوا ځای پرځای کړه. غلجي په خپله سیمه کې دحکومت په دې نوتنه سره ډېر ژر وپاریدل، او د (۱۹۳۷) په جولای کې یې پر دغه حکومتي پوځونو بریدونه پیل کړل چې دقبایلي او حکومتي پوځیانو تر منځ نیمه ژمنه رامنځته شوه. ځایي غلجیان تسلیم شول خو لرې پر توهغه غلجیو چې هر کال هند ته کوچیدل، له افغان حکومت سره روغه ونه منله، که څه هم چې افغان حکومت دغه شورش غلی کړ. خودا لګولې اورځکه بیر ته ولګید چې قبایل دبرتانوی نوتنې په وړاندې دوزیرستان له قبایلو څخه دافغان حکومت دنه ملاتړ په وجه خفه شوي وو. سلیمانخیل پرته له دې له افغان حکومت څخه دمالیې اخیستو له کبله په ځانګړي ډول له هغو کیږدی والو څخه دګمرکي محصول اخیستلو هم کرکجن کړي وو چې دخپلو سپما یز خو-ځبښتونو یا قاچاق په توګه به یې را کړه ورکړه کوله {۵۰}. شورش څه موده غلی شانته و، مګر کیږدی وال چې کله دخپل کلني کوچ له مخې هندوستان ته وکوچیدل نو افغان حکومت پر هند باندې دمرستې داسې یو زغ وکړ چې یا خودې هغوی هند ته له ننوتلو څخه راوګرځوي یا داچې دهغوی دوه او یا کسه مشران دې ونیسي. خو هند ته ددغه کسانو له ننوتو څخه کوم مخنیوی تر سترګو نه شو او بر تانویان دهغو کسانو په نیولو کې چې افغان لوري ورڅخه غوښتي وو، یوازې دیوتن شورشي مشر پر نیولو بریالي شول. دا وضعه دحاجي میرزاعلي په شته والي سره چې یو قبایلي پښتون مشر او لمایپي فقیر سره او ځار و، نوره هم خړه پړه شوه. ځکه دغه سړی چې په وزیرستان کې اوسیده دافغاني واکمنو پر ضد هم قبایل هغسې لمسول لکه څنګه چې

يې دبرتانويانو پر خلاف پارول .

دشامي پير تر ټولو ستر اقدام هماغه دافغان حکومت پر ضد عمل و چې په عين حال کې يې نړيواله ستونزه نوره هم سره وپيچله . دغه مذهبي سړی چې دامان الله خان له مير منې ملکه ثريا سره يې لرې خپلولي هم لرله ، داوخت چانه پيژانده . محمد سعدي الجيلاني ( مطلب له گيلاني شخه دی چې په ۱۹۰۱ کې په دمشق کې زوکيدلی او په ۱۹۲۵ کې يې دعثماني واکمنۍ ختميدو سره مجبوراً دترکيې متابعت قبول کړی و . ) هغه د ( ۱۹۲۰ ) -( ۱۹۲۵ ) پورې په جرمني کې تحصيل کاوه چې بيا يې پر ( ۱۹۲۹ ) کال کې ډيوې جرمنۍ ښځې سره واده وکړ . ده ځکه په هند او افغان سرحد کې زيات اهميت لاره چې دعبدالقادر گيلاني له لړۍ شخه و چې هغه په دوولسمه پيړۍ کې د « قادريه » طريقه (چې داسلامي تصوف خورا نوموړه څانگه ده ) رايستلې وه . ددې طريقې پلويان په ټوله اسلامي نړۍ کې خپاره وو ، او ځکه نو دعبدالقادر او لادې چې دبي بي فاطمې له خوا د رسول الله (ص) له لړۍ شخه شميرل کيدل هر ځای گڼ مريدان لرل [ ۵۱ ] .

افغان حکومت له هماغه پيل شخه کله چې سرحد ته دشامي پير په رارسيدو خبرشو ، ريږد واخيست . دالا ثرگنده نه ده چې آيا افغاني واکمنان به دامان الله خان کهول او جرمنيانو سره دنوموړي له اړيکو شخه خبر وو که نه . خو په دمشق کې دهماغه وخت برتانوي کونسل الگيلاني ديو « جرمن پلوه او . . . له جرمني سره دټينگو اړيکو لرونکی » شخص بللی دی . مگر دجرمني په آرشيف کې کوم داسې څرک نشته چې دجرمني حکومتي لويانو سره دې دشامي پير کوم تړاو ثابت کړي ، حال دا چې په کابل کې پر هغه باندې په ټينگه داشک و چې نوموړی دبرتانوي حکومت لپاره کار کوي . دفريزر

تایتلر دانگیرنې له مخې د کابل غبرګون د شامي پیر دشتوالي په اړه له دریو پړاوو نو څخه تیریده :

( ۱ ) افغان حکومت په دې غوسه شوی و چې دهغوی له دې خبرتیا سره سره چې شامي پیر په ناوړه لیدو کتو بوخت دی، هندي حکومت هیڅ هم ځان نه ښوراوه. ( ۲ ) جدي اندیښنه هله پیدا شوه کله چې نوموړي په ډاګه وویل چې غواړي اوسنی افغان رژیم ونړوي، او په تیره بیا کله چې مسود اووزیر هم دده تر جنډې لاندې ودریدل. ( ۳ ) افغان حکومت هله د آرامۍ ساه وکښله کله چې په دې خبر شو چې پیر په خپلو هڅو کې ناکام شو، خو په دې ډیر خپه شو چې ولې هغه ته سزارورنه کړای شوه او آن دا چې په چټکۍ سره دالوتکې پواسطه په دمشق کې خپل کورته ولیږدید. » [ ۵۲ ]

دا لاخه ، افغان حکومت به هله خورا غوسه وای که په دې خبر شوی وای چې شامي پیر څکه له دې خوځښتونو څخه پر شاشو چې هندي حکومت یو غټ مبلغ رشوت ورکړی و . دمشق ته په رسیدو سره نوموړی یانې محمد- سعدي ګیلاني دا تولې کړنې یوناڅاپي انکشاف وباله . په دمشق کې دبرتانوي کونسل دراپور له مخې « له دې سفر څخه دده مطلب دا وچې په هند او افغانستان کې دقادریه طریقې له پلویانو څخه بسپنې وغواړي او هغه هیڅ دانیت نه لاره چې امان الله خان دې بیرته په کابل کې واکمن کړي . »

ګیلاني په خپله دا تولې کړنې یو تصادفي اوناڅاپي کار بولي یانې کله چې نوموړی په شمالي هند کې و، په افغانستان کې قادریه پلویانو ورڅخه وغوښتل چې په خپلې روحاني اغیزې سره اوسنی افغان حکومت چې خلک یې تر ظلم او کړاو لاندې راوستلي دي ، چپه کړي ، همداوجه وه چې هغه وزیرستان ته ولاړ او هلته یې داپیې فقیر او نورو قادریه لویو شیخانو په

مرسته یو پنځه زره کیزبوغ جوړ او وسلوال کړ. ګیلاني په دې تړوله مسئله کې زړه نازړه و، په تیره بیا کله چې د وزیرستان ولس ورځخه وغوښتل چې دا ایپي فقیر پر ځای دعوی مشر شي. هغه پوښتید که بالفرض بریمن شي نو څه به وکړي؟ ګیلاني ځواب ورکړ چې: «دی به ځان او خپل کهول دهېواد واکمنان کړي او هم، څنګه چې قادریه لارښوونکي په افغانانو کې خورا ډېر دي، نو ځکه دی کولای شي چې دغه هیواد ته سوله او یو غوره حکومت راستون کړي.» (٥٣)

افغان حکومت له هندي حکومت څخه په دې خاطر ډېر خفه شوی و چې له شامي پیر سره یې مرستې کولې. افغان خارجه وزیر په کابل کې برتانوي واکمن وزیر ته په یو لیک کې څرګنده کړه چې دده حکومت نه یوازې په دې ډېر خپه دی چې هندي حکومت دشامي پیر ژوند ژغوري بلکې په دې هم خوا بدی دی چې هغه یې په خورا ډېر ماموسره له وانې څخه تر ډیلي او له هغه ځایه دکراچۍ له لارې تر بصرې پورې په الوتکه کې ورساوه. بهرني وزیر همدا راز وپوښتل چې «که شامي پیر یو لوی سړی و، نو بیا لکی ( Lakai ) پیر څه دریغ لاره؟ او کومه سزا ورکړای شوه؟» {٥٤} دا معلومه خبره وه چې برتانوي حکومت له یوه پیر سره دهغه بل غونډې چلند نه کاوه لکه څنګه چې یو په دار وځړول شو، مګر هغه بل په ډېر ویر رانیولی شو. افغان حکومت لومړی په دې خوښ و چې دا ایپي دفقیر او هندي حکومت تر منځ منځګړتوب وکړي، خو دشامي پیر د قضیې په وجه افغانانو بیر ته له دې کاره ځانونه وکښل. {٥٥} سربیره پر دې ایپي فقیر د پولي پر دواړو خواوو ډېر ګرانښت او ملاتړ درلود، او د اسلام دمدافع او همدا راز دانګیریزي تیري په وړاندې دجنګ دیو اتل په توګه ثابت شوی و. له همدې امله وچې فقیر باید دجګړې

په ټوله موده کې پر سرحد تم شوي واي چې دا کار دهند او افغانستان دواړو حکومتونو لپاره یو ګواښ و. کله چې جګړه پای ته ورسیده او برتانوي هند له برتانویتوبه خلاص شو، نو فقیر هم دیو خپلواک پښتونستان لپاره دیو نومورجنګیالي په توګه واوښت.

دافغانستان او هند تر منځ اړیکي ځکه بیا یو څه ښه شوې چې هندي حکومت په رسمي ډول دا ذمه ووهله چې « ددغسې پیښو دمخنیوي لپاره به تر خپله وسه هر څه وکړي، » له دې سره سره په کابل کې برتانوي واکمل وزیر په دې ټینګار وکړ چې نور نو « دسیاسي اوسپما یزه مسئلو پر سر دغوڅو خبر و اترو » وخت رارسیدلی دی. افغان حکومت دغه وړاندیز ته رغنده ځواب ووایه او دهندي حکومت دبهرنیو چارو سکرتر سر آبري متکالف یې کابل ته ورو باله. {٥٦}

دالیدنه کتنه په (١٩٢١) کې د « کابل دتړون » پر سر دهندي حکومت د بهرنیو چارو دسکرتر سر هندي ډبس تر خبرو اترو وروسته دبهرني سکرتر لومړنۍ کتنه ده او کله چې دا ملاقات پای ته ورسیدنو فریزر - ټایټلر هغه یو ستر بریالیتوب وباله. سر ابري متکالف کابل ته د (١٩٣٨) داکتوبر پر شپږمه دهوا له لارې ورسید چې شپږ ورځې تم شو، له دې نه یې دوې ورځې دافغان حکوت له مشرانو سره په خبرو اترو ولګولې. فریزر - ټایټلر که څه هم چې دخپل بهرني وزارت دسکرتر ددې لیدنې له پایلو څخه خوښ و، خو بیاهم ده دخوښۍ ترارزښت لږ ګڼل کیږي.

متکالف دافغان ټولواک په حضور هم مشرف شو، بیلابیلې میلمستیاوې یې تیرې کړې او پغمان او دکابل ور خیرمه سیمې یې هم ولیدلې. نوموړي داکتوبر پر لسمه او یوولسمه دفریزر ټایټلراو ډګر وال

هندرسن په ملګرتیا دمحمد هاشم خان ، شاه محمود خان او خارجه وزیر علي محمد خان سره هم وکتل . دغوانو کسانو په نمایندګی عبدالمجید او محمد نعیم خان ورسره وکتل . خبرې اترې دسیاسي مسئلو پرسر وې چې دبهرني سکرتر له خولې په خوراډانګ پیلې توګه پر مخ ولاړې . افغان لوري په سرحد کې دهندي حکومت کړنو ته ګوته ونیوله او پر بهرني سکرتر یې ټینګار وکړ چې دده حکومت دې قبایلو ته ډاډ ورکړي چې برتانیه کومې یرغلیزې ارادې نه لري . متکلف هم وړاندیز وکړ چې افغانستان دې په وزیرستان کې دبرتانوي ضد ځواکونو د رسیدو په مخنیوي او هم دې «برتانوي» قبایلو ته دتنخاګانو په بندولو کې له هند سره ګډه مرسته وکړي . افغان حکومت دا ومنله «چې داسې ګام اخیستنه په اصولو کې نه منونکې او دا عتراض وړده ، » خو څرنګه چې دایوه اوږده او قانوني غوندې وجیبه ګڼل شوې نو دهر افغاني واکمن لپاره هغه دحیثیت یوه مسئله ګرځیدلې ده . افغاني لویان دې ته خوښ معلومیدل چې داپیې دفقیر او هندي حکومت تر منځ منځګړتوب وکړي ، مګر هغوی دا موضوع دموسی نیکه یا نیک آباد له قضیې سره وتړله ، دایو کلی وچې برتانوي الوتکو پرې بمونه وغورځول او افغانانو ادعا کوله چې هغه دډیورند خط پر افغاني لوري پروت و . افغانانو همدارنګه دشوروي اتحاد دیرغل په وړاندې دبرتانیې دلازم کومک غوښتنه هم وکړه ،خو بهرني سکرتر وویل : «چې دا مسئله باید له لندن سره مطرح کړی شي » . افغاني لویانو د اسلامي پیوستون په خاطر برتانیې ته په فلسطین کې دهغوی دپلویتوب له امله دعربو دیوازې پریښودلو پر سر خبرداری ورکړ . د ( ۱۹۳۸ ) داکتوبر د (۱۳مې ) نیټې اصلاح ورځپانې دبهرني سکرتر ددې سفر پیښې په لنډیز سره وکښلې او هیله یې وکړه چې دا کار به په

سرحد کې دسولې او دافغانستان او هند د داسې يوې گډې مرستې سبب شي چې گټه به يې هر چاته ورسېږي. {۵۷}

نو په همدې وجه دسرحد ستونزې دافغانستان لپاره دالحاقيدو ديوې مسئلې په توگه د ( ۱۹۳۰ ) لسيزې په وروستيو کې لکه څنگه چې يې تر دېوړاندې او وروسته هم پاينبت کړی ، دانگريز - افغان اړيکې سختې اغيزمنې کړې دي ، ددواړو دولتونو تر منځ داړيکو سموالي - چې نوموړې سرحدي ستونزه په خوښۍ سره نه وای اواره شوې-امکان نه درلود ، ځينې پيښې لکه دشامي پير مسئله ياغلجايي شورش کيدای شود خاص ملحوظ له مخې حل شوې وای ، مگر تر هغې چې دهغوی بنسټيز علت ياني په سرحد کې دجگړه پالو تگلارو شتـه والی نه وای ختم شوی ، دانگريز - افغان داړيکو سمون هم ناشونی و .

دبرتانيې حکومت په هيڅ ډول دسرحد ورکړې ته چمتو نه وخوهيله من و چې د يو لړ سپما يزو امتيازونو په ورکړې سره افغانستان غلی شانته کړي ، له کابل څخه دسر آبري ترکتنې څو اوونۍ وروسته عبدالمجيد هند ته ورغی چې دهندي حکومت له چارو واکو سره سپما ييزه مسئلې وڅيړي . افغانانو له برتانيې سره ديو سودا گريزه تړون لاسليک څکه وغوښت چې په دې ډول دجرمن مرستې داحتمالي بندښت ځای ونيسي ، بهرني سکرتر وړانديز وکړ چې دخيبر دا وسپنې پټلۍ دې تر افغاني سرحده وغزول شي ،مگر له دې سره سره وډار شو چې دسيمې قبايل ښايي ددې کار خنډ وگرځي . دافغان حکومت دمطلوبو اړتيا وو په لړ کې دهندي اورگاډي له خوا دډيرې ارزانه کرايې او دمالي امتيازونو بنسټيز اهميت لاره . (۵۸)

افغان حکومت په هند کې دافغاني ميوو دويشنې او هم يې په افغانستان

کې دوړو راوړو بندیزولګاوه چې په دې ډول هندي دلالان له منځه وباسي. هندیان چې له سپما یز زیان څخه وویریدل، نو په پیښور کې یې د راغلو افغاني میوو له رانیولو څخه ډډه وکړه او په دې ډول یې دافغاني صادرونکو روزي له خطر سره مخامخ کړه [۵۹]. پای داچې افغان حکومت څه پر شاشو او برتانوي حکومت هم په ځواب کې د پوځي توکو دبرابر یدو مرسته ورکړه.

دافغانستان لپاره دوسلو د تهیه کولو مفکوره په هند کې هیڅکله هم عامه نه وه، افغان حکومت دخپل کورني امنیت دساتنې او کوم بهرني یرغل څخه ددفاع په هدف دغه وسلو ته اړتیا لرله، افغاني واکمنانو دافغانستان دځمکنۍ بشپړتیا په ساتنې سره دهند له دفاع سره هم مرسته کوله، مګر په دې برخه کې برتانوي او افغاني ګټې په ټکر کې راتلې: هغه دا چې که افغانستان دځواک له مخې ډیر غښتلی شوی وای نو هرو مرو به یې پر هندي - افغان پوله دا لحاق پالنې تګ لاره را خیستــه، بل داچې کـه افغانستان په نوو او عصري وسلو سره سمبال کړای شوی وای، نوورپاتې او اضافي وسلې به یې په سرحد کې راښکاره شوې وای چې آزاد وافغانانو به د برتانیې پروړاندې په جګړو کې کار ولې. له همدې کبله دبرتانیې دا ژمنه چې هغه دولت «به داعلیحضرت له خوا دجګړه توکو په رانیولو او واردولو کې کوم اعتراض ونه کړي.» اصلاً په (۱۸۹۳) کې په زړه نازړه توګه ورکړل شوې اوځوځله ماته کړای شوې هم وه.

# چاره لټونه

په اروپا کې چې جگړه پیښیدونکې غوندې شوه نو افغان حکومت دې ته ځیر شو چې له جرمني سره ملگرتیا یانژدې سپما ییزه او سیاسي گډه مرسته به ښايي تر هر څه غوره تگلاره وي . افغانستان دخپلو ملي گټو له مخې د ( ۱۹۳۰ ) لسیزې په لومړیو کې لا د یو ستر ځواک په توگه دجرمني دبیا ظهور هرکلی کړی و ، خو کله چې جرمني دافغانستان له دوو گاونډو (شوروي اتحاد او برتانيې) سره په زیاتیدونکې دښمنۍ کې ولوید نو افغانان اندیښمن شول چې له جرمني سره دغسې گډه مرسته هسې نه افغانستان نړیوالو شخړو ته ورټیل وهي . له همدې کبله ستونزه داوه چې له جرمني سره دگډې مرستې دلرلو په خاطر کومه چاره باید لټول شوې وای . په اروپا کې روان سیاسي کړکیچ نژدې ټول اروپايي ځواکونه یو ډول اغیز من کړي وو . بس یوازینی ځواب چې د « دریم ځواک » په توگه غوره ښکاریده ، هماغه دامریکې متحده ايالتونه وو ، خو تر هغه ځایه چې وروسته به یې وڅیړو ،امریکا په افغانستان کې له گټو سپمایزو بوختیا ووسره څه مینه نښودله .

افغاني واکمنو دا اخیستنه وکړه چې افغانستان د پخوا غوندې په هماغه دریغ کې دی او داور څخه غوښتل کېږي چې د « بیلوونکي دولت » همغه رول دې ولوبوي ، افغان حکومت له دې سره سره بیا هم ویریده چې شوروي اتحاد د تزاري روسیې د پراختیا غوښتنې تګلاره راوانخلي . همدا وجه وه چې افغانستان ته د شوروي اتحاد له خوا د سیمه ییزې پوځي مرستې په برابرولو کې د هغه دولت ملګرتوب ته هر کلی وویل شو . لاکن د هر هغسې تکل په وړاندې چې هدف به یې سیمه ییزه مهار کول یا سیاسي ننوتل وو ، غوځ مقاومت وشو ، افغان حکومت وکولای شول چې دیو لړ امتـــــیازونو او سوله ییزه نفوذ په نه منلو سره برتانیه او شوروي اتحاد یو د بل پر ضد څکه استعمال کړي چې ویل یې د غسې امتیازونه به یا خو د غو دواړو ګاونډیو ته ورکول کیږي یا داچې هیڅ یو به یې نه تر لاسه کوي . جرمني په دې اندولیزه هڅه کې د درېیم ځواک په توګه راغی ، څکه یې د افغانانو نزد د افغانستان د اروپایي سوداګریزو اندیوالانو په منځ کې ښه دریځ ګټلی و . جرمني همدارازپه د ې هم غوره و چې خوراستونزمنو حالاتو ته یې ځان تینګ کړی و او دلته یې ورکاوه . افغانستان له سیمایزه پلوه څکه له جرمني سره زړه نږدې کاوه چې یو خو هغه د وسلوالیدو په حال کې و او بل دا چې دا ومو موادو له پلوه پر بهر تکیه و . ځینو جرمن لویانو داسې ګومان کاوه چې د افغانستان د دې وړاندیز مانا دا ده چې افغان حکومت غواړي دسترو پورونو په بدل کې له جرمني سره پوځي ملګرتوب وکړي {٦١} . داسې معلومیده چې شوروي حکومت هم کټ مټ اخیستنه کړې وه ، څکه یې نو په افغانستان کې جرمن ننوتنې ته په کاږه مغزي سره کتل . زیمیک په ( ١٩٣٥ ) کال کې راپور ورکړ چې د افغاني چاروا کو د انګیرنې له مخې « شوروي سفارت زموږ سیمه ییزو

خو څښتونو ته په کرکه ګوري . نو موړي سفارت افغان حکومت ته څرګنده کړه چې شوروي اتحاد چمتو دی هرڅه تر مور ارزانه او د پيسه سپارې په ښو شرايطو سره ورکړي . »[٦٢] که څه هم چې جرمني په لومړي سر کې څه ځانګړې سياسي اسرې نه لرلې ،مګر ځانځاني جرمنيان به يا خود شوروي حکومت ضد وو يا به په داسې خوڅښتونو لګياوو چې سياسي ستونزې به يې جوړولې . دهتلر درژيم له خوا پوځي دښمني په افغانستان کې هم ګڼو جرمنيانو کټ مټ هماغسې پرمخ بيوله ، جرمني چې کله په ( ١٩٣٥ ) کې خپل خلک عسکري خدمت ته ويلل ، نو په کابل کې څو بهرنيو استازيو دافغان حکومت لويانو ته خپلې انديښنې څرګندې کړې . زيميک هم دا لازم ويلل چې له افغان صدراعظم سره وګوري او هغه داده کړي چې نړيوال حالت سم دم دی او جرمني دفتوحاتو کومه تګ لاره نه لري . محمد هاشم خان دغه جرمن واکمل وزير وپوښت چې هغه په کابل کې د دې ډنډورو څنګه ځواب کوي چې وايي جرمني غواړي پر شوروي اتحاد بريد وکړي او هم دا چې وايي جرمني او افغانستان داسې پټ تړون کړی دی چې دهغه له مخې به ګواکې افغانستان په شوروي ترکستان کې شورښ را پاروي ؟ زيميک ځواب ورکړ ، چې :« داډنډورې شوروي ګومارلو خپرې کړي او هغوی غواړي په دې توګه ماسکو ته خپل خوڅښتونه خورا اريانوونکي و بريښوي . »[٦٣] محمد هاشم خان داومنله چې دځينو دغو اروپايي ديپلوماتانو غوسه په دې وجه وه چې هغوی په افغانستان کې نوه کيان وو او په دې نه پوهيدل چې « له جرمني سره دافغانانو ملګرتوب له (١٩٢٦) کال ياني له هغه وخت راهيسې را پيل شوی چې دهنتګ نيدرماير پوځي هئيت دلته راغلې و . » کله چې په (١٩٣٣) کال کې دچين په سن کيانګ ولايت کې يو ترکي بيلتونپاله

غورځنګ دځه مودې لپاره خوځیدونکې و، نو د «ختیځ ترکستان» دحکومت یو هیئت دقربان الله په مشرۍ کابل ته راورسید چې دلته وسلې وپیري، په کابل کې یو جرمن سوداګر وغوښتل چې په دې معامله کې منځګړتوب وکړي. شوروي په دې موضوع خبرشو، او هغه یې د (۱۹۳٤) دفبرورۍ پردریمه د تاس دخبري آژانس په خبرونو کې دانګریز - جرمن یوه ګډه توطئیه وبلله چې هدف یې ګواکې دچین ویشنه وه.» [٦٤]

داسې بریښیدله لکه افغانستان چې دسر اسري اسلامي پیوستون دلاتینګښت په لټه کې وچې (۱۹۳۷) کال دسعدآباد دتړون له مخې ترکیې، عراق او ایران یې غړیتوب لاره، مګر آرشیفي سرچینې ځرګندوي چې افغانستان هیڅکله هم له دې پیوستون سره څه مینه نه لرله. د «ختیځ پیوستون» دغه تش په نوم اتحاد دسرخدي لانجو او مذهبي بیلتون په وجه نور نو دتاریخ تر ستوني تیر شو. لکه څنګه چې، شیعه، سني پخوانۍ شخړه هماغسې روانه وه او پر پوله هم ځینې داسې اوږدمهاله لانجې پیښیدې چې ټول اړونده څواکونه یې هم ورسره اخته کړي وو. دایران - افغان اړیکي یو انګریز مامور ډیر ښه څیړلي او هغه یې «داسې مبهمې او ناځرګند بللي چې دواړه خواوې کومه مینه نه ورسره لري، »ځکه نو «دهغوی دسمون لپاره څه دلیل هم نه لیدلکیږي.» [٦٥] افغاني واکمنان په دې ډیر ښه پوهیدل چې نوموړی اتحاد له پوځي پلوه څه اهمیت ځکه نه لري چې هغه له کوچنیو څواکنو جوړ و او هیڅ یوه یې دځان ددفاع لپاره داړتیا وړ وسله نشوه جوړ لای.

شوروي اتحاد په خپل وار دسعدآباد پر تړون باندې شکمن و. داچې عراق تر برتانوي واک لاندې و او هم دایران دبهرنیو چارو وزیر کاظمي په

(۱۹۳۵) کې له هند څخه کتنه وکړه ، نو شوروي چار واکي په دې انديښنه کې شول چې ددې ترون تر شاخو به دبرتانيې لاس نه وي ،ماسکو ښايي داسې اخيستنه کړې وه چې دهغه هېواد جنوبي اسلامي ځواکونو بالاخره ځانونه له شوروي اتحاد سره له ورروستي « اتحاد » څخه آزاد کړل ، دشوروي حکومت د زيار له امله وړاندې په (۱۹۲۱) کال کې ترکيه ، ايران او افغانستان دخپل منځي ترون کوونکو په يو چوکاټ کې راوستل شوي وو . شوروي اتحاد په (۱۹۳۳) کال کې په هغه کنوانسيون کې هم ورګډ شو چې د « يرغل » مانا او تفسير کوونکی و او په هغه کې افغانستان ايران ، ترکيې او دختيځې اروپا څلورو دولتونو برخه لرله . دنوموړي کنوانسيون هدف داوچې د « يرغل » ويی لړهغه څه نه چې د « کيلوګ - بريانډ » په ترون کې ذکر شوی نور هم خورا ښه تعريف او تشريح کړي [٦٦].

کله چې نور نوله وړ ايه ښکاريده چې اروپايي ځواکونه په يوه داسې جګړه ورکښيوتونکي دي چې جرمني به په يو سرشوروي اتحاد او برتانيې ته وړ ايله کيږي ، افغان حکومت هم له جرمني سره دخپلې انحصاري ګډې مرستې اړونده تګ لارې ته دچاره ميندلو په لټه کې شو ، په (۱۹۳۹) کال کې دجرمني او افغانستان ترمنځ دګډ سوداګريزه ترون دکيدو پر مهال عبدالمجيد وويل چې : « افغانستان به پردغه ترون هله عمل کوي چې جرمني خپلې تولې ژمنې يو په بل پسې پلې کړي ، که نه افغانستان به دا تولې موضوعګانې کوم مناسب وخت ته وځنډوي » ده زياته کړه چې افغان حکومت به په هره بيه چې وي دخپلو دوو ګاونډيانو دجنګ دانګنې پر مهال ناپيیلی پاتې وي [٦٧] .

هغه ځانګړې مينه چې په افغانستان کې ددريم ځواک په توګه دجرمني لپاره موجوده وه کيدای شو امريکې يې ځای نيولی وای . ځکه امريکې هم

دجرمني غوندې مستعمرې نه لرلې ، بل دا چې هغه هيواد له افغانستان څخه هم ډير لرې پروت و ، ځکه يې نو کوم سياسي انګيرنه هم نشوای لرلای او تر ټولو مهمه لا دا چې امريکې تر بل هر لوړيدېغ ځواک زيات سپماييز او جوړ- ښتي ( صنعتي ) توان درلود . خو داچې دامريکې متحده ايالتونو دغسې دريغ نشو نيولای مانا يې دانه وه چې ګټې چانس يې نه لاره . دامريکې - افغان هماغه لومړنې اړيکې په ډاګه کوي چې افغاني واکمنو تل هڅه کړې چې دامريکې بې تکله حکومت خپلو ملي ګټو ته ځير او دې ته يې وهڅوي چې په کابل کې خپله سياسي نمايندګي پرانيزي .

افغانان په دې اړه له هماغه پيل څخه له ستونزو سره مخ وو . دمحمد ولي او فيض محمد استازيو هله ځانونه ډير تيټ وګڼل کله چې هغوی وغوښتل په ( ۱۹۲۱ ) کال کې دامريکې له متحده ايالتونو سره اړيکې پرانيځي او جمهور رئيس هرډينګ خويوځان کښونکی ځواب ورکړ { ٦٨ } داسې معلوميده لکه افغانستان چې نور دانګريز - روس دګتهورو سوداګريزو خوځښتونو په منلو سره دهغوی داغيزې ډيوې سيمې په توګه بدليدونکی و . امريکايي سوداينځيو او ځاني کسانو دافغانستان له سوداګرۍ سره زيات مينه ښودله . د ( ۱۹۳۰ ) لسيزې په لومړيو کې ګڼ امريکايان دغه ډله کې «ام جفو» کابل ته په دې نيت راغلل چې د صنعتي توليداتو په سپارنه کې امتيازونه ومني او ترونپانې لاسليک کړي . يوه امريکايي سوداينځي پر افغان حکومت باندې د ( ۱۲۱۰۰۰ ) ډالرو په بيه اته شپيته لارۍ وپلورلې ، خو برتانيې داسودا په خپل دې تينګار سره نوره هم ګرانه او لوړه کړه چې ويل يې نو موړي انجنونه دې همداسې بند وليږل شي او لارۍ دې پر ځای چې پر خپلو ټيرونو روانې شي ، په هندي اورګاډو کې دې وليږل شي ، په همدې ډول

، يوامريكايي كاتوليک اسقف چې دڅو مياشتو راهيسې په کابل کې اوسيده ناروغ شو ، برتانوي او جرمن ډاکترانو ورته وويل چې ژر تر ژره دې له کابله ووځي ،که نه بنايي په اته څلويښت ساعتو کې ومري، نوموړی ووت خو په پيښور کې بيرته جوړ شو دغه اسقف هلته دبرتانيې له خوا افغانستان ته د تگ داجازې په خاطر يو کال خوشې تير کړ { ٦٩ } .

دنړدې ختيځ چارو دڅانگې مشر « والس سميت ميوزي » په ( ١٩٣٠ ) کال کې د ديپلوماتيکو اړيکو دټينگښت په هکله دکانگرسيانو اړونده کښيکښنې په افغانستان کې ددولتي څانگې دنه اخته کيدو ددليلونو په ويلو سره غلې کړې . ده په کنگره کې دايلي نای دشيکاگو استازي « اي ، جې سربت » ته هغه دلايل داسې وړاندې کړل :

١ - څنگه چې افغانستان په ننني نړۍ کې بيله شکه يو خورا متعصب ، خپلواک او يو مخالف هيواد دی ،او هلته دبهرنيانو لپاره دهغوی دساتنې اړونده امتيازي حقوق هيڅ نشته . که په افغانستان کې کوم بهرنی دقانون په لومه ورکښيوځي نو په افغاني محکمو کې دسخت اسلامي قانون له مخې (چې دعيسويانو دکړنو پر خلاف په هره محکمه کې دا جرا وړ دي )محاکمه کيږي .

٢ - څنگه چې:« په ( ١٩٢٥ ) کې پيپرنو نومي ايتالوي چې دځان ژغورنې په خاطر يې کوم افغان وژلی و ، مذهبي محکمې ته حاضر کړای شو . پريکړه وشوه چې نوموړی به کټ مټ همـاغسې دمقتول دورثې له خوا قصاص کيږي . خو کله چې موسوليني اخطار ورکړ او په ايتالوي بانکونو کې يې افغاني پانگه ضبط کړه » نو افغان چارواکي هم دې ته حاضر شول چې دپيپرنو دخونبها په بدل کې هغه ايله کړي ، لاکن له دې سره سره پيپرنو

بیا هم ژرخوشې نشو چې بالاخره له افغانستان څخه دوتلو امر ورته وشو. خو دیوې متعصبې ډلې له خوا ونیول شو او زهر ورباندې وخوړل شول او وروسته وځړول شو.

۳- څنگه چې برتانویان سربیره پردې چې دافغانستان له شرایطو سره بنه روږدي دي، بیا هم له کلو کلو راهیسې خپل سپین پوستي اوسیدونکي افغانستان ته له ننوتو څخه منع کوي.

٤- څنگه چې برتانوي الوتکو په (۱۹۲۸) کال کې دافغان انقلاب د پیښیدو له کبله په کابل کې استوگن ټول بهرنیان پرته له شوروي روسانو څخه چې هغوی نه وتل، هند ته وایستل. دوه امریکایان هم په دې کسانو کې شامل وو. مگر ډاهم بشپړه جوته نه ده چې آیا دغه بهرنیان پرته له برتانوي مرستې آیا له افغانستانه ژوندي وتلی شول که یه.

٥- څنگه چې په افغانستان کې نه خو بانکونه شته او نه هم داسې یو کریډټ سیستم شته چې دهغه په مرسته دهیواد په دننه کې په سرو او سپینو زرو بار کاروانونه په سلگونو کیلومتره واټنونه ووهي. دغسې کاروانونه عموماً دسرکښو قبایلو له خوا ایسار او چور تالان کیږي.

٦- څنگه چې دافغانستان او سنی پاچا نادر خان پرته له شکه یو روښفکره او مترقي واکمن دی خوهغه نشي کولای چې دغه سرکښه قبایل دهغوی له غوښتنې څخه پرته راوگرځوي. داوړاندېینه هیڅ نشي کیدای چې نادر خان به دخپلو دغو نا ایلو اتباعو له خوا ترکله دواکمن په توگه وزغمل شي. ځکه هغوی مالیې او عسکري جلب ته تن نه ورکوي بلکې دگډوډۍ او اړودوړ هر کلی کوي چې دا کار هغوی ددې جوگه کوي چې له نورو بیچاره ټولنو او تیریدونکو پلانونو څخه برعکس په خپله مالیه وغواړي.

۷- او پای دا ، څنګه چې افغانستان دخیبر درې دخپلو لوپه سر له پېړیو راهیسې دانګریز- روس دډغر و میدان و . اوننهم څنګه چې دروسیې واګې دبلشویکانو په لاس کې دي ، ګومان نه کیږي چې هماغه ډغرې دې پای ته ورسیږي . په دې هیواد کې نه خو دکوم بهرني سړي ژوند په امن کې دی او نه هم بهرنی ګټې ژغورل شوي دي . نو ددغسې سر یا مال دزیان یا دواړو په پېښیدو سره به بهرني زیانمن هیواد پر افغانستان باندې چې په وچه کې پروت اسیایي هیواد دی او یوازې دهند او شوروي روسیې له خوا لار لري ، هیڅ ډول فشار وارد نه کړای شي .

سه بت داومنل چې سمیت موري « دافغانستان په هکله سم معلومات لري . » [۷۰] خو تر هغه ځایه چې مورږ ولیدله ،دافغانستان دصحنې دغه انګیرنه او اټکلونه په خپلو ټولو ګڼونو کې غلط ښکاري [۷۱] .

دهند په کراچۍ کې امریکایي کونسل په (۱۹۳۰) کال کې له افغانستان څخه کتنه وکړه او له نورو افغاني واکمنانو سره یې اوږدې خبرې اترې وکړې . دهغه تود هرکلی وشو او په وارو - وارو وپوښتید چې امریکا ولې له افغانستان سره دیپلوماتیکې اړیکې نه ټینګوي ، دغه امریکایي کونسل افغاني پارلمان ته یوه ځان تیرونکې ویناوکړه . خو دپارلمان رئیس په ځواب کې ورته وویل چې : « امریکایانو تل دافغانستان په هکله خپلې مهربانۍ څرګندې کړې دي خود هغه هیواد ډېرې نیک نظر سره سره هغوی بیا هم دیو دوست هېواد له رسمي پیژندنې څخه ځانونه کاږي . » [۷۲] د (۱۹۳۵) په مۍ کې « ډبلیو ایچ هرین بروک » په تهران کې دامریکا دسیاسې نمایندګۍ مشر کابل ته راغی چې په هند کې ډامریکایي دیپلوماتانو څخه دوه ، درې کسه دافغانستان لپاره داستازیو په توګه

ونومويي [۷۳] . افغان حکومت ددې لپاره کتو پر مهال يو ځل بيا ټينګار وکړ چې هغه هيواد دې په کابل کې يوه تلپاتې نمايندګي جوړه کړي . دا چې د تيلو امريکايي کمپنيو په افغانستان کې د تيلو د راکښلو له امتيازاتو سره ډيره مينه ښودله ، نو افغان حکومت هم په دې خوښ و چې ددې کار لګښت ومني او هيله يې وکړه چې د دغسې امتياز ورکړه به په کابل کې دامريکا دسياسي نمايندګۍ د ټينګښت سبب شي . افغان خارجه وزير ، هرين بروک ته داسې وويل : « موږ ديو لړ څرګندو دليلونو په وجه نه برتانويانو او نه هم روسانو ته دغه امتيازونه ور کولای شو . که يې جاپانيانو ته ورکړو نو داکار به نه برتانويان او نه هم روسان ومني . فرانسه خو له تيلو سره هيڅ مينه نه ښيي او جرمني ته دځينو دوستو ځواکونو دمخالفت په وجه موږ نشو کولای چې نوموړی امتياز ورکړو . نو له همدې کبله موږ ستاسو هيواد ته سترګې په لار يو چې زموږ د تيلو سرچينو ته وده ورکړي ، مګر موږ ددې ګومان يو چې په کابل کې ستاسو ديوې هميشنۍ سياسي نمايندګۍ په نشتوالي سره موږ له ديپلوماتيکو تماسونو څخه بې برخې يو که نه امريکايي پانګوالو ته به د دغسې يو مهم امتياز ورکړه ګټوره تمامه شي . [۷٤] »

له دې نه يو کال وروسته ( Inland oil Exploration co.) ته دغه امتياز ورکړل شو او افغانان هيله من وو چې په دې کار سره به څه ناڅه دوه سوه امريکايان افغانستان ته راشي او په کابل کې به دامريکا دسياسي نمايندګۍ دپرانيستو سبب شي . خو دافغانستان دغه هيله په نهيلۍ سره بدله شوه . دافغانستان ملي شورا د ( ۱۹۳۷ ) کال داپريل پر شلمه د تيلو دا امتياز منظور کړاو په سپتمبر کې بايد هغه پيل شوی وای . دغه امريکايي کمپنۍ يو کال وروسته د ( ۱۹۳۸ ) په جون کې نوموړی امتياز لغوه کړ او

ثرگنده یې کړه چې دنړیوالو حالاتو کړ کیچنتوب دغه پروژه ناشونې کړې ده {۷۵} له همدې کبله دافغان حکومت ټوله هڅه چې غوښتل یې ددومره یو سترامتیاز په ورکړې سره دامریکا دمتحده ایالتونو له خوا په رسمیت پیژندنه تر لاسه کړي ، بري ته ونه رسیده .

پا ی دا چې تر (۱۹٤۲) کال پورې دلته دامریکا هیڅ کومه سیاسي نمایندګي پرانه نیستل شوه او نه هم ددویمې نړیوالې جګړې تر ختمیدو پورې امریکا په افغانستان کې کوم مهم رول لوبولی دی {۷٦} یوانګریز مامور په افغانستان کې دامریکا ییتوب نشتوالی دشوخۍ له مخې له هغه څه سره تړلی دی چې وایي هلته « دجاز موزیک نشته او پر سینما باندې عام بندیز لګیدلی دی ، دامریکایانو په نظر افغانستان ددغسې کلتوري مشغولا وو دنشتوالي په وجه دورتلو وړ نه دی . » مګر ربښتیا خو داده چې افغانانو ډیره هڅه کړې چې په افغانستان کې دامریکا ګډون ومني ، حال داچې دامریکا دولتي اداري تر هغه چې دویمې نړیوالې جګړې دامریکا خیالونه وربدل نه کړل په افغانستان کې دهیڅ رنګه سپمایزه پراخۍ له هڅونو سره مینه نه ثرګندوله .

# {اتم څپرکی}

## دویمه نړیواله جګړه

## دجرمني سپمايزاو سياسي ګامونه

دافغانستان اقتصادي اوسياسي دريځ د ( ۱۹۳۰ ) لسيزې په پای کې چې کله جګړه نوره کوره پيښيدونکې وه ، په ټينګه واوښت . له جرمني سره دافغانستان سپمايزه ګډه مرسته له دوو اړتياوو څخه درک کيده : ( ۱ ) د صنعتي ودې او اروپايي کارپوهانو په برخه کې مرسته . ( ۲ ) دا ومو افغاني موادو په تيره دمالوچو او وړيو لپاره بازار لټونه وه . خو د ( ۱۹۳۹ ) کال په وروستيو کې افغاني اومه مواد ناڅاپه دځينو دولتونو او په دې لړکې شوروي اتحاد او برتانيې له خوا وغوښتل شول ، حال داچې دوسلو او صنعتي سامان آلاتو لاسته راوړنه له جدي خنډ سره مخامخ کيده . دافغانستان

گاونډيو ( په ځانګړې توګه هند ) کولای شول په راتلونکي کې دجرمني په نسبت چې دمنځنۍ آسيا بازارونو ته يې لاس نه رسيده ، مهم رول لوبولی وای . افغانستان له سياسي پلوه هم دټولو په جنګ بوختو لويو دولتونو په وړاندې يوه ستراتيژيکه سترتيا لرله او تاريخ آن تر دې حده لاهم تکرار شو چې هر جګړه يز ځواک دافغانستان دملګرتوب او لاسنيوي په لټه کې ولويد.

دجرمني او افغانستان تر منځ دسپمايزې ګډې مرستې ورروستۍ هڅه دجګړې دپيليدو پر مهال وشوه . د ( ۱۹۳۹ ) په دوبي کې په کابل کې دجرمني دسياسي نمايندګۍ دپخواني سکرتر جورج رېکين په مشرۍ يو سوداګريزه هيئت له افغاني چارواکو سره خبرې اترې وکړې او يو لوی تجارتي تړون سره لاسليک شو { ۱ } . دغه جرمنيان دعبدالمجيد دبلنې له مخې راغلي وو چې هدف يې تړون دموادو او راکړې ورکړې دځيرلو په هکله دخبرو حل وفصل و. افغان حکومت جرمني ته اجازه ورکړه چې په کابل کې خپله سودا ګريزه څانګه پرانيزي چې دنده به يې دصادراتو او وارداتو په اړه افغان حکومت او جرمن سودا ينځيو ته داړونده سلامشورو ورکول وي { ۲ }. يوه پټه غونډې ژمنپانه لاسليک شوه چې دهغې له مخې افغانستان ته په لس کالو کې پنځه پنځوس مليونه مارکه پور ورکول کيده . په دې پيسو به هغه ماشين آلات او بشپړې فابريکې چې افغان حکومت يې له جرمني څخه دپيريدلو ژمنه کړې وه تهيه کيدل . دا ځکه چې جرمن جوړښتي شيزونه په نړيوال بازار کې دنورو هيوادونو په پرتله ارزانه تماميدل . افغان حکومت په دې لړ کې غوښتل چې هيواد ته دنساجۍ ،سمنتو ، بورې ، څرمن او اورلګيدو دجوړيدو لپاره فابريکې او دستګاوې راوړي ، همدارنګه دډبرو دسکرو دځو کانونو پروژې او دبريښنا دتوليد څودستګاوې هم په پلان کې ونيول شوې

{۳} . مگر جرمني له دې امید راوړونکي ټرون څخه یوازې یوه میاشت وروسته پر پولینډ یرغل وکړ او په دې ډول له برتانیې او فرانسې سره په جګړه ورګښیوت. افغانستان له دې پورونو څخه هیڅ ګټه وانه خیسته او جرمن صنعت ټول دخپل هیواد دجګړه یزو اړتیاوو پوره کولو ته مخ کړ . افغانستان په حقیقت کې له نویو شرایطو سره مخ شو . هغه داچې له جرمني څخه یې دواردونکو شیانو په پرتله صادرات زیات شول . {٤}

جرمني دجګړې په پیل یانې د (۱۹۳۹) په سپتمبر کې له شوروي اتحاد سره دترانزیتي ټرون په کولو سره افغانستان ته خپله لاس رسي خوندي کړه ، مگر دشوروي دترانسپورټ سیستم سمه رسیدګي نشوه کولای او بل داچې پر جرمني دشوروي بې باوري هم دشوروي اتحاد پواسطه دغه ټر او ځپانده کړ.

دجرمني او افغانستان تر منځ دنژدې سپما یزه لاسنیوي پوړوراندې دګواښمنوخنډونو له شته والي سره سره برلین بیا هم په دې تمه و چې په افغانستان کې جرمن ننوتنه دسیاسي هدفونو په خاطر استعمال کړي . له بلې خوا ، افغان حکومت هم چې دلومړۍ نړیوالې جګړې اوضاع ډیر متاثره کړی و داځل ښه ورته پوه و. یانې داچې دهر لوري په پلوۍ یې سیاسي ګام په بشپړ زیان تمامیده . لکه څنګه چې عبدالمجید د (۱۹۳۹) په اګسټ کې ریکین ته وویل چې افغانستان غواړي په هره بیه چې وي ناپېيلی پاتې شي • هغه ددواړو ګاونډیو له خوا له پیښېدونکو ګواښونو څخه ښه ږاپوه و ، خو بیا یې هم تر غور ورتیره کړه چې افغانستان کولای شي خپله دا بیطرفي هله دجرمني په ګټه واړوي ،که جرمني دافغانستان دهغې پراخې سیمې په بیا راستنولو کې مرسته وکړي چې ډهندوستان سره نښلول شوې ده {٥} .

ریکین په کابل کې دخپلو خبرو اترو پرمهال دایتالیې دواکمل وزیر پیټر

قاروني سره هم وغږيد او دواړو له برتانيې سره دجګړې پر مهال دهندوستان د اهميت په اړه دسهمايزه او سياسي مسئلو په برخه کې دجرمن - ايټاليې پرنژدې ګډه مرسته ټينګار وکړ . قاروني څرګنده کړه چې دده حکومت ځکه غواړي په کابل کې خپل دريغ ټينګ کړي چې له برتانيې سره دجګړې په وخت به پر هندی پوله بې ثباتي رامنځته شي او برتانيه به دې ته اړ باسي چې په هند کې خپل زيات ځواکونه ځای پرځای کړي . قاروني وړانديزوکړ چې امان اله - خان به دې اړوند ښه په کار راتلای شي . رېکين داومنله چې پر هند باندې يرغل کولای شي ، دبرتانيې واکمني له ځمکې ووهي ، خوهغه په دې ګومان ووچې دغسې بريد به هله اغيز من او ګټور وي که « يو پياوړی پوځي ځواک » دقبايلو ملاوتړي . نو موړي دامان اله خان دبيا راوستو پر ځای له برحال واکمن رژيم سره دلاسنيوي پلوی و ، که نه دده په اند دظاهرشاه حکومت بايد جرمن ضد لوري ته له ښکيل کيدو څخه راوګرځول شي ؟

درېکين نظريې په برلين کې عموماً چانه خوښولې ، ځکه جرمني لنډمهالې او اوږدمهالې موخې لرلې يانې په لومړي ګام کې داچې دهندي پوځ لاسونه په افغاني پولې سره ټينګ وروتړي او په دويم ګام کې دبرتانيې پر ضد په جنګ کې دافغانستان فعال ملګرتوب تر لاسه کړي . په افغانستان کې دجرمني هر فعاليت لږ تر لږه دافغان حکومت په يو ضمني ملاتړ پورې تړلی و ، يا داچې په دې هکله په برلين کې دوې نظريې موجودې وې . (۱) آيا واکمن رژيم به دې کار ته چمتو وي که نه؟ (۲) آيا جرمني هلته پر تخت کوم بل داسې څوک کښينوي که نه چې دجرمن پرپل به پل ږدي ، دې مسئلې ته ګڼو جرمن حکومتي څانګو په آزادۍ سره لږ يا ډير ځوابونه لټول . لکه څنګه چې جرمن پوځي استتخباراتي څانګې ( Abwehr ) ، دجرمن خارجه

وزارت ( Auswaertige Amt ) او دهغه سیال یانې نازي بهرنۍ سیاسي څانګې ( Aussenpolitische Amt ) دلاس اچولو سپارښتنه وکړه. آن دا چې دخپلو هدفونو دپلي کولو په خاطر یې ګامونه هم اخیستي وو.

جرمن خارجه وزارت داسې پلان درلود چې دهغه له مخې به امان الله خان او یا هم دکورنۍ کوم بل سړی واک ته رسول کیده . دجرمني دبهرني وزارت لوړ چارو پرته له دې چې له نورو اړوند ه خواوو سره مشوره وکړي ، دا امکان تر څیړنې لاندې نیولی و چې غلام صدیق ته پیسې ورکړي او دشوروي اتحاد له لارې یې دافغانستان شمال ته ولیږي چې په دې توګه هلته ګڼ پلویان ومومي او وروسته پر کابل یرغل وکړي او افغاني واکمنان راوپرزوي. عجیبه لا دا چې په دې هکله له امان الله خان او ایټالوي حکومت سره نه خو څه مشوره شوې وه او نه هم خبر کړای شوي وو څو چې لومړني ګامونه پسې پورته هم شول [۷] . دجرمني خارجه وزارت غلام صدیق او پیټر کلیسټ ماسکو ته ولیږل چې هلته په دې اړه خبرې اترې پیل کړي. په ماسکو کې جرمن سفیر کاونټ شولن برګ له دې نه لږ څه وړاندې واچیسلاومولو توف ته همدا موضوع ویلې وه او یوه میاشت وروسته دشوروي خارجه وزیر په ځواب کې ورته وویل چې وروستۍ پریکړه به هله وشي چې دده حکومت دنوموړي پلان په څرنګوالي او پلي کولو چارو باندې ښه تراپوه شي [۸] کلینټ ونکړای شو چې غوڅ او څرګند ځواب تر لاسه کړي او جرمنیانو څکه نو داسې اخیستنه وکړه چې شوروي اتحاد له دغسې یوې ګډې مرستې سره څه ځانګړې مینه نه لري او دخپلو ځنډینو ځوابونو په ویلو سره غواړي له جرمنیانو څخه نورې معلومونې او څرګندونې هم تر لاسه کړي [۹] دبهرني وزارت دسیاسي څانګې دمشر الفرد روزنبرګ له خولې ، دخارجه وزارت ددې پلان ترشا

« ورنرون هنتک » او دويم مرستيال « هابيت » هم څه لاس لري چې له سياسي څانګې څخه د « ويلهم ملچرز » او « وي يرمان » ملاتړ هم ورسره دی [ ۱۰ ] روز نبرګ ځکه له دې پلان سره مخالفت درلودچې ويل يې دا کار په افغانستان بې له دې چې مور خپل هدف ته ورسوي، د کورنۍ جګړې په خوله کې ور کړي ، دی په دې وويريد چې افغاني واکمن له همدې امله له برتانيې سره ملګري و نه کړي او هم يې له شوروي څخه دافغانستان دشمالي پولې تر ضمانت اخيستنې وړاندې له شوروي سره اړونده سلا مشورې يوه ستره اشتباه ويلله. روزنبرګ په ماسکو کې ځکه خپلې سلامشورې وتمولې چې له کابل څخه داګنګوسي ور ورسيدل چې برتانوي واکمل وزير دشوروي - جرمن د دې « پټې توطئې » په هکله دافغاني حکومت لويان خبر کړيدي ، نوموړی په دې وويريد چې شايي شوروي حکومت دا پټه مسئله افغانانو ته رسوا کړي ، روزنبرګ وړانديزوکړ چې افغان حکومت دې ترغيب کړی شي چې دبرتانيې پرخلاف په چريکي جګړه کې له سرحدي پښتنو څخه ننګه وکړي. ده سپارښتنه وکړه چې کوم تکړه سړی مثلاً فريتس ګرويا يانې په کابل کې پخوانی جرمن شارژدافيردې افغانستان ته واستول شي چې دبرتانوي واکمنۍ پرضد په جګړه کې دافغانستان ملګرتوب تر لاسه کړي. له شوروي اتحاد څخه دافغانستان دپولو ژغورنه او ضمانت هم وغوښتل شو . او که افغانستان بالفرض له داسې يوې ګډې مرستې څخه ډډه کوله ، نو په پام کې وه چې روزنبرګ دامان اله اړونده پلان راواخلي [ ۱۱ ] .

دروزنبرګ « اوسن پولي تيش امت » او داډميرال کنري دجرمن دپوځي قوماندې ( OKW ) اړوند « اب ويهر » دواړو پرته له دې چې دجرمن خارجه وزارت خبر کړي د ( ۱۹۳۰ ) لسيزې په پای کې له هغو جرمنيانو سره

چې مخ په افغانستان روان وو، خپل گومارلي هم ملگري کړل. په دې ډله کې ځينې جرمنيان استخباراتي کسان نه وو، خو د کمونيستي ضد جگړه پالو يانازيانو په توگه يې د خپل پلار وطن له گټو نه ځانونه ځارول. او دا چې ځينې د غسې جرمنيان به لکه د «عربي لارنس غوندې له پيچلتيا وو» څخه ستومانه وو، نو له خپلو دارنگه ستومانيزه دندو څخه د خلاصيدو په خاطر يې د خپل هيواد لپاره هر مهم کار ته زړه ښه کاوه. لکه څنگه چې د (١٩٣٤) په فبرورۍ کې يو جرمن پوځي کار پوه چې «شميت» نوميده له برلين څخه د يو ليک په ترڅ کې پوښتنه وکړه چې آيا: «جرمني د لارنس غوندې خلکو ته اړتيا نه لري؟» او بيله شکه به يې ځان د دې کار لپاره وړهم باله. ده راپور ورکړ چې له يو لړ سرحدي قبايلو سره په تماس کې دی او غواړي هغه کار ته پايښت ورکړي چې د هنتيگ نيدرماير هيئت په (١٩١٥) کې راپيل کړی و. خو د جرمن بهرني وزارت هغه ته له سياسي خوځښتونو څخه د لرې والي هدايت ورکړ او افغان حکومت چې پر سرحد باندې له اړونده پيښو څخه ښه خبرو، شميت د يو «غير سياسي» کار لپاره مثلاً د افغاني هاکي ټيم دريفري په توگه وټاکه {١٢}. د (١٩٤١) په پسرلي کې يو جرمن د غاښو ډاکټر د خپلې ځانې پريکړې له مخې د خپل لارښود (Fueher) د قوماندې پراساس وغوښتل هر ځای چې کوم انگريز په لاس ورځي بايد حمله پرې وشي (Wir schlagen England , wo wires treffen).

افغانستان ته له رسيدو نه څه وروسته هغه په پټه د خپلو گومارلو په مېندلو پسې ليچې ونغاړلې، ځينو ډلو ته يې دروپيو او نورو ته يې د چاودېدونکو موادو د برابرولو ژمنې ورکړې او په دې لټه کې شو چې د خپل دې کار د بشپړتيا په بهير کې د برلين ننگه تر لاسه کړي. خو د جرمني خارجه

وزارت دې ته هک پک وچې آیا دغه سړي ته د جرمن پوځي استخباراتي څانگې ( Abwehr ) واک ورکړی او که په خپل سر دانو ښتونه مخته بیایي [۱۳] .

افغان حکومت په دې ښه پوه وچې جرمني په افغانستان کې سیاسي او سپمایزه دواړه هدفونه لرل، او بل داچې له جرمني سره ځینو ژمنپانو مثلاً د «تاډ (Todt) تړون چې په افغانستان کې یې د جرمن کارپوهانو څارنه دجرمنیانو په واک کې ورکړې وه ، دسیاسي موخو او هم دجرمنیانو دلاوړتیا په خاطر استعمالیدای شوه . دبیلگې په توگه ، دپوځي استخباراتي څانگې یو ایجنټ شنیل چې دزړورتیا له له مخې په Oberregie) (rungsbaaurat سره او څارو ، برلین ته راپور ورکړ چې دافغانستان دفواید عامې وزیر دجرمنیانو سرانجینر ته ویلي چې جرمن کارپوهان دخپل کارونو په سمون کې مسئول دي ځکه چې معاش اخلي ، شنیل پسې وویل چې افغانان په دې خبر دي چې جرمني په افغا نستان کې ځانگړې گټې پر مخ بیایي او جرمنیان یې دسیاسي دلایلو له کبله ځکه په کا رونو گومارلي چې افغانان په خپله په دغسې دریغ کې نه دي ، افغان حکومت په دې هیله وچې دجرمنیانو سیاسي خوځښتونه وڅېوي . شنیل په دې خواشیني ښکاره کړه چې جرمني نشي کولای پر افغان حکومت فشار راوړي او دیو ښه غبرگون لپاره یې درې چانسه لرل: (۱) له افغانستان څخه د ټول جرمنیان راوغوښتل شي او هله دې بیرته ورشي چې جرمني په جگړه کې بریمن شي ، (۲) پر ټولو ځانځاني تړونونو دې له سره غور وشي او که افغانستان داکار نه مني نو له هغه هیواده دې دټولو جرمنیانو دایستلو خبرتیا ورکول شي ، (۳) که په افغانستان کې دجرمنیانو په شته والي کې سیاسي گټې نغښتې وي نو روان

حالت دي؟ له کوم عمده بدلون څخه همداسې پاتې وي ، که داوروستی ماده داجرا وړ وي نو جرمنیان دې په دې وپوهول شي چې هغوی په افغانستان کې دخپل ستر لاربنود یانې Fuehrer دسرتیرو غوندې باید دنده ترسره کړي».

شنیل دوضعې دسمون خورا لږ امکان ولید نو ځکه یې وړاندیزوکړ چې جرمني دې همدا دربیمه چاره ومني او هغه دې دپخوا غوندې پر مخ بوځي {١٤} .افغان حکومت او همداراز د جرمني غلیمانو هرهغسې جرمن عمل چې کولای یې شو له افغانستان سره اړیکې اغیز من کړي په دقت سره څاره او دا خورا په زړه پورې ده چې ماسکو ته د پیتر کلیستې تر تګ لږ څه وروسته چې له مولوتوف سره یې دامان الله خان اړونده پلان څیړه ، په کابل کې هم کټ مټ دبرلین د آوازو غوندې ګنګوسې خپاره شوې چې ویل یې جرمني په هغه توطئه کې ورګډ شوی چې غواړي امان اله خان بیرته افغاني تخت ته ورسوي .ددې آوازو د ناسپېنسودنې په خاطر په کابل کې جرمن واکمل وزیر ته دنده ورکړل شوه چې پریومناسب وخت باندې څرګنده کړي چې دافغان حکومت سره په ملګرتوب کې دجرمني رویه هیڅ نه ده بدله شوې . دافغانانو قهر او غوسه په دې ویناکې ښه څرګنده شوه چې کمله کله به په کابل کې جرمن کار پوهانو ته ویل کیدل . « دخیبر له درې څخه به آن په ایبک (سمنګان ) کې یانې مزار شریف نه څرمه دفاع وشي . »{١٥}

آرشیفي سرچینې څرګندوي چې دبرتانوي چارواکو خبنم هم دافغان حکومت له غبرو څخه کم نه و ، آن له دویمې نړیوالې جګړې نه ډیر پخوا لا برتانوي لوړ چارو دا اندیښنه لرله چې « داسې بریښي لکه جرمنیان چې دیو یا دوو واسموس غوندې لستوني ماران لري ، » چې مطلب یې دهغه جرمن ګومارلي څخه و چې دلومړۍ نړیوالې جګړې پر مهال یې په جنوبي ایران کې

برتانویان له لویو ستونزو سره مخامخ کړي وو [ ۱٦ ] . ځینو برتانویانو په څرګنده فکر کاوه چې ورنړ ون هنتنګ « دواسموس دتوپک میل دی » له کله نه چې دا معلومه شوه چې هنتنګ دمنځني ختیځ له ځینو سیمو څخه کتنه کړې نو سیاسي افسر دې ، ایس ، هلفورډ وویل :« دا خیال غلط دی چې وایي ( هنتنګ په فلسطین کې دوري هورې ځغلي ) . نوموړی اصلاً هغه سړی نه دی چې دمنځنۍ آسیا په هنتنګ سره نوموړ دی ، که وی نو دا به په راتلونکې کښې زموږ لپاره ناوړه تمام شي . » [۱۷]

وروسته به وګورو چې کابل ته دهنتنګ راستولو په خاطر بې هڅې روانې وې ، خو نوموړی ځکه ضروري او لازمي نه و چې ډیرو جرمنیانو غوښتل دواسموس ، لارنس غوندې په خپله پاخه جاسوسان شي .

# دجګړې دمهال ګامونه او توطيې

افغاني واکمنان له لومړی نړيوالې جګړې څخه په تجربې سره په دې تکل کې وو چې يا خو به له دويمې نړيوالې جګړې څخه هم ځانونه ژغوري او يا داچې يوازې دافغانستان تر ټولو ښو ګټو د ګټلو په صورت کې به پرې ورګډيږي . ظاهر شاه له افغاني پارلمان سره تر يو لړ سلا مشورو وروسته د (۱۹۳۹) دسپتمبر پر شپږمه يو فرمان صادر کړ چې په هغه کې يې دافغانستان ناپيليتوب اعلان کړ { ۱۸ } دې فرمان دجګړه والو ځواکونو داتباعو پر خوځښتونو هم بنديز ولګاوه ، اوهم يې دتبليغاتو هر ډول فعاليتونه تم کړل او بل داچې دخبرونو خپرول يې دجګړه والو ځواکونو دحکومتونو په رسمي نشر يو پورې محدود کړل چې په پام کې وه يوازې به دکابل داصلاح دورځپاڼې له لارې خپريدل { ۱۹ } .که څه هم چې دجګړې پيښيدنه په کابل کې داړونده ځواکونو داتباعو په وړاندې څه نوې خبره نه وه ، خو هغوی ټول يې دې نو يوشرايطو يوځل بيا اتکلولو ته اړيستل . دجرمني بهرني وزارت نور افغانستان ته د خپلو نورو کار پوهانو په ليږنه کې هلته

خپل راتلونکی دریځ سم نه باله . دجرمني دخارجه وزارت مامور شنیل ته ، چې داوخت په کابل کې دپیسو داړونې او بیه ټاکنې داړونده ژمنپانو په خبرولګیاو ، هدایت وشو چې خپلې خبرې اترې ختمې کړي او برلین ته راستون شي [ ۲۰ ] . عبدالمجید د ( ۱۹٤۰ ) کال په لومړیو کې په کابل کې جرمن واکمل وزیر ته خبر ورکړ چې شوروي اتحاد زموږ څخه دهغه توکو څخه تړون له مخې چې لاسلیک کیدونکی دی خورازیات مقدار وړی رانیولي او یوازې پنځه سوه ټنه دجرمني لپاره پاتې دي ، ده داشکایت هم وکړ چې له جرمني څخه رانیول شوي توپونه ځکه بې ګټې شول چې مهمات او مرمۍ یې نشته [ ۲۱ ] .

افغان حکومت دبدلوشویو شرایطو له مخې دخپلو جوړښتي ودې په پلانونو کې جرمن – افغان شراکت ته کومه بله چاره لټوله ، په کابل کې برتانوي واکمل وزیر د ( ۱۹٤۰ ) دفبرورۍ په لومړۍ نیټه راپور ورکړ چې افغاني چارواکو له ده څخه غوښتې چې آیا برتانیه به هغه پروژې وانخلي چې پخوا جرمنیانو پرمخ بیولې ؟ عبدالمجید فریزر ټایټلر ته وویل چې : « افغانستان دجرمني دمرستې مننه کوي ، خو داچې زموږ لاسونه یوبل ته سم نه رسیږي نو ځکه زیاتې پروژې نابشپړه پاتې دي » افغانان په دې سوچ کې وو چې آیا برتانیه به دجرمني ځای نیولو ته حاضره شي که نه او ایا په خپل یو اوږد مهالي پورسره به دافغانستان په پرمختیا کې دلس کلن یو پلان له مخې مرسته ورکړای شي که څنګه ؟ افغان حکومت په دې ښه پوه وچې برتانیې له ترکیې سره هم زیاته مرسته کوله او ځکه یې نو داسې دلیل نه لیده چې د نړیوال څپاند په دې پړاو کې دې ګواکې دبرتانیې لپاره دافغانستان اهمیت هیڅ وي . دبرتانیې داخوښه وه چې مرسته ورکړي ، خو دې ته تیاره نه وه چې افغانستان ته دجرمني دفرمایشونو او شرایطو مطابق ژمنې ورکړي ،

برتانیه په دې خوښه وه چې دټولو هغو افغاني صادراتو لپاره بازار ولټوي چې مخکې به جرمني او شوروي اتحاد ته تلل . افغاني میوو او مالوچو په هند کې ښه سوداګریزه اهمیت لاره ،مګر لندن دلویو پروژو دجوړښت او ودې سره مینه نه ښودله ، ځکه په دې کار سره په افغانستان کې زیاته پانګه لګېده او کېدای شول برتانیه یې په سیاسي لاسوهنو کې هم راښکیل کړې وای [ ۲۲ ] .

دافغانستان او شوروي اتحاد تر منځ اړیکي دافغانستان په دې ویرې سره دیرې اغیزمنې وې چې شوروي حکومت ښایي کله هم پرهند پوځي یرغل وکړي او ځکه نو لومړی باید افغانستان ترستوني تیر کړي . افغان حکومت په دې هم وویرید چې شوروي حکومت ښایي دخپلو کونسولیو له لارې له پښتني قبایلو سره معامله پیل کړي او هغوی دهند پرخلاف بلوا ته ولمسوي هغه انګیرنې چې ویل یې بهرنۍ کونسلګرۍ به کومې ستونزې نه جوړوي ، ژر بربنډې شوې . د (۱۹۳۸) دمارچ د (۳۱ مه) نېټه دکابل اصلاح ورځپاڼې دځینو افغاني او شوروي کونسولیو دتړنې اراده په ډاګه کړه . ورځپاڼې ولیکل چې دشوروي حکومت په غوښتنه یوداسې تړون شوی چې دهغه له مخې به داپریل له لومړۍ نېټې څخه په هرات ، مزارشریف او میمنه کې شوروي کونسولۍ او هم به په تاشکند او مرو کې افغاني کونسلګرۍ تړل کیږي [۲۳] . خوله دې سره سره ، فیض محمد خان یو کال وروسته خورا اندیښمن شو او یو برتانوي لوړ چارې ته یې وویل چې شوروي حکومت د آمو سین دپولې لانجه بیا را پورته کړې او دعوه کوي چې ددې سیند کینې لورې ددواړو هیوادو تر منځ پوله جوړوي [۲٤] .

له همدې کبله دشوروي - افغان اړیکې د ( ۱۹٤۰ ) کال تر نیمایې پورې

ستونزمن وو ، خورا زيات شوروي پوځونه دافغاني پولې پر اوږدو باندې ځای پرځای کړای شول او جرمني چې کله په لويديزې نړۍ کې زياتې سيمې ونيولې نو هغوی بيرته له دې ځايه ټول کړای شول ، دا اړيکي د ( ۱۹٤۰ ) کال دجولای پر ( ۲۸ مه ) دشوروي - افغان دسوداګريزه ژمنپاڼې په لاسليک سره مخ پر سميدو شولې . [۲۵]

نړيواله وضعه د ( ۱۹٤۰ ) په نيمايي کې دجرمني په ګټه ځکه و او ښته چې ددې هېواد پوځونو ډنمارک ، ناروې او دبالکان هيوادونه لاندې کړل او هم يې دجولای پر ( ۲۲مه ) فرانسې ته ماتې ورکړه . کله چې فرانسه مجبوره شوه دا ورېند تړون لاسليک کړي نو ايتاليه هم په جګړه کې ورګډه شوه . جرمني د ( ۱۹٤۱ ) دجون پر (۲۲مه) ياني پرشوروي اتحاد باندې تر بريد پورې يا دفرانسې له تسليميدو نه يو کال وروسته په مستقيم ياغير مستقيم ډول ټوله اروپا کنټرولوله او په دې ډول له برتانيې سره ښکر په ښکر شوه . د ( ۱۹٤۰ ) دسپتمبر پر ( ۲۷ مه ) دجرمني ، ايتاليې او جاپان تر منځ درې اړخيزه تړون برتانيه په اروپا او آسيا کې سخته ګواښمنه کړه ، هلته يونان او يوګوسلاويا فتح شول او روميل د ( ۱۹٤۱ ) په پسرلي کې پرشمالي افريقا باندې خپل بريدونه راپيل کړل .

دډيرو افغانانو په نظر جرمني نور سوبن ښکاريده او ددې مسئلې پوهېدو حياتي سترتيا لرله چې جرمني به دهغې نړۍ له « نوي سيستم » سره څه وکړي چې مخکې دبرتانيې او فرانسې تر واک لاندې وه .

له همدې کبله افغاني لوړ چارو په نارسمي توګه داسې غږونه جګول چې په ختيځ کې دجرمني هدفونه ځانونو ته معلوم کړي . د ( ۱۹٤۰ ) په جولای کې جرمن واکمل وزير له کابله رپوټ ورکړ چې دافغانستان دملي سپماوزير

ده ته ویلي چې افغانستان چمتو دی هرڅه دجرمني په گټه سمبال او دبرتانوي پرخلاف سرحدي قبایل راپورته کړي . ځکه به نوبرتانیه خپل زیات پوځونه چې په پام کې وه دمدیترانې محاذ ته یې ولیږي په همدې هند کې پریږدي . دغه افغاني وزیر ادعا وکړه چې که جرمني دلاندني کړنلارې منلو ته تیاره وي نو دی هم کولای شي دخپل حکومت دجرمني پرخوا راواړوي . (۱) پر شوروي اتحاد باندې دافغانستان دځمکنی بشپړتیا منل (۲) آزاد سمندر ته دافغانستان لاس رسي، (۳) دالوتکو ، ټانکونو او دافع هواتو پونو ورکړه ، دغه افغاني وزیر په دې فکر و چې کولای شي دسعد آباد دتړون اړونده ځواکونه دجرمني پلویان کړي ، ولې دا هم ورته جوته وه چې د ترکیې ملاتړ نشي خپلولای{ ۲۶} .

له کابل څخه دیو شفري تلگرام پر اساس برتانیه په دې هڅه کې وه چې دخپل شمال لویدیځ سرحد دژغورنې په خاطر افغانستان ته په بلوچستان کې یو آزاد بندر ورکړي او هم له چمن څخه تر کندهار داورگادي پټلۍ ورته جوړه کړي . خو داسې ویل کیدل چې افغانان له دې ورانديز سره مخالف وو{۲۷}. کله چې په برلین کې افغاني واکمل وزیر الله نواز د ( ۱۹٤۰ ) په سپتمبر کې له کابل څخه تر یوې کتنې وروسته بیرته ستون شو نو په بهرني وزارت کې یې ډبارون ون ویزاکر څخه دیوې مرکې په ترڅ کې په آسیاکې دجرمني جگړه ییزه هدفونه وپوښتل . ده دنورو مسئلو ترڅنگ دترټلي عربي ولس له حالته هم یادونه وکړه او په هند کې یې باید پنځه میلیونه افغانان خپله ازادي واخلي او دنقشې له مخې یې داسې وویل :« هغه وخت به په افغانستان کې عدالت منځ ته راشي چې سرحد یې داټک ( اندوس ) ترسیند پورې اوږدوالی پیدا کړي . » همداشان هغه له شوروي سره دافغانستان پر

مخالفت خبرې وکړې او پوښتنه یې وکړه چې : « ایا جرمني حاضر دی کله چې دافغانستان او ماسکو تر منځ کومه جدي ستونزه پېښه شي ، منځګړتوب وکړي ؟ » هغه تکرار تکرار وویل چې هو ، او زیاته هم یې کړه چې دافغانستان دسرحد داوږدوالي امیدواري به برقراره شي . که څه هم هند له برتانیې څخه خپله ازادي واخلي ، له بلې خوا الله نواز وویل : « دغه موضوع اوس هم په راتلونکي پورې اړه لري . » او زیاته یې کړ ، جرمني باید دافغانستان پر نظریو باندې پوه کړی شي . او دا لاندې خبرې یې وکړې :

تر هغه وخته به دافغانانو اواز او وعده اوریدل کیږي چې جرمني پر شوروي اتحاد حمله وکړي او دافغانستان په خارجي سیاست کې یو قاطع تحول راشي . که څه هم پر افغانستان باندې دشوروي دحملې ډار له منځه ولاړ بیا هم افغانستان دا روپایي ګاونډیو ملکونو له خوا احاطه شوی و . څرنګه چې په لومړی نړیواله جګړه کې عین وضعیت صورت نیولې و چې دمتحدینو له خوا محاصره شوی و . له میاشتو میاشتو را په دیخوا دجنګ او اتحاد موضوعګانې پر المان یو په بل پسې راتلې او لېدل کېدې ، دمحمد هاشم خان حکومت له موقع څخه په استفادې له جرمني څخه دشوروي دحملې تضمین اخستی و او پوی شوی و چې المان دافغانستان هیلې څرنګه دهغو سیمو په اړه چې په هند کې یې له لاسه ورکړي تشخیصوي .

د (۱۹٤۱م) کال په فبروری کې عبدالمجید دصحي عملیاتو په خاطر جرمني ته ولاړ او په عین وخت کې دتجارت پر مسایلو یې له جرمني سره تماس ونیوه ، دده حکومت تیار و چې خپل زراعتي پیدا وار جرمني ته ورکړي او غوښتل یې چې وړاندیز وکړي چې د خرڅ شوي مال قیمت به د جرمني بانکونو کې ذخیره کیږي چې دجنګ په اخر کې جرمني وکولاشي دفابریکو سامان

پرې واخلي او افغانستان ته يې راولیږي ، په وروستيو مياشتو کې يې دافغانستان دسرحدي قبايلو هيلي ياد ولې ، هغه دافغانستان دادعا دبيان په وخت کې له صراحت څخه کار واخيست او په کرار کرار يې څرګنده کړه چې افغانستان حاضر دی ، ددې په مقابل کې قربانۍ ورکړي .

د ( ۱۹٤۱م) کال په لومړیو کې عبدالمجيد خپل نظريات د « محور اتحاد » برلين ، بغداد او کابل ترسر ليک لاندې په مبهم شکل خلاصه کړل ، يوه مياشت وروسته عبدالمجيد په واقعي او حقيقي ډول دخپل نظر څرګندولو ته تيار شو او لاندې امکانات يې وړاندې کړل :

الف افغانستان د جرمني ښکاره پلوی دی ، که چېرته جرمني عصري وسيلې ، فني او تخنيکي اشخاص دضرورت په وخت کې ورکړي له محوري ځواکونو سره به په جګړه کې برخه واخلي.

ب – افغانستان به تر هغه وخته ګوريلايي جنګونو ته ادامه ورکړي تر څو ميداني جنګ ته تيار شي . عبدالمجيد داسې کوم استادانه کار ونه کړ څرنګه چې ده يې انتظار کاوه چې المان په دې هکله خبروته تيار شوی وای او دا يې په ډاګه کړې وای چې جرمني په دې اړه څرنګه کومک کولای شي او هغه غوښتنې چې ورڅخه شوي پوره کړي.

په دغه وخت کې ختيز مملکتونه په جنګ کې ښکيل وو ، په سوريه کې ډيرې نارامۍ منځ ته راغلې او حکومتي جنګونه په عراق کې څرګند شول چې په ( ۱۹٤۱م) کال کې دمحوري ځواک پر خلاف دکودتا باعث شول کله چې جرمني ونه شو کړای چې پر عراق دبرتانيې دحملې خلاف کومک وکړي دافغانستان علاقه دسياسي همکارۍ په اړه له هرچا سره چې وه او هرڅه چې وه بيخي وشلېده . پرشوروي اتحاد دالمان له حملې نه يوه ورځ وروسته

دافغانستان دبهرنیو چارو وزیر علي محمد خان په کابل کې دالمان سفیر ته وویل : « کله چې شوروي اتحاد او برتانیه ملګري شوي دي دجهان سیاسي وضعې ته یې پوره تغییر ورکړی دی ، افغانستان نه شي کولای خپل یو ګاونډی هم مصروف وساتي . دافغانستان دبهرنیو چارو وزیر په لندن سره څرګنده کړه چې : « اوس دافغانستان حکومت نه د جرمني ملګری دی او نه دبرتانیې ملګری دی ، بلکې یوازې دافغانستان ملګری دی. »

له دپلوماتیکو فعالیتونو سره توافق هغه هم په لوړه سطحه دسري حرکاتو ایجاب کاوه ، لکه دمحوري ځواکونو غوندې چې په اسیا کې یې له خپلو عسکرو اوپلویانو څخه استفاده کړې وه چې پر هندوستان او روس باندې په مرکزي اسیا کې خپل تعرضي عملیات پر مخ بوځي ؛ د (۱۹٤۱م) کال د پسرلي په موسم کې محوري ځواکونو دخپلې فتحې پروپاګند په هر ځای کې خپور کړ ، همدا وخت و چې دکانګرس دګوند مشر ( سوبهاس چندرابوس ) په ناڅاپي ډول دجنورۍ دمیاشتې په نیمایي کې په کلکته کې له خپله کوره ورک شو او له دوه میاشتو څخه وروسته دمارچ پر ( ۲۸مه ) په برلین کې ښکاره شو . په هغه وخت کې عام ذهنیت دا اوازه خپره کړه چې دهند دانقلاب مشر د جرمني اویتل په واسطه جرمني ته وړل شوی ، ځینې متردد وو چې هغه دافغانستان او شوروي اتحاد په لاره هلته تللی دی ، هغوی فکر کاوه چې دجرمني استازیو دانوښت کړی و او دا طرحه یې جوړه کړې وه ، دچندرابوس دتیښتې کیسه بل ډول وه او له دې پروپاګنډو نه یې بالکل توپیر لاره . بوس په خپله ابتکار په لاس کې اخستی و او هغه خپله داهیله لرله چې ماسکو ته ولاړ شي او له هغه ځایه بیا برلین ته ولاړ .

دبوس دتیښتې کیسه باید دجرمني او هندوستان له سیاسي منابعو څخه

ترتیب شي چې پخوانۍ رنګارنګ څېرونې تکمیل او تایید کړي ، څرنګه چې له دغو سرچینو څخه یوه وايي چې : « ا ورته چند د غلام سرور مستعار نوم او چندرابوس د ضیا الدین مستعار نوم اختیار کړ ، په کابل کې بوس ته اتوم چند په خپل کور کې پنا ورکړه او پرته له کومې ستونزې د هند د مشر د تېښتې د زمینې د برابرولو کیسه پیل کوي.

د بوس د تېښتې یو بل په زړه پورې روایت د عباد خان چې د رام لال مستعار نوم یې لاره او د هند د چپي ګوند غړی و ترتیب شوی چې بوس له پېښور څخه کابل ته یوسي ، وروسته له هغې عباد خان د برتانوي پولیسو له خوا ونیول شو او د اعترافونو په شپږ ویشت مخونو کې یې په ځان پورې اړوند داستان ښکاره کړی دی. د دې منابعو په اړه بوس خپله دا تصمیم نیولی و چې له هند څخه وتښتي ، ځکه چې لږ وخت وروسته محکمې ته وړاندې کېده او په هغه ځای کې د ده د قید امر کېده ، په دغه علت سره یې تېښته اختیار کړه او د ( ۱۹٤۰ م ) کال په نومبر کې بوس له خپل ګوند څخه کومک وغوښت او د تېښتې پرېکړه یې وکړه . مختلفو عواملو د هغه تصمیم شاته واچاوه او یو له هغه څخه د رهبرۍ پرېښودل و چې د هغه په څېره کې توپیر پیدا کړي ، په دې ترتیب هغه مریضي پلمه کړه او څلویښت ورځې په کور کې پټ و او بالاخره یې په څلویښت ورځنیو محاسنو خپلې قیافې ته تغییر ورکړ ، چې د سفر په جریان کې ونه پېژندل شي . د یو مسلمان په حیث یې د تېښتې طبقې له خلکو سره سفر ته ادامه ورکړه او د ضیاالدین مستعار نوم یې پر ځان کېښود او د ریل دویمه درجه ټکټ یې له کلکتې څخه تر پېښوره واخیست ، په داسې حال کې چې بوس تنګ او نښتی پرتوګ اغوستی و ، وی ویل : « په هر قدم کې یې ماته مولوي ویل . »

چند رابوس دجنورۍ پر ( ۱۷مه ) پېښور ته ورسېد او داعتمادي سړيو په پيدا کولو سره دکابل په سفر روان شو .

دغه کار هم اسان نه و او دبوس ځينو انقلابي غړيو اندېښنه لرله ، که چيرته هغه په پېښور کې گير شي ، دغه داغ به دپښتنو په نوم او ننبان باقي پاتې شي او دهندوستان خلک به پر موږ شک وکړي چې موږ له برتانيې سره يووالی اوتړون لرو .

دبوس دتېښتې په اړه دوه روايته شته چې يو له بله اختلاف لري ،مثلاً عباد خان په پېښور کې دبوس د پاتې کېدو وخت مسلسلې لس ورځې ښيي څرنگه چې اتوم چند دغه ورځې درې ليکلي دي ، دعباد خان روايت معقول ييښني بيا په خاصه توگه کله چې اتوم چند په خپله وايي چې په ځينو تاريخونو کې سهوه شوی يم ، که څه هم هغه څلور ورځې وروسته له حادثې څخه داموضوع ليکلې ده .

بهاگات رام خپل ځان ( رحمت خان ) ښودلی دی ، دی دهندوستان دانقلاب له سري موثرو نماينده گانو څخه دی . دی له بوس سره په سفر کې يوځای و چې داپريديو دقوم بدرگه ورسره وه ، پر هغوی يې باور وکړ چې دوی ته لار وښيي ، بهاگات رام دبوس په شان دغلزيو په شان افغاني لباس اغوستی و او ځان يې دبوس کوڼ ،گونگی او مريض ورور معرفي کړی و چې هغه دشيخ صاحب زيارت ته وړي ، خان لال پور وويل : « تر هغې چې هغوی دلارې خط واخلي بايد دسرحد ازاد پښتانه معرفي شي چې زيارت ته ځي » تښتېدونکي سلسله په سلسله داپريدي قبايلو په واسطه دافغانستان سرحد ته ورسول شول او وروسته دکابل له سيند څخه دمشق په واسطه واوښتل او بيا يې يوې لارۍ ته لاس ورکړ چې په کابل کې يې خپل مقصود منزل ته

ورسوي . هغوی دافکر کاوه چې افغانستان دافغانانو ځمکه ده او په بشپړ ډول سره يې پښتو خبرې کولې او هغوی حيران شول چې رحمت له دومره اوچتې پوهې سره چې په پښتو ژبه کې يې لرله . په څو موقعو کې گټور واقع نه شو ، څو افهام او تفهيم واقع شوی وای او د دمفاهمې مانع وگرځيد ، په تيره کابل کې له جدي ستونزې سره مخ شو دا ځکه هلته فارسي ژبه مسلطه وه . افغاني پټو پوليسو پر هغوی باندې د ياغې مومندو شک وکړ او د شوروي سفير چې له دوی سره وکتل ، نشو کولای د رحمت خان په نيمگړې فارسي باندې سم پوه شي . چندر بوس ځکه په غوسه شو چې گوند يې داسې څوک نه و ورسره ملگری کړی چې روسې يا فارسي يې زده وای ځکه د غه ژبو کابل ته د نو موړو فراريانو په رسيدو کې خورا ډير اهميت لاره . بوس په کابل کې ځلوېښت ورځې تيرې کړې او پر له پسې دخپل امنيت په هکله انديښمن و ، دا ځکه چې په کابل کې گڼ شمير هنديان د ده له شته والي څخه خبر وو . هغوی بالاخره دمارچ پر اتلسمه ديو موټر په وسيله مخ پر شمال شوروي اتحاد ته وخوځيدل چې دوه جرمنيان او يو ايټالوي هم ورسره ملگری وو . اوتم چند د بوس له خوا دخپلو آزادونکو په هکله دهغه انگيرنې داسې څيړي : « بوس بابو پوره ځلوېښت ورځې زموږ سره وو ، او په دې دومره موده کې مې ده له خولې څخه د محوريانو په گټه هيڅ هم وانه وريده . ده له هغوی څخه هم دبرتانويانو غوندې کرکه لرله . »{۳۷}

ددې فراريانو لويه ستونزه د اوه چې د شوروي سفارت به تل ترلې او افغاني ساتونکو به پيره ورباندې کوله او که به چا غوښتل چې ورننوځي نو ځان يې بايد پوره معرفي کړی وای . « رحمت خان » او « ضياالدين » د کابل په کوڅو او سړکونو کې د شوروي سفارت په لټه گرځيدل ، خو تر ميندلو

وروستـه یې ونشـو کړای چې ورننوځي اومـجبـوراً دهغـه پرشا وخـوا دورې هورې تیـریدل ځو چې کـومـه ورځ یې پرسرک دسـفیر مـوټر ولیدا و هغـه یې ودراوه ، رحمت خان سفیر ته وویل چې : « بوس زما سره ملګری دی او غواړي چې مـاسکو ته لاړشي . » شوروي سـفیـر چې درحـمت خـان په فـارسـي سم نه پوهیده له مرستې څخه ډډه وکړه او په ظاهره یې ځان دبوس د پیژندګلوی په هکله چې هلتـه ګوښه ولاړو ، ناګـاره واچاوه ، رحمت خان داسې وانګیرله چې روسان دا وخت دبرتانویانو خوا بدي کیدل نه غواړي ، دغو دوو انقلابیانو له شورویانو څخه دبد قسمتی په نتیجه کې مجبوراً دمحوریانو پرسفارتونو دمرستې ږغ وکړ . رحمت خان ځان دجاپاني سفارت چوکیدار وباله اوویې کړای شو په دې پلمه دایټالیې سفارت ته ننوځی او هلتـه لمړونفکر سفیر پیټر قـاروني سره په کـابل کې دبوس پر شته والي باندې وغږیږي . ایټالوي سفیر ژمنه وکړه چې روم ته تلګراف کوي او بوس ته به پاسپورټ برابروي ؛ بوس په دې نیت څو اوونی همدلتـه پاتې وڅو چې دا مسئله حل شوه . په دې بهیر کې دشوروي اتحـاد له لارې د بوس دتیرولو په هکله ستونزه پیښـه شوه ، بوس په کـابل کې له ا یټالویانو او جرمنیـانو سره چې هرې خواتـه زیات میندل کیدل تماسـونـه ټینګ کـړل [ ۳۸ ] . په دې ترڅ کـې یوه ورځ ده ته وویـل شـول چې پلانکې پټ ځای ته دې« په وړیا توګه دعکس اخیستو » لپاره لاړشي ، نوموړی هم داده شو او په دې ډول داستـونزه اواره شوه ، بـوس خپله وروستی شپـه دقاروني په کورکې تیره کړه او په سبا سهار دمارچ پر اتلسمه دمحوري ځواکـونو دځـو افـسـرانو په شـمـول له کـابل څـخـه دبرلین اوروم پر لور وخوځید. [۳۹]

له دې نه پرته ، نور هغسې خوځښتونه چې محوري ګومارلو پرمخ بیول ،

اغیز من او بریمن نه وو . دڅرگندو خوځښتونو په لړ کې دهغو ورځپاڼو او مجلو ویشنه هم شامله وه چې دجرمن سوبو لازمه ګڼانځنه به یې کوله جرمنیان خپلي « بلیتزکریګ » سوبې دساکنو او خوځنده خبري فلمونو له لارې ښودلې . حال دا چې نورو جګړه بوختو ځواکونو به هم دخپلو سوبو څرګندونې کولې او جرمنیان یې پر هرڅه بر لاسي او په یوازې توګه دجګړې ګټونکي نه بلل . ایټالویانو پر لیبیا دتسلط په وجه خپل لوری یوډول اسلامي ځواک باله او موسولیني یې « سیفُ الاسلام ( اسلامي توره ) او داسلامي نړۍ ساتونکی معرفي کاوه . » خو ایټالیې پر حبشې دیرغل له امله په افغانستان کې بدنوم ګڼلې و او افغاني واکمن کهول هم دې ته ښه ځیرو چې امان اله خان په روم کې دشړنې په حال کې ژوند کاوه چې په ( ۱۹۲۸ ) کې له هغه هیواد څخه دکتنې پروخت « دپاچا دتره زوی » یانې دشاهي کورنۍ غړی بلل شوی و .

افغان حکومت دهر جګړه بوختي ځواک پربرېنډ و تبلیغاتي خوځښتونو بندیز ولګاوه او ظاهرشاه به وخت پر وخت په جګړه کې دافغانستان د ناپیلتوب اړونده فرمانونه خپرول { ٤٠ } . مګر له جرمنیانو سره په افغانستان کې بیا هم زیاته خوا خوږي موجوده وه آن دا چې ځینو حکومتي لوړ چارو به کله ناکله دجرمنیانو سیاسي خوځښتونو ته لاهم « په بده سترګه نه کتل . » افغان حکومت پرته له شکه دجرمنیانو په هره کړنه خبرو او یوازې دانګریز- شوروي دکښیکښنو دلګښت په خاطر به یې کله ناکله عمل کاوه ، لکه څنګه چې افغاني سرحد ته یې دجرمن استخباراتي جوړښتون ( Abwehr ) ددوو ګومارلو دلیږنې پر مهال دغسې کار وکړ .

دمحوري ځواکو نویټ خوځښتونه له هماغه پیل څخه په دې هدف وو چې

له سرحدي پښتنو سره اړيکي ټينګه کړي او هغوی د برتانيې په وړاندې دښمنۍ ته وپاروي . لکه څنګه چې قاروني د ( ۱۹۳۹ ) په جولای کې وړانديز وکړ چې محوري ځواکونه دې په افغانستان کې خپل سياسي خوځښتونه او هدفونه سره وپيژني { ٤١ } . قاروني د ( ۱۹٤۱ ) په پسرلي کې يو ځل بيا په کابل کې پرجرمن واکمل وزير باندې زور واچاوه چې دواړه ځواوې دې داپيي فقير ته روپۍ ورکړي چې هغه وکولای شي په هند کې د برتانوي پوځونو پر خلاف د بريدونو په خاطر د اړتيا وړ جګړه توکي او تيږکونه راو نيسي . جرمنيانو هم داخبره ومنله او دمې په مياشت کې د « اب ويهر » يو ګومارلي برلين ته راپور ورکړ چې له فقير سره په دې اړه د اډمن تماسونه روان دي . »{ ٤٢ } سربيره پر دې ، داسې هم وپتيل شوه چې د چند ربوس له جوړښتون څخه به دورانکارو او جاسوسي خوځښتونو په انتظام او شورش ته د هندي ولس په لمسولو کې ملاتړ کيږي . جرمن ايجنټانو داسې وانګيرل چې يوازې او يوازې پيسې کولای شي د چند ربوس جوړښتون داسې خوځنده کړي چې د شمال لويديځ سرحدي صوبې ؤشورش سره جوخت په ټول هند کې يو لوی پاڅون راوپاروي . ددې کارلپاره لــــــومړنی ګام دا وچې فقير ته به د مياشتې لس زره پونډه ورکـــــــول کيږي . پرهمدې مـــــــهال ويزاکر ( Baron uon Weizasaeker ) د جرمن خارجه وزارت يو چارواکي په برلين کې عبدالمجيد ته وويل چې موږ په دريو مسئلو کې د افغانانو مرستې ته اړيو : ( ۱ ) د آزادو قبايلو لپاره د لنډې څپې د يو کوچني راډيو ستيشن په ليږنه کې د افغانستان اجازه ، ( ۲ ) د جرمني تبليغاتو په خاطر په پټه د کابل راډيو د استعمال اجازه ، ( ۳ ) دوسلو په ليږولو کې د افغانستان له خوا پټه خوله نيول . » وايزاکر په خپلو دې غوښتنو کې څه

بري ونه گاټه ، ده راپور ورکړ چې عبدالمجيد نوموړي معلومونې « په مينه »
سره ومنلې ، خو وروسته يې د خبرو لوري د ير ژر بلې خواته واړاوه چې وايزا کر
دهغه اصلي علت په عراق کې د منځته راغلو پيښو له امله د نوموړي افغاني
وزير خواشيني کيدل وباله [٤٣] . عبدالمجيد وويل چې : « لمقبايلو سره په
معاملو کې بايد له پخو تجربو څخه کار واخيستل شي که نه په لږې غلطۍ سره
به وسلې د نامطلوبو کسانو لاسونو ته ورشي . » همدارنګه ، مخکې له دې
چې افغان لوري د ځانځانۍ غوښتنو په هکله سم پوه او خبرې اترې پيل
کړي ، عبدالمجيد په دې فکر کې شو چې يو داسې تاکلی چوکاټ بايد جوړ
شي چې دهغه پر اساس جرمني او افغانستان يو بل ته د مرستې لاس ورکړای
شي . له دې نه لږ څه وروسته « رين ټروپ » په کابل کې جرمن واکمل وزير
په دې وپوهاوه چې افغان خارجه وزير ته ووايي چې دشوروي اتحاد په وړاندې
هلې ځلې مخکې لا بريالۍ شوي او جرمني به ډير ژر سور پوځ هم دړې وړې
کړي ، نو له همدې امله به دا دافغان حکومت په ډيره ګټه وي که له محوري
ځواکونو سره مل شي [ ٤٤ ] . په برلين کې هم وايزاکر په همدې ګروهه وو او
عبدالمجيد ته يې وويل چې : « له نيکه مرغه روسي پوځ مخکې لا په لويديځ
کې د جنګي محاذ په خلاصولو سره ځان په خپله سوري سوری کړ » او ده
هڅه وکړه چې د ( انګريز - روس له خيالي ګډې مرستې ) څخه دافغانانو
ويره راټيټه او ډاډ ور کړي چې دغسې کار به هيڅکله هم ونشي [ ٤٥ ] .

پر دې مهال په کابل کې دايټاليې دسياسي نمايندګۍ سکرتر انزيلو تي په
دې بريالی شو چې سرحدي سيمې ته وخوځي او هلته د ايپي له فقير سره
خبرې اترې وکړي . انزيلو تي تر ستنيدو وروسته راپور ورکړ چې فقير ته د
( ١٩٤١ ) دفبرورۍ راهيسې پيسې ليږل کيږي او هغه د جرمني او ايټاليې

هر يوه څخه اتيا زره افغانۍ اخيستي دي او داژمنه هم ورکول شوې چې په هرو دوو مياشتو کې به پنځه ويشت زره پونډه نور هم ورکول کيږي چې له هغو څخه انزيلوتي دوولس زره پونډه دادی فقير ته ورکړل . انزيلوتي د قبايلو دلاخوځښت په خاطر د نورو پونډونو دسپارنې وړانديز وکړ او دغسې زيانونه يې داړتيا وړ د ښمنيو سره معادل وبلله . ده افغانستان ته د زياتې پانګې ليږنه وغوښته او راپورېې ورکړ چې فقير په دې خوښې ښکاره کړې چې دراډيو کوم چلونکی دې ورولېږل شي چې هغه به دده څو کسان وروزي او هم يې غوښتي چې دوه اروپايان دې هم ورواستول شي چې دار تباطي کسانو په توګه دده دسلاکارانو دنده مخته بيا يي [ ٤٦ ] .

جرمنيان په دې اندشول چې د خبرو اترو اصلي مهال نور نو رارسيدلی او خپل ګومارلي يې اېپي فقير ته چې د اور خوړونکی ( Feuerfresser ) په رموزي نوم سره يې ونو موي ، ولېږل . دادوه جرمنيان « اوبردورفر » او « براند » چې افغاني جامې يې اغوستې وې د څو وزيري ساتونکو په ملګرتيا مخ پر سرحد روان شول ، خو ډير وړاندې ولاړ نشول . ځکه دافغان حکومت دهغې وينا له مخې چې جرمن سياسي نمايندګۍ ته يې سپارلې ويل کيدل چې يوه افغاني پوځي ګزمه د « مخالفانو » په لټولو پسې چې دانګيرنې له مخې دامان الله خان زوی او دغلام صديق خان ورارېه هم په کې شامل وو ، وتلې وه ، کله چې داګزمه همدې جرمنيانو ته راورسيده نو هغوی يې ايسار کړل خو جرمنيانو ډزې پرې وکړې افغانانو هم په متقابله ډزو پيل وکړ چې په نتيجه کې يو جرمن ووژل شو ، کله چې دبراند له سره چې هغه هم څه ټپي شوی وپګړۍ ولويده نو افغانان پوه شول چې دا پيښه ټوله يوه « غلطي » وه کله چې افغانانو براند ونيوه نو ګوري چې له دې جرمنيانو سره په زيات مقدار بيلا

بیلې کړنسی، وسلې، نقشې او نور شیان وو چې له دې ټولو نه دهغوی اصلي هدف رسوا شو .

مگر دبراند دراپور له مخې چې څه وروسته یې پیلگر ته ورکړ کیسه بل شانتې ده . هغه داسې چې دادوه جرمنیان دجولای دنولسمې نېټې دسهار پر شپږیجې ویده وو چې یودم ایسار کړای شول . افغاني پوځیانو چې پنځوس کسو ته رسیدل ، ناڅاپه ډزې پیل کړې او دبراند وزیري ساتونکي چې آن یوه گولی یې لاهم فیر نه کړه ، وتښتیدل . براند په دې شکمن شو چې خپلو ساتونکو درغلي ورسره کړې ده { ٤٧ } . پیلگر رپوټ ورکړ چې افغان حکومت دځینو معلومونو له مخې دڅو اوونیو راهیسې په دې پلان خبرو او دغه جرمن گومارلي یې ځکه په لومه کې یستل چې برتانویان یوڅه غلي کړي او هم ځان ناپییلې وښیي ، افغان حکومت ښایي په برلین کې دخپلې سیاسي نمایندگی له خوا په دې هکله پوهول شوی وي ، ځکه دافغاني صدراعظم دهغې را اخیستل شوې وینا له مخې چې دکابینې په غونډه کې یې کړې ویل کیږي چې دغه جرمن گومارلو د روز نبرگ دلارښوونو له مخې عملیات کول{ ٤٨ } . داچې نوموړې طرحه په کابل کې نه بلکې په برلین کې پلان شوې وه ، دجرمن دبهرني وزارت دسیاسي څانگې دمشر « وویرمان Woermann » له هغه لیک څخه له ورایه ښکاري چې نورو جرمن څانگو ته یې خبر ورکړی و چې براند او اوبرډور فر دواړه پوځي استخباراتي څانگې ( Abwehr ) په « وي لیست V-list ) کې شامل وو ، دالیک خارجه وزارت ته تسلیم کړل شوی و { ٤٩ } . په کابل کې جرمن واکمل وزیر داپیښه دروانې سیاسي اشتباه په وړاندې دیوښه شگون غونډې افغانستان ته دجگړې دغزیدو څرک وباله . جرمني او افغانستان دواړو داناڅاپي کیسه

يوه « غمجنه اشتباه » وبلله ، حال دا چې جرمن واکمل وزير دځاني خبرو اترو پر مهال افغانانو ته وويل چې ښايي دغو خلکو ته به د « لټون » دنده ورسپارل شوې وه . خو افغان لوري په دې ټينګار وکړ چې داسې پېښه دې بيا نه تکرار يږي او هڅه يې لرله چې جرمن لوری په دې باوري کړي چې دجرمن ډير ګومارلي دلته دبرتانويانو پيسه خواره شوي هم دي . جرمنيانو په سرحد کې له روانو حالاتو سره دنابلدی په وجه پټ خوځښتونه پر مخ نشو بيولای ، افغان صدر اعظم په دې ټينګار وکړ چې افغانستان ديو بيلونکي (buffer) دولت په توګه دخپلو ګاونډيو خوا خوږي ځانته اړولې او دده هيواد به هله په جګړه ورګډ شي چې جرمني ځواکونه دافغانستان پولي ته راورسيږي { ٥٠ } .

جرمنيانو ددې حساس حالت ( Faus pas ) سره سره پر افغان حکومت زور اچاوه چې د کابل په خپله سياسي نمايندګۍ کې د کوم پوځي آتشه تاکنه ومني ، سربېره پردې په افغانستان کې دواکمل وزير په توګه دورنر ون هنتيګ په ټاکنه کې هم د جرمني خارجه وزير ويين ټروپ (Joachim Von Ribbintrop ) څه خاص نظر نه درلود . افغان لوري په دې هکله خپله خوښه په زړه نازړه توګه وښودله ، مګر دافغانستان ګاونډيو له هماغه پيله ددې کار سره مخالفت کاوه . رېين ټروپ هنتيګ ته دټاکنې څخه وروسته لارښوونه وکړه چې هلته پنځوجګړه ييزو هدفونو ته ځانګړې پاملرنه ولري :

١ - په افغانستان او هند کې دبرتانيې دټينګښت او دريغ په هکله داستخباراتي معلوماتو راغونډول .

٢ - په افغانستان کې دبرتانوي او شوروي حکومتونو په پرتله دجرمن دريغ پياوړتيا ، دټولو جرمن پوځي او استخباراتي مامورانو ، جرمن

ډاکترانو، ښوونکیو او انجینیرانو ( دټار دجوړښتون اړونده کسانو )
ډخوځښتونو سره پیښبه ، د« ملي تولیو » جوړیدنه او که لازمه شي نو دافغان
حکومت په وړاندې دهغوی استعمال ، پای داچې دتولو جاسوسي څانگو
هلې ځلې په یوه چوکاټ کې راوستل .

۳ - دسرحدي قبایلو او دهغوی لهملي مشرانو سره تماس لرل ، له هند څخه
داستخباراتي معلوماتو دحصول او هلته دجرمن تبلیغونو دڼیر ښت په خاطر
له هغه هیواد سره دتماس لرل.

٤ - په بلوچستان اوایرانی پوله کې دهغه پوځي لاس غزونو څارنه چې
برتانیې پیل کړي دي .

٥ - په ایران او افغانستان کې دولسي خپلواکیزه غورځنگونو څارنه او
لسونه ، په تیره بیا که هغوی یو بل ته لاس سره ورکړي { ٥١ }.

خو په کابل کې دجرمن مشر تابه له دې بدلون څخه څه راونه وتل .
برتانیې دهنټگ ټاکنه وغندله او هغه یې یو « او ځار شورشړ » وباله { ٥٢ }.
پر شوروي اتحاد باندې دجرمني په یرغل سره جگړه یونوي پړاوته ننوته، او
دافغانستان سیاسي دریځ په بنستیز ډول سره گواښمن غوندې شو . ځکه ،
دشوروي په ماتیدو سره دمنځنۍ آسیا په سیاسي نقشه کې ژور بدلون
پیښیده چې دافغانستان په گټه نه بلکې په زیان و ، حال داچې دجرمني په
ماتې سره به شوروي اتحاد تربل هر وخت پیاوړی کیده . همداوجه ده چې
دافغانستان هرگام اخیستنه اوکړ نه له جگړې نه مخکې یا وروسته دهغه
دبهرنیو اړیکو په نفوذ کې نغښتې وه، د ( ۱۹٤۱ ) په جولای کې دشوروي
- افغان پولې ظاهراً دشوروي په نوښت سره وتړل شوې اودې کار دبرتانوي
هند په وړاندې دافغانستان سوداگریز اهمیت نور هم زیات کړ. دجرمني

سیاسي گټو هم پر همداوخت شوروي اتحاد خپل نښان وګرځاوه او بیلابیلو جرمن ګومارلو دشوروي په منځنۍ آسیا کې دبلشویکي ضد ځواکونو او هم په افغانستان کې له جلاوطنه مسلمانانو سره خپل تماسونه ټینګ کړل.

متحدینو چې پردې جرمن توطئو باندې پوره شک لاره، نورنو دخپلو هڅو په متمرکز کولو سره افغان حکومت کښیکښیږ چې په افغانستان کې دې استوګن جرمنیان یا خوراوګرځوي یا داچې دهغوی شمیر دې لږ کړي.

جرمنیان هم چې دمتحدینو له دې فشار څخه خبر وو، ځکه نا ارامه وو چې څه باید وکړي. ریبن ټروپ د (۱۹٤۱) په اګسټ کې پیلګر ته لارښوونه وکړه چې په کابل کې استوګن جرمنیان له سیاسي خوځښتونو څخه راوګرځوي. له بلې خوا، یوازې څو ورځې وروسته د (۱۹٤۱) داګست پر پنځلسمه ریبن ټروپ لږ پیلګر څخه هلته «دسیاسي هدفونو لپاره دسروزرو دسکو دخرڅ» په هکله معلومات وغوښتل، دې پیسو چې خورا زیاتې وې باید مطلوبه نتیجه هم ترلاسه کړې وای. امریکا یې ډالر او دسروزرو پونډونه یوازینۍ هغه کرنسۍ وې چې قبایلو او هندي ګومارلو غوښتې، حال داچې لږکاغدي پونډونو سره چا دومره مینه نه لرله او آن دا چې یوځل دا پیې فقیر هغه بیرته مسترد هم کړل {۵۳}.

جرمن لګښتونو خورا لږ نتیجې ترلاسه کړې. ددې پیسو له ورکړې څخه یو هدف دا و چې دځینو سرحدي قبایلو سپما یز شرایط سم شي، حال دا چې دبرتانیې لګښتونو ددې ګواښمن پړاو پرمهال په سرحد کې دهغو زیاتوژوند ورسم کړی و، دواړو خواوو پرته له شکه عین ځواکونو ته متضادو اسرو سره مالي مرسته ورکوله چې سرحدي قبایل هم له دغسې حالت نه ډیر خوښ وو، دا هم څرګنده وه چې که دجنګ لمبې افغانستان ته رسیدلې وای، نو سرحدي

پښتنو به یا خو دافغان حکومت ننګه کوله یا داچې دخپلو ګټو له مخې به یې عمل کاوه . دچند ربوس له جوړښتون سره جرمن مرستو په هند کې دهغو دندو له مخې چې انقلابیان ورسره مخامخ وو ، کفایت نه کاوه . سربیره پردې کله چې جرمني پر شوروي اتحاد بریدوکړ نو دغه انقلابیان هم سره وویشل شول او ځینو یې دشوروي په ګټه میدان ته هم ودانګل ، داجګړې له دې پراختیا څخه وړاندې ، برتانیې ضد پټو مبارزانو چې پر جرمن مرسته تکیه وو ، په ډیرې مبالغې سره ادعا کوله چې ددوی خوځښتونو ټرسیال لوري نه لاره ورکه کړې ده ، له همدې کبله رحمت خان محوري لوړ چارو ته رپوټ ورکړ چې دده جوړښتون په هند کې خورا اغیزمن کار پر مخ بیایي ، پر سرحد کې هم کار په بیړه روان دی او دورانکاریو په خاطر دروزنې مرکزونه جوړیدونکي دي ، ده بیا هم داسې وانګیرله چې اوس لا « دآزاد هند حکومت » په نوم دتبلیغاتو کول تر وخت دمخه کار دی او زیاته یې کړه چې نیپال او برما ته ګومارلي تللي او په قبایلي سیمو کې دلازمو پوځي عملیاتو په خاطر تیل زیرمه کړای شوي دي . د« مخکښ بلاک » دمرکزي کومیتې دجون داتلسمې دراپور له مخې انقلابي غورځنګ « دحکومت ، راجاګانو ، ځمکه والو ، او دګاندي له هڅو » سره سره په بیړه غښتلی کیږي . دبرتانوي هند پراخو نیونو بیا هم ونکړای شو چې په پنجاب ، بنګال او دسرحد په ایالاتو کې انقلابي غورځنګ دړې وړې کړي . هندي ولس او دپوځ زیاتې برخې له دې غورځنګ سره ښه ډیره خواخوږي لرله او په سلګونو پوځیان یاخوراپورته شول او یا داچې له تیښتې وروسته دبرتانوي ضد پټو مبارزانو سره ملګري شول . خو رحمت خان له دې سره سره بیا هم ومنله چې انقلابي غورځنګ دهند په نورو برخو کې تر زیاتې اندازې وځپل شو [ ٥٤ ] .

دبرتانوي ضد ائتلاف ډیر غړي سوسیالستان وو او د دوی چند احساسات ددې غورځنګ داکثریت غړو دنظر ښه ښکارندويي کوي ، دی لیکي : « زه له خپل کوچنیوالي څخه د پانګې بې اندوله ویش ته هک پک تللی او له هغه نه مې بد راتله . ما به لیدل چې له یوې خوا بې وزلي کسان سربیره پردې چې ټوله ورځ یې له کړاوه ډک کارته ملاتړلې وي بیا هم په دې نشي توانیدای چې دځانونو او خپلو کورنیو لپاره څه ومومي ، په داسې حال کې چې شتمن کسان دژوندانه ټولې آسانتیاوې لري او هرڅه یې په اختیار کې وي هر چا دامنلې ده چې تقدیر او بخت دمادي نعمتونو په ویشنه کې غوڅ لاس لري او هیچا ته له هغه څه نه چې په نصیب کې یې وي آن دیوه غنم په اندازه هم اضافي نه رسیږي خو زه نوموړې مفکوره ځکه نشم منلای چې رب العزت به دومره بې انصافه نه وي ... کله چې ما دکانګرس مرام او اعلامیه ولوستله نو دا راته ثابته شوه چې غلامي زموږ دفقر او لوږې بنسټیز علت دی ، ځکه نو هندوستان باید خپلواک کړای شي . » ٥٥

افغانستان ته بیلا بیلو ځواکونو پرته دخپلو اهدافو نه چې دجګړې په پایله کې یې ژورې ګټې لیدلې ، ډیر ارزښت ورکاوه . لکه څنګه چې محوریانو هغه دبرتانوي هند او دشوروي دمنځنۍ آسیا ننوتوځۍ او په دواړو سیمو کې ددښمنیو تم ځای باله ، دمتحدینو ضد ځواکونو بیا افغانستان دمحوریانو له خوا دمرستې رسیدو بنسټیز پیوستون باله ، حال دا چې دمتحد ینو په خیال افغانستان دالحاق پالنې او سراسري اسلام دهوسونو او له هغسې شکایتونو څخه ډکه یوه سیمه وه چې واکمنانو یې تل دخپلو ګاونډیو پر خلاف لرلي دي . متحدینو که څه هم چې یو سوله ییز افغانستان غوښت او په دې تلوسه وو چې دافغان حکومت خښم یو څه لږ کړي . مګر له

محوريانو سره يې دافغانستان دملګرتوب يا د خپلو غليمانو دعمليا تو ديوتم ځاى په توګه ددې هيواد له استعمال څخه تروسه وسه مخنيوى كاوه.

ځكه نو آن د (١٩٤١) په مى كې لا جرمن ګومارلو راپور وركړى وچې برتانيه غواړي په سرحد كې دخپلو پوځونو شمير لږ كړي او افغانستان ته ځينو امتيازونو په وركړې سره داپوځ اروپايي محاذ ته وليږي او داسې انګيرل كيږي چې برتانيې په دې اړوند افغانستان ته په هندي سمندر كې ديو آزاد بندر او هم لږچمن څخه تر كندهاره داورګاډي ديوې پټلۍ دودانښت وړانديز هم كړى چې په دې توګه به افغانستان له سمندر سره تړل كيږي. جرمنيان په دې ګومان وو چې افغان حكومت دې وړانديز ته زړه نه ښه كاوه. {٥٦} يو كال وروسته چې كله جګړه ييز حالات نور هم ځپانده او برتانيې شوروي اتحاد په غيز كې ونيو، نو تر ګډو او خورا اغيز منو كښبيكښنو لاندې دافغان حكومت دكښېو تلو مهال هم راورسيد.

# دمحوري اتباعو ایستنه

پرشوروي اتحاد دباندې دجرمني یرغل سره په کابل کې داګنګوسي خپاره شول چې متحدین غواړي پرافغان حکومت باندې په زور سره ټول هغه جرمنیان وباسي چې په دې هیواد کې پرکارونو اخته وو. جرمن واکمل وزیر د (۱۹٤۱) په جولای کې برلین ته راپور ورکړ چې له نویو آوازو سره سم برتانیې له افغان حکومت څخه غوښتي چې دافغانستان له لارې شوروي اتحاد ته دپوځونو دلیږلو اجازه ورکړي. پیلګر چې کله لګیاو افغان حکومت په کابل کې دکوم جرمن پوځي آتشې منلو ته اړباسي ، نو افغان خارجه وزیر ناخوښه ښکاریده او ویل یې چې دی په دې ویریږي چې برتانیه به داکار پرهند باندې دکوم یرغل لومړنی ګام وګڼي ، ددغه وزیر له خولې کیدای شو برتانیه هم لزوماً خپلې دفاعي کرښې هندوکش ته وغزوي ، افغانستان مجبور وچې هغه مهال به جنګیده ، خو داهم ستونزمنه وه چې افغان ولس دې دځانونو په ژغورنه کې بریالي شوي وای او نتیجه به یې ضرور اړه دوړوه. دپیلګر ښه سرخلاص وچې دغسې احتمالي پیښو کولای شول په افغانستان کې

جرمنيان له گواښ سره مخامخ کړي اوځکه يې نو د جرمنيانو د ايستلو امکانات تر غور لاندې ونيول . له دې نه يوه مياشت وروسته وضعه ځکه نوره هم کړکيچنه شوه چې په کابل کې د ترکيې سفير پيلگر ته وويل چې ده هيواد ته د ټولو ترکي ښځو او کوچنيانو دليږلو تکل کړی دی { ۵۷ } . جرمن واکمل وزير هم برلين ته وويل چې که لازمه وي موږ هم کټ مټ عمل وکړو ، خارجه وزارت دامسئله پيلگر ته پريښوده ، مگر مخکې له دې چې جرمن واکمل وزير پريکړې ته ورسيږي . نو پر مختياوو را ايستنه ناشونې کړه . هغه داچې برتانيې او شوروي اتحاد ، د ( ۱۹٤۱ ) داگست له ( ۲۵ مې څخه تر ۲۹ مې پورې ) پر ايران بريد وکړ او په دې کار سره په افغانستان کې استوگن جرمنيان هم په لومه کې کښيوتل او کوم ناپيلي هيواد ته يې دوتلو لاره وتړل شوه .

جرمنيا ن هم د نويو شرايطو له کبله آن د جگړې تر پايه په افغانستان کې پاتيدو ته اړوتل ځکه هغوی په دې ډاريدل چې هر رنگه وتنه به د متحدينو د يو يا بل ځواک له خوا د دې څه ناڅه دوه سوه جرمنيانو له نيونې نه پرته بل څه نه وي ، کله چې داگست پر ديرشمه نوي ټاکل شوي برتانوي سفير « سرفرانسيس ويلي » کابل ته راورسيد ، نو جرمنيان تر بل هر وخت ډير رويريدل . دافغانستان خارجه وزير علي محمد خان پيلگر ته وويلې چې : « ويلي » به هرو مرو له افغانستان څخه د جرمنيانو ايستنه وغواړي خو علي محمد خان دا ژمنه هم وکړه چې په ايران کې منځته راغلو پيښو ته په کتو سره به دی هڅه وکړي چې داستونزه له ديپلوماتيکي لارو څخه اواره کړي ، خارجه وزير په تير ايستونکې او غوره ژبه ورته وويل چې افغانستان اوس اوس نه غواړي چې په جگړه کې ورگډ شي ، ځکه موږ په دې ټمه يو چې د جرمنې د يو

ملگري په توګه اوس دافغانستان منابع دراتلونکي پوځي عمل په خاطر زيرمه کړو{۵۸ } . برلين جرمن وزير ته لارښوونه وکړه چې په دې ټينګار وکړي چې که افغانستان دمتحد ينو فشار ته غاړه ږدي نو بايد چې جرمنيانو ته دوتنې کومه لاره چاره هم ولټوي ، پيلګر وېتيلېه چې افغان حکومت ته ديو ضمني اخطار په ترڅ کې داسې ووايي : « هغه دې راتلونکې له پامه نه غورځوي ، چې له نن څخه به هرو مرو توپير ولري . »{۵۹ } پيلګر رپوټ ورکړ چې پرايران باندې دبرتانيې او شوروي يرغل دهغوی دواړو پر ضد دافغانانو دښمني راپارلې ، خو ده ګومان کاوه چې افغان حکومت له دې نه انديښمن دی چې افغانستان هم دايران دپيښې غوندې دبلا په خوله ورنشي ، سربيره پردی ، پرهند باندې دواردا تو په برخه کې دافغانستان اتکا هم افغان حکومت مجبور کړی و چې دې برلاسي توب ته غاړه کښيږدي .

پيلګر دربين ټروپ دښوونې له مخې په دې هڅه او لټه کې شو چې څنګه يو شمير تکړه جرمنيان له برتانوي لومې څخه وژغوري . ده برلين ته راپور ورکړ چې ښه به داوي که له استوګنو جرمنيانو څخه يوازې څو کسه دهندوکش غرونو ته ورسوي او هلته له پټيدو نه وروسته له برلين راډيو يې مخابرې پيل کړي . پيلګر له دې سره سره داسې هم وانګيرل چې نوموړی پلان د ايپې له فقير سره دپټې کتنې په توګه د افغان حکومت دړغ نه لرلو په صورت کې ښه تراپلی کيدای شي . پيلګر دا وړانديز هم وکړ چې که افغانستان له متحدينو سره په جګړه ورګډشي نو دغه سپکمن جرمنيان به افغان پوځ ته ستر خدمتونه وکولای شي . خود بهرني وزارت دسياسي څانګې مشر وايزاکر په دې هکله پيلګر ته لارښوونه وکړه چې له دغسې وړآنديز څخه څکه بايد ځان وژغوري چې هغه هلته په برياليتوب سره نشي

پلی کیدای {۶۱} .

هندي ورځپانو په خپلو سياسي ليکنو کې وخت پر وخت په افغانستان کې استوګن جرمنيان د « لمسون او توطيې داسې يو ځواک باله چې خپلو سياسي هدفونو ته په رسيدو کې دهغه ګواښ هيڅ پروا هم نلري چې په سرحدي پښتنو کې يې ايجاد کړی دی . » دغسې خپرندوی رپوټونه د ( ۱۹٤۱ ) په سپټمبر کې نورهم ډیر شول . څو چې خبره يې غوڅ ګام اخيستو ته ورو رسوله ، افغان حکومت د اکتوبر پر شپږم ، یانې د شوروي اتحاد او برتانيې له خوا نوموړي حکومت ته له دې هيواده د جرمنيانو د ايستلو دارونده يادونو تر سپارنې يوازې څو ورځې وړاندې ، د يوې راډيويي اعلاميې له لارې ټول هغه خپرندويه راپورونه درواغ او بې بنسټه وبلل چې په ځينو هيوادو کې خپريدل او ادعا يې کوله چې برتانيې او شوروي اتحاد افغان حکومت په دې هيواد کې د جرمنيانو په هکله غندلي او تر تلي دي {۶۲} . خو افغان خارجه وزير د اکتبو پر ( ۱۲مه ) پيلګر او دهغه ايتالوي ملګري ته خبر ورکړ چې برتانوي واکمل وزير او شوروي سفير د اکتوبر پرنهمه او يوولسمه په ترتيب سره غند-نليکونه ورسپارلي او غوښتي يې دي چې محوري اتباع دې له افغانستان نه وايستل شي ، شوروي واکمل وزير د خپلې ادعا بنسټ د ( ۱۹۳۱ ) کال د شوروي - افغان تړون هغه ماده وبلله چې ويل يې : « د کوم لوړ رژيم ځواک سره د جګړې پر مهال به ژمنې خواوې غوڅه بيطرفي غوره کوي او د ژمنې لوري په زيان به خپله خاوره کومو دريمي ځواکونو ته په واک نه ورکوي . {۶۳} برتانوي واکمل وزير د افغان حکومت داغوښتنه ومنله چې برتانيه دې کوم ناپيیلي هيواد ته له خپلې سيمې څخه د دې اتباعو د ژغورنه تيريدو اجازه ورکړي خو متحدينو په دې هيڅ ټينګار ونکړ چې د محوري سفارتونو

پر سونل دې هم وايستل شي . علي محمد له پيلگر نه وغوښتل چې د اکار ومني چې افغانستان د ايران غوندې بر خليک سره مخامخ نشي . ده دا ژمنه لاهم وکړه چې افغان حکومت به د تخليې دا بهير ډير آسانه کړي او دليږنې لگښت به يې هم پر ځان ومني [٦٤] .

تردې وروسته ، دافغان حکومت او برتانيې تر منځ دجرمنيانو دژغورنده ليږنې دډاډ پر سر يو لړ خبرې اترې وشوې ، خو جرمن سفارت د برتانوي واکمل وزير له دې شفاهي ځاني ژمنو څخه ډاډه نه و او ټينگار يې وکړ چې بايد ليکلي ډاډ ورکول شي ، هغه همدارنگه وغوښتل چې نوموړي جرمنيان دې د پيښور له لارې کراچۍ ، بصرې او له هغه ځايه ناپيلي ترکيې ته ورسول شي ، نه دا چې په بيړۍ کې دې دراس الاميد (Cape of good Hope) له لارې وليږل شي ، جرمنيانو ښايي په دې کار سره درک کړې وه چې که هغوی په کومه برتانوي بيړۍ کې سپاره وي نو مبادا چې خپله دجرمن اوبتلونو دبريد ښکار نشي .

نجيب الله خان دافغان خارجه وزارت دسياسي څانگې مشر داکتوبر پر پنځلسمه دسولې په خاطر د خپل حکومت هغه مجبوريتونه څرگند کړل چې متحدينو وربانديې تپلي وو . هغه په يوه راډيو يي وينا کې وويل چې افغان حکومت په وارو وارو خپله بيطرفي څرگنده کړې ، خو برتانوي او هندي ورځپانو دجگړې له هماغه پيله په افغانستان کې دمحوري اتباعو شته والی په خپلو پر له پسې رپوټونو سره گواښمن انځور کړی دی [٦٥] . نجيب الله گيله وکړه چې برتانيې آن له شوروي اتحاد سره تر ملگرتوب وروسته لا هم خپل هغه چال چلند نه دی بدل کړی چې په نتيجه کې يې ددواړو ځواکونو دفشار له امله نن له افغانستان څخه ټول جرمن او ايټالوي اتباع ايستل

کیږي . افغان حکومت ددې کسانو په ایستنې سره ډیر خوږمن شو ، ځکه په دې ډول دافغانستان پر مختګ ځپل کیده خو له دې ټولو سره سره دسولې او ناپېیلتوب دټینګښت په خاطر دا کار باید شوی وای. دایستنې دا پریکړه دافغانستان وزیرانو او ملي شورا له خوا وشوه . نوموړې رسمي وینا دافغانستان په دې پریکړې سره پای ته رسیده چې ویل یې که په راتلونکې کې زموږ پر خپلواکۍ او عزت باندې بیا دغسې محدودیتونه یاروغې جوړې سره وشي نو موږ به دهغه پروړاندې هر ډول سرښندنې ومنو [٦٦] . ددې ګوتڅنډنې له پلي کیدو څخه ډیر ګامونه واخیستل شول او پیلګر دهغه په لیدو سره ریوټ ورکړ چې په افغانستان کې د چمتو والي او تیارسۍ ثرګندې نښې تر سترګو کیږي [٦٧] .

افغان حکومت جرمن سفارت ته خبر ورکړ چې موږ غوښتل ګنو جرمنیانو ته بیلابیل ستاینځیزونه ورکړو . خو پیلګر د ریبن تروپ دلارښوونې له مخې خپل ځواب وځنډاوه چې دا افغاني هیله هم تر سره نشوه . پای داچې د ایستنې بهیر بشپړ شو او محوري اتباع چې ( ١٨٠ ) جرمنیان او اته کسه ایتالویان وو په دوو کاروانونو کې چې لس بسونه او په سامانونو بار دیرش لارۍ وې ، داکتوبر پر دیرشمه او یو دیرشمه له کابله ووتل . له دې وتونکو نه هر یوه ته د ( ٢٥٠ ) هندۍ روپیو او ( ٢٧ ) کیلو سامان اجازه ورکړل شوې وه له وتونکو نه هغه کسان چې د کارکولو تړونونه یې لرل ، ښه ډیر نغدي سوغاتونه تر لاسه کړل . دغه جرمنیان پیښور کې سره غونډ او دنوومبر پر اتمه کراچۍ ته وخوځیدل . هلته له دریو ورځو نه وروسته په کښتۍ کې بصرې ته لاړل او دنوومبر پر ( ٢٣مه ) دبغداد له لارې په یوه ځانګړې اورګاډي کې انقرې ته ورسېدل [٦٨] . په دې لړ کې دوه جرمن کورنۍ په

پیښور کې وتښتیدې او جرمن حکومت که څه هم د دې تیښتې شواهد وړاندې کړل ، خو برتانیه یې ځکه وغندله چې د آزادې تیریدنې اړونده خپله ژمنه یې تر پښو لاندې کړې ده { ٦٩ } بس یوازې لس جرمنیان چې هغوی هم ټول د جرمن سفارت غړي وو ، په کابل کې پاتې شول چې خپلو بې اثره سیاسي دندو ته پایښت ورکړي . د نوومبر پر پنځمه او شپږمه د جرمنیانو تر وتلو وروسته لویه جرگه راوبلل شوه چې د جرمنیانو ایستنه منظور کړي . لویې جرگې د دې تر څنگ د افغانستان ناپېیلتوب هم تائید کړ او د یوې اعلامیې په ترڅ کې یې گوتڅنډنه وکړه چې د افغانستان د واکمنۍ پر حقوقو او خپلواکۍ به د نورو تیری ونه زغمل شي { ٧٠ } .

داچې جرمني د ( ١٩٤١ ) تر سپتمبر پخوا هغه مهال چې په افغانستان کې یې د استوگنو بهرنیانو تر ټولو ستره ډله جوړوله بیا هم د خپلو پوځي هدفونو په گټنه کې څه ونکړای شول ، نو په دې نویو خورا ناوړه شرایطو کې خو یې هیڅ هم نشو کولای . په کابل کې دغه څو پاتې جرمنیان د افغان حکومت او د خپلو غلیمو سفارتونو د گومارلو له خوا ډیر څارل کیدای شول ، ځکه نو له هند او شوروي اتحاد څخه د نیمگړو یا ناسمو جاسوسیو د حصول په خاطر پټ عملیات یوازې او یوازې ځینو آسیایي ولسیزو جوړښتونو نو ته په ځولیو ځولیو پیسه سپارېه پورې منحصر شول . د جرمنیانو تر دغې وتنې څه ناڅه یوه میاشت وروسته جاپاني ځواکونو په پیرل هاربر ( Pearl Harbor ) کې د امریکې پر متحده ایالتونو برید وکړ نو نو په رښتیا هم جگړې یوه نړیواله پراخي ومیندله . تقریباً همدا مهال و چې د برتانوي هند بهرني وزارت مرستیال ظاهراً د محوري اتباعو د ایستنې په اړه د سپمایزه او سیاسي مسئلو د څیړلو په غرض کابل ته راغی ، د امریکا متحده ایالتونو ، ( ١٩٤٢ ) په

جولای کې خپل سفارت په کابل کې پرانیست ، دا کار ځکه وشو چې جرمني په قفقاز کې له ایران سره د متحد ینو ارتباطات له ګواښ سره مخامخ کړي وو ، ځکه نو یوازې همدا افغانستان پاتي و چې دیو مناسب او پرځای لاس رسیدو کارېې ورکولای شو.

جرمني چې په کابل کې له خپلې لویې اغیزې څخه بې برخې کړای شو ، بیا هم لګیا و چې خپلې ګټې ترلاسه کړي او د شوروي اتحاد او برتانیې زړه ته دیو رګ په توګه له افغانستان څخه کار واخلي خو د هغوی جاسوسي خوځښتونه له سختو ستونزو سره مخ وو ، د (۱۹۴۲) په جون کې پیلګر برلین ته رپوټ ورکړ چې اوتم چند هغه څوک چې په کابل کې یې چندر بوس ته ځای ورکړی و ، څه باندې سل کسو هندیانو په شمول افغان حکومت بندي کړي دي ، له دې ډلې نه ډیر کسان برتانوي هند ته ولیږدیدل او محوري سفارتونه په دې توګه له خپلو خورا تکړه ملګرو څخه بې برخې شول {۷۱} .

افغان حکومت د (۱۹۴۳) له نیمایي نه پر محوري سفارتونو د خپلو پرسونلونو د نور لیږښت په هکله تینګر وکړ . افغانانو د ایټالیوي سفارت سکرتر انزیلوتي څو ځله لیدلی و چې له سرحدي قبایلو سره په سیاسي خوځښتونو کې اخته و ، ځکه نو انزیلوتي او په افغانستان کې د Abwehr مشر ویتزل او هم یو بل جرمن مامور دې ته اړ یستل شول چې د (۱۹۴۳) په سپتمبر کې له افغانستانه ووځي . هندي انقلابیانو ته له همدې مهاله نوره جوته شوه چې محوري ځواکونو له وروستي بریالیتوب څخه واټن ونیو ، ځکه یې نو د مرستې لپاره شوروي اتحاد ته مخه کړه . پیلګر د (۱۹۴۳) په اکتوبر کې برلین ته رپوټ ورکړ چې شوروي سفارت ( او هم لږ او ډیر بنایي افغان حکومت او د نورو متحدینو سفارتونو هم ) هغه جرمن زموږ په لاس

وروړی دی چې په هغــه سـره د کـابل او هند تر منځ اړیکې ټینګیــدلې .
جرمنیـانو دانه وه درک کړې چې له دوی سره به خپلو یاځو ګوماړلیـویا دچند
ربوس دجوړښتون مرکزي کومیتې دا درغلي کړي وي خو مهمه داده چې
هغوی له ډیرې مودې راهیسې په کابل کې له شورویانو سره تماسونه لرل . په
هر ډول ، جرمنیانو دلوبې تر پایه آن خپله ورروستی پانه هم استعمال کړه .
هلته موسولیني د ( ۱۹٤۳ ) دجولای پر ( ۲٦مه ) استعفا وکړه او هلته جرمن
سفـارت په دې ویرید چې په کـابل کـې ایتـالویان دهغـوی وړاندینه کـړنې او
خوځښتونه بربنډ نه کړي ، پیترو کاروني په کابل کې له برتانوي او امریکایي
ډیپلوماتانو سره په رښتیا هم وکتل چې دهغه له مخې کارني لیس انګرت
دمحوریانو دریغ واشنګټن ته په لنډیز داسې مخابره کړ : « په منځنۍ آسیا
کې دمحوریانو جګړه ییزه تګ لاره په زغرده روسانو او برتانویانو ته دلویو
ستونزو زیرمه کیدنه وه چې په دې توګه یې هغوی اړیستلي وو چې دخپلو
پوځونو ستره برخه په ترکستان او شمال لویدیځ سرحد کې ځای پر ځای کړي .
دمحوریانو ډیره لویه بې وسي ښایي داوه چې په عراق کې یې رشید علي ته
مرسته ونه رسوله . دهغوی بله غلطي داوه چې غوښتل یې امان الله خان بیرته
واکمن کړي .

په همـدې ډول محوري پلوه ځوان اوتکړه ګروپ دولاحضرت داود او
ولاحضرت نعیم له خوا ورته لارښونه کیده او هغوی هم له جرمنیانو څخه په
برلین کې دخپل پلار ( عبدالعزیز ) دوژلو له کبله کرکه لرله . دغې ځوانې
ډلې د ( ۱۹٤۲ ) په مني کې بریالتوب ته دمحوریانو له رسیدونه نور لاسونه
پرېول . د داود خان دوړاندیز له مخې کوبي شینه ، ته یو پلاوی ولیږل شو چې
دروسیې پیښیدونکې ماتې وګوري خو هغه بیخي لنویو خبرو سره راستون

شو.

دمحوريانو لپاره دخوښۍ ځای داو چې ددوی دهرې غلطۍ په وړاندې به برتانويانو هم هرو مرو کومه غلطي کوله . لکه څنګه چې قاروني وايي : «هره شپه چې زه بيديږم نو خدای ته دسر فرانسيس ويلي په وجه شکرا دا کوم ، »

دبرتانيې له خوا کومې کوچنۍ توطيې په سبب هغه هم دخپلو اتباعو له لوري، افغانانو ته دګونځېدنو او هم دقبايلي شورشونو په هکله هندي حکومت له خوا دپرله پسې انديښنو دځرګندولو ناوړه عادت افغان حکومت په تېنګه خبمولی دی ، دبرتانيې تر ټولو ناوړه غلطي هماغه په (١٩٤١) کال کې دمحوريانو شړنه ده (دی په دې عقيده و چې محوري سفارتونه دهغوی دنارسه توطيو لدامله د (١٩٤٢) ترجون پوری په خپله تړل کيدونکي وو . )

که محوري ځواکونه افغانستان ته رارسيدلي وای نو ددې هيواد فرد فرد به دبرتانيې پر ضد راپورته کيده خو دداسې يو حالت نه وړاندې کومې هڅونې ته اړه نه وه او افغانان هم ښايي نه وای راپورته شوي .

برتانيې چټې داسې فکر کاوه چې : « (١) په افغانستان کې يو اغيز من نازي جوړښتون شته دی ، (٢) نو موړی جوړښتون دې ته اړ وچې افغانان دبرتانيې په وړاندې وهڅوي . کله چې ايټاليه پر جګړه ورګډه شوه ، نو قاروني په دې وويريده چې جرمنيانو هيڅ کومې پوځي جاسوسۍ مخته نه دي اچولي او آن په دې نه پوهيدل چې هغه څنګه عملي کړي.

دکابل پر مخابراتو او نه هم دمخابراتو او پوست په ټول وزارت کې يو جرمن کار نه کاوه . استوګن جرمنيانو په پنځه ګروپونو کې کار کاوه چې يو دهغه بل له کاره هيڅ پوه نه و ، همدا وجه ده چې کله ناکله به يې يو دبل دندې په ناکامۍ بدلولې ، پيلګر « خورا احمق انسان » هم خپله يوه ديپلوماتيکه

ډله لرله ، حال دا چې داسموس بيا خپله ډله ، خپله بودجه ، ځانګړي شفرونه او آزاد فعاليت درلود .

قارونې داسې انګيرل چې لا برتانيې نورنو په منځنۍ آسيا کې دروسيې دلاس بندۍ دضمانت په ورکړې سره چې دماسکو دغونډې په نتيجه کې ترلاسه شوه ، دافغان ملګر توب ګټنې ښه چانس درلود . »[۷۲]

دقارونې څرګندونه چې په هغه کې يې دخپل ځان سياسي کړنې دومره نه دي برېنډې کړي ، دافغانستان نړيوال دريځ اوتګ لارو داټکلونې په هکله سمه او پرځاى وه ، افغان حکومت خپل پام دمحورريانو له خوا دجګړې ګټنې ته ساتلى و او که نړيوالې وضعې ايجابولاى نو افغانستان به هرو مرو په جګړه ورګډيده ، که شوروي اتحاد ماته خوړلې واى اوجرمن پوځونه افغاني پولې ته رانژدې شوي واى ، نو افغانان به له خپلې ژمنې سره سره هيڅ ناپېيلي نه پاتيدل ، همدا وجه ده چې کتونکو له افغانستان څخه رپوټ ورکړ چې : « افغانان دجګړې بهير ښاري او د جبهې له بدلونونو سره سم ځانونه عياروي . »[۷۳] افغان حکومت په کابل کې جرمن واکمل وزير ته داسې ښودل چې غواړي دجرمني په پلوى جګړې ته ودانګي خو هلته يې ټول هغه کسان چې دجرمن ګومارلو په توګه کار کاوه يا خو ونيول او يا داچې له هيواده يې وشړل . هغوى داهڅه کوله چې جرمن ګومارلي په دې ادعا باندې چې لمسوونکي او دبرتانوي روپيو خوړونکي هم دي ، سپک معرفي کړي ، خوجرمنيانو تر ډيره حده د افغانستان په خلاف داسې کوم ګام وانه خيست چې په لازم وخت کې هغه دبل ځلي ګډې مرستې په وړاندې خنډ شوي واى . په افغانستان کې له جرمنيانو سره خواخوږي هماغسې موجوده وه او افغان حکومت له همدې کبله آن په جنګ کې دجرمني دماتې په ليدو سره

بیا هم ناپېیلی او په سم لوري روان و. افغان حکومت هم په (۱۹٤٤)کې دایران ، ترکیې او نورو غونډې چې له جګړه بوختو څواکونو څخه یې دګټمن کیدو پر اسره له جرمني سره اړیکي وشلوي ، دامسئله ترتینګې پاملرنې لاندې ونیوله . خو په افغانستان کې عامه ذهنیت او دسیاسي او پوځي بوختیا وو په وجه اندیښنو او هم خپل حیثیت افغان حکومت له دغسې ګام اخیستنې پر شا کړ .

# {نهم څپرکی}

## دنوي عصر پیل

په (۱۹٤٥) کال کې دافغانستان دبهرنیو خوځنده اړیکو پنځوس کاله پای ته رسیږي، یانې لومړۍ نړیوالې جګړې دافغانستان په بهرنیو اړیکو کې یو نوی عصر پرانیست په داسې حال کې چې دویمې نړیوالې جګړې هغه پای ته ورساوه. دامیر عبدالرحمن خان دڅغورنده ګوښه توب تګلاره دلومړۍ نړیوالې جګړې پر مهال کابل ته دبهرنیو ځواکونو په راتګ سره پای ته ورسیده. خو دپوځي خپلواکۍ اوهم دبهرنیو اغیزو داندولې ساتنې اړونده تګلاره یې بېرله کوم بدلون څخه هماغسې پایښت لاره، دهمدې انډول نتیجه وه چې جرمني ددریم ځواک په توګه ځای ونیو. جرمني په افغانستان کې سیاسي او سپمایز رول لوباوه. خو په دویمه نړیواله جګړه کې ددې هڅو په ځپلو سره دهغه سیاسي رول نور پای ته ورسید.

د ( ۱۹٤۰ ) لسیزي وروستیو کلونو ناڅاپه دافغانستان بهرنی سیاسي دریځ وربدل کړ؛ داسې چې برتانیه په ( ۱۹٤۷ ) کې له هنده ووته ، نیمه وچه یې ویشلې پرېښوده او دافغانستان د میراثي الحاق پالنې دښمني دپاکستان په برخه شوه ، شوروي اتحاد له دې جګړې نه دسترو انساني او مالي قربانیو له زغملو سره سره دیو سوبمن ځواک په توګه دومره غښتلی راووت چې پخوا هیڅکله هم نه و ، دامریکا متحده ایالتونه چې کابل ته د ( ۱۹٤۲ ) کال راهیسې راغلي وو ، دغیر کمونستي نړۍ تر ټولو ستر ځواک شو.

جګړه په مشکل سره پای ته ورسیده ځکه اروپا یې ځواکونو په زغرده د « ختیځ » او « لویدیځ » مخالفو بلاکونو ته ورغړیدل چې شوروي اتحاد او دامریکا متحده ایالتونه یې مخکښان وو. دادوه ځواکونه دهغې پرمخ تللې تکنالوژۍ په وجه چې اټومي بم او کامپیوټرې منځته راوړل په هره برخه کې نور هم پسی ستر او ځواکمن کیدل. خو هلته د « ناپییلي » بلاک د دولتونو په توګه یو دریم ځواک هم راښکاره شو چې په پوځي برخه کې بې سیکه مګر په سیاسي برخه کې ښه ځواکمن و.

د افغاني تګ لاره جوړونکو په وړاندې دا مسئله پرته وه چې دافغانستان دبیلونکي دولت ( Buffer stale ) همــاغــه راروانه تګ لاره نوره هم وړاندې بوځي که څنګه ؟ افغاني واکمنانو لومړی داسې وپتییل چې په دې اړه کومو ځانګړیو بدلونونو ته اړتیا نشته ، بلکې دشوروي او امریکا اغیزه دې څومره چې لازمه وي په انډول کې وساتل شي . دامریکا متحده ایالتونه په دې خوښ وو چې دبرتانیې پخوانی رول ادا کړي ، حال داچې دناپییلو ځواکونو له خوا جوړشوی بلاک چمتــو و چې ددریم ځواک په توګه افغــانســتــان ته سیاسي مرستې ورکړي .

په کابل کې سیاسي مشرتابه تر دې وخته لاهم د هغو کسانو پر واک کې و چې د ( ۱۹۳۰ ) لسیزې راهیسې یې د هیواد چارې پر مخ بیولې. صدراعظم محمد هاشم خان یوازینی هغه کس وچې د ( ۱۹۲۹ ) د نوومبر راهیسې یې تر دې وخته لا واک چلاوه . هغه یو پیاوړی سړی و چې له شوروي اتحاد او خپلو مادونو افغانانو له سیاسي سفسطې څخه یې په کرکه کې ډیر شهرت درلود . یو برتانوي مامور د محمد هاشم خان شخصیت داسې را پیژني : «هغه په تیره بیا ( د ناپوهو او احمقو کسانو پر ضد چې زیاتره زموږ خلک دي) له بې حوصله گۍ او ناوړه الفاظو څخه کار اخلي ده دانه ده هیره کړې چې تر صدراعظم کیدو د مخه یو سنگین او مودب شخص و او په خپله نازړه سویه تینگښت کې ځنې وخت د امیر عبدالرحمان خان ډول کوي ، نوموړی لکه څنگه چې د خپل کرکتر له مخې پر انگریزانو نه دی گران ، هماغسې د خپلو افغاني لوړ چارو په زړونو کې هم ځای نلري . » [۱]

په کابل کې یو د استوگن جرمن هم محمد هاشم خان « افغاني بیسمارک » باله [۲]. پر ته له دې چې نور کسان د غه افغاني دولتمشر څنگه انځور وي ، دا ثابته ده چې هغه د تگملارو په جوړښت او پلي کولو کې تر هر چا پوخ لاس درلود . محمد هاشم خان آن د (۱۹٤٦) په مۍ کې تر خپلې استعفا وروسته لاهم خپلې اغیزې تـه هماغسې پایښت ورکاوه. نوموړی اووه کاله وروسته مړ شو او تر دې مړینې یوه میاشت مخکې د شاهي کهول له بلې لړۍ څخه شاه محمود خان د هغه پر ځای د صدارت چارې واخیستې ، په همدې ترتیب محمد داود خان د وژل شوي عبدالعزیز زوی چې کټ مټ د ویم هاشم و ، په ( ۱۹۵۳ ) کال کې د غه دولتي چارې په واک کې واخیستې او له نوموړي څخه هم خلک د دې پر ځای چې مینه ورسره ولري ، ترې ویریدل .

دافغانستان دبهرنیو اړیکو دڅیړنې لپاره د ( ۱۹۵۰ او ۱۹۶۰ ) لسیزو اړونده پټې آرشیفي سرچینې چاته په لاس نه دي ورکړل شوي . نو ځکه ددې مودې تاریخ باید د خپرو شویو موادو ، افغاني سیمي څرگندونو او دلویو پیښو له بهره تهیه او بشپړ شي . نو ددغسې څرکونو پر بنسټ کیدای شي تر دویمې نړیوالې جگړې وروسته دافغانستان دبهرنیو اړیکو تاریخ پر دریو څرگندو پړاوونو وویشو : (۱) دشاه محمود خان دوره ( ۱۹٤٦-۱۹۵۳ ) چې په هغه کې بهرنۍ تگ لاره پر یوه دودیز ډول روانه وه ، (۲) د داود خان دوره ( ۱۹۵۳-۱۹٦۳ ) چې په هغه کې افغان بهرنۍ تگ لاره پر لویو بدلونونو واوښته . (۳) د (۱۹٦۳ ) کال څخه راپه دې خوا دومره چې په هغې کې دپاکستاني دولت په شمول دسرحدي ستونزې په اړه یې دبرتانیې ځای نیولی و ، دافغانستان له ټولو گاونډیو سره داړیکو څه « سمون » پیښ شو .

دافغانستان بهرنۍ تگ لاره تر جگړې وروسته دجیوپولتیکو انگیرنو پر بنسټ مخته بیول کیده . افغانستان په شمال کې لویو داسې هیوادسره گډه پوله جوړوله چې د « سیاسي پراختیا پالې » تگ لارې یا ورانکارۍ له مخې یې اړونده تزاري تگ لاره پسې را اخیستې وه ، ځکه د ویرې وړوه ، افغانستان که څه هم دشوروي اتحاد له خوا دځمکني تیري له کوم گواښ سره مخامخ نه و . خو افغاني واکمنان په دې اندیښمن وو چې مارکسیستي سوسیالیزم دیوې ایدیالوژۍ په توگه ددوی لپاره ته لوی تهدید گڼل کیږي . نو له شوروي اتحاد سره ځان ساتې تگ لارې لرنه ځکه دگنو افغانانو دزیاتې خوښۍ وړوه چې یوخو هغوی په یاد لرل چې نوموړی دولت یو پراختیا پال ځواک و او بل داچې هغه له اسلام سره بنسټیزه دښمني لرله . له همدې امله دافغاني تگ لارې په وړاندې یوازینۍ چاره داوه چې په افغانستان کې دیو

اندول کونکي نفوذ په لټونو سره باید شوروي اتحاد یوځه تم کړای شي او دغسې نفوذ پرته له شکه دامریکا متحده ایالتونه وو.

دافغانستان او متحده ایالتونو تر منځ زیاتې ګتې سره ګډې وې ، دبیلګې په ډول دواړو ځواکونو غوښتل چې شوروي اتحاد ایسار پاتې وي . امریکا دهمدې هدف لپاره هڅه لرله چې له هرهغه هیواد سره ددوه اړخیزه ژغورنې تړونونه وکړي چې له شوروي اتحاد سره یې ګډه پوله لرله او چمتو وچې داړونده هیواد دسپما او پوځي ځواک دسمون په خاطر مادي مرستې ورکړي .

داډول مرستې دګڼو اسلامي دولتونو له خوا په ولولو سره ومنل شوې . لکه څنګه چې ترکیه د ( ۱۹۵۲ ) کال په فبرورۍ کې دشمالي اتلانتیک ددفاعي تړون ( NATO ) دیو غړي په توګه راغله او پاکستان د ( ۱۹۵٤ ) په سپتمبر کې دجنوب ختیځې آسیا د پوځې تړون ( SEATO ) غړی شو . د ( ۱۹۵۵ ) کال دبغداد تړون عراق په یوادسې اتحاد کې برخه وال کړ چې ډیر ژر ایران او پاکستان هم ورګډ او دغه ایساروونکې کړښه پسې بشپړه شوه .

امریکا له جګړې څخه په راوروسته افغانستان کې ډیر ژر دیو خورا مهم بهرني ځواک په توګه را ښکاره شو . دامریکا سیاسي نمایندګي چې په (۱۹٤۲ ) کې پرانیستل شوې وه ، د ( ۱۹٤۸ ) دجون پر پنځمه دسفارت درجې ته جګه کړای شوه او ایلي پالمر (Ely E. Palmer) چې له (۱۹٤۵ ) راهیسې په کابل کې و ، دلومړني امریکایي سفیر په توګه وټاکل شو ، دافغانستان او متحده ایالتونو تر منځ خودنږدې مرستې لپاره بنسټ ګاره کښیښودل شوه خو ددواړو دولتوو ترمنځ کوم پوځي ملګرتوب کورټ ناشونی و ،ددې خنډ په وړاندې څو دلیلونه پراته وو: لکه څنګه چې د (۱۹۳۱ ) کال دشوروي - افغان تړون یې یوه بیلګه وه چې تردې وخته لاهم

داجرا وړو ، ددې ترڅو له مخې له هر هغه دریم دولت سره ملګر توب منع کیده چې لږ ژمنونکو څخه دیوه لوري دګټو پر ضد بهو . نو دغسې ملګرتوب به دشوروي اتحاد له خوا هرو مرو یو دښمنیز عمل ګڼل کیده . لاکن تر ټولو مهمه دا چې دشوروي ضد کومې اډې جوړیدو ځکه امکان نه درلود چې دمنځني ختیځ ددولتونو ګټې سره ضد او نقیض وې . لکه څنګه چې دنژدې ختیځ دیوځواک په توګه داسرائیلو ظهور او هم دافغانستان ، پاکستان اوهند ترمنځ دځمکنیو شخړو شته والی هغه حقیقت وچې دا دولتونه یې له ګډ ځواکیزه یووالي څخه را ګرځول ، همدارنګه ښه ډیره مهمه وجه یې دمنځني ختیځ دد ولتونو هغه تلوسه وه چې نه یې غوښتل دلویو ځواکونو په شخړو کې ورګډ شي .

همدا وجه وه چې دافغان تګ لارې جوړونکو په نظر دامریکایي اغیزې شته والی دشمال له لوري دکښیکښنو په وړاندې یو ښه ځواب کیدای شو . متحده ایالتونه دقره قل پوستو نو لپاره دیوښه بازار په توګه واوښت او امریکایي صنعتي تولیداتو هم افغانستان ته لاره ومیندله ، په ( ۱۹٤٦ ) کال کې دامریکایي پور په مرسته دهلمند دوادي کرهنیزه پروژه دایداهو (Idaho) څخه دموریسن – نډسن ( Morrison-Knudson ) دودانیزه کمپنۍ په روپیو را پیل کړه شوه . متحده ایالتونو افغانستان ته په (۱۹۵۱) کې تر څلور ماده ییزه پروګرام لاندې تخنیکي مرسته ورکړه او په (۱۹۵۳) کال کې یې دامریکایي غنمو دپیریدنې او دهلمند وادي د کرهنیزه پروژې لپاره نور پورونه هم ورکړل خو له دې ټولو سره سره بیا هم نژدې سیاسي اړیکي منځته رانه غلل .

دیو خپلواک دولت په توګه دپاکستان ظهور دافغاني پولې ستونزه بیا را

پورته کړه ، دا پوله په ځینو سیمو کې تاکلې او څرګنده نه وه او هم یې د پښتنو د ځاني تکل د حق اړونده مسئله هم را پورته کړه ، کابل دا نه وه هیره کړې چې داټک د سیند ( Indus River ) لویدیځه پراخه سیمه مخکې له دې چې د برتانیې له خوا فتحه شي ، د افغانستان خاوره وه ، ځینو سرحدي پښتنو چې له برتانویانو سره یې دیرغلګرو په تور جګړې کولې ، نه غوښتل چې له پاکستان سره یوځای شي ، د هندوستان دویش پر مهال د ټولو د غو پښتنو یا افغانانو څخه عامه رایه وغوښتل شوه چې له هند او پاکستان څخه له کوم دولت سره یو ځای والی غواړي . اکثریت پښتنو له پاکستان سره یو والی وغوښت خو داسې معلومیږي لکه د خان عبدالغفار خان غوندې افغانانو انکار چې د دې رایه اخیستنې د پنځه څلویښت سلوالی (فیصدي) په امتناع کې لوی رول لوبولی وي .

افغان حکومت د « سرحدي ستونزې » په هکله سخت اندیښمن و . د (۱۹٤۷) کال په جولای کې یانې د پاکستان تر جوړښت وړاندې افغان حکومت له برتانیې څخه دیوه رسمي لیک په ترڅ کې وغوښتل چې پښتنو او بلوڅو ته دې هم د خپلواکۍ یا له افغانستان سره د یو ځای والي د انتخاب حق ورکړ شي خو برتانیې ځواب ورکړ چې : « سرحدي ستونزه » مخکې لا اواره شوې او د دیورند کرښه د نړیوالې پولې په توګه رسماً پیژندل شوې ده او د (۱۹۲۱) کال تړون چې تر دې وخته لا د اجرا وړ و ، مخکني سرحدي تړونونه یوځل بیا تائید وي .

د « سرحدي مسئلې » بشپړه څیړنه د دې کتاب له موضوع سره اړه نه لري او دومره یادونه کفایت کوي چې د غه کړکیچ تل د افغانستان پام ځانته اړولی او له مادي پلوه یې د دې هیواد بهرنۍ اړیکې ور اغیزمنې کړي دي ، همداوجه

ده چې له پاکستان سره دهغه دجوړښت راهیسې اړیکې د« پښتونستان » دلانجې په چوکاټ کې چې دهغه له مخې پښتنو دیو آزاد دولت دټینګښت مبارزه راا خیستې پایدلې ده . د ( ۱۹٤۷ ) کال په سپتمبر کې چې کله پاکستان دملګرو ملتونو غړی کیدونکې و نو ددې غړیتوب یوازینۍ مخالفه رایه افغانستان ورکړه . افغان حکومت نجیب اله خان دخپل یو ځانګړي استازي په توګه کراچۍ ته واستاوه خو له محمد علي جناح سره دده خبرو دقناعت وړ کومه نتیجه تر لاسه نکړه . پاکستان ته دلومړني سفیر په توګه دسردار شاه ولي خان لیږنه دا ثابتوي چې افغانستان دغه اړیکو ته څومره اهمیت ورکاوه . ددې ستونزې دسوله ییز حل لپاره څو ځلي خبرو اترو کومه پخلاینه رامنځته نکړای شوه . دامریکا متحده ایالتونو ، په داسې حال کې چې افغانستان او پاکستان ددې سرحدي لانجې سره اختلاف لاره ، هڅه کوله چې دشوروي دکلابندۍ لپاره ملګري ولټوي . ترکیې او پاکستان د ( ۱۹٥٤ ) کال په اپریل کې ددوه اړخیزه ژغورنې تړون لاسلیک کړ او متحده ایالتونو هم دا ومنله چې دواړو ته به داړتیا وړ پوځي مرسته برابر وي . نو په دې ډول دیو اتحادي سیستم دپیدا ښت لپاره یې ترکیه ، ایران ، پاکستان او دڅه مودې لپاره یې عراق غړی وو ، لومړنی ګام واخیستل شو خو دغه پوځي اتحاد په طبیعي ډول له یوې خوا دځینو غړو تر منځ سیمه ییز مخالفتونه نور هم زور او له بلې خوا یې دالحاق پالنې تلوسې نورې هم شنډې کړې . لکه څنګه چې افغانستان دپاکستاني پوځ هر ډول پیاوړتیا دخپل ځواک کمزوري بلله او په دې ډول له افغانستان سره دپاکستان په معاملو کې خامخا توپیر راته . پاکستاني حکومت دقبایلي علمیاتو په وړاندې غبرګ اخیستونکي ګامونه پورته کول چې په هغه کې دپولې ترنه هم شامله وه او په

دي دول له هندي سمندر سره دافغانستان سودا گريزه تړاو گواښمن کيده .
ددې په نتيجه کې دمحمد داؤد خان حکومت مجبور شو چې له خپل شمالي گاونډي سره پر خپلواړيکو له سره کتنه وکړي. په جنوب کې د پولې تړل کيدو له شوروي اتحاد سره داړيکو سمون ايجاباوه او په دې توگه دافغانستان سودا گريزه ښار گ ژغورل کيده .

له شوروي اتحاد سره اړيکې په عمومي توگه سمې. لاکن داختياط له مخې وو ، شوروي اتحاد په دې شکمن وچې دنادر شاه رژيم دبرتانيې ټينگ دوست او دهغه دمادي مرستې تر احسان لاندې راغلی دی . دشوروي اتحاد هغه نفوذ چې دامان اله خان دواکمنتوب پر مهال موجود و ، د ( ۱۹۳۰ ) لسيزې په اوږدو کې پر ځمکه راووهل شو . لکه څنگه چې شوروي اتحاد او افغانستان يو دبل په هيواد ونو کې خپلې کونسلۍ وتړلې او اړيکي يې يوازې په کابل او ماسکو کې دخپلو سفارتونو له لارې پر مخ بيولې تر جگړې وروسته دواړه پولې هماغسې تړلې وې او تگ راتگ يا ليږل راليږل حداقل ته ورسيدل .

څکه نو پولې کټ مټ دامير حبيب اله خان يا امير عبدالرحمان خان دمودې غوندې تړلې پاتې وې او دهماغه وخت په شان به دښارويو دغلا ، دکرنې لپاره دپولې پر دواړو خواوو داويو دويش او په گډه دملخانو دله منځه وړلو په سر کله کله شه لاس اچونې هم پيښيدې .د ير پخوا چې کله افغانستان دگوښه توب تگځلاره پر مخ بيوله ، نوامير حبيب اله خان به داسې ويل : « که اوس يا بل هر مهال شه ملخان راشي نو افغانان به خدای ته دهغوی دله منځه وړلو زارۍ وکړي او ... تروسه وسه به دهغوی دتباه کولو زيار وباسي . شورويان بايد پر خپله خوا او افغانان هم بايد په افغانستان کې ملخان

ووژني. » (۳)

ددویمې لویې جګړې په راوروسته موده کې نړیواله مرسته او له شوروي اتحاد سره دښه ګاونډ لرنې اړیکې نور نو لازمي ګڼل کیدلې. خو له دې سره سره بیا هم دکشک دسیند داوبو داستحقاق په هکله چې دافغانستان له دننه څخه راوځي او د هرات او شوروي اتحاد څه پوله جوړوي، شخړه پر خپل حال پاتې وه، ګډه پوله په ځینو هغو سیمو کې چې آموسیند خپل لوری بدلوي تر دې وخته لاهم په څرګنده سره نه وه حد بندي شوې. پوښتنه په دې کې وه چې آیا دسیند اصلي لوری پوله جوړوي او که دهغه یوه ژۍ ؟ له همدې کبله دنړیوالې جګړې تر ختمیدو وروسته ددې او نورو مهمو ستونزو دآوارې لپاره پوره درې کاله خبرې اترې وشوې. د (۱۹۴۷) کال په اپریل کې یو افغاني هیئت دپولې دټاکنې په نیت دخبرو اترو لپاره تاشکند ته وخوځید او د (۱۹٤۸) په سپتمبر کې اړونده ژمنپانه سره لاسلیک شوه (له آمو سیند څخه ګټې اخیستو په هکله په (۱۹۵۸) کې هم یوه سرحدي ژمنپانه او یو پروتوکول سره لاسلیک کړای شول.) په (۱۹۵۰) کال کې دافغانستان او شوروي اتحاد ترمنځ یو څلور کلن سوداګریز تړون هم وشو چې بیا وروسته اوږد او پراخ کړای شو. همدارنګه په (۱۹۵۵) کال کې دترانزیټ په اړه یو پنځه کلنی او بیا یو پوستي تړون هم لاسلیک شو. په همدې کال کې د شوروي - افغان د (۱۹۳۱) کال سوداګریز تړون یوځل بیا اوږد کړای شو. له همدې مهاله نور شوروي افغانستان ته دتخنیکي او مالي مرستو ورکړه زیاته او پراخه کړه.

دافغانستان او شوروي اتحاد ترمنځ داړیکو داګام پر ګام سمون دګډې مرستې یوداسې نوي پړاو ته یوړل شو چې د (۱۹۵۵) په ډسمبر کې له کابل

ثخه دنیکتیا خروشچف اونیکولای بولگانین دکتنې پرمهال یودم را برسیره او ډاګیزه کړای شو . شوروي حکومت له افغانستان سره د بنستیزه مادي مرستې ډیر والي ته چمتووینه ښکاره کوله او دیو لړ ځانګړو سیاسي مسئلو لکه د « پښتونستان په ستونزه » کې یې له افغان حکومت څخه ملاتړ کاوه . دمحمد داؤد خان حکومت سربیره پردې چې په افغانستان کې شوروي اغیزې ته ځه مخه ورکړه خو له دې سره جوخت یې دافغانستان د درناوي وړ پخوانۍ دناپیلتوب تګ لاره د « مثبتې بیطرفۍ » او « سوله ییزه ګډ ژوند » ترنوم لاندې په خوځنده توګه هماغه شان را اخیستې وه . د محمد داؤد خان ددې بریالۍ تګ لارې په نتیجه کې آن پاکستان سره ښه او په زړه پورې اړیکې پیل شوې . دافغانستان بهرنۍ تګلاره له پارلماني ولسواکۍ سره تر یوې لس کلنې تجربې وروسته یې له دې چې کوم ناځاپي بدلون ومومي په (۱۹۷۳) کال کې دافغانستان دجمهوریت دجمهور رئیس په توګه دمحمد داؤد په اعلان سره نور پای ته ورسیده .

(۱۹۷۳) کال چې پای ته رسېده ، افغانستان له نړۍ سره په سوله کې اوسیده ؛ له دواړو ګاونډیو سره یې اړیکې پرزړه پورې وو او دانډول ساتنې په خاطر یې دبهرنیو ځواکونو دکارونې راروانه تګلاره هم پای ته ورسوله . دبرتانیې غښتلي واکمنۍ چې د افغانستان داوږدې مودې دښمنه وه ، ددویم ځواک دریځ ته کښته شوه ، جرمني دافغانستان دپرمختیا او عصري کولو په برخه کې یوځل بیا ددې هیواد یو لوی ملګری شو ، له بلې خوا شوروي اتحاد او دامریکې متحده ایالتونه هم له سیاسي ډګر څخه ګوښه شول چې پرځای یې دافغان ولس دښیګڼې په خاطر یوې رغنده سیالۍ ته مخه کړه . ملګرو ملتونو دعادي یا طبیعي حالت په ساتنه کې دیو نړیوال جوړښتون په توګه

که څه هم دسولې په خاطر دبشریت دنیکمرغۍ او سوکالۍ لپاره څه ونکړای شول . خو افغاني واکمنو به داضرور درک کړې وه چې په دې اتومي عصر کې دیو ملت په توګه دافغانستان شته والی ، کټ مټ دنړۍ دبقاغوندې – یوازې او یوازې په نړیواله ګډه مرسته کې نغښتې دی دا چې نور به ستر ځواکونه دپخوا غوندې دسیاسي قدرت خپله لوبه څنګه مخ ته بیایي یوازې راتلونکې به یې راته ووایي .

# ملپانې

## دننني افغانستان واکمنان

**دسدوزولړۍ:**

| | |
|---|---|
| احمد شاه بابا | (۱۷۷۳-۱۷٤۷) |
| تیمور شاه | (۱۷۹۳-۱۷۷۳) |
| زمانشاه | (۱۷۹۹-۱۷۹۳) |
| محمود شاه | (۱۸۰۳- ۱۷۹۹) |
| شاه شجاع | (۱۸۱۰-۱۸۰۳) |
| محمود شاه | (۱۸۱۸-۱۸۱۰) |
| کورنۍ جګړه | |

**دبارکزیولړۍ:**

| | |
|---|---|
| دوست محمد خان | (۱۸۳۹-۱۸۳۵) |

| | |
|---|---|
| دانگریز - افغان لومړی جګړه | ( ۱۸۳۹-۱۸٤۲ ) |
| شاه شجاع ( سدوزی ) | (۱۸۳۹-۱۸٤۲ ) |
| دوست محمد خان | ( ۱۸٤۲-۱۸٦۳ ) |

**کورنی جګړه**

| | |
|---|---|
| دانگریز - افغان دویمه جګړه | (۱۸۷۸-۱۸۷۹ ) |
| شیر علي خان | ( ۱۸۷۰-۱۸۷۹ ) |
| یعقوب خان | ( ۱۸۷۹-۰ ) |
| عبدالرحمان خان | ( ۱۸۸۰-۱۹۰۱ ) |
| حبیب اله خان | ( ۱۹۰۱-۱۹۱۹ ) |
| دانگریز - افغان دریمه جګړه | ( ۱۹۱۹-۰ ) |
| امان اله خان* | ( ۱۹۱۹-۱۹۲۹ ) |
| حبیب اله ( بچه ءسقاو ) | (جنوری ۱۷ - اکتوبر ۱۳ ، ۱۹۲۹ . ) |
| محمد نادر خان | (۱۹۲۹-۱۹۳۳ ) |
| محمد ظاهر شاه | (۱۹۳۳-۱۹۷۳ ) |

**دافغانستان جمهوریت :**

| | |
|---|---|
| محمد داؤد | ( ۱۹۷۳ - (۱۹۷۸ ) ژباړن ) |

دامیر حبیب الله خان مستخدمین ( ۱۹۱٤ ) :

**ځانګړی کونسل یا مصاحب خاص :**

۱ - سردار محمد آصف خان

۲ - سردار محمد یوسف خان

*- سرداړ نصراله خان د (۱۹۱۹ ) په فبروۍ کې د پنځو ورځو لپاره پاچا و ، او سردار عنایت له خان د (۱۹۲۹ ) په جنورۍ کې د دریو ورځو لپاره پاچا و .

پوځي سلاکار یا ایشک اغاسي ( شاغاسي ) نظامي :
۳- سردار محمد سلیمان خان ( دپورتني سردار آصف خان زوی )
ملکي سلاکار ( ایشک اغاسي ملکي ) :
٤- علي احمد خان ( دسردار خوشدل خان زوی ، لویناب )
مخصوص سکرتر ( ایشک اغاسي حضورئ ) :
۵- نیک محمد خان ( دگردیز دلالا گل خان زوی )
لوی ډگرمن ( نایب سالار ) :
٦- ډگرمن یاقوت شاه
۷- نایب سالار محمد نادر خان ( دپورتني سردار یوسف خان زوی )
دلیکنو سکرتر ( امین المکاتب ) :
۸- سردار فتح محمد خان ( سرپرست )
انتظاري شخص ( حاضر باشي ) :
۹- سردار محمد رفیق خان
د دروازه والو مشر ( کبچي باشي ) :
۱۰- دوست محمد خان
دنفرخدمتانو مشر ( خدمتگار باشي ) :
۱۱- ابراهیم خان

**د ژباړنانو مشر :**

۱۲- عظیم اله خان

**ډاکترانو مشر :**

۱۳- غلام نبی ( د دربار ) ، اله جویا ( دپوغ ) ، غلام محمد ( دحرم سرای ) ، منیر بیگ ( دکابل ښار ) .

**دترجمانانو مشر :**

۱٤ - الف شاه

**دناظرانو مشر ( آبدار باشي ) :**

۱٥ - صالح محمد خان

**دمرستیالانو مشر ( خاص حضور ) :**

۱٦ - محمد ولي خان

دافغانستان د دولتي شورا ( خاص مجلس شورى ) غړي - په ( ۱۹۰٥ ) کې دخپروشویو تازه معلوماتو له مخې :

رئیس : امیر حبیب الله خان

غړی : سردار نصراله خان - نایب السلطنه ( مرستیال واکمن )

۲ - سردار عنایت اله خان - معین السلطنه ( دواکمن مرستندوی )

۳ - سردار عبدالقدوس خان ( دسردار سلطان محمد خان زوی ، دامیر دوست محمد خان ورور ) - اعتماد الدوله ( لوی سکرتر )

٤ - سردار محمد آصف خان ( دعبدالقدوس خان وراره او دسردار یحیی ـ خان ولد سلطان محمد خان زوی مصاحب خاص حضور

٥ - سردار محمد یوسف خان ( دامیر حبیب اله خان خسرا و دمحمد آصف خان ورور )

٦ - میرزا محمد حسین خان ، کوهستاني - مالي سکرتر ( مستوفی الممالک )

۷ - لویناب خوشدل خان .

۸ - سردار امیر محمد خان دتگاب - سپاه سالار

۹ - سید عطا محمد شاه خان ( نومور سید او دکندهار دمرحوم سردار

شیر علي خان وراره )

۱۰ - قاضي سعدالدین خان - دکابل لوی قاضي .

۱۱ - حاجي عبدالرزاق دکابل امام .

۱۲ - سلیمان خواجه - دقانوني چارو مشر - محتسب باشي .

۱۳ - سردار محمد یونس خان ( دسلطان محمدخان زوی ) .

۱٤ - سردار فتح محمد خان دپولیسو مشر - امین الاساس .

۱۵ - محمد سفرخان لوی ناظر او تاپه لرونکي او دلیکنو چارو مشر ، ناظر و مهره دار و امین المکتوبات .

۱٦ -سردار محمد رفیق ( دسردار محمد صدیق خان ولد سردار امیر محمد خان زوی ) .

۱۷ - محمد سلیمان خان ( دسردار محمد آصف خان زوی ) ، پوځي سلاکار ، ایشک اغاسي نظامي .

۱۸ - علي احمد خان ( دسردار خوشدل خان لویناب زوی ) ملکي سلاکار - ایشک اغاسي ملکي .

۱۹ - میرزا محمد خان ، دفوایدعامې مدیر ، سر شته دار تعمیرات .

۲۰ - میرزا غلام محمد خان ، کاتبانو مشر .

۲۱ - فیض محمد خان ثرخي ، دلوګري قبایلو وکیل .

۲۲ - سردار محمد یوسف خان ( دامیر دوست محمد خان زوی )

۲۳ - نایب سالار محمد نادر خان .

۲٤ - نایب سلار محمد نعیم خان .

۲۵ - ملکي نایب سالار میر احمد شاه خان .

۲٦ - مولوي عبدالروف.

۲۷-دیوان نرینجن راس .

۲۸-ملکي ډگرمن احمد جانخان .

۲۹- ملا غلام محـــــمد وردک پنچایت باشي ( دسوداگریزه رسیدګۍ جرګه ګۍ )

۳۰- ګل محمد خان ( دجنرال تاج محمد خان زوی ) .

دامیر امان الله خان مستخدمین ( لومړنی پړاو ) :

- دناظرانو مشر ( آبدار باشي ) -- صالح محمد خان

-دشاهي مهرساتونکو مشر او ځاني مرستیال ( امین المقابله او یاور ) - عبدالعزیز خان بارکزی

- لاره ښوونکی ( عرض بیگي ) -- شاه خان محمد

- پوځي سلاکار ( ایشک اغاسي نظامي ) -- شیر احمد خان -محمدخان

- دافغاني مراسلو مسئول ( میرمنشي ) -- میرزا شیر احمد خان

- دافغاني مراسلو مسئلو ( میر منشي ) --- میرزا غلام محمد خان

- دهندستاني مراسلو مسئول ( منشي ) --- میرزا غلام محمد خان

- دانګریزۍ ترجمان او دژباړنې دڅانګې مشر (منشي) -- عظیم اله خان وزیر زاده

- دحرم مسئول ( نګاران حرم سرای ) -- محمد اکرم اونور

- دنفر خدمتانو مشر ( پیش خدمت باشي ) -- ابراهیم خان

- دډاکترانو مشر ، لوی طبي مشر ، کابل -- منیر بیګ (ترکی)

-دملکي چارو لوی ډاکتر -- فهیمه بیګ (ترکۍ)

**د دولتي شورا غړي**

ددولت مرستیال ( معین السلطنت )-- محمد ابراهیم خان (سرپرست )

دولتي ننباندار ( عين الدوله ) -- غلام علي خان

دشاه امان الله خان دحکومت غړي ( ۱۹۱۹-۱۹۲۹ )

**دبهرنيو چارو وزير**

سردار محمود طرزي - فبروري ، ۱۹۱۹

سردار محمد ولي - جون ، ۱۹۲۲

سردار محمود طرزي - سپتامبر ، ۱۹۲٤

غلام صديق څرخي ( سرپرست ) - جنوري ، ۱۹۲۷

سردار محمد ولي - نوومبر ، ۱۹۲۷

**دجنګ وزير :**

سردار محمد نادر خان - مئ ، ۱۹۱۹

سردار محمد هاشم خان ( سرپرست ) - جنوري ، ۱۹۲۲

سردار محمد نادر خان - سپتمبر ۱۹۲۲

محمد ولي خان - اپريل ۱۹۲٤

سردار عبدالعزيز بارکزی ( سرپرست ) - جون ،۱۹۲٤-نوومبر۱۹۲۸

**کورنيو چارو وزير :**

سردار علي احمد لويناب - اګست ، ۱۹۱۹

سردار عبدالعزيز بارکزی - جون ، ۱۹۲۵

**دسوداګرۍ وزير :**

غلام محمد وردک - مارچ ، ۱۹۱۹

عبدالهادي داوي - اپريل ، ۱۹۲٤

**داسامبلۍ رئيس :**

سردار شير احمد خان - اپريل ، ۱۹۲٤

محمد يعقوب خان ( سرپرست ) - دسمبر، ۱۹۲۷

**مشاور وزير:**

سردار شاه محمود خان غازي ( په عامه چارو او د قبايلو په چارو کې شاهي مسئول) مارچ ، ۱۹۱۹

حاجي محمد اکبر خان ( د قبايلو په چارو کې مرستيال ) - مارچ ، ۱۹۲۶

**دولايتونو واليان:**

۱- هرات: سردار علي محمد ابراهيم خان - جنوري ، ۱۹۲۵

۲- کندهار: سردار اعلى محمد سرور خان - ۱۹۲۳

۳- مزار: سردار اعلى عبدالکريم علومي - نوومبر ، ۱۹۲۳

٤- بدخشان او قطغن: سردار محمد سليمان خان - ۱۹۲۲

۵- کابل: سردار علي احمد لويناب ( تاج افغان ) -جون ، ۱۹۲۵

سردار محمود جان شاغاسي ( سرپرست ) دسمبر ، ۱۹۲۷ *

٦- جنوبي ولايت ( خوست ) : عبدالحکيم خان - اگست ، ۱۹۲۷

۷- مشرقي ولايت ( جلال آباد ) : سردار شاه محمود خان غازي - اپريل ۱۹۲۶

**دعدليې وزير:**

سردار حيات اله آزاد سراج - مارچ ، ۱۹۲٤

**ښوونې روزنې وزير:**

سردار فيض محمد زکريا - مارچ ، ۱۹۲٤

**ماليې وزير:**

ميرمحمد هاشم خان - ۱۹۲۲

---

*- په ۱۹۲۵ کې يې هم دادنده شه موده اجرا کړې ده.

**دروغتيالوی رئيس:**

سردار محمد کبير سراج - اگست، ۱۹۲۳

## خاص مستخدمان

**دربار وزير:**

سردار اعلی محمد يعقوب خان - جنوري، ۱۹۲۱

سردار اعلی غلام صديق څرخي - جنوري، ۱۹۲۷

**سلطنتي غړي:**

محمد جان شاه غاسي

سردار شاه ولي خان غازي - دسمبر، ۱۹۲٤

غلام حيدر خان - ۱۹۲٥

**مرستيال جنرالان:**

سردار احمد شاه خان - مارچ، ۱۹۱۹

سردار علي عبدالاحد ملکيار - مارچ، ۱۹۱۹

سردار علي محمد حسن جان خيالي - مارچ، ۱۹۲۳

احمد علي جان سليمان - مارچ، ۱۹۲۳

محمد حسين جان خيالي - مارچ، ۱۹۲٦

سردار امين اله جان خيالي - مارچ، ۱۹۲٦

**خاص سکرتر:**

ضياء همايون احمد -- مارچ، ۱۹۲۳

**پوځي قوماندانان:**

د کابل پوځ لوی قوماندان: - جنرال محمود سامي پاشا - جون، ۱۹۲٥

لومړی فرقه: - بريد جنرال محمد عمر خان

دوییمه فرقه - برید جنرال عبدالرحیم خان

دریمه فرقه ( کندهار ) - بریدجنرال نیک محمد خان - جولای ، ۱۹۲۵

څلورمه فرقه ( هرات ) - برید جنرال عبدالرحمان خان ( سرپرست ) - ۱۹۲٤

پنځمه فرقه ( مزار ) - برید جنرال محمد غوث خان ( سرپرست ) نوومبر-۱۹۲۷ ، برید جنرال محمد اقلیل خان

شپږمه فرقه (بدخشان ) - بریدجنرال عبدالوکیل نورستانی - اگست ، ۱۹۲۵

اوومه فرقه ( جلال آباد ) -- برید جنرال محمد گل مهمند - دسمبر ،۱۹۲۷

اتمه فرقه ( خوست ) - تورن جنرال سید محمد صدیق خان

ملکی او پوځي والی . - اگست ۱۹۲٦

**سفیران:**

لندن : - عبدالهادي داوي -- مارچ ، ۱۹۲۲

سیدقاسم خان ( سرپرست ) - جون ، ۱۹۲٤

شجاع الدوله - می ، ۱۹۲۵-۱۹۲۹

پاریس : - محمود طرزي - سپتمبر ، ۱۹۲۲

محمد نادر خان - اگست ، ۱۹۲٤

غلام نبي څرخي - اکتوبر ، ۱۹۲٦

حبیب اله طرزي - نوومبر ، ۱۹۲۸

برلین : - محمد ادیب طرزي -- جولای ، ۱۹۲۲

جنرال احمد علي خان لودین - سپتمبر ، ۱۹۲۵-۱۹۲۸

روم: - شیر احمد خان - نوومبر، ۱۹۲۱

عظیم اله خان - سپتمبر، ۱۹۲۲

عبدالعزیز خان عزیز - جون، ۱۹۲۶

علي محمد خان - فبروري ۲۸-۱۹۲۷

ماسکو: - میرزا محمد یفتلي - جولای، ۱۹۲۰

غلام نبي څرخي - ۱۹۲۲

محمد هاشم خان - جنوري، ۱۹۲٤

میرزا محمد یفتلي - نوومبر، ۱۹۲۸

غلام نبي څرخي - نوومبر، ۱۹۲۸

غلام صدیق څرخي - اپریل، ۱۹۲۹

تهران: - عبدالعزیز خان عزیز - می، ۱۹۲۰

میر محمد حسین - سپمبر، ۱۹۲۵

عبدالعزیزخان محمدزی - فبروري، ۱۹۲۷

سلطان احمد شیرزی - فبروري، ۱۹۲۸

انقره: - سلطان احمد خان - ۱۹۲۰

محمد حیدر خان (چې حاضر نشو) - نوومبر، ۱۹۲٤

غلام جیلاني خان - دسمبر، ۱۹۲۵-۱۹۲۹

دنادر شاه او ظاهر شاه دحکومتونو غړي (۱۹۲۹-۱۹۷۱)*

---

*د (۱۹۷۳) په جولای کې دظاهر شاه له گوښه کیدو څخه وروسته دمحمد داؤد خان تر مشرۍ لاندې نوی رژیم پیل شو چې ددې کتاب دلیکنې تر وخته لا دهغه دکابینې لسیت تر لاسه نکړای شو.

**وزیران:**

**صدراعظمان :** - محمد هاشم خان - نوومبر ، ۱۹۲۹

شاه محمود خان غازي - ۱۹٤٦

محمد داؤد خان - ۱۹۵۳

محمد یوسف - ۱۹٦۳

محمد هاشم میوند وال - ۱۹٦۵

نور احمد اعتمادي - ۱۹٦۷

عبدالظاهر - ۱۹۷۱

محمد موسی شفیق - ۱۹۷۲ (ژباړن)

**بهرني وزیران :** - فیض محمد زکریا -- ۱۹۲۹

علي محمد خان - ۱۹۳۹

سلطان احمد شیرزی - ۱۹۵۲

سردار محمد نعیم - ۱۹۵۳

محمد یوسف - ۱۹٦۳

نور احمد اعتمادي ( مرستیال ) - ۱۹٦۵

نوراحمد اعتمادي - ۱۹٦۷

محمد موسی شفیق - ۱۹۷۱

